# له بنګاله تر لندن سفر

د هندوستان د شمال د برخې، کشمیر
افغانستان او فارس له لارې او بیا روسیې ته په ننوتلو
د کسپین د سمندرګي له لارې لندن ته

# جورج فوستر

د شرق الهند د محترمې کمپنۍ په ملکي خدمت کې
په دوه وو ټوکونو کې

# لومړی ټوک

---

لندن
Printed for R. FAULDER, NEW BOND- STREET

1798

ژباړه : رحمت آریا ۲۰۲۵

A

# JOURNEY

FROM

# BENGAL TO ENGLAND,

THROUGH

THE NORTHERN PART OF INDIA, KASHMIRE, AFGHANISTAN, AND PERSIA, AND INTO RUSSIA, BY THE CASPIAN-SEA.

---

BY GEORGE FORSTER.

IN THE CIVIL SERVICE OF

THE HONOURABLE THE EAST-INDIA COMPANY.

---

IN TWO VOLUMES.

VOL. I.

---

LONDON:

PRINTED FOR R. FAULDER, NEW BOND-STREET.

1798.

56

THE NEW YORK PUBLIC LIBRARY
659276
ASTOR, LENOX AND TILDEN FOUNDATIONS.

# د ژباړونکي سریزه

آیا تاسو پوهیږئ چې د معاصر افغان د سیاسي او ملي هویت په اړه پخواني لاس ته راغلی کتاب کوم دئ او چا لیکلی دئ؟ په بل عبارت د افغانستان د دولت او د افغان امپراتورۍ ذکر په کوم لومړني اورپايي کتاب کې سوی دئ؟
دغه مسایل د جورج فوستر په یون لیک او یا سفرنامې کې سوی دئ؛ همدا لامل دئ چې زه یې ددۀ د یونلیک ژباړې ته وهڅولم.

## جورج فوستر څوک وو؟

جورج فوستر یو انګلیس وو چې په ۱۷۵۰ز کال کې زیږېدلی او په ۱۷۹۲ د دوه څلوېښت کالو په عمر د هندوستان د مهارشترا د ناګ پور په ښار کې هغه مهال ناڅاپه مړ سو چې د ډیپلوماتیک سفر لپاره نوی رالیږل سوی وو. فوستر له دې ډیپلوماتیک سفر مخکې چې د مدراس په ریاست کې د شرق الهند د کمپنۍ یو ملکي مأمور وو افغانستان ته سفر کړی وو.
فوستر په ۱۷۸۲ز کال کې د بنګال له کلکتې څخه خپل سفر پیل کړ او په ۱۷۸۳ز کې د کشمیر له لارې زموږ ګران هېـواد افغانستان ته راغلی دئ. فوستر یوه لنډه موده په کابل کې پاتې سو او د کابل شرحه یې په خپل دې کتاب کې ورکړې ده او له امپراتور اعلیحضرت تیمورشاه سره یې هم لیدلي دي. وروسته غزني، کندهار، هرات او د خراسان ولسوالۍ ته چې د افغانستان د امپراتورۍ یوه برخه وه ځي او بیا مازندران ته ځي له هغه ځایه د کسپین د سمندرګي له لارې په کښتۍ کې باکو، استراخان، مسکو او سنت پیترزبورګ ته او بیا په کښتۍ کې خپل هیواد انګلستان ته ځي. دا کتاب له نن څخه ۲۲۷ کاله مخکې لیکل سوی دئ.
نوموړي خپل د سترګو لیدلی حالات په یوۀ ژورنال کې ولیکل چې ژورنال یې په ۱۷۹۸ز کال کې ددۀ له مړینې وروسته په لندن کې چاپ سو. په دې پسې دوهم چاپ یې ډېر ژر په وزیري قطع چاپ سو. فوستر په دې ژورنال کې د قومونو، ادیانو، جغرافیې، فرهنګ، ودانیو،اقتصاد او سوداګرۍ په هکله خبرې کوي او په دې وسیلې سره موږ د هغه عصر له خلکو او د هغوی له دودونو سره وصلوي.
دا کتاب د پیریو په اوږدو کې ۴۰ ځله چاپ سوی دئ. ددې کتاب پښتو ژباړه د ۱۷۹۸ز کال د لومړۍ نسخې له مخې سوې ده. په حقیقت کې دا کتاب له نن څخه ۲۲۷ کاله مخکې د لومړي ځل لپاره چاپ سوی دئ.

## ددې کتاب موضوعات څه دي؟

## فوستر په دې کتاب کې څه وايي؟

فوستر د د يوۀ اکتشافي مأموريت لپاره په هند، کشمير، افغانستان، فارس، باکو، استراخان او مسکو کې ګرځي او موخه يې د هغو عامو معلوماتو راټولول دي، چې ده به ورته اړتيا لرله او يا به يې لازم ګڼل. خو زموږ لپاره پکې يو مهم ټکی دا دی چې د افغان سياسي او ملي هويت، افغان هيواد، افغان امپراطورۍ، افغان پولو، د افغانانو تر نفوذ لاندې سيمو، ستر احمد شاه بابا، تيمور شاه، کابل، د هغه وخت افغان عظمت او نورو ډېرو داسې مهمو مسايلو يادونه پکې په پوره وضاحت شوې ده، چې د افغان او افغانستان د مخالفينو ټولې پنځوس کلنې مذبوحانه هلې ځلې او دروغجنې دعوې په اوبو لاهو کوي. په مقابل کې پر افغان ملت او افغان هويت د نوي نسل لپاره ګټور معلومات او کره شواهد برابروي.

د فوستر کتاب چې په دوه وو ټوکونو کې دئ فصلونه نه لري د کتاب د فصل پر ځای د ليک ويی کاروي. د بيلګې په توګه لومړی ليک او دوهم ليک او نور. له ليک څخه دده موخه د شرق الهند د کمپنۍ مشر يا د هندوستان ګورنرجنرال لارد کارونواېليس Lord Cornwallis دئ او هر ليک او ټول کتاب هغه ته اهداء سوی دئ. په هغه مهال کې د فوستر معلومات د شرق الهند د کمپنۍ لپاره حياتي او ستراتيژيک معلومات ول. دی له هند څخه خپل سفر پيلوي او د هند د وګړو، اقتصاد او دينونو په هکله د هندي ميتالوژيو په هکله معلومات راټولوي او بيا روهيلکند ته راځي. له دې چې د هند دا برخې زما له موخې سره برابرې نه وې نو ما ددې برخې اړتيا ونه ليدله. ددې کتاب په پښتو ژباړې کې هر هغه ځای چې نه دئ ژباړل سوی د هغو ځايونو د پاڼو شمير او دليل مې ورسره په متن کې دننه ذکر کړی دئ. دی د روهيلکند تأريخي حالات او د روهيليانو ستونزې او جګړې په تفصيل سره شرحه کوي.

ما د روهيلکند دغه برخه تر ډيره پورې ژباړلې ده ځکه چې دا په هند کې د پښتنو د تأريخ يوه برخه ده. وروسته کشمير ته راځي. دی د کشمير ښکلاوې، اقتصاد، سياست، سوداګري، ودانۍ، ټولنيز جوړښت او نورې ځانګړتياوې شرحه کوي. فوستر د کشمير د والي په هکله وايي : « د کشمير اوسنی والي آزاد خان چې افغان دئ د خپل پلار حاجي کريمداد ځای ناستی سو؛ حاجي کريمداد د دراني احمدشاه د کورنۍ غړی يو افسر وو. د احمد شاه له مړينې وروسته تيمورشاه نوموړی په دې وياړ د کشمير د والي په توګه مقرر کړ چې د اميرخان په مشرۍ د بغاوت په تس نس کولو کې يې هڅې کړې وې. «مخکې مو د امير يادونه وکړه. کشميريانو د حاجي کريمداد د حکومت د بنې پر ضد خپل قهر څرګنداوۀ ځکه هغوی ويل چې حاجي کريمداد ظالم او شديده طبع لري.»

د افغانستان په اړوند د جورج فوستر شرحه په حقيقت کې زموږ د هيواد د سياسي هويت شرحه وړاندې کوي چې تر اوسه چا لا تصور هم نه کاوه چې له الفنستن مخکې دې بل اروپايي هم د افغانستان په ځانګړې توګه د افغانستان د سياسي هويت په اړوند خبرې کړې وي.

فوستر د افغانستان د هغه مهال د جغرافيوي حدودو د شرحې په لړ کې وايي : « د احمد شاه له وفات وروسته د هغـۀ زوی تيمور د پلار ځای ناستی سو چې خپل دربار د کابل په ښار کې اداره کوي؛ هغه د خپل پلار د قلمرو د باندنيو مستملکاتو لپاره د خپل سلطنت په لومړيو کې هند ته څو بې هدفه لښکر - لېـږدونه وکړه خو د سيکهانو پر ضد د يوۀ ناکام لښکر - لېـږد له کولو وروسته مجبور سو چې د پنجاب ټوله سيمه ور پرېـږدي. اوسمهال تيمور شاه د اندس په ختيځه برخه کې اټک چې د کشمير يوه «امير نشينه» سيمه ده او د ملتان ځينې برخې چې د سندهـ ښار او ټول سندهـ په کې رانغاړل کـېـږي په خپل واک کې لري. خو بيا هم تيمور شاه له خپل هندي قلمرو څخه لړه ګټه تر لاسه کوي. زما د سفرونو پر مهال سندهـ تر يوۀ حده (د تيمور شاه- ژ) له امپراتورۍ څخه جلا سوی وو؛ دوه کاله سوي ول چې کابل ته يې هيڅ مالياتي عايد نـۀ وو لـېـږلې او له قوانينو څخه د رعاياوو د رعايت لپاره هـېـڅ ګام نـۀ وو اوچت سوی. د ملتان والي له دې چې له امپراتورۍ څخه په ليرې واټن کې وو او له بل لوري د تيمور شاه له کم کارۍ څخه په ګټه اخيستنې سره يې يوازې په سطحي ډول هغو دولتي دساتيرو ته پاملرنه کوله چې د هغـۀ له موخو سره همغږي ول.» خو په بل ځای کې له تيمور شاه څخه د هند د ويرې په هکله وايي : « په ډيلي کې د هند له درباره يو شمـېـر ګنګوسې خپرېـدې او کله نا کله به يې په هند کې زموږ په سيمه کې شور او ګډوډي رامنځته کړه او موږ يې په دې فکر کولو چې تيمور له اندس څخه د يوۀ لوی لښکر په ملتيا راتير سوی او په چټکۍ د ډيلي پر لور پرمختګ کوي ترڅو د مغولو د امپراتورۍ ستر قدرت بـېـرته راژوندی کړي.»

جورج فوستر په خپل دې کتاب کې دغه نومونه په دومره ځلونو يادوي :

افغان ۱۹۳ ځله

افغانستان ۳ ځله

افغان دولت ۸ ځله

افغان والي ۱ ځل

افغان گارنيزيون ۱ ځل

افغان امپراتوري ۴ ځله

دراني ۱۴ ځله

احمد شاه ۴۹ ځله

زموږ ځو محدود، منحرف، له تأريخه بې خبره، لمسول سوي او احساساتي هيوادوال او په ځانګړې توګه استخباراتي کړيو ته منسوب مشخص کسان او ډلې د افغانستان په ځانګړې توګه د پښتنو د تأريخ د تحريف لپاره زښتې ډيرې تخريبي هڅې کوي. يو شمير خو ان لا وايي چې د افغانستان د دولت بنسټ د امير عبدالرحمن له وخته راوروسته اېښودل سوی دئ. فوستر د افغانستان د بنسټ اېښودونکي لوی احمد شاه بابا په هکله يو ځای کې وايي : « ددغه مهال په تأريخي اسنادو کې ما په ځير او دقت د معاصر افغانستان د امپراتورۍ د بنسټ اېښودونکي احمد خان ابدالي نوم ولټاوۀ. خو ومې نـۀ سوای کولی چې د هغـۀ د بنياد او يا د پوځي پرمختګونو په هکله مؤثق معلومات پيدا کړم تر هغو چې د نادر شاه له مړينې ورسته دۀ په زښت ډېر بريالیتوب ظهور وکړ.»( وګورئ [1]). فوستر ۲۲۷ کاله مخکې د افغانستان د امپراتورۍ د بنسټ اېښودونکي نوم يادوي. د فوستر دا خبره بايد په زرينو کرښو وليکو. دا ټکی د يادولو وړ دئ چې د شرق الهند کمپنۍ نه له اقتصادي اړخه او نه له سياسي اړخه دومره پياوړې وه چې افغانستان ته ګواښ جوړ کړي، هماغسې چې د فوستر له قوله مې وويل د شرق الهند په کمپنۍ کې د دراني احمد شاه د امپراتورۍ د وارث يعنی تيمور شاه له پوځ څخه يې ويره په زړونو کې وه.  فوستر د افغانستان ددولت نوم ۸ ځله يادوي. په واقعيت کې دا کتاب او ددې کتاب دا لومړۍ پښتو ژباړه د افغانستان، د افغان، د افغانستان ددولت د منکرينو پر مخونو يوه کلکه څپېړه ده.

د فوستر په دې کتاب کې ما ته يوه بله په زړه پورې خبره د روس د ستروګ پيتر له لښکر سره د کسپين د سمندرګي پر غاړه د تيمور شاه د ځواکونو جګړه ده چې لنډه يادونه يې کړې خو همدا لنډه يادونه ډيره په زړه پورې ده.

---

1 - In the annals of that period, I have made diligent search for the name of <u>Abdali Ahmed Khan, the founder of the modern empire of Afghanistan</u>; but I have not been able to procure any accurate information of his origin or military progress , until he started forth with so brilliant a success at the death of Nadir Shah . {Volume II, page 81, combined both volumes in PDF format page 424}

## افغانستان ته د لومړنيو اروپايان راتګ

له تأريخي اړخه لومړني اروپايان چې افغانستان ته راغلي دي په سر کې يې ستر الکسندر وو چې زموږ پر هيواد آريانا باندې يې بريد وکړ. په معاصر تأريخ کې جورج فوستر په واقعيت کې دريم اروپايي دئ چې افغانستان ته يې سفر کړی دئ. لومړی مارکوپولو وو چې د ۱۲۷۱ز کال په شاو خوا کې له خپل پلار او اکا سره افغانستان ته راغلی دئ. دوهم اروپايي چې راغلی پرتګالي بنتو ګويش Bento de Góis وو چې په ۱٦۰۳ز کال کې افغانستان ته راغلی دئ. بنتو ګويش د افغانستان نوم نه اخلي ځکه هغه مهال دا سيمه په بل نوم يادېدله. بنتو د ځمکې له لارې له هند څخه معاصر افغانستان ته او بيا چين ته ځي. دی د کابل، تالقان او نورستان نومونه اخلي او د نورستان ولايت د کافرستان په نوم يادوي او وايي چې په کافرستان کې شراب زموږ د شرابو په ډول جوړېږي. بنتو په دري – فارسي ژبې فصاحت درلود او د سيمې د خلکو په جامو کې به ګرځيد. بنتو ګويش «افغانانو» نوم يادوي. بنتو ګويش د خپل سفر په لړ کې د «افغانستان» له يوې سيمې څخه تيرېږي او يوه ډله خلک د «کلسيا Calcia» په نوم يادوي او وايي « د بلژيکيانو په شان روښانه برېري او ويښتان لري او د بخارا د حاکمانو پر ضد يې پاڅون کړی دئ.» بنتوګوريش څو مياشتې په کابل کې پاتې کېږي او بيا د کاروانونو په ملتيا د هيواد شمال او له هغه ځايه د ۱٦۰۳ز کال د نوامبر په مياشت کې يارکند ته ځي. نوموړی کابل ته د کاشغريا له لارې راغلی وو. د بنتو ګويش موخه دا وه چې هغه (کتای/ خيتای Cathay) چې مارکوپولو ياد کړی وو ومومي. خيتای د چين شاعرانه او لرغونی نوم دئ. او دريم اروپايي چې له هندوستان څخه افغانستان ته راغلی دئ د همدې کتاب ليکوال ښاغلی جورج فوستر دئ؛ فوستر له افغانستان وروسته فارس او روسيې ته په سفر ځي او په ۱۷۸۴ز کال کې له روسيې څخه لندن ته ولاړ.

په دې کتاب کې فوستر د فرانسوي سيلاني فرانسوا برنيه **François Bernier** د کتاب **Travels in the Moghul Empire** يادونه څوځو ځايه کوي. ما د فرانسوا برنيه په اړه لنډ معلومات راټول کړل. فرانسوا له ۱٦٥٦ز تر ۱٦٦۸ز کال پورې د يوې سيلاني او طبيب په توګه د هند د مغولو په امپراتورۍ کې پاتې سو. دی د خوشحال خان خټک هم عصره دئ. د افغانستان نامتو محقق استاد محمد معصوم هوتک صاحب هم د فرانسوا برنيه يادونه په خپل يوه اثر کې کړې ده.

فرانسوا «پټهانان Pathans» يادوي او وايي چې «پټهانان سخت جنګيالي خلک دي، يو شمير يې د مغولو په دربار کې په متوسطو پوستونو کې کار کوي، پټهانان ډيره لوړه روحيه لري.» برنيه له مغولو څخه د افغانانو ژوره کرکه يادوي او دا ځکه چې پښتنو يا پټهانانو له مغولو مخکې په هند کې لوی لوی سلطنتونه او رياستونه درلودل خو مغولو رنګ کړل.

برنیه همدا شان د «پټهانانو ځمکې یا ټاټوبي The lands of Pathans» یادوي او وایي چې «دا سیمه د تګ راتګ لپاره یوه خطرناکه او ستونزمنه سیمه ده چې د پرسیا او د مغولو د امپراتورۍ تر منځ واقع ده او په همدې سیمه کې سیمه ییز راجاګان نه د پرسیا د سلطان واکمني او نه د مغولو د امپراتور واکمني پر ځان مني.» برنیه د مغولو د امپراتورۍ د دربار په هکله وایي چې دې دربار کې د «پښتنو» په ګډون ګڼ قومونه سته دي او وایي چې سلطان جهانګیر له فارس سره د خپلوۍ تړاو لري؛ خو تأریخي دقیق روایات وایي چې د سلطان جهانګیر تر ټولو غوره میرمن ملکه نور جهان «مهرالنساء» د پښتـنو له پښته ده. د نور جهان پلار میرزا غیاث بیګ یو فارسي وو خو د نورجهان مور پښتنه وه. برنیه وایي چې «افواهات وایي چې د مغولو د امپراتورۍ د پیاوړي صدراعظم سعدالله خان میرمن یوه «پټهانه ده او همدا لامل دئ چې صدراعظم د پښتنو ملاتړ کوي.» برنیه د پیښور په سیمو کې د مغولو د امپراتورۍ د پوځي کمپاین په هکله خبرې کوي او د پښتنو د یوسفزیو، اپریدیو او بنګښو د اتحاد شرحه ورکوي. برنیه د هغه وخت د خیبرو کسانو له قوله وایي چې کشمیریان په حقیقت کې د ورکو سویو اسراییلي قبایلو اولاده ده چې دغې سیمې ته یې هجرت کړی دئ. دغه ادعا احتمالاً د افغانانو یا پښتنو یو شمیر قومي ډلو ته تعمیم سوې ده او دا په هغه وخت کې یو دود سوی حدس او ګومان وو.

فوستر د کابل له شرحې وروسته غزني او بیا کندهار ته ځي او ددغو ځایونو د ښکلاوو تر اغیزو لاندې راځي. ورپسې هرات او د افغانستان د هغه وخت ولسوالۍ خراسان ته او بیا د فارس مازندران ته ځي. ورپسې د کسپین د سمندرګي له لارې استراخان او باکو او بیا د روسیې سنټ پیترزبورګ ته ځي او له همدې ځایه خپل هیواد ته ځي.

### دا کتاب ولې وژباړل سو؟

ما د اکادیمیسین علامه رشاد بابا رح یو کتاب «د پاني پت قهرمان : لوی احمد شاه بابا د خلکو په نظر کې» ته اړتیا درلوده.

دا کتاب علامه بابا په خپله پیښور کې راته اهداء کړی وو. ددې کتاب چاپ ډیر ضعیف وو چې د وخت په تیریدلو سره یو شمیر پاڼو یې خپل چاپي رنګ له لاسه ورکړی وو. ما د کندهار د پوهنتون استاد پوهنوال شیرشاه رشاد صاحب ته چې د علامه استاد فاضل زوی دئ یو لیک واستاوه چې ددې کتاب یوه پي. ډي. ایف کاپي راته د پیرزوینې له مخې راولیږي. پوهنوال شیرشاه رشاد په سبا دا کتاب راولیږه. ما هم له ځنډ پرته دا کتاب له سره ټایپ او د افغان جرمن آنلاین په پورتال کې مې خپور کړ. ددې کتاب په لړ کې علامه بابا د جورج فوستر د همدې کتاب له مخې د احمد شاه بابا د عادلانه اوصافو په باب دوه درې کرښې د مأخذ په توګه اخیستې وې. همدلته ول چې د جورج فوستر له نوم سره آشنا سوم او د انټرنت د پلټنې پر مهال ما ته د دې کتاب د ۱۷۹۸ز کال د لومړي چاپ پي. ډي.

ایف بڼه یې تر لاسه سوه. سخت ورته خوشحاله سوم. ما د کتاب په لوستلو پیل وکړ. د کتاب د لوستلو په لړ کې پوه سوم چې جورج فوستر لومړنی اروپایي دئ چې د افغانانو، افغان دولت او افغان امپراتورۍ د روهیلیانو او د افغنستان د اقتصاد، طبیعي ښکلاوو، ټولنیز، دیني مذهبي جوړښت په هکله تر هغه حده معلومات ورکوي چې دده د سترګو لیدلی حال دئ. دا ما ته ډیر په زړه پورې ول نو له همدې امله مې ددې کتاب ژباړلو ته لستوني بډ وهل. د کار په لړ کې پوه سوم چې له یو لړ ستونزو سره مخ یم. دا ستونزې د هغه مهال د چاپ د فانت ستونزې وې چې د انګلیسي C، O، E د F او S د تورو چاپي بڼوستونزې جوړولې او تاسو پوهیږئ چې دا ساده کار نه دئ. د ستونزې د حل لپاره ما لومړی انګلیسي متن له سره ولیکه او بیا به مې پاراګراف په پاراګراف پښتو ته ژباړه. همدې کار هم زما ډیر وخت ونیو او هم یې زما ډیره انرژي واخیسته خو خوښ په دې سوم چې خپل هوډ او تکل مې تر سره کړه.

بله اړینه خبره چې دلته د یادولو وړ ده هغه دا ده چې ما د فوستر د دواړو ټوکونو په لړ کې یوازې هغه برخې رااخیستې دي چې په افغانانو او افغانستان پورې یې اړه درلوده. د هند د ادیانو، میتالوژیو او نورو مسایلو ژباړې ته مې اړتیا ونه لیدله او هم د فوستر د کتاب په پای کې څو محدودې پاڼې مې هم ونه ژباړلې. زموږ ددې کتاب ژباړه له روهیلکنډ څخه پیلیږي او تر هغه ځایه پورې ځي چې فوستر مسکو ته رسیږي.

د فورسټر د کتاب په باب د نورو لیکوالو له خوا ورکول شوې حوالې او یا د مصنوعي ځیرکتیا څخه معلومات تر لاسه کېدای شي، خو د کره او جامع معلومات لپاره پخپله د فورسټر کتاب لوستل اړین دی.

زه خپل نوي نسل د هیواد ځوانانو او ټولو افغانانو ته ددې کتاب د لوستلو توصیه کوم. لوستونکي دې د لوستنګ پر مهال خپل نظریات راسره شریک کړي. ما تر وسه وسه کوښښ کړی چې د ټایپي اغلاطو شمیر تر ډیره حده نست ته راورسوم احیاناً که له کومې تیروتنې سره مخامخ کیږي نو د پیرزوینې له مخې دې ما ته عفو وکړي.

رحمت آریا

# جلالتماب ایرل کارنوالیس [1]

د گارتر د عالي مدال نایت Knight of the most noble of the Garter او د برتانیې د اعلیحضرت د محترمې سلطنتي شورى غړى د اعلیحضرت د وسله وال ځواک ډګرجنرال، په لویدیځ هند کې د انګلستان د سوداګرو د متحده محترمې کمپنۍ او د اعلیحضرت د ملکیتونو او ځواکونو ګورنرجنرال او ستر درستیز او نور او نور او نور

## زما سالاره

تقدیمي توصیف ته اغلب وختونه پرته له دې چې حقیقت ته یې وکتل سي په شک او تردید کتل کیږي؛ د نړۍ ډیري خلک دغه ډول توصیف له اغراقه ډکه وینا بولي ترڅو د خپل حامي رضایت ترلاسه کړي، غرور یې ارضاء کړي او یا د ژورې قدردانۍ لپاره وویل سي.

خو زه ډاډه یم چې دغه تقدیم - لیک به له نرم انتقاد یا نیوکې سره مخامخ سي، ان کولی سم ووایم چې د خپلې موضوع لمنه مې رالنډه کړې ده.

کله چې ما پریکړه وکړه چې خپل د «سفرونو» کتاب د ټولني عوامو ته وړاندې کړم طبیعتاً زه دداسې یو چا په لټه کې وم چې نوم یې زما کتاب ته اعتبار وبخښي او دا ځکه چې زه یو ناپیژندل سوی لیکوال وم. زه په دې پسې نه وم چې څوک دې ما زما د پانګې او شتمنې له مخې تایید کړي او یا دې راباندې اعتبار وکړي او دا ځکه چې دا شیان د ربښتوني ارزښت معیارونه نه دي. د هغې پر ځای زه

---

[1] - چارلس کارنوالیس، ایرل کارنوالیس برتانوي جنرال وو چې ۱۷۸٦ ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د برتانوي هند د ټولو ځواکونو درستیزوال او هم د فورت ویلیم د ریاست والي وټاکل سو؛ دغه د فورت ویلیم ریاست د بنګال د ریاست په نوم هم یادیږي. ایرال کارنوالیس د هند په نیمه وچه کې د برتانوي کنترول بنسټ کښېښود او برتانوي راج ته یې لاره پرانیستله. - ژ

ددداسې یوه چا د تایید په لټه کې وم چې د خپلو ځانګړتیاوو له کبله په دې شهرت ولري چې خپل ولس ته یې هوساینه او ویاړ ورپه برخه کړې وي.

په پای کې د هغه شي په لټه کې چې وم که څه هم په لومړیو کې راته مشخص نه ول هغه مې وموندل. سره له دې چې زما په نظر ګټې یې زیاتې بربښېدې خو غوښتل مې دغه مهم ټکی په خپل کار کې مراعات کړم. غوښتل مې دغو اقداماتو ته اعتبار ورکړم ځکه چې زموږ د هیواد په تأریخ کې د تقدیر وړ دي.

بد چانسي چې د لرغوني روم له مهاله معمولاً له غفلت، ابهام، ګنګی او اغلب له رسوایی سره تړلی وو د حضرت عالي د وړتیاوو د ښودلو لپاره یې پراخ چاپیریال رامنځته کړی دئ؛ او د یوۀ ژمني توفان په شان چې د پیاوړي ربښه لرونکي نښتر پر بدن راځي د استثنایي قدرت یوه شرافتمنده ګواه ده.

تاسو اعلی حضرت په ختیځې نړۍ کې له پیاوړي دښمن سره مخامخ یاست، خو تاسو دومره قدرت او ځواک لرئ چې هیڅ برتانوي تبعه دومره ځواک او واک نه وو کارولی؛ ان دغه واک او ځواک زموږ د دولت تر ټولو لوړ رسمي مقام ته نه دئ ورکړل سوی؛ دغه مطلقه قدرت پر یوې پراخې سیمې باندې خپور دئ چې زښت ډیر نفوس او بډای وګړي لري. خو په داسې ځای کې چې د حکومت هر اړخ د حرص، طمعې او بډو/ رشوت په ورکړې پر مخ ځي او وګړي له حکومت سره د بډو له ورکړې پرته تعامل نه کوي نو د اقتدار د لرلو پر ځای ما ته د حیرانتیا ځای دئ چې بیا هم حکومت په پیاوړې ژمنې درستکارۍ ته ژمن دئ او دا یوازې او یوازې له قدرت څخه د معقولې استفادې له لارې شونی دئ.

له دې چې توصیف او ستاینو ته اغلب وختونه په هغو ځایونو کې چې باید ورته پام وسي لږ پاملرنه کیږي خپلې دا خبرې په دې هیلې پای ته رسوم چې تاسو اعلیحضرت دې په هند کې د برتانوي حکومت مشرتوب پر غاړه ولرئ او هغه کارونه مو چې د هیلو له کاروان سره یو ځای په سمه پیل کړي ول پای ته ورسوئ. دا سربښندنه د پام وړ سربښندنه ده خو اجر یې تر دې هم ډیر دئ؛ دغه اجر د پادشاه تر سخاوت او یا د خلکو تر توصیف لا لوړ دئ.

ویاړم چې خپل

ژور درناوی خپل سالار اعلیحضرت ته وړاندې کوم

کلکته، تاسو ته سرسپارلی او تاسو ته تر ټولو مطیع

جورج فوستر

۱۷۹۰ز کال د اگست د میاشتې لومړۍ

# سریزه

د سفرونو په اړوند آثار له پخوا وختونو د پام وړ گرځېدلي او له تاودۀ هرکلي سره مخامخ سوي دي او همدا خبره ما دې ته هڅوي چې دغه کتاب پرته له کوم ډاره د عوامو خلکو په اختيار کې کښېږدم. د بېلابېلو ملتونو له دود دستور سره آشنايي د پټو سترگو د قضاوتونو له کمولو سره مرسته کوي او فکري پرمختيا ته وده ورکوي. دغه موندنه د برتانيا د وگړو لپاره یوه منفرده ښېگڼه لري. دوی د پرتلې کولو له لارې کولی سي د قوانينو، د اساسي قانون او د خپل حکومت ماهيت تشخيص کړي. دغه درک د هغوی ملي هويت لا پياوړی کوي او د اروپايي هېوادونو په منځ کې خپله برجستگي ساتي. کله چې موږ د يوۀ فرد عقلي تمايلات او خلق او خوی په پام کې نيسو - ښايي دا هغه تحليل وي چې په کافي اندازې سمبال او مجهر نه وي - خو زه په زغرده وايم چې ما د خپلو تجربياتو په اوږدو کې د هېڅ ډلې يا ټولنې پر وړاندې کوم تعصب نه دی ښکاره کړی. په ادبي ډگر کې دا يوه مهمه موضوع ده چې ډېريو کسانو او بريالیو څېړونکو د خپل کار ارزښت په دې راټيټ کړی چې د خپلې خوښې يوۀ اعتقادي نظام ته وفادار پاتې سوي دي. دغه ډول تړښت يا وابستگي په عين حال کې چې خپل راښکون او جذابيت لري خو په اغلب وختونو کې دې خبرې اړ ايستلي دي چې د منطق او حقيقت اصول له پامه ورغورځوي او خپل برداشتونه دداسې احساساتو او نظرياتو په چوکاټ کې راونغاړي چې د اعتقادي نظام له احساساتو او نظرياتو سره سمون ومومي.

سيلانيان ان د مشهورو مقاماتو له لورې په دې دليل تر نيوکو لاندې نيول سوي دي چې انځوريز سبک او تر يوې کچې له توصيف څخه بيله لاره يې نيولې ده. د اروپايي ناظرينو له نظارت څخه د ليرې والي په شرايطو کې احساس کوم زه مجبور يم چې په دې کار کې عمومي اعتماد ځانته راجلب کړم. زه تاسو ته ډاډ در کوم چې په قضاوت کې د هر ډول احتمالي خطا په لرلو سرسره زما موخه دا

نه ده چې حقيقت تحريف او يا يې په نا درست شکل سره وړاندې کړم. د بنګال د تېـر وخت او اوسني وخت په اړه لنډ بحث ممکن ارزونې ته اړتيا ولري ځکه ما له دې سيمې څخه د يوۀ سيلاني په توګه ليدنه کړې ده، سره له دې چې د سيمې په اړوند زما خبرتيا به محدوده وي خو بيا هم زما د لنډې استوګنې په اوږدو کې مې ګټور معلومات راټول کړل.

پرته له دې چې د باندنيو ليدلورو تر اغيز لاندې راسم او يا د قدرت د اربابانو له - نه - تأييد څخه وويرېږم په دې وتوانېـدلم چې خپل مخ ته پراتـۀ مسايل په بې طرفۍ تجزيه او تحليل کړم.

د هندو د اساطيرو سَنَد چې په ۱۷۸۵ز کال کې له خاصو نسخو سره خپور سو، هند ته زما له راستـنېـدلو وروسته تر بيا کتنې لاندې راغلی دئ. خو له دې سره سره، زه په دې دليل تشويش لرم چې دا موضوع پيچلې ده او ښايي د پام وړ تناقضات او خطاګانې ولري. د هندوانو د مذهبي مراسمو او دودونو په اړه څېـړنې چې په کرناټکه او پنجاب کې تر سره کېـږي اغلب وختونه بنسټيز توپيرونه ښيي. خو له دې سره سره د هندو مذهب په ټول هندوستان کې د يوې ګډې ستنې پر بنسټ ولاړ دئ او د پراخ جوړښت له بشپړې ارزونې وروسته اساساً په بنسټيزو برخو کې يې کوم توپير شتون نـۀ لري. هغه توپيرونه چې ظاهراً ليدل کېـږي ښايي د هـېـواد په شمالي او سويلي سيمو کې د عين خلکو له آدابو او دودونو څخه يې سرچينه اخيستې وي. د کوز کرناټکه خلک نرم خويه او ډارن دي. هغوی په شور، سرښندنې او دقت سره خپل مذهبي دودونه تر سره کوي. په دې سيمې کې برهمنان له نورو مذهبي فرقو سره په شدت سره سابـۀ خوره وګړي دي. برعکس د پنجاب اوسېـدونکي له ځانه متفاوته چارچلند ښکاره کوي. ان هغوی چې په کورنيو چارو کې بوخت دي معمولاً زړور، جسور او ان ځينې وختونه بې رحمه دي. په پنجاب کې برهمنان اغلب وختونه د سرتـېـری خدمت کوي او ډېـرې يې غوښنه خوري او تل مدام ان د سولې او امن پر مهال هم له ځان سره وسله ګرځوي. سوداګر او صنعتګر ان د لنډو سفرونو پر مهال معمولاً له وسلو سره ګرځي. د شمال په ځينو ولايتونو کې په ځانګړې توګه په بنديلکند **Bundilcund** کې بزګر خپلې کروندې ته د تللو پر مهال له ځان سره شلګره يا نيزه ګرځوي. په چارچلند کې دغه ډول بـېـلابـېـلوالی يا تنوع ددې لامل سوی چې په عين وګړو کې آداب او دودونه توپير وومي او که په ځير سره ونه څېـړل سي ښايي دا انتباه رامنځته کړي چې ګنې د شمال او سويل وګړي هـېـڅ ډول ملي پيوند نـۀ لري.

لازمه بولم چې په دې وسيلې خپله د زړه له کومي منه او قدرپـېـژندنه د کمپنۍ د خدماتو اداري ډګروال پولير **Colonel Polier** ته د سيکهانو د پراخو تأريخي اسنادو او د شجاع الدوله د ژوند په اړه د معلوماتو د چمتو کولو په باب وړاندې کړم. هر هغه وخت چې ما د

هند د تأریخ په اړه د لا نورو معلوماتو غوښتنه کوله ډګروال پولیر به په زښت ډېر سخاوت او ورین تندي اړوند مقالات او خپل معلومات راته وړاندې کول. همدا شان زه د بنګال له ښاغلي بریستو Bristo څخه د زړه له تله مننه کوم چې د شجاع الدوله د خاطراتو په باب یې یوه ارزښتمنه خطي نسخه راته چمتو کړله او د همدې نسخې له مخې مې ګټور او په زړه پورې معلومات رااخیستي دي. د سړک د لارې چارت چې زما د ژورنال د محاسباتو پر بنسټ چمتو سوی دئ د بنګال د انجنیري څواک د ښاغلي ویلفورډ Mr. Wilford له پلوه جوړ سوی دئ چې په جغرافیې کې پراخ او هر اړخیز معلومات او پوهه لري.

په دې کتاب کې له وړاندې سویو مطالبو څخه ښایي علمي ټولنه حد اقل مرسته تر لاسه کړي. زما د سفر بڼه داسې وه چې د لارې د اندازې او یا د لوري د څرک د لګولو لپاره له هېڅ وسیلې څخه د استفادې اجازت یې نه راکاوۀ. له یوې خوا مې د خپل لوري د ټاکلو لپاره د لمر د لوري پر بنسټ مزل کاوۀ او له بلې خوا مې په سیمې کې په هغو محاسباتو ډېره لګوله چې په سیمې کې دود وې او معمولاً تر ډېره نادرست محاسبات هم نـۀ دي. ددې ترڅنګ په نباتاتو کې زما محدود تخصص ددې مانع ګرځي چې په کشمیر او فارس کې د ونو او نباتاتو په هکله دقیق ګزارش ورکړم. خو له دې سره سره ددغو سیمو طبیعي سرچینې شاردن Chardin، له براین Le Bruyn او برنیه Bernier په بشپړ ډول څېړلي دي او زما ناتواني په کې لږه محسوسیږي.

---

# د لومړي ټوک مطالب

**له کلکتې تر کشمير پورې لاره**

**د هندوانو د اسطورې لنډه شرحه**

**د روهيليه، شجاع الدوله او سيکهانو لنډ تأريخ**


65
55
Lake Ladoga
PETERSBURG
Sofiya
Tchudova
Novgorod
River Msta
Valdai
Vet Volotchok
Canal
Torjok
Tver
R. Volga
Klin
Moscow
River Oaka
R
U
E
R
U
N



75
80
THIBET
Ganges River
30
Loldong
CASHMERE
Serinagur
Bahnaul
Nausman
Chinnanee
Hydaspes
Jummoo
Mancoat
Bunguary
Nourpour
Vadone
Bullaspour
Nahan
Seba
Setlege River
Ray Gaut
Rauvee R.
LAHORE
Chinaab River
Behut River
Sinde or Nilab River
Bazar
Attock
Indus
Paishawur
Cow River
DELHI
HINDOOSTAN
25
A
SEA
Reshd
50
65
70
A MAP
of the
ROUTE OF MR. FORSTER,
from LOLDONG to
PETERSBURG,
in the Years
1783 and 1784.

# د فوستر سفرونه

---

## لومړی لیک

بنارس، د آگست ۳۱، ۱۷۸۲ ز

محترم ښاغلیه!

وروسته له دې چې د هندوانو د اساطیرو په هکله د یوې لنډې څېړنې لپاره مې پرېکړه وکړه نو لومړی مې بنارس ته د سفر پرېکړه وکړه، دغه ښار ته د تللو لپاره مې لازم اجازت ترلاسه کړ. زه په دې باور یم چې زما د سفر له روایت او راټولو سویو معلوماتو او لید لوریو څخه به خوند واخلئ. له همدې کبله خپل تجربیات له تاسو سره شریکوم او له تاسو غواړم چې زما په شان د یوه ناآشنا او نابلد سړي [1] لید لوری هم په پام کې ولرئ، په دې معنی چې ښایي زما ملاحظات او استنتاجات ناسم او نادرست ټکي ولري خو هېڅکله دا موخه نهٔ لرم چې حقیقت په نادرسته بڼه بیان کړم.

د مې د میاشتې په ۲۳ نېټې له کلکتې وخوځېدم او په بله ورځ یې سوک ساگر Sooksagur ته ورسېدم. دا یوه کرونده ده چې په ښاغلو کرافتس او لیناکس Crofts and Lennox پورې اړه لري، دا کرونده ارزښتناکه او په چټکۍ مخ په ودې ده. دغو ښاغلو په دغه ځای کې د سپینو ټوکرانو د تولید یوه فابریکه جوړه کړې ده چې کمپنۍ په کې په کلني ډول شاو خوا دوه لکه روپۍ پانگه اچونه کوي. ددې ترڅنگ دوی د خامو وربېښمو د تولید لړۍ هم پیل کړې او د مخ په ودې او پرمختگ هیله مندي ورڅخه ښکاري او زه د زړه له کومې هیله مند یم چې ددغو ځایونو د شاباش وړ ښبتنانو هڅې به گټورې پایلې وزېږوي. په دې کروندې کې د الکهولي څښاکو د پام وړ اندازه هم تولیدېږي او سره له دې چې تر ډېره د امریکایی رَم American Rum شرابو ته ورته والی لري خو کیفیت یې تر امریکایي رَم ټیټ دئ. د هالند د جگړې له پیل راوروسته د دغو شرابو په تقاضا کې د پام وړ ډېروالی راغلی دئ. دا فابریکه د

---

[1] - مؤلف د مدراس د بنسټ ملکی مأمور دئ.

بتاویا [1] د شرابو (عرق) [2] په شان ګڼې موخې لري او دا هیله مندي سته چې د بنګال ولایت دې د دغو تولیداتو له فعال خرڅلاو څخه بې شمېره ګټې ترلاسه کړي. د هغو کسانو د قدر پېژندنې لپاره د دولت هر اړخیز او عادلانه ملاتړ ضرور دئ چې د ارزښتمندو صنایعو د معرفۍ له لارې د خپل هېوا د سمسورتیا په لارې کې مرسته کوي. ددې تر څنګ ددغسې لاسته راوړنو د خپرولو کار او د خپلو هېوادوالو په منځ کې د تقلید د روحیې پیاوړې کول ضروري او د دې ټکي ډاډمن کول مهم دي او نوښتګر د هغوی د نوښتونو او سختو کارونو له کبله د ستاینو وړ دي دا ټولې چارې د ناظرو او د څارونکو کسانو پر اوږو دئ. دې ټکي ته مو باید پام وي چې دغه نوښت د بنګال د حکومت ځانګړې پاملرنه ځانته اړولې ده چې ددغسې ګټورو پروژو د پرمخ وړلو او هڅولو لپاره یې پیاوړې ژمنه له ځانه ښودلې ده.

انګلیسان نباید ځانونه ددې هېواد مؤقت استوګن وګڼي. دوی عملاً ددې ځای په اصلي حاکمانو بدل سوي دي. ددوی کړۀ وړۀ او چارچلند نباید په لنډ مهالو او زودګذرو ملاحظاتو دیکته سي. د هغې پر ځای دوی باید دا ټکی تشخیص کړي چې د خلکو سوکالي او ثروت د عمومي ګټو د پیاوړتیا لپاره ضروري دي. له دې کبله دوی باید په هر اړخیزه توګه د خلکو د اړتیاوو ملاتړ وکړي او د هغوی هڅو ته دې وده ورکړي. دغه ډول ګټور او محتاطانه چارچلند د خصوصي او عمومي سوکالۍ له ودې سره مرسته کوي او د هغو خاصو اقداماتو لپاره د داسې یوۀ جبراني اقدام په توګه عمل کوي چې ممکن د بیا دقیقې ارزونې پر وړاندې مقاومت ونۀ لري او ملي اعتبار به یې مخکې له مخکې مکدر کړی وي. ددې موضوع د شرحې لپاره زه اړ کېږم چې د بنګال د کورنۍ او باندنۍ سوداګرۍ داینامیک راوسپړم او همدا شان په ټوله سیمه کې د پولي دوران د پراخ او هر اړخیز کمبود اړخونه راوسپړم.

مخکې له دې چې بنګال د انګلیسانو له خوا تصاحب سي، هغو بېلابېلو هېوادونو چې له دې سیمې سره یې سوداګري درلوده مؤظف ول چې د ترلاسه کېدونکو اجناسو لپاره فلزي مسکوکات ورکړي ځکه یو شمېر محدود اقلام ول چې سیمه ییزو استوګنو وګړو په سوداګرۍ کې جنس په جنس مبادله کوله. د سوداګرۍ دا بڼه د هند لپاره ډېره ګټوره وه او همدا احتمال سته چې دلته دې ډېر سرۀ او سپین زر راټول سوي وي او دې لړۍ تر یوې نیمې پېړۍ پورې دوام کړی دئ. خو له دې سره سره، په بنګال کې د انګلیس د حکومت له استقرار وروسته د سوداګرۍ دغسې یوه سیستم ته اړتیا لږ سوه. د سیمه ییزې کارګو او د عمومي مصارفو د پوښښ لپاره تولید سوی عاید کافي وو. په پایله کې بنګال ته د فلزي مسکوکاتو د سیلاب یوه دروازه په اغېزمنه توګه وتړل سوه. په دې توګه موږ به

---

[1] - Batavia

[2] - arrack

وروسته وګورو چې په سیمې کې سیاسي بدلونونه د انګلیسانو په ګټه ول، له نورو اروپایي هېوادونو څخه دې ورته وارداتو کې چې له بنګال سره په سوداګرۍ کې ښکېل دي د پام وړ لړوالی راغی. هغوی د خپلو موجودو اجناسو د پلورلو د مشخص کولو لپاره په دې بریالي سول چې له انګلیسانو څخه د پام وړ مالي سرچینې ترلاسه کړي چې ورباندې په اروپا کې پورونه تادیه کړي. ددې ترڅنګ بنګال د خپلې کورنۍ سوداګرۍ په داینامیک کې د مسلمانانو د اقتدار د انحلال له کبله د پام وړ بدلونونه تجربه کړي دي.

سیمه ییزو شهزادګانو او د بېلابېلو ریاستونو ریسانو له خپلو بې شمېرو ملازمینو سره د پام وړ ماهرو کارګرانو ته د ثابت کار زمینه برابره کړې ده. دغه صنعتګر خپلو مشتریانو ته د مجللو اقلامو ټولګه تولیدوي لکه د سرو او سپینو زرو زرین منسوجات چې پیچلي نقش او نګارونه لري، ساده کتان د ښایسته ورېښمو بېلابېل ډولونه او نور مجلل آسیایي اقلام چې طبیعتاً د تجملي ژوند او ثروت په دلیل د پام وړ ګرځي او خپلو اربابانو ته یې وړاندې کوي. دغه مسلمان یا هندو مشران یا لېرې کړل سوي او یا یې خپلې پخوانۍ سرچینې له لاسه ورکړي دي. په پایله کې هغه صنعتګر چې ددغو شتمنو او متنفذو مشرانو د ملاتړ تر سیوري لاندې یې وده کړې وه د معیشت د کمبود په دلیل یا له خپلې سوداګرۍ څخه لاس پر سر سوي او یا له سیمې وتلي دي. پایله دا سوه چې د کم – پیدا لاسي صنایعو بېلابېلې برخې په څرګنده سقوط سي ان تر دې کچې چې یو شمېر ډېر معتبر محصولات اوس د تأریخ په پاڼو کې ورک سوي دي. د مغولو او د فارس د بې نظمو امپراتوریو خوار حالت اوس ددې جوګه نه دئ چې د اصفهان او د ډیلي د عظمت د مهال په شان بنګالي تولیداتو ته اړتیا ولري دا اړتیا اوس بیخي پیکه سوې ده. دا ټکی د پام وړ دئ چې د مغولو دربار هم د خپل عظمت او هم د خپل ثروت له اړخه له ټولو نورو ملتونو څخه پرمخ تللی دئ. په اکثریتو ولایتونو کې خورو ورو بولندویانو د خپلواکو حاکمانو دودونه او آداب منلي دي او ددوی مجللې جامې عمدتاً په بنګال کې تولید کېږي. له دې کبله دا خبره به منطقي وي چې دا نتیجه واخلو چې ددغسې یوې سوداګرۍ توقف بې شکه چې ژور عواقب لرلي دي. ددې توضیح تر څنګ چې د سوداګرۍ دغې پېښې چې د بنګال سوداګریز کیفیت ته یې د پام وړ بدلون ورکړ باید ووایم چې زه د کوم ځانګړي تخصص لرونکی نهٔ یم چې ادعا وکړم چې ګټې دا هېواد له پراخ تاوان سره مخامخ سوی دئ. خو دا امکان سته چې رامنځته سوی تاوان به اروپا ته د کلنیو صادراتو په ډېریدو سره جبران سي.

دغهٔ هېواد ته د اروپایي کرنسۍ او غیر مسکوکو فلزاتو لکه د سرو او سپینو زرو د خښتو راتګ ته په کتو چې د سیل په شان راوړل سول او همدا رنګه هغه عوامل چې ددې سوداګرۍ د توقف لامل سول غوارم دلته په بنګال کې د مسکوکاتو د ضرب د کمیدلو په اړه

بېلابېل نظريات شريک کړم؛ دا هغه وضعيت دئ چې له ډېرو وختونو راپه دېخوا د اندېښنې وړ دئ. د مسلمانانو د حکومت پر مهال له خصوصي ثروت څخه په هماغه سيمه کې ګټه اخيستل کېده چې هلته لاس ته راغلی وو. حال دا چې دداسې ثروت راټوليدل يا تراکم ممکن له ظلم او زور زياتي سره بدرګه وو، ددې ثروت سريع او چټک چلند د تجمل د متعددو مجراګانو له لارې تر سره کېده چې په پای کې پرته له دې چې د پيسو عمومي ارزښت لږ سي د سيمې په ښايسته او ښکلي کولو کې يې مرسته کوله. کولی سم دا ادعا وکړم چې په دولتي او خصوصي بنسټونو کې د اروپايانو پانګه اچونه ددې لامل سوې چې د صنعتګرو او کارګرانو اړتياوې په کافي اندازه تأمين سي. خو له دې سره سره غواړم دا خبره هم وکړم چې دغه لګښت د پخوانيو پادشاهانو له هغو لګښتونو څخه زښت ډېر لږ دئ چې هغوی د جوماتونو، حمامونو او د هندوانو د معابدو په ودانولو د اوبو د زيرمه کولو د ځايونو او د پراخو باغونو په جوړولو ، او د مجللو خصوصي ودانيو ټولګو ودانولو ته اختصاصولې. دغه ډول لګښتونه د اروپايانو له لېوالتياوو او ګټو سره مناسب نه دي چې له هر ډول مذهبي شور او مينې څخه محروم دي تر څو د خلکو زړه او رضايت تر لاسه کړي او نهٔ داسې کومه هېوادپاله انګيزه لري چې په هند کې تأريخي ميراثونه رامنځته کړي. ځکه اروپايان ځانونه ددې ځای مؤقت استوګن بولي او دې ته لېوال دي چې بېرته خپل هېواد ته ستانهٔ سي او د خپلو هڅو له ګټو څخه خوندونه واخلي.

اروپا ته د عمومي حوالو له لارې د انګليسي مالونو کافي نهٔ لېږل او داسې معاملات چې اغلب وختونه د پام وړ تاوانونه له ځان سره مل لري د شرکتونو استازي او خصوصي سوداګر دې ته اړ باسي چې د پيسو صادراتو ته لاس واچوي. له بلې خوا ښايي هغوی دې ته لېوال وي چې خپلې نقدې پېسې په باندنيو صندقونو کې پانګه کړي خو دا کار ددوی د دښمنانو يا لږ تر لږه ددوی د سيالانو د بډای کېدلو لامل ګرځي. پر عمومي حوالو ددغهٔ محدوديت مضر اغيز په ژوره توګه تجربه سوی دئ او په انګلستان کې اړوندو مقاماتو ته يې خبر ورکړل سوی دئ. ددې هيله کېږي چې د هند له لارې د مالونو د اغېزمن لېږد د آسانتيا لپاره ګامونه اوچت سي او په پايله کې يې نور دې ته اړتيا پېښه نهٔ سي چې څوک  دې د ګرانبيو فلزاتو د تاوان زيږوونکو صادراتو ته زړه ښهٔ کړي او يا په راتلونکي کې د باندنيو عواملو لاس وهنه له منځه ولاړه سي. په هند کې راټوله سوې خصوصي پانګه هندي محصولاتو ته اختصاص سوې او ورپسې اروپا ته لېږدول کېږي چې د حوالو ژمنه يې سوې وه. له دې کبله د هر ډول غير مترقبه آفت او بلا د مخنيوي لپاره څرګنده ده چې په اروپا کې ددغو سوداګريزو کڅوړو پلورل د ختيځ هند شرکت ته اجازه ورکوي چې پر خپلو مالي ژمنو عمل وکړي. د بنګال د ستر ذاتي ثروت په ګواهي  ددې ټکي ويل ضرور دي چې ددغه ولايت ثروت بايد ددغه ولايت د ميليونونو وګړو او د

کورومندل او ماله بار **Coromandel and Malabar** د سمندري غاړو په مټ پیاوړی سوی وي او د کورنیو او باندنیو شخړو او له چین او بنکولن **Bencoolen** سره د سوداګري له کبله باید د یوې شپیته تر اویا کلنې دورې په لړ کې یې تراکم موندلی وي.

د اورنګزیب* له مړینې وروسته تر هغه وخته پورې چې موږ په هند کې حضوري استقرار پیدا کړ، مغولي امپراتورۍ وکولی سول خپله واکمني د پام وړ کچې پورې وساتي. د همدې مودې په اوږدو کې له بنګال څخه تر لاسه سوی عاید په اعتمادي ډول هم د کرنسۍ په بڼې او هم د پولي حواله جاتو ♣ له لارې د امپراتورۍ خزاې ته لېږل کېدۀ. اوس څرګنده سوې چې دغه ډول لېږد د پام وړ پولي کمبود رامنځته کوي او ډېری کسان، ان هغوی چې د پام وړ پانګه لري، د باندني لګښت په مدیریت کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. حال دا چې د بنګال سمندري سوداګري له ځانه هغه خوند او رنګ نـۀ ښيي چې یو وخت به یې اورپایان د سمندري غاړو په سوداګرۍ پورې محدودول؛ په کلکته کې یوه خوځنده او مهمه سوداګري مخ په ودې ده. هغه پرمختللې سوداګري چې یو وخت ددې بندر او د « پیګ، سیام او مالي» [1] جزایرو تر منځ موجود وو اوس په کې د پام وړ کموالی راغلی دئ. داسې ښکاري چې دا سوداګري اوس د بشپړې پاشل کېدلو په درشل کې ده مګر دا چې که کوم مطلوب بدلون په چټک ډول سره رامنځته سي او ویې ژغوري. د سوداګرۍ دغه برخې لکه د سپینو زرو خښتې یا غیر مسکوک سپین زر ، د سرو زرو ذرات او قیمتي ډبرې بنګال کې نوی وپېـژندل سوي او چلند یې وموند او بیا له بنګال څخه په عوض کې یې خام او پسولل سوي وریښم، زیږ کتان، تریاک او پوتاسیم نایتریت یې صادرول. همدا شان ادعا سوې چې په دې وروستیو کلونو کې د بنګال سمندري سوداګرۍ د اقتصادي تحریم له کبله تاوان ولید په بله وینا د باندنۍ مالګې پر وارداتو باندې یې لوړه مالیه ولګوله. دغه محدودیت ددې لامل سوی چې د بېړیو په شمېر کې لږوالی راسي او د غلاتو صادرات چې پخوا په کلنې ډول د کلکتې د بندر له لارې کېدل لږ کړي. حال دا چې ممکن پر باندنۍ سوداګرۍ به یې منفي اغیز پرییښی وي خو د ګنګا د مالګې له حاصل څخه عاید په دې وروستیو کلونو کې د همدغه محدودیت له کبله خپلې پخوانۍ کچې ته رسېدلی دئ. ښایي دا به نا امید کوونکي او مسلماً ناعادلانه وي چې د یوۀ ملت تقصیر یا چلنجونه چې ورسره مخامخ دئ پرته له دې چې برجسته سویو مسایلو ته د باالقوه حل - لارو وړاندیزونه ولرو، هغه دې عامه ارزونې ته وړاندې کړو . زما سیمه ییزه پوهه ما ته دومره اجازه راکوي چې ادعا وکړم چې په هندوستان کې د برتانیې د واکمنۍ ودې نهایتاً د بنګال له

---

* دغه سلطان په ۱۷۰۷ز کال کې مړ سوی دئ.- لیکوال

♣ یوه کروړ روپۍ یا یو میلیون پوند سترلینګ د یوۀ کال په اوږدو کې له بنګال څخه ډیلي ته استول سوي دي.- لیکوال

[1] - **Pegue, Siam, and the Malay islands**

پرمختگ او سوکالۍ سره غوټه خوړلې ده. له دې کبله نباید هېـڅ هڅه درنده او د اندیښنې وړ ونـۀ ګڼل سي او د عاید د ډېروالي او یا د سوداګرۍ د پیاړوتیا په لاره کې هـېـڅ معقوله ستراتیژي نباید له پامه وغورځول سي.

د مې د میاشتې په ۲۹ نـېـټې زه «برهامپور» [1] ته ورسـېـدم. په دې فرقه کې چې یوه پراخه او هوسا فرقه ده، د سپاهیانو درې لیواګانې او د اروپایانو یو غنډ ځای پر ځای دئ. د جون د میاشتې په ۱۵ نـېـټې «مرشد آباد» [2] او شاو خوا سیمو ته یې د تفریحی او چکر لپاره ووتلم. غوښتل مې له داسې ځایه لیدنه وکړم چې همدلته جذابې ستراتیژۍ جوړې سوې او له یوې ناکرارې دورې وروسته چې له وینو بهونو او دسایسو سره مل وې انګلیسان یې په دې توانمند کړل چې په دې بډای هـېـواد باندې تسلط پیدا کړي.

له ښاره کوز د یوۀ مایل په واټن د سیند په هاغه بله غاړه کې د «علي وردي خان» [3] قبر دئ چې په هند کې د «مهوبَت جنګ» [4] [ښایي محبت جنګ وي - ژ] په نوم هم شهرت لري. مهوبت جنګ/ محبت جنګ د یوۀ سرتـېـري او د یوۀ سیاستمدار په توګه د خپلو وړتیاوو په مرستې وکولی سول چې ځان له خصوصي وضعیت څخه د بنګال تر «صوبه دارۍ» [5] پورې ورسوي. نوموړی تر اتو کالو پورې د مرهټه وو پر وړاندې وجنګیدۀ او له ډېـر سختو سرښندونکو جګړو وروسته مجبور سو چې هغوی ته د «کټک» [6] ولسوالۍ ګانې ورپـرېـږدي.

د مهوبت جنګ مقبرې ته نـېـږدې د هغه د وراړۀ سراج الدوله قبر پروت دئ؛ د سراج الدوله څـېـره د انګلستان په تأریخ کې په دې دلیل شهرت لري چې د «فورت ویلیم/ د ویلیم کلا» [7] یې نـېـولې وه. په دې پـېـښې پسې سراج الدوله بدمرغه فرقه په یوې تنګې کړۍ کې را ایساره کړه چې اکثریت کسان په کې د سختو شرایطو له کبله له منځه لاړل. ددغـۀ ځوان برخلیک د نورو شرقي شهزادګانو برخلیک

---

[1] - **Berhampore**

[2] - **Mooreshedabad**

[3] - **Ali Verdy Khan**

[4] - **Mahobut Jung**

[5] - **Subahdarry of Bengal**

[6] - **Kuttack**

[7] - **Fort William** : د ویلیم په نوم دوه کلاګانې دي. اصلي کلا په ۱۶۹۶ ز کال کې د شرق الهند د کمپنۍ له خوا جوړه سوه او یوه لسیزه ئـې ونیوله چې جوړول یې بشپړ سول. په ۱۷۰۰ ز کال کې دا کلا د پادشاه ویلیم په نوم ونومول سوه. په ۱۷۰۱ ز کال کې د همدې کلا په سویل ختیځ کې ګارنیزیون ته د یوې کلا د جوړولو پلان جوړ او کار یې په ۱۷۰۲ ز کال کې پیل او په ۱۷۰۶ ز کال کې پای ته ورسید او د ویلیم د کلا په نوم ونومول سوه. د بنګال نواب سراج الدوله په ۱۷۵۶ ز کال کې دا کلا ونیوله. نوموړي ښار د لنډ وخت لپاره نیولی وو او نوم یـې وربدل کړ او د «علي نګر/ الي نګر» نوم یې ورباندې کښـېـښود. - ژ

منعکس کوي، په ځانګړې توګه د هغو شهزادګانو د برخلیک په شان چې له سقوط او زوال سره مخامخ دي. سراج الدوله د «پالسي» [1] په جګړې کې د میر جعفر له خیانت سره مخامخ سو او لږ وروسته د میر جعفر په وسیلې ترور سو. که د میر جعفر کړو وړو ته د طبیعي عواطفو له کړکۍ یا د شخصي شرافت د اصولو له منظره وکتل سي شک نه سته چې دا کړۀ وړۀ عمیقاً ناقص کړۀ وړۀ ګڼل کېږي. مهوبت جنګ په دې لټه کې وو چې میر جعفر به ددۀ ځای ناستي ته وفادار پاتې سي او د همدې لپاره یې ورته لوړ دولتي مقام ورکړ او داسې لاره یې جوړه کړه چې ددۀ له خور سره وادۀ وکړي. ددې ترڅنګ مهوبت جنګ د مرګ په بستر کې پروت وو چې د ځوان نواب ساتنه او پالنه یې میر جعفر ته وسپارله. مهوبت جنګ [2] باید د تیرو شخصي تجربو له مخې دا خبره تشخیص کړې وای چې هیڅ پیوند دومره پیاوړی نه دئ چې وکولی سي جاه طلبۍ ستر - ځواک ته په خپل ځان کې ځای ورکړي په ځانګړې توګه هغه پیوندونه چې د یوۀ آسیایي په وجود کې دننه پراته دي او خپلې مخې ته پراته هرډول خنډونه له منځه وړي.

هغه ملایان چې د مړیو د دعاګانو لپاره دلته مؤظف سوي دي وایي چې د سراج الدوله کونډه په ځلونو ځلونو دې مقبرې ته راځي چې د خپل مړۀ سوي خاوند لپاره د عزا ځانګړي مراسم تر سره کړي. د حکومت د کارځای د بدلون له کبله مرشد آباد اوس له ځانه د ځرګند فقر او زوال نښې ځرګندوي؛ چې نسبتاً نوی ښار دئ. دا ښار یو وخت د بنګال د «صوبه ګانو» [3] ښار وو، او تر تېر نېږدې وخت پورې به یې په «راج محل» [4] کې دربار جوړاوۀ چې د سیند د بلې غاړې په سل مایلۍ کې موقعیت لري. اوسنې صوبه دار مبارک الدوله د میر جعفر لمسی او د نواب «میرن» [5] زوی دئ چې د راپورونو له مخې طبیعي تندر ورباندې لویدلی وو او اوس د کمپنۍ له خزانې څخه د کال شپاړلس لکه روپۍ تر لاسه کوي. په دۀ کې د قدرت د نیولو او جاه طلبۍ نښې نۀ لیدل کېږي او په خپلې اوسنې ونډې او دندې کې نسبتاً له مزاحمته لیرې سړی دئ. په بنګال کې د متصرفاتو د لاسته راوړلو د هڅو په لاره کې د انګلیس ملت د مبارک الدوله له کورنۍ څخه د پام وړ ملاتړ تر لاسه کړی دئ. له دې کبله دغه شهزاده ته دې د محدودو مالي ملاحظاتو له کبله نه منصرفه کېږي. سره له دې چې له هغه سره د ځانګړي لطف او د پام وړ پاملرنې پر بنسټ چلند کېږي خو ورسره ښکاري چې د مشقت او رنځ د شیبو تجربه ورسره ملګرې ده پرته له هغې به یا له عاطفي حساسیت څخه په بشپړ ډول بې

---

[1] - the battle of Plassey

[2]- هغه قدرت ته د رسېدلو په لاره کې په بریالۍ توګه د دسیسې او خیانت له بېلابېلو ابزارو څخه استفاده وکړه. لیکوال

[3] - Subahs of Bengal

[4] - Rajaj Mahal

[5] - Nawab Mirun

برخې وي او يا د هغه د بيان توان نـهٔ لري. په مرشد آباد کې د پام وړ ودانۍ نـهٔ په سترگو کـېـږي : يوازينۍ ودانۍ چې د چا پام ورته اوړي د مير جعفر، د هغه د بيگم او د نواب ميرون مقابر دي.

د ژباړونکي يادونه

لکه څنگه چې د ښاغلو او آغلو لوستونکو پام دې موږ تر دې ځايه د جورج فوستر د يون يا سفر په پيل کې يو چې له بنگال څخه يې پيل کړی دئ. دی د خپل سفر په ترڅ کې خپل عيني مشاهدات ليکي. ما تر دې ځايه د کتاب د پيل څو پاڼې د بـېـلگې په توگه راوړې. له دې چې زموږ موخه د هندوستان د تأريخ څـېـړنه نه ده نو زه له هغو برخو څخه تـېـرېږم چې منحصراً په بنگال او هند پورې اړه لري او نيغ په نيغه هغو برخو ته ورځم چې په افغانستان پورې اړه لري.

تاسو تر دې ځايه پورې د کتاب د لومړي ټوک ۱۳ پاڼې ولوستلې او ونليس ته د ليکوال ليک د انگليسي متن د لومړي ټولک په ۲۹پاڼې کې پای مومي چې د پي. دي. ايف د فارمت ۵٦ پاڼه کيږي.

په ۳۰ پاڼې کې ونليس ته د ليکوال دوهم ليک پيل کيږي چې په بنارس کې د ۱۷۸۲ز کال د سپتمبر په ۳۰ نـېـټه ليکل سوی دئ. دا ليک د بنارس شرحې ته ځانگړی سوی دئ. دا ليک په ٦۰ پاڼې پای مومي چې د پي. ډی. ايف ۸۸ پاڼه کېږي.

په ٦۱ پاڼې کې د پی. ډي. ايف د فارمت ۸۹ پاڼه کې د ليکوال دريم ليک راغلی دئ چې د ۱۷۸۲ز کال د نوامبر په ۳۰ نـېټې ليکل سوی دئ. دا ليک هم د بنارس او هم د هندو د ميتالوژۍ شرحه وړاندې کوي او د لومړي ټوک په ٦٦ پاڼې پای مومي چې د پي ډي. ايف ۹۳ پاڼه کيږي.

په ٦۷ پاڼې کې څلورم ليک راغلی دئ چې د «الا آباد» شرح په کې راغلې ده او په ۷۵ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ايف ۱۰۲ پاڼه کيږي.

په ۷٦ پاڼې کې د لکنهو شرحه راغلې ده چې پينځم ليک دئ او د ۱۷۸۳ د جنورۍ د مياشتې په لومړۍ نـېـټې ليکل سوی دئ. دا ليک په ۸۴ پاڼې پای مومي چې په ۸۴ پاڼې پای مومي چې د پي ډي. ايف د فارمت ۱۱۱ پاڼه کيږي.

په ۸۵ پاڼې کې شپږم ليک راغلی دئ چې د لکهنو د شرحې دوام دئ او د ۱۷۸۳ز کال د جنورۍ په ۱٦ ليکل سوی دئ او د لومړي ټوک په ۸۸ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ايف د فارمت ۱۱۵ پاڼه کيږي.

په ۸۹ پاڼې کې اووم لیک راغلی چې د د ۱۷۸۳ز کال د جنورۍ د میاشتې په ۲۶ نېټه لیکل سوی دئ او دا لیک د «فرخ آباد» شرحه وړاندې کوي دا لیک د لومړي ټولک په ۹۴ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ایف ۱۲۱ پاڼه کیږي.

په ۹۵ پاڼې کې اتم لیک راغلی چې د ۱۷۸۳ز کال د فبرورۍ د میاشتې په پینځمې نیټې لیکل سوی دئ. دا لیک د رامپور د ښار شرحه وړاندې کوي او د لومړي ټوک په ۹۹ پاڼې پای مومي چې د پي. ډي. ایف د فارمت ۱۲۶ پاڼه کیږي.

د لومړي ټوک په ۱۰۱ پاڼې کې بل لوی عنوان راځي د «روهیلیه تأریخ» نومېږي. زه به یې له همدې ځایه پیل کړم چې د پي. ډي. ایف د فارمت ۱۲۸ پاڼه کیږي.

# د روهیله [1] تأریخ [2]

داسې ښکاري چې د ۱۷۲۰ز کال په شاو خواوو کې د روهیلیه د قبیلې بشارت خان او داؤود خان د خپلې قبیلې د څو تنو اړمنو او ماجرا پالو کسانو په ملتیا هندوستان ته د سربازۍ د خدمت لپاره راغلي ول. دوی د «سکورلي» [3] په سیمې کې د هندوانو د یوۀ مشر «مدار سها» [4] لاس ته ورغلل. مدار سهار د غلا، شوکو او لوټمارۍ له لارې د لوټمارو یوه ډله جوړه کړې وه. داؤود خان د همدې سیمې د گاونډ له یوۀ کلي څخه د جټانو [5] د قبیلې یو تنکی ځوان یرغمل کړ او دی یې د خپل زوی په توگه ومانۀ. دی یې مسلمان کړ او د علي محمود نوم یې ورباندې کېښېښود؛ سره له چې داؤود خان له خپلې مېرمنې څخه څو زامن درلودل خو بیا یې هم ددغۀ هلک پر وړاندې خپله ځانگړې پلرنې مینه وښودله. مدار سها روهیلیانو ته د ژوند – ژواک لپاره یوه توټه ځمکه [6] ورکړه او د روهیلیانو روهیلیانو شمېر مخ په ډېرېدو سو بشارت خان ته د «گول ریه» [7] سیمه او یو شمېر کلي ورسېدل او داؤود خان ته «برنیه او بیولي[8]» [9] ورسېدله.

---

[1] - زما د معلوماتو پر بنسټ دغه نوم د (ره Rah) له کلمې څخه اخیستل سوی دئ چې په افغاني «پښتو – ژ» ژبې کې د غونډۍ یا د غرۀ په معنی ده. همدا شان دا یوه سیمه ده چې د پېښور او کابل تر منځ واقع او د روهیلیانو بومي ټاټوبی دئ. لیکوال

[2] -HISTORY OF THE ROHILLAS

[3] -Scrouly - د روهلکنډ په شمال لویدیځ کې یو کوچنی ښارگوټی دئ. لیکوال

[4] - Madar Saha

[5] - جټان یوه قومي ډله ده چې د شمېر له اړخه بې شمېره دي او د هندوستان د شمال په برخو کې میشته ډله ده چې د هندوانو «د طبقاتي سیستم – ژ» په څلورمه ډله یعنې سوډرو کې راځي.لیکوال

[6]- د روهیلیانو هغه افسران چې له قومي مشرانو څخه را وروسته رتبو کې ول دغه یې نومونه دي : قایم خان، شادي خان، پرمول خان، سلطان خان دونگیاه - لیکوال

[7] - Goolareah

[8] - Burneah and Beouly

[9] - کلي د «سولاسي Sullausee » په ولسوالۍ کې واقع دي چې د روهلکند یوه برخه ده چې د بارلي Bareily د شمال لویدیځ په ۴۰ محاسبه سوي مایلي کې واقع دئ. وگورئ د رنل نقشه- لیکوال

په هغه مهال کې چې روهیلیانو لا په محدود وضعیت کې ژوند کاوهٔ د شاه علم خان په نوم یوهٔ افغان [1] ملا [2] په هندوستان کې د خپلو هېوادوالو لیدلو ته راغی. ویل کېږي چې نوموړي له داؤود خان سره ځانګړې اړیکي لرل یا دا چې داؤود خان د پلار په توګه منلی وو او یا دا چې د داؤود د ژوند د لویېدلو په پړاوونو کې یې ورسره مرسته کړې وه. دا اړیکي که په هر ډول وې، خو دا تصدیق سوې چې په «بیورلي» کې د نوموړي ملا ښه مېلمه پالنه وسوه. کله چې شاه علم خان بېرته افغانستان [3] ته ستنېدهٔ داؤود ورته د لارې د لګښت لپاره روپۍ ورکړې. شاه علم خان وروسته ددوهم ځل لپاره د «کوتیر» [4] لیدلو ته راغی او بیا یې د داؤود خان له سخاوت څخه ګټه واخیستله. کله چې شاه علم خان بېرته ستنېدهٔ، خپل کورته د ستنېدلو په لاره کې ووژل سو او شتمني یې لوټ سوه. ویل کېږي چې د ملا دغه وژنه څکه د داؤود خان له پلوه ترتیب اثر سوې وه چې نوموړي ملا د داؤود خان پر ضد یو شمېر کبرجنې او متکبرې خبرې کړې وې. زما ددې خبرې موخه اساساً د حافظ رحمت خان د پلار په هکله ده چې وروسته هغه هم له بدمرغی سره مخامخ سو.

روهیلیان له مدار سها **Madar Saha** سره له اختلافاتو وروسته د هغه له قلمرو څخه ووتل او د «بریلي» [5] له مشر «چاند خان» [6] سره سره متحد سول. دوی ټول په ګډه د مراد آباد د والي عظمت خان په خدمت کې سول. خو له والي سره ددوی اړیکي لنډ مهالې وې څکه دوی ډېر ژر د شمال د غرونو پر لور وخوځېدل او د «کومیون» [7] د راجه د قلمرو پر ضد یې خپل یرغلونه پیل کړل. مخکې له دې چې چاند خان له روهیلیانو سره یو ځای سي، له روهیلیانو سره په دغسې عملیاتو کې له ګډون څخه یې ډډه کړې وه، سره له دې چې روهیلیانو په لومړیو کې څه ناڅه بریالیتوبونه درلودل خو په عمومي ډول سره یې ماتې خوړلې وه. سره له دې چې روهیلیان د

---

[1] -**WHILST the Rohillas were yet in this limited state, Shah Alum Khan, an Afghan Mollah, visited his countrymen in India {Page 102, Volume 1, PDF Format both volumes combined page 129}**

[2] - د ملا نوم هغو کسانو ته اطلاق کېږي چې په دیني لاربښوونو او محـمدي شریعت کې مهارت ولري.- لیکوال

[3] -**In whatever relation the Mollah stood to Daoud Khan, it is allowed that he was hospitably treated at Beouly; and on returning to Afghanistan, was furnished with a sum of money for desraying the expences of his journey. {Page 102, Volume 1, PDF Format both volumes combined page 129}**

[4] **Kuthair** - دا د روهیلکند اصلي نوم دي چې د روهیلیه وو له فتحې مخکې ښې دا نوم وو او د هېواد د عمومي ثبت په دفاترو کې منل سوی دئ. لیکوال

[5] - **Bareily**

[6] - **Chand Khan**

[7] - **Rajah of Cummaioun**

هېواد ژورې ستراتيژيکې برخې باندې ننوتلي ول خو گوري چې له هر لوري د غرنيو [1] خلکو په محاصره کې راگير سوي دي او دوی د هغوی د تدارکاتو لارې قطع کړې وې، روهيليان مجبور سول چې د ځان د آزادۍ لپاره له سپکاوي ډک شرايط ومني. داؤود خان او علي محمود راجا ته وسپارل سول چې داؤود اعدام سو او علي محمود چې اعدام ته برابر وو په سختۍ په تيښتې بريالی سو. روهيليان وايي چې داؤود خان د کوميون راجا ته نه وو تسليم سوی بلکه د غرنيو د يوې ډلې په غلچکي يا غافلگيرانه بريد کې ووژل سو. له دې پېښې وروسته د روهيليانو ډلې (بيولي او برنيا) [2] ته چې کوميون ته له تگ مخکې يې خپلې کورنۍ په کې ځای پر ځای کړې وې شا تگ وکړ. ډېره موده لا نه وه تېره چې روهيليانو د مدار سها د قلمرو سيمې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې او لومړی حاکم يې د يوه يرغل په لړ کې ووژل سو. د داؤود خان له مړينې وروسته علي محمود ددې ډلې د مشر په مقام منصوب سو. [3] سره له دې چې ځوان وو خو ځرگنده يې کړه چې ددې مقام وړتيا په کې سته. نوموړی زړور او د خپل قلمرو د پراخولو او د خپل قدرت د پياوړي کولو لپاره له مساعدو فرصتونو څخه په استفادې کې مدبر وو. په (منونه) [4] کې ميشت يو خصي يا د حرمسرای خواجه د (اومره وو) [5] ] د دربار د غړو – ژ] د چارو مسؤول وو، دغۀ سړي په کوتير کې ځمکې درلودلې چې د خپلې خوابدۍ پر بنسټ يې علي محمود ولمساوۀ چې د (اوله) [6] د سيمې په مشر دې بريد وکړي. روهيليانو په چټکۍ سره وکولی سول دا سيمې ونيسي او په پای کې يې له خپل قلمرو سره ونښلولې. ددې اخ و ډب په لړ کې د خواجه سرا پر وړاندې يې بله توجيه ومونده او د يوې پرېکنده او برخه ليک جوړوونکې جگړې [7] په لړ کې يې ورباندې غلبه ومونده. دغې بريا نه يوازې د سيمې د اشرافو ځمکې ورته په لاس ورکړې بلکه د پام وړ غنايم يې هم تر لاسه کړل. علي محمود د وزير قمر الدين په مرستې نه يوازې په دربار کې خپل موقعيت او

---

[1] - دا يوه پراخه غرنۍ سيمه ده چې د هندو مشر له متصرفاتو څخه ده او د روهيلکنډ شمال – ختيځه برخه جوړوي.- ليکوال

[2] - **Beouly and Burneah**

[3] - د داؤود خان زوی محمود خان يا دا ده چې په علي محمود کې يې د پلار مينه ليدله او په کې ډوب سوی وو او يا دا چې روهيليه افسرانو د پلار له ځای ناستې کېدلو څخه محروم گرځولی وو، که هر څه ول وي دې خو محمود خان فرخ آباد ته په شا سو او هلته د يوې «بنگلش **Bunglish**» کورنۍ له پلوه ورروزل او وپالل سو. هغه په لاس ليکل سوی ليک چې ما ليدلی دئ وايي چې محمود خان د پلار د مړينې پر مهال کوچنی ماشوم وو او بيا هم وايي چې تر څو کلونو پورې د علي محمود په کور کې وو. - ليکوال

[4] - Munounah : د روهيلکند يو ښارگوټی دئ.ليکوال

[5] - **omrahs** : د هند د مسلمانو سلاطينو په دربار کې لوړ پوړي مقام ته به «اومره» ويل کېدل. - ژ

[6] - Owlah

[7] - ددغه خصي سوې يا خواجه سرا پر وړاندې جگړه په ۱۷۲۷ ز کال کې پېښه سوه چې خواجه سرا يې په لړ کې ووژل سو.ليکوال

ځای ځایگی بیرته ترلاسه کړ بلکه د مستمري له ځمکو څخه د عایداتو د راټولولو د څار یا نظارت دنده یې ترلاسه کړه او ویل کېږي چې په ټولې وفاداری یې وسپارلې. [1]

دغه دوره په روهیلکنډ کې د روهیلیانو د پام وړ د قدرت د استقرار څرگندویه ده؛ د روهیلکنډ نوم د کوټیر د سیمو او گنگ د سیند ختیځو څنډو لپاره وکارول سو. وروسته له دې چې عظمت الله خان د مراد آباد له حکومت څخه لېرې کړل سو د «هونود» [2] په نوم یوه برجسته هندو افسر ته مأموریت ورکړل سو چې د روهیلیانو د له منځه وړلو لپاره دې هغې سیمې ته ورسي. داسې ښکاري چې د محـمد شاه په دربار کې پیاوړي درباري «عمدة الملک» [3] ددغه اقدام مشوره ورکړې وه؛ په حقیقت کې دا د هماغه خصي یا خواجه سرا د وژل کېدلو په غچ کې یو اقدام وو چې د یوۀ لوی جاگیر د څارلو او نظم دنده یې پر غاړه وه. هغه جگړه چې خصي یا خواجه سرا په کې وژل سوی وو په ۱۷۲۷ز کال کې پېښه سوې وه.  دا اقدام چې په داسې څرگندې او بربنډې سرغړونې تقریباً د دربار په شاو خوا کې ترسره سو د مغولو د امپراتورۍ د ځوړتیا او سقوط څرگندونه کوي او په څرگنده په ډاگه کوي چې وسله وال ځواک نور هغه اقتدار نه درلود چې اکبر او اورنگ زیب یې نه ماتیدونکي گرځولي ول. د روهیلیانو د تأریخ په یو شمېر پاڼو کې ویل سوي چې عظمت الله خان [4] په جبر او زور د علي محـمود له لورې له خپل حکومت څخه خلع او معزول سو. دغه افسر د امیر خان په نوم هم پېـژندل کېدۀ چې د «مَنَونه او اوله» [5] سیمې یې تر ولکې لاندې وې. د علي محـمود [6] تر مشرۍ لاندې ول چې د هونود ځواکونه ورسره مخامخ سول او هونود بشپړه ماته وخوړله. هونود او زوی یې دواړه په دې جگړې کې ووژل سول؛ مراد آباد او ورسره د بریلي سیمې د علي محمـود لاس ته پریوتلې. د همدې مودې په اوږدو کې ول چې روهیلیه «عظیم خان دونغي» [7] چې د «پلي بیټ» [8] زمیندار ته یې خدمت کړی وو  له علي محـمود سره متحد سو. راپورونه وايي چې همدا عظیم خان وو چې علي محـمود یې ولمساوۀ

---

[1] - د یوۀ څرگند او برالا یاغی دا اقدام چې د دربار د غوړونو په بیخ کې تر سره کېږي د مغولو د امپراتورۍ د سقوط د مهمو شیبو څرگندونه کوي. دا په څرگنده په ډاگه کوي چې د پوځي ځواکونو هغه قدرت او جلال نور له منځه تللی وو چې اکبر او اورنگزیب یې پیاوړي کړي ول.  لیکوال

[2] - Hunund

[3]-**Omdut Ul – Mulck** دغه افسر د امیر خان په نوم هم پېـژندل سوی دئ.لیکوال

[4] - د روهیلیه د تأریخ په یو شمېر پاڼو کې دا ثبت سوي چې عظمت الله له خپل حکومت څخه د علي محـمود له لوري په جبر او زور معزول سوی دئ. لیکوال

[5] - **Munounah and Owlah**

[6]- دا پېښه په ۱۷۴۰ز کال کې رامنځته سوه چې پر هند باندې د نادرشاه له برید یو کال وروسته رامنځته سوه. لیکوال

[7] - **Azim Khan Dungheah**

[8]-**the zemindar of Peleabeat** : پیلي بیټ : دا د روهیلکنډ په ختیځ کې یو ښارگوټی دئ چې د ځنگلي غونډیولمنو ته نـېږدې واقع دئ وگورئ د **Vide Rennel** نقشه. لیکوال

د خپل متوفی ارباب په ځمکو او جایداد دې برید وکړي. روهیلیانو چې د خپلې سیمې د پراخولو او لوټ لپاره له هر فرصت څخه استفاده کوله په ‹هندو› [1] برید وکړ او دې ته يې اړ کړ چې له خپلې مینې څخه ووځي. د هونود له مړینې وروسته - سره له دې چې دقیقه شرحه او جزییات يې نه دي ورکړل سوي – او مشخصه نېټه يې نه ده یاده سوې - دا خبره ثبت سوې چې د وزیر قمر الدین زوی ‹میرمنو› [2] له یوه لښکر سره روهیلکنډ ته واستول سو؛ ددې لښکر- لیږد موخه دا وه چې له علي محمود څخه د روهیلکنډ مالیاتي عواید راټول او هغه توپخانه ورڅخه واخلي چې د هونود له سرتېرو څخه يې تر لاسه کړې وه. علي محمود ‹داران غر› [3] ته ته نېږدې د ګنګ د سیند د ګودر په برخې کې له میر منو سره مخامخ او همدلته یو توافق تر لاسه سو؛ همدا شان راپور ورکړل سوی چې د روهیلیه یوه لور د میرمنو ورور ته وادهٔ سوه. هندوستان ته د حافظ رحمت خان [4] د تللو داستان دومره وایي چې نوموړی د علي محمود د حکومت پر مهال له خپلو هېوادوالو سره یو ځای سو. علي محمود هم په چټکۍ حافظ رحمت خان ته د مشر مقام په دې دلیل ورکړ چې که د علم خان له قتل وروسته يې کومه کرکه او کینه پاتې وي هغه دې له منځه لاړه سي. ‹دهوندي خان› [5] د علم خان وراره هم په همدې مودې روهیلکنډ ته ورسید او د علي محمود تر لطف او پېروزینې لاندې راغی. علي محمود چې ښایي تر ډېره د پخوانیو سپکو سپورو د غچ اخیستنې په پرتلې خپلو سوبو ته ډېر لېوال وو په ‹کومیون› [6] برید وکړ او په بریالیتوب يې وربانډې وربانډې برلاسی تر لاسه او د سیمې رییس يې اړ کړ چې سرینګر [7] ته پناه یوسي. نوموړي د خپل لښکر- لېږد په دې لړ کې د پام وړ خزانه راټوله کړه او د کلني خراج په ایښودلو يې خپل ثروت وروستي حد ته ورساوهٔ. ددې تر څنګ روهیلیه ځواکونه د ‹کومیون› د متعلقاتو د ‹کاشي پور› او ‹رودر پور› [8] په کلاګانو کې ځای پر ځای سول او د ددغو کلاګانو ښتونولي يې واخیستله؛ ویل سوي دهٔ دا کار د خپل پلار د قتل په غچ کې وکړ.

---

[1] - Hindoo

[2] - Meer Munnoo

[3]- Daranaghur د ګنګا د سیند پر غاړه یو ښارګوټی دئ چې د روهلیکند په شمال لویدیځ کې موقعیت لري.وګورئ د رنیل نقشه - لیکوال

[4] - همدا سند وایي چې حافظ رحمت خان هندوستان ته د سوداګر په بڼه راغلی وو. لیکوال

[5] - Dhoondy Khan

[6] - Cummaioun

[7] - د روهلیکنډ په شمال کې د هندوانو یوه سیمه ده. لیکوال

[8] - Cashipour and Rooderpour

علي محمود چې عمدتاً په (اوله) [1] کې يې ژوند کاوۀ د خپل ټول قلمرو په اوږدو کې يو ټينګ حکومتي سيستم رامنځته کړ. سره له دې چې دا سيستم سخت او شديد وو خو بيا يې د ټيټې طبقې خلکو ته خونديتوب او تحفظ ورپه برخه کړ. سردار خان چې د بېلابېلو عملياتو او پېښو په لړ کې ځان زړور سرتېرى ثابت کړى وو د لښکر د بولندوى په توګه مقرر سو؛ او د ژوند ژواک لپاره يوه ټوټه ځمکه ورته ورکړل سوه. په همدې توګه فتاح خان [2] ته هم موقوفه ورپه برخه سوه او د عمومي خزانه دار او د داخلي ګودامونو د ساتونکي په توګه مقرر سو. (پلي بيت او باريلي) حافظ رحمت خان ته ورکړل سول؛ او مراد آباد دهونډې خان ورکړ سو. داسې ښکاري چې علي محمود په دې دوره کې د امپراتورۍ عالي اقتدار ته چندان ارزښت نه ورکاوۀ، ددې خبرې ګواه د هغو ارزښتناکو متاعو بربنډ توقيف وو چې د بنګال ګورنر د پادشاه د ضرورياتو لپاره د روهيلکنډ له لارې دربار ته لېږل. همدا شان علي د (اوده) [3] د صوبه دار صفدر جنګ له فرمان څخه په سرغړونې د هغه د پام وړ چارتراش لرګي لوټ کړل چې د روهيلکنډ په شمالي سيمو کې يې ځانته زيرمه کړي ول. همدا شان صفدر جنګ له ډيرو وختونو را په ديخوا د کوټير د سوبمنو پر ضد دښمني او کرکه په زړه کې ساتلې وه او له دې چې پر سلطان محمد شاه [4] يې نفوذ درلود نو نوموړى سلطان يې وهڅاوۀ چې په علي محمود بريد وکړي. په عين حال کې روهيليانو ته د وزير قمر الدين له پلوه مخفي مرسته رسېدله؛ د اودۀ د صفدر جنګ پر ضد يې پټه او ژوره دښمني درلودله او د هغه وخت د درباريانو د دود دستور پر بنسټ يې له هرې ممکنې لارې او اړيکې، خپل اړخ پياوړى کاوۀ.

پادشاه د خپل پياوړي او لوى ځواک [5] په ملتيا په روهليکنډ ننوت او پرته له دې چې کوم مقاومت ووينې دا پراخه سيمه يې ونيوله. علي محمود چې د پادشاه د لوى لښکر پروړاندې له مقاومت څخه ناتوانه وو او يا دا چې نـهٔ يې غوښتل له پادشاه سره د جګړې په ډګر کې مخامخ سي نو د (بانغور) [6] د ځنګلونو لمنو ته په شا سو؛ په بانغور کې د مدافعې لپاره يو شمېر کلاګانې وې چې روهيليانو روهيليانو پخوا وختونو کې جوړې کړې وې. علي محمود تر يوې مودې پورې خپلې پوستې وساتلې خو د هوساينې لپاره يې کومه

---

[1] - **Owlah**

[2] - فتاح خان په اصل کې يو هندو وو چې علي محمود په زوى ولى منلى وو. د نارينه وو په زوى ولى منل ان د مسلمانانو په هغو کورنيو کې دود وو چې ډېر زامن يې درلودل. ليکوال

[3] - **Oude**

[4]- صفدر جنګ، محمد شاه ولمساوۀ چې دا لښکر - لېږد دې تر لاس لاندې ونيسي او شرط يې ورته کښېښود چې د ټول لښکر د هر مارش په واټن به يو لک روپۍ او ددمې نيولو د هرې ورځې لپاره نيم لک روپۍ تر هغو ورکړي چې لښکر روهليکنډ ته ورسېږي. ليکوال

[5]- روهيلکند ته د محمد شاه د لښکر- لېږد پر مهال د «شوت **Shote**» سيند ته په دې دليل د «يا وفادار» نوم ورکړل سو چې لښکر يـې له دې سيند څخه ډېرې ګټې تر لاسه کړلې. د سيند اوبه سالمې دي او په زړه راښکوني ډول سره په مارپيچ ډول بهيږي. ليکوال

[6]-**Banghur** : دغه ځنګلونه د (اوله) او (رام پور) تر منځ واقع دي. – وګورئ د رينل نقشه. ليکوال

هیله نه درلوده او له دې چې لږ خوراک توکي او نور تدارکات یې درلودل اړ سو چې ځان پادشاه ته تسلیم کړي او د قمر الدین په شفاعت ورته عفو وسوه.

روهیله چې تل مدام یې د یوۀ سرتېري ځانګړتیاوې او تکل له ځانه څرګنداوۀ د سرهند پر بغاوت لاسبری وموند او (کوټ روی) [1] یې تر ولکې لاندې راوستله چې د هند په شمال کې یوه هیبتناکه کلا وه. په سرهند کې د علي محمود د اقامت پر مهال د علي محمود دډلې د شمېر اټکل دا وو : چې له ډلې سره یې د دوه زرو یا درې زور لوټمارو افغانانو [2] ډله یو ځای سوه او د ځواک ټول شمیر یې، لس زره تنه سپاره او د پینځلس زرو تر شلو زرو پورې پلي سرتیري وو. سره له دې چې روهیلیانو د درانیانو په جګړې کې ګډون ونۀ کړ [3] خو په هغه حال کې چې افغان او مغول [4] ځواکونه د یو بل پر وړاندې جګړې ته چمتو کېدل علي محمود له پنجابه ووت او د «هوردوار» [5] پر لور یې شا ته تګ وکړ. نوموړې په ۱۷۴۷ز کال کې له همدې ځایه د روهیلکنډ پر لور پر مخ ولاړ او په چټکۍ سره یې تر خپل کنترول لاندې راوست.

په روهیلکند کې د روهیلیانو د قدرت لمنه عملاً ټوله سوه او کلیدي افسران یې ډهلي ته ولېږدول سول. دا مهمه پېښه چې په ۱۷۴۵ز کال کې رامنځته سوه ددې څرګندونه کوي چې علي محمود احتمالاً د فارس د برید پر مهال د امپراتورۍ له بې نظمه او ګډوډ حالته ګټه اخیستله چې ددۀ د اقتدار پراخوالي او ټینګولو ته یې لاره آسانوله. دا ټکی د یادونې وړ دئ چې نوموړي پوره یو کال په ډهلي کې د وزیر تر مستقیم ملاتړ لاندې تېر کړ. علي محمود د وزیر د سپارښتنې او توصیې پر بنسټ د سرهند د پوځي والي په توګه مقرر سو او ورته دنده ورکړل سوه چې د سرهند پخوانی مشر دې سلطنت ته مطیع وګرځوي چې امپراتورۍ ته یې له وفادارۍ څخه سرغړونه کړې وه. ددې مأموریت له پیله مخکې علي محمود ته دستور ورکړل سو چې خپل دوه زامن عابد الله او فیض الله دې

---

[1] - Kote Roy

[2] -During the residence of Ali Mahomet at Sirhend, his party, which had been joined by a body of two or three thousand marauding Afghans, was computed at ten thousand cavalry, and fifteen or twenty thousand infantry of various denominations. {Volume 1 page 110,both volume combined in PDF format page 137}

[3] - The Rohilla did not take any part in the Durany war {Volume 1 page 110,both volume combined in PDF format page 137}

[4] -but whilst the Moghul and Afghan armies were approaching to action , he quitted the Punjab and retired to Hurdwar, from whence he penetrated in 1747 into Rohilcund, which rapidly conquered. {Volume 1 page 110,both volume combined in PDF format page 137}

[5] - Hurdwar

لابور [1] ته د یرغمل په توګه واستوي تر څو د دوی د پلار د حُسنِ سلوک ډاډ تر لاسه سي. روهیله چې تل مدام یې د یوۀ سرتېري ځانګړتیاوې او تکل له ځانه څرګنداوۀ د سرهند پر بغاوت لاسرسی وموند او ‹کوټ روی› [2] یې تر ولکې لاندې راوستله چې د هند په شمال کې یوه هیبتناکه کلا وه. په سرهند کې د علي محمود د اقامت پر مهال د علي محـمود دډلې د شمـېـر اټکل دا وو : چې له ډلې سره یې د دوه زرو یا درې زور لوټمارو افغانانو [3] ډله یو ځای سوه او د ځواک ټول شمیر یې، لس زره تنه سپاره او د پینځلس زرو تر شلو زرو پورې پلي سرتیري ول. سره له دې چې روهیلیانو د درانیانو په جګړې کې ګډون ونـۀ کړ خو په هغه حال کې چېافغان او مغول ځواکونه [4] د یو بل پر وړاندې جګړې ته چمتو کـېـدل علي محـمود له پنجابه ووت او د «هوردوار» [5] پر لور یې شا شا ته تګ وکړ. [پورتنی څو کربښې تکرار راغلي دي – ژ] نوموړی په ۱۷۴۷ز کال کې له همدې ځایه د روهیلکنډ پر لور پر مخ ولاړ او په چټکۍ سره یې تر خپل کنترول لاندې راوست. د علي محـمود دوه زامن چې د علي محـمود د ښـۀ چارچلند د تضمین لپاره د یرغمل په توګه پرېښودل سوي ول د سرهند په کلا کې د دراني احمد شاه له پلوه ونیول سول. د افغانانو له لوري ددې ښار له نیول کـېـدلو مخکې دا دواړه ورونه د وزیر قمرالدین له پلوه ځای پر ځای سوي ول. [6] داسې ښکاري چې علي محـمود دومره ډېر فرصت فرصت نـۀ درلود چې د اوږد مهال لپاره د خپلو وروستیو بریو له ګټو څخه خوندونه واخلي ځکه هماغسې چې په معاصرو خاطراتو کې ثبت سوي دي دی د ۱۷۴۷ز کال په پای کې [7] په ‹اوله› کې مړ سوی دئ.

دا احتمال سته چې په هند کې هـېـڅ سرتـېـري به داسې له تحرک او پـېـښـو ډک ژوند نـۀ وي تـېـر کړی لکه چې علي محـمود تـېـر کړی دئ. هغه د جنګ جګړو په شور او کړس کې نړۍ ته راغی او په کې لوی سو. په تنکۍ ځوانۍ کې د داؤود خان لاس ته ولوید. ځواني یې په بې شمـېـرو شخړو کې تلف سوه؛ هغه د خپلې وروستۍ سوبې په لړ کې د هغه ټاټوبي لپاره جنګیدلی وو چې مخکې د

---

[1] -Labore- په دغه وخت کې میرمنو د وزیر زوی، د لابور والي وو. لیکوال

[2] - Kote Roy

[3] -During the residence of Ali Mahomet at Sirhend, his party, which had been joined by a body of two or three thousand marauding Afghans, was computed at ten thousand cavalry, and fifteen or twenty thousand infantry of various denominations. {Volume 1 page 110,both volume combined in PDF format page 137}

[4] - دا پر هند باندې د دراني احمد شاه لومړی یرغل وو. لیکوال

[5] - Hurdwar

[6] - The two sons of Ali Mahomet, who had, been delivered as hostages for his good conduct, were taken by Ahmad Shah, the Durany, in the fort *of* Sarhind ; when *they* bad been placed by Kummr ud Diein, praviously to the reduction of that town by the Afghans. {Volume 1 page 112,both volume combined in PDF format page 138}

[7] - او یا د ۱۷۴۸ز کال په پیل کې. لیکوال

لاس ته راوړلو لپاره يې سختې جګړې کړې وې او بيا يې له لاسه ورکړې وو او په همدې کې مړ سو. محمد علي له بزګرۍ او سوداګرۍ څخه د ملاتړ په پار ډېر شهرت درلود. پر خپلو اتباعو باندې د اېښودل سويو مالياتو په اخيستنه کې کلک او سخت وو خو پرته له دې چې خپلې ژمنې ماتې کړي، خپلې ژمنې يې عملي کولې. هغه د خپلې استوګنې په سيمې (اولا) او مرکزي ښار روهيلکنډ کې ډېر کارونه وکړل، دا سيمې يې د بېلابېلو عمومي او خصوصي ودانيو په سازمان ورکولو او جوړولو ښکلې کړلې چې په دې ډول نظم او ظرافت د هند په ښارونو کې په ندرت ليدل کيږي.

د علي محمود دريم زوی [1] سعدالله د روهيليه د حکومت مشر سو. تنکي ځوان سعدالله خان [2] د خپل پلار د وروستني وصيت پر بنسټ چې حافظ رحمت خان يې د روهيليانو په منځ کې د ډېر وړ سړي په توګه معرفي کړی وو د خپل مرستيال په توګه مقرر کړ چې د عمومي چارو څارنه وکړي. د سعدالله د حکومت پر مهال د فرخ آباد پټهانان (پښتنو – ژ) [3] د قايم خان بنګښ [4] په مشرۍ په روهيلکند بريد وکړ. قايم خان چې په خپل نظامي قدرت له حده وتلی ډاډ درلود خپل اصلي ځواک پرېښود او د خپلو يو شمېر ارشدو افسرانو په ملتيا يې پرمختګ وکړ. په دې حال کې د روهيليانو يوه ډله په کمين کې ناسته وه او کله چې قايم خان تېرېدئ قايم خان يې تر اور لاندې ونيوئ او بنګښ او څو تنه نور ياران يې ووژل سول. پټهانانو چې خپل مشر له لاسه ورکړ تېښته وکړه، خپل بکسونه او توپخانه يې ځای پر ځای پرېښودل چې د روهيليانو لاس ته ورغلل، دغو شيانو لوړ ارزښت درلود. دغه وخت سعدالله يوازې څوارلس کلن [5] وو او له خپل وسله وال ځواک سره مل وو. صفدر جنګ چې د روهيليانو پر وړاندې ژوره دښمني درلوده او سترګو يې داسې شيبې او فرصت ته لارې څارلې چې په اقليت کې راګير سعدالله درلوده، نو له همدې کبله د مرهټه وو د سپاره لښکر له مشر ( ملهر راو) [6] سره يو ځای سو او د روهيلکند پر لور پر مخ ولاړ. روهيليانو چې دداسې لوی او ويروونکي لښکر پر وړاندې د مقاومت سيک نه درلود د شمالي غرونو لمنو ته يې پناه يوړه او تر هغو همدلته پاتې سول چې د سلطنت په دربار کې

---

1- دوه نور مشران زامن يې درانيانو لا تر اوسه په بند کې ساتلي دي، فيض الله خان. ليکوال

2- سعدالله د پلار د مړينې پر مهال يوازې دولس کلن وو. ليکوال

3 - the Patans of Furruckabad

4 - Caim Khan Bunghish

5 - د قايم خان بريد د ۱۷۴۹ ز کال په وروستيو کې تر سره سو. داسې ښکاري چې د داؤود خان زوی محمود خان چې فرخ آباد کې يې پناه اخيستې وه او په دې عملياتو کې له قايم خان سره مل وو، په دې بريد کې وژل سوی دئ. د همدې کال په لړ کې د قطب الدين په نوم يو بل افسر چې د عظمت الله خان زوی يا لمسی وو د حکومتي دربار له لوري د مراد آباد د حکومتۍ په مشرۍ باندې مقرر سو او له تقرر وروسته د يوۀ لښکر په ملتيا په روهيلکنډ ننوت خو له روهيليانو سره په ښکېلتيا کې يې تينګه ماتې وخوړه. ليکوال

6 - Mulhar Row

سياسي پرمختگونه ددې باعث سول چې صفدر جنگ خپله پاملرنه ډهلي ته واړوي. نوموړي د مرستندوی ځواک [1] په ګډون د خپل لښکر عمده برخه له ځان سره يوړه او يو شمېـر يې په روهيلکند کې پرېـښودل چې متصرفه سيمې وساتي. روهيليان تر ډېره په خفا کې پاتې نه سول، خپل تيت او پاشلي ځواکونه يې راټول کړل او په بريا سره يې د صفدر جنګ پاتې سوي ځواکونه له خپلو سيمو وايستل.

د ۱۷۵۰ز کال په شاو خوا کې ول چې د علي محـمود دوه زامن چې د احمد شاه دراني ملاتړ ورسره وو روهيلکند ته ننوتل ترڅو د خپل ارث يوه برخه وغواړي. ددوی غوښتنه د حافظ د ابتکار عمل په وسيلې د روهيليانو لوړ پوړو مقاماتو ته وړاندې سوه. پرېـکړه وسوه چې هغه ځمکې چې مستقيماً د علي محـمود په واک کې وې هغه دې د علي محـمود زامنو [2] ته اختصاص ومومي.  د همدې پرېکړې پر بنسټ ول چې د ورونيو ترمنځ يې شديد اختلافات راوپارول، او ددغو نښتو ګزارشونه هماغسې چې د هغو د ليکوالانو اسناد،  دغو پيښو ته اشاره کوي او ما پلټلي دي دقيق نـهٔ دي. پر دې برسيره د عمومي موخې لپاره د پېچلو صحنو جزييات کومه مرسته نـهٔ کوي. ددې ټکي ويل به کافي وي چې روهيليه مشرانو کله چې د مشر ورور عابدالله خان کړهٔ وړهٔ وليدل او پخوانيو اړيکو ته يې بيا کتنه وکړه نو سره متحد سول ترڅو عابدالله خان او د کورنۍ نور غړي يې له روهيلکند څخه دباندې وباسي. وروسته له دې چې عابدالله خان ليرې کړل سو د علي محـمود دوهم زوی فيض الله خان د رامپور سيمې تر نن پورې وساتلې، سره له دې چې دغو سيمو کې کورنۍ جګړې ترسره سوې وې او د پياوړي وسلواله وال ځواک [3] له لوري کلابند سوې وې خو فيض الله خان وکولی سول چې ويې ساتي. هغه سيمې چې عابدالله خان ته اختصاص سوې وې او يوه موده ددغو سيمو حاکم رييس هم وو، اوس سعدالله ته ولېـږدول سوې او خپل پخوانی شهرت يې تر لاسه کړ. حافظ احمد په روهيلکنډ کې د خپلې ونډې، پوځي مهارت، عقل او د پام وړ نفوذ له کبله په تدريج سره د سعدالله قدرت ضعيف او خپله اتوريته يې پياوړې کړه. سعدالله د مستمرۍ [4] په منلو سره حافظ احمد احمد ته اجازه ورکړه چې ترڅو د چارو عالي مديريت په لاس کې واخلي. د حافظ پلويان وايي چې په مشرتابـهٔ کې دغه ډول بدلون ماهيتاً د سعدالله په بې پروايو پورې تړاو نيسي ځکه هغه په ناچارۍ کې د ملت سرچينې تلف کوي او سيمې ته يې شرم اړولی دئ.

---

[1]- ويل سوي چې مرهټه هغه مهال له روهيلکنډ څخه ووتل کله چې د روهيليانو له لوري د پينځوس لکو روپيو ضمانت ورته وسو؛ داسې ښکاري چې هغوی ظاهراً د ضمانت د همدغو نا- ورکړل سويو پيسو په دليل په ۱۷۷۲ او ۱۷۷۳ز کلونو کې په روهيلکنډ بريد کړی دئ. ليکوال

[2]- علي محـمود شپږ زامن درلودل : عابدالله خان،  عبدالله خان، سعدالله خان، محـمد يار خان، الله يار خان ، محمـد يار خان او مرتضی خان. ليکوال

[3] - په ۱۷۷۴ز کال کې د انګليسانو او شجاع الدوله ګډ ځواکونه - ليکوال

[4] - ويل کـېږي چې نورو مشرانو هم په دغو تادياتو کې ګډون درلود او ټولټال شمېـر يې په کال کې اته لکه روپۍ کـېدلې. ليکوال

پرته له دې چې موږ ژورې انګیزې وڅېړو، څرګنده خبره دا ده چې د حافظ جاه طلبیو مهمه ونډه لوبولې ده، څکه نوموړی هغه لاس هېر کړی وو چې دی یې شهرت ته رسولی او د خپل زوی څارنه او پالنه یې ورسپارلې وه او په آسانۍ سره هر هغه پیوند یې پرېک کاوۀ چې قدرت ته د رسېدلو لپاره ددۀ هیلې یې محدودولې. [ په انګریزي متن کې دغه ټول پارګراف دوه ځله په چاپ کې تکرار راغلی دئ.- ژ] حافظ رحمت په هند کې د خپلو هېوادوالو په نوښتونو کې فعاله ونډه درلوده. هغۀ دا خبره تشخیص کړه چې قدرت هېڅ ډول حد او پوله نۀ پېژني او د افرادو د لاربنونې لپاره ټاکل سوي وظایف هېڅکله د جاه طلبیو د پرمختګ خنډ نۀ ګرځي. په ۱۷۶۱ز کال کې سعدالله خان مړ سو، د سعدالله خان مړینې د حافظ رحمت د موقعیت په ټینګېدا کې مرسته وکړه او هغه یې له هغو مالي مسؤولیتونو څخه خلاص کړ چې د سعدالله د ملاتړ لپاره اختصاص سوي ول.

د روهیلیانو د منسجم تأریخ د شرحې لپاره د ثابت سویو حقایقو نشتوالي زما ډېره او اتکا په هغو سرچینو ضروري وګرځوله چې د هغوی پوځي یا نظامي تحولات څرګندوي او یا د هغوی په حکومت کې بنسټیز بدلونونه برجسته کوي. د روهیلیانو په هکله زما لاسوندونو یا اسنادو کې ویل سوي چې د صفدر جنګ له مړینې وروسته [1]، د امپراتورۍ وزیر غازي الدین د امپراتورۍ وزیر [2] د احمد خان بنګښ [3] په ملتیا د «اودې» [4] پر لور یو لښکر جوړ او د شجاع الدوله پر ضد یې پوځي عملیات پیل کړل. ددغه ګام دلیل دا وو چې شجاع الدوله د خپل مقام د جلوس په هماغه پیل کې دربار ته د خپل هر ډول جایداد د تصدیق له ورکړې غاړه وغړوله او نۀ یې د خپل پلار د شخصي جایداد او مال [5] په هکله د معلوماتو له ورکړې ډډه وکړه. شجاع الدوله چې پوه سو چې ددې برید پر وړاندې ناتوانه دئ او په یوازې سر مقاومت نۀ سي کولی نو د روهیلیانو له سیمې څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه؛ روهیلیانو له دې غوښتنې څخه په موافقت وروسته «اودې» ته مخه کړه او له لوی څواک سره اودې ته راغلل. روهیلیه مشرانو په پای کې د دواړو خواوو تر منځ پر دښمنیو باندې د پای ټکي ایښودلو لپاره لاره پرانیستله. روهیلیه مشران د غازي الدین د دعواګانو د حل و فصل لپاره وټاکل سول او پرېکړه وسوه چې شجاع الدوله او د شهنشاهي کورنۍ د لګښت لپاره دې ځانګړې سیمې مشخصې کړي چې په کال کې

---

[1] - صفدر جنګ په ۱۷۵۴ز کال کې مړ سوی دئ. لیکوال

[2]- وروسته احمد شاه د ډیلي پر تخت کښېناست. لیکوال

[3] - د فرخ آباد نواب

[4] - **Oude**

[5]- په اسلامي حکومتو کې د یوۀ تبعه له مړینې سره سم، اسلامي حاکم د متوفی د مایملک وارث ګرځي؛ خو دا جایداد اغلب وختونه بېرته د متوفی کورنۍ ته د یوۀ معقول فیس له ورکړې وروسته ورګرځول کېږي. لیکوال

پنځه لکه روپۍ عاید ولري. غازي الدين دغه قرار داد ته يوازې هغه وخت غاړه کېښېښودله کله چې سعدالله خان د قرار داد اجرائيي ضامن په توګه ضمانت وکړ. [1] په ۱۷۶۰ز کال کې سعدالله خان د روهيليانو د لښکر ملتيا وکړه چې لښکر د روهيليانو د يو مشر نجيب د ملاتړ لپاره وخوځېد؛ نوموړی مشر په (سوکرتال) [2] کې د مرهټه وو له خوا کلابند سوی وو؛ داسې ښکاري چې همدا د سعدالله خان وروستنی عمومي ګام وي چې اوچت کړی يې دئ.

ددې لپاره چې وکولاسئ د سعدالله خان د مړينې پر مهال د روهيليانو له وضعيت څخه خبر سئ زه اړينه بولم چې ستاسو په اختيار کې د هغو افسرانو لنډه شرحه کښېږدم چې هغه مهال يې روهيلکنډ په لاس کې وو.

دهوندي خان [3](چاند پور) او (سمبل) [4] ته د ټاکل سويو ځمکو په ويش کې ګډون درلود. نوموړی د ۱۷۷۴ز کال د روهيليانو له جګړې مخکې مړ سو او درې زامن ورڅخه پاتې سول. تر ټولو مشر زوی يې محب الله خپله اکثريت جايداد په ميراث واخيست. [5]

ملا سردار خان ته د (سنيجاکوټ) [6] او ورڅېرمه ځمکې ورسېدلې او شپږ زامن يې درلودل. ددوی تر منځ د وراثت پر سر شخړه او نانډرۍ راپورته سوې او دا ددې باعث سوه چې دوه مشران ورونه احمد خان او محمود خان له يو بل سره وسله واله نښته وکړي. احمد خان د حافظ رحمت خان په ملاتړ او مرستې په دې نښته کې بريالی سو او خپل ورور يې يرغمل کړ. [7] د علي محمود يوه پخواني متحد فتاح خان د خپل اوږد مهالي موقعيت په برکت د پام وړ پانګه راټوله کړې [8] وه او د (باندوم)، (آفې ټې) او (حسين پور) [9] [9] پر سيمو يې حکومت خپور وو. دغه افسر د روهيليانو له اخراج مخکې وفات سوی وو، ددهٔ مشر زوی احمد خان [10] په خپلې پلرنۍ مينې او ځمکې د پلار ځای ناستی سو. د سعدالله خان کونډې چې د خپل سخاوت او پرهيزګارۍ له کبله د درناوي وړ وه د

---

[1]- زه په دې باور يم چې دا يوازينۍ پېښه وه چې شجاع الدوله او سعدالله خان په کې خپلې پګړۍ تبادله کړلې. د هندوستان د مسلمانانو تر منځ دا دود د ملګرتوب د نښې په توګه تر سره کېږي او کله نا ناکله د يوهٔ ژمن ليک يا عهدنامې په تايېد سره کارول کېږي. ليکوال

[2]-Sookertal : د يوهٔ کلي نوم او د ګنګا د سيند پر غاړه د يوهٔ ګودر نوم. وګورئ د رينل نقشه. ليکوال

[3] - Dhoondy Khan

[4] -Chaundpore, and Sumbul - د روهيلکنډ دوه ښارګوټي. ليکوال

[5] - دغه مشر د هغه تړون پر بنسټ چې له وزير سره سوی وو او ددهٔ امنيت او خونديتوب يې د ګډو ځواکونو پر مټ تضمين کاوهٔ نو په ۱۷۴۳ز کال کې يې د روهيليانو پرضد د وسلو له اخيستلو څخه ډډه وکړه. خو وزير دغه تړون تر پښو لاندې کړ او هم يې د هغه ځمکې او هم يې پانګه تصرف کړه. ليکوال

[6]- Sunejah Kote - د باريلي Bareily لويديځ لور ته د څلور څلويښت سنجول سويو مايلو په واټن موقعيت لري. ليکوال

[7] - احمدخان په ۱۷۷۴ز کال کې د روهيليه د ځواک د يوې برخې بولنه /قومانده وکړه. ليکوال

[8] - فتاح خان د خزانه دار په توګه منصوب او د کور د څښتن ونډه يې درلوده. ليکوال

-⁻ Bandaum , Auffete, and Hessinpour - دا ښارګوټي د روهليکنډ په لويديځ او سويل کې واقع دي. ليکوال

[10] - احمد خان د فتاح خان زوی په ۱۷۷۴ز کال کې د روهيليه وو له ماتې وروسته په لالدانګ Laldong کې د فيض الله خان له لښکر سره يو ځای سو او له فيض الله خان سره يو ځای رامپور ته په شا سو. ليکوال

(اوله) [1] په ښارګوټي کې اوسېده، دا د مشرانو له پلوه ورته ورکړل سوی ښارګوټی وو. د سعدالله له مړینې وروسته کله چې حافظ رحمت خان د حکومت ګډ اقتدار په لاس کې واخیست د روهیلیه له ځواکونو څخه کومه د پام وړ استفاده ونـهٔ سوه او نـهٔ هم داسې بل کوم بدلون رامنځته سو چې د هغوی پر وضعیت باندې دې اغېـز وکړي. په روهیلکنډ باندې د وزیر له برید مخکې روهیلیانو د مرهټه وو پر وړاندې یوه بې هدفه او سرسرې جګړه کړې وه او په دو آب کې یې یو شمېر خاصې سیمې ونیولې چې دا متصرفات ددوی په لاس کې د لنډ وخت لپاره ول. وروسته مرهټه د پام وړ ځواک په ملتیا په دو آب ننوتل او روهیلیان یې له دو آب څخه وایستل او د روهلیکنډ ختیځې برخې یې ویجاړې کړې. له دې چې موږ به د شجاع الدوله د ژوندون لنډه شرحه وړاندې کړو او دا د روهیلیه وو کلیدي پېښې برجسته کوي نو ځکه دلته یې ډېره توضیح لازمه نـهٔ ده.

په هندوستان کې د روهیلیانو له لوري جوړ سوی حکومت چې ددوی د هېـواد له سیستم سره ورته والی لري کیدای سي د ځمکوالۍ یا فـئـوډالي سیستم په چوکاټ کې تصنیف سي.د داؤود خان ځای ناستو چې محدود موروثي مدعیات یې درلودل او د هغو کسانو ملتیا ورسره وه چې په لومړۍ سوبې کې یې ونډه درلوده یوازې له محدود اختیار څخه برخمن ول. د روهیلیانو دوه تنو درندو مشرانو (سردار خان) [2] او فتاح خان چې د حافظ رحمت خان د ځانغوښتنو پر وړاندې پرله پسې مقاومت وکړ ځکه هغه په ښرګنده د خپلې واکمنۍ د ټینګښت په لټه کې وو. د سعدالله خان کونډې ته د هغوی شدیده وفاداري چې د خلکو تر پام لاندې وه د حافظ رحمت خان د مخ په ودې نفوذ پر بنسټ متعادل مخالفت راپورته کړ. د روهیلیانو د پېـښلیک لیکونکي / واقعه نګار او د پیـښو د عامو شرحو د راټولوونکي په توګه زما مسؤولیت دا دئ چې د حافظ رحمت خان شخصیت هم دلته انځور کړم. حافظ رحمت خان په داسې ټولنې کې وزیږېد [3] او لوی سوی وو چې د سرتیري خدمت ورته تر ټولو افضل خدمت ګڼل کېـدهٔ او توره یې د پانګې د ترلاسه کولو لپاره مشروع وسیله ګڼله. د نوموړي دولت د یوهٔ فعال سیستم پر بنسټ رامنځته سو خو ورسره د سرچینو او منابعو په پوهیدلو او خبریدلو یې پرمختګ وکړ. داسې ښکاري چې نوموړي په عمومي چارو کې د صداقت احساس درلود حال دا چې ښایي د قدرت د ترلاسه کولو لپاره یې د نورو حقوق تر پښو لاندې کړي وي مګر د نوموړي عقل او زړورتیا ددې لامل سوه چې د خپل ولس وفاداري او احتمالاً مینه ورته تر لاسه کړې وي. خلکو دی دداسې مشر په توګه تشخیص کړ چې اقدامات یې د نرمښت ترڅنګ ورته ددوی ساتنه

---

[1] - Owlah

[2] - Surdar Khan

[3]- په افغانستان Afghanistanکې زېـږېدلی او لوی سوی وو - لیکوال

له ځان سره لري. دې ټکي ته پاملرنه اړینه ده چې شجاع الدوله د لازمې زړورتیا او شجاعت له لرلو پرته د حافظ رحمت خان پر وړاندې د مقاومت سیک او جسارت نـۀ درلود. حافظ رحمت خان په داسې ټاټوبي کې چې د قدرت درلودل یوازې د پیاوړو کسانو ادعا وه په خپل کور کې له بدبختۍ سره مخامخ سو. مشر زوی یې عنایت خان د پلار پر ضد پاڅون وکړ او ماته یې وخوړله او له ماتې وروسته یې شجاع الدوله ته پناه یوړه او د (بوکسار) [1] په جګړې کې یې ګډون وکړ. ددې ترڅنګ د روهیلیه د افسرانو د نورو اعقابو په منځ کې نښتې رامنځته سوې او پایله یې دا سوه چې په سیمه کې پراخه ناآرامي خپره سي. کله چې د انګلیس او شجاع الدوله ګډ ځواکونه روهیلکنډ ته ورسـېـدل داسې ښکاري چې سیمه ییزو مشرانو د باندني دښمن د ګواښ په پرتلې د یو بل د قدرت له ودې څخه ویره درلوده.

په پای کې دا یادونه کوم چې د روهیلکنډ افغان سوبمن یا فاتحان یوه زړوره، بې قانونه او حریصه ډله وه. داسې ښکاري چې هغوی په هندوستان کې د خپل حکومت له استقرار وروسته د سویل ښځینه شرارتونه منلي او د دسیسې، فریب او خیانت فرهنګ ته یې لاس اچولی وي. [2] روهیلیان په ځانګړې توګه هغه روهیلیان چې له ټیټو پاړکو یا طبقاتو څخه ول د معدود شمـېـر په استثنا، د هندوستان د ټولنې یوازیني وګړي ول چې په بزګرۍ بوخت ول، په بزګرۍ کې د هغوی نوښتونو د پام وړ پایلې درلودلې چې پایله یې له روهیلکنډ [3] څخه په پریمانو کیفیت لرونکو کرنیزو محصولاتو واوښتله.

د نجیب خان فعالیتونه په ځانګړې توګه  هغه فعالیتونه چې د نوموړي د ژوندون په وروستي پړاو کې دي د روهیلکنډ له تأریخ سره ښـتـه ډېره نـېـږدې اړیکه لري چې په دې رسالې کې ورته ځانګړې ځانګه اختصاص سوې ده. دا نـۀ یوازې د هغـۀ ونډه برجسته کوي بلکه ما ته د خوشحالۍ دا فرصت په لاس راکوي چې یوۀ زړور او مخکښ سرتـېـري او همدارنګه یوۀ ماهر دولتمدار ته خپل احترام وړاندې کړم.

---

[1] -Buxar – نوموړی روهیلکنډ ته راستون سو او د روهیلیانو له وروستۍ جګړې مخکې مړ سو. لیکوال

[2] -I WILL conclude this treatise, by observing , that the Afghan conquerors of Rohilcund , were a rapacious, bold , and lawless race of men ; and it should seem , that after they had established a government in India, they adopted the more effeminate vices of the south , and became intriguing, deceitful, and treacherous .

[3] - ویل کـېـږي چې دې سیمې روهیلیانو ته یې یو میلیون سټرلینګ پوند حاصل ورکاوۀ خو اوس د (نایر Nair) د غیر عاقلانه مدیریت له کبله دېرش یا څلوېښت زرو  سټرلینګ پوند ته راټیټ سوی دئ. لیکوال

نجیب خان د بشارت خان ورارهٔ چې د روهیلیانو په طرحو کې ورته نغوته سوې ده د علي محمود د حکومت پر مهال روهیلکنډ ته ورسېد. په لومړیو کې د یوې کوچنۍ ډلې په بولنې / قوماندې مقرر سو چې د راپورونو پر بنسټ شمېر یې له دولس تنو پلیو او سپرو ډېر نهٔ وو. خو د نوموړي زړورتیا او همت ډېر ژر د علي محمود پام ځانته راواړاوهٔ او ورپسې ورته مهمه پوځي دنده ورکړل سوه او هم د دهونډي خان د لور د وادهٔ مرتبات ورته ونیول سول. په داسې حال کې چې علي محمود د سرهند سیمې اداره کولې نجیب خان چې له علي محمود سره متحد وو په همدې سیمې کې د یوهٔ هندو شورشي په مغلوبولو او تسلیمولو کې مهمه ونډه ولوبوله. روهیلکنډ ته د روهیلیانو په راستنېدلو سره دهونډي خان د «دُرناگهر» او «چاندپور» [1] ولسوالۍ چې لومړی دهٔ ته ځانګړې سوې وې، نجیب خان ته وسپارلې. خو نجیب خان ځان به دغو سیمو پورې محدود نه کړ؛ نوموړی له ګنګا واوښت او د ګوجرو [2] په سیمې یې برید وکړ او تر «غوث ګهر» او «سرنپور» [3] پورې ورسېد.

د محمود شاه [4] له مړینې وروسته صفدر جنګ د دربار پر وړاندې چې د وزیر غازي الدین تر اغیز لاندې وو، خپل څرګند مخالفت اعلان کړ او د ډهلي پر لور یې د خپل لښکر- لېږد مقدمات پیل کړل. هغهٔ په بریالیتوب وکولی سول روهیلیه مشران چې تل د لوټ او سوبې فرصتونو ته لېوال او سترګې په لاره ول په دې متقاعد کړل چې ددهٔ له څواکونو سره یو ځای سي. کله چې لښکر د ډهلي څنډېو ته ورسېد، په غازي الدین پورې اړوند یو هندو افسر [5] په دې وتوانید چې نجیب خان ته د مقام او لا پرمختګ د ورکړې ژمنې وکړي ترڅو د صفدر جنګ له ټولوالي څخه ووځي او د امپراتورۍ آرمانونو ته پالیال یا وفادار پاتې سي. دغه خیانت ددې لامل سو چې روهیلیه سرتېري د حافظ رحمت خان په مشرۍ بېرته خپلو سیمو او مینو ته شاتګ وکړي. نجیب خان ته د غازي الدین له لوري په ډېر ویاړ ښهٔ راغلاست وویل سول او ډېر ژر ورته د لښکر مشري ورکړل سوه. په دې پسې یې د صفدر جنګ پر ضد برید پیل کړ او دې ته یې مجبور کړ چې د ګنګا له ټولو شاو خواوو سیمو څخه په شا سي. د دغه لښکر- لېږد په نتایجو پسې چې په ترڅ کې یې روهیلیه ټپي سو پادشاه نجیب خان ته د نجیب الدوله لقب ورکړ.

---

[1] - Duranaghur and Chaundpour

[2] - Goojers : په علیا هندوستان کې د هندوانو د څلورمې قبیلې یوه ډله چې په بزګرۍ او د وسلو مسلک دواړه په برابره پر مخ وړي. لیکوال

[3]- Ghous Ghur and Sarunpour : وګورئ د رینل نقشه لیکوال

[4] - محمود شاه په ۱۷۴۷ز کال کې مړ سوی دئ او زوی یې احمد شاه ددهٔ ځای ناستی سو. لیکوال

[5]- نوم یې دیوی سینګهـ Devi Singh وو. لیکوال

له دې وروسته نومورې د يوۀ پياوړي لښکر په ملتيا د روهيلکنډ پر لور وخوځېد، دا هغه ځای وو چې مخکې يې دلته يو باثباته دولت جوړ کړی وو او په دۀ پورې يې اړه درلوده. سره له دې چې نومورې په عام محضر کې حافظ رحمت خان ته له بيعت کولو څخه ډډه وکړه خو بيا هم دی په روهيليه دولت کې د يوۀ سياسي شخصيت په توګه پېژندل کېدۀ. نجيب الدوله چې په دربار کې يې پياوړي ملاتړ درلود او د شخصيت پراخه ستاينه يې کېدله حافظ رحمت خان ته د ګواښ او حسادت په سرچينې بدل سوی وو او د خپل نفوذ د کمېدلو لپاره ورته يو سر درد جوړونکی عامل ګڼل کېدۀ. دغه متقابل خصومت په چټکۍ سره په دښمنۍ واوښت او پايله يې دا سوه چې د روهيليه ټوله ټولنه په کورنۍ جګړه کې ښکيله سي.

د ښښتو په پيل کې د روهيليه د ايالت اسمي مشر سعدالله خان له نجيب الدوله سره متحد سو. خو له دې سره سره، د حافظ رحمت خان او د هغۀ د پلويانو د ډېر قدرت او زور له کبله چې د هغه د مرستې يا تضعيف لپاره يې پريمانه ابزار په لاس کې لرل اړ سو چې له دغۀ اتحاد څخه لاس پر سر سي. نجيب الدوله د داسې ويروونکي دښمن پروړاندې د خپل مقاومت د ناتوانۍ په پوهېدو له روهيلکند څخه دده وکړه او بېرته د امپراتورۍ د دربار خدمت ته ورغی. په مجردې چې ډهلي ته ورسېد يا دا ده چې د حکومت له لوري ورته فرمان ورکړل سوی وو او يا يې له حکومت څخه اجازه اخيستې وه چې د (سارن پور) [1] مسلمان ګورنر نسکور کړي ځکه نومورې دا سيمه په زور نيولې وه او امپراتورۍ ته يې له مالياتي عوايدو څخه ډډه کړې وه. د نجيب الدوله په نېږدې کېدو سره د دښمن سرتېري په شا سول او سارن پور او غوث ګهر په آسانۍ سره ددۀ لاس ته ولوېدل. ددغه افسر نوښت او هڅو چې اوس د سرتېرو د يوې ډلې مشري يې کوله دې ته وهڅاوۀ چې يو ځل بيا له ګنګا واوړي او پخوانۍ سيمې بېرته ترلاسه کړي او د (تيل آباد) [2] سيمې هم ورباندې ورزياتې کړي. د همدې تازه نيول سوې سيمې په شمال کې يې د نجيب آباد [3] د ښار بنسټ کېښېښود چې په چټکۍ سره د کار وړ او زړه راښکونو ودانيو له کبله په ګڼ وګړو ښار بدل سو او د پراخې سوداګرۍ په مرکز واوښت. د همدې ښار په تقريباً يو مايلۍ کې نومورې د نجيب ګهر [4] ودانۍ جوړه کړه او د سيمې د اوسېدونکو لپاره يې يو ځای جوړ کړ چې خپل مال او شتمنې وساتي او د ښښتو په وخت کې د هغوی امنيت تضمين کړي. د مشخص تأريخ نستوالی چې زه يې په موندلو او پلټلو کې بريالی نۀ وم د نجيب الدوله د مخکنيو اقداماتو په اړه ګډوډۍ رامنځته کړي دي. خو اوس پوهېږو چې دغه افسر په ۱۷۵۷ز کال

---

1- Sarunpour : دا ښار ګوتي د دوآب په شمالي برخې کې واقع دئ او اوس د نجيب الدوله د لمسي غلام قادر خان په لاس کې دئ. ليکوال

2 - Tillalabad

3- د روهيلکنډ په شمال کې واقع دئ. وګورئ د وايد رينل نقشه. ليکوال

4 - دا کلا د پټرګهر Patter Ghur په نوم هم يادېږي. ليکوال

کې [1] د غازي الدین د غوښتنې پر بنسټ د (میر بخشي) [2] مقام ته ارتقاء وکړه او د (امیر العمره) [3] لقب ورته د غازي الدین له لورې ورکړل سو چې عالم گیر ثاني په ۱۷۵۳ز کال کې د احمد شاه له خلعې او د هغه د حقوقو له سلب وروسته پر تخت کښېناست او د اوسني امپراتور پلار سو.

په مجردې چې درانیان [4] د خپل څلورم لښکر-لېږد په ترځ کې په هندوستان ننوتل او موخه یې د امپراتورۍ نسکورول وه، نجیب الدوله چې په خپله یو (افغان) [5] وو او د دراني احمد شاه ویروونکی ځواک یې ولید ځان یې په بشپړ ډول د دراني احمد شاه له موخو سره همغږی کړ. که څه هم دهٔ له وزیر غازي الدین څخه ډېر امتیازات تر لاسه کړي ول او پرته له دې چې د هغو ښېگڼو پاس او درناوی وساتي خپله اړیکه یې له نوموړي وزیر څخه پریک کړه.[6] له دې سیمې څخه د دراني احمد شاه بېرته ستنیدلو [7] مرهټه وو وو ته اجازه ورکړه چې د هند په شمالي ایالاتونو باندې بلامنازعه کنترول ولري. نجیب الدوله یوازینی مسلمان مشر وو چې په خپل ټول قدرت سره په کافي اندازه لښکر راټول کړي او د مرهټه وو د جاه طلبیو او پرمختگ پر وړاندې مقاومت وکړي. دی د گنگا [8] په

---

1 - د داو د هندوستان په تأریخ Dow's History of Hindustan کې دې ټکي ته اشاره سوې چې نجیب الدوله د احمد شاه دراني له لورې په دې مقام منصوب سو او دا خبره کټ مټ په فارسي کتاب «خزانهٔ امه Khazanahee Omah» کې راغلې ده. دا کتاب د هندوستان د امپراتورانو اقدامات په لنډیز راسپړي. ما د داو په تأریخ Dow's History of Hindostan استناد کړی ځکه زه دا احتمال اړین بولم چې نجیب الدوله خپل حق العمل له هغه واکمن دربار څخه ترلاسه کړی چې هغه ته یې خدمت کاوهٔ. لیکوال

2 - **Meer Bucksy**

3 - **Amir-ul-Omrah**

4 - په ۱۷۵۶ز کال کې

5 - د اټک د سیند او پرسیا تر منځ سیمې اوسیدونکي وگړي د «افغان» په نوم یادېږي. لیکوال

**The inhabitants of the space of territory, lying between the river Attoc and Persia, are called Afghans. {page 124 volume 1, PDF format both bolumes page 151, Footnote}**

**6 -WHEN the Durannies entered Hindostan , in their fourth expedition to participate in the wreck of the Empire, Najeb-ud-Dowlah, who was himself an Afghan, and aware of the superior power of Ahmed Shah , attached himſelf without reſerve to the fortunes of that prince ; dissolving the connection he had formed with Ghaze- ud- Dein, without heſitation , or an honorable regard for the favours he had received from the hand of that minifter. {page 124 volume 1, PDF format both bolumes page 151,}**

7 - احمد شاه له خپل څلور لښکر لېږد څخه وروسته په ۱۷۵۷ز کال کې افغانستان ته ستون سو- لیکوال

**Ahmad Shah returned into Afghanistan, from his fourth Indian expedition, in the year 1757 {page 124 volume 1, PDF format both bolumes page 151, Footnote}**

8 - اوس کندواله ده. وگورئ د رینل نقشه- لیکوال

لويديځ کې «سوکرتال» [1] ته نيږدې په يوې کلا کې په داسې وخيمو شرايطو کې راګير پاتې سو چې که د شجاع الدوله او روهيليانو مرسته او جمنا ته د دراني احمد شاه د نـږدې کيدلو خبر نـهٔ وو راغلی نو ممکنه وه چې مرهټه وو به درې ورې کړی وای.

له دې پېښې مخکې په هماغه کال يې ، غازي الدين ، امپراتور [2]له قدرت څخه خلع او دوهم شاه جهان يې پر ځای پر تخت کښېنولی وو. پلازمينه نور د سترو هيلو ځای نـهٔ وو. د شهزادګانو نفوذ لږ او ان تر پښو لاندې سوی وو، پانګې يې لوټ سوې وې او دروازې يې د هرې ورځې د غالب قدرت پر بنسټ په بې پروا ډول د هندوانو او مسلمانانو پرمخ خلاصې پرېښودل سوې وې. مرهټه وو چې وروسته يې په ډهلي کې خپل حکومت جوړ کړ شاه جهان يې چې د غازي الدين د ګټو لپاره نندارې ته وړاندې سوی وو خلع کړ او پر ځای يې د علي ګوهر زوی [3] جهان بخت [4] د سلطنت پر تخت کښېـناوهٔ. له يو شمېـر ناهمغږو يا نا همآهنګو اقداماتو وروسته دراني احمد شاه د نجيب الدوله او د روهيليانو د نورو بولندويانو په ملتيا د مرهټه وو پر ضد بريد پيل کړ او په ۱۷۷۰ز کال کې د «بندلي» [5] په دښته کې له يوې سترې جګړې وروسته بريالی سو. [6] نجيب الدوله په دې جګړې کې د پام وړ بريالیتوب تر لاسه کړ او د راپورونو له مخې د «داتا پټيل» [7] تر مشرۍ لاندې مرهټه ځواکونه يې تار په تار کړل او داتاپټيل ووژل سو. د پاني پت

---

[1] - Sookertal

[2] - علي ګوهر ثاني- ليکوال

[3] - د اوسني امپراتور يو له کورنيو القابو څخه - ليکوال

[4] - Jehan Bucht

[5] - Bandelly د ډيلي په ګاونډ کې د «بوراري ګهوټ Bouraree Ghaut په نوم د جمنا د ګودر پر غاړې - ليکوال

[6] -After sfome desultory actions, the Duranny Ahmed Shah, joined byNajeb- ud- Dowlah and their Rohilla chiefs , attacked the Mahrattas, and defeated them , in a general engagement on the plains of Bandelly, in 1770 ; when Najeb-ud- Dowlah singularly distinguished himself, routing, it is said , with his own troops, the division of the Mahratta army commanded by Duttah Pattelle, who fell in the field. {pages 125- 126 volume 1, combined both volumes in PDF format pages : 152 – 153}

[7] - Duttah Pattelle : د مرهټه وو يو جنرال وو. دی د مهاجي سينديا Mhadgee Scindia تره وو چې د هند په تأريخ کې ډېر شهرت لري. - ليکوال

‹پانيف رټ› [1] د پاني پت په قاطع جګړې کې چې په هند کې يې د اسلامي امپراتورۍ برخليک وټاکه افغانانو له نجيب الدوله څخه د پام وړ مرسته تر لاسه کړه او په خپلو ټولو ډيپلوماتيکو اړيکو کې يې له ځانه ثابته وفاداري او لېـوالتيا وښودله. [2]

د مرهټه وو په ماتې او خپل هېـواد ته د دراني احمدشاه په ستـنېـدلو سره د امپراتورۍ يو شمـېر اندېښنې راټيټې سوې. [3] د نجيب الدوله [4] اداري مهارتونو چې د ځوان شهزادګي [5] چارې يې سمبالولې يو ځل بيا يې پلازمينې ته د احترام او درناوي حس راوړ. په دې دې پسې نجيب الدوله د هندوستان له يوې تيرې ګرې او مقتدرې قبيلې جټانو سره لاس او ګريوان سو چې د عمومي تحولاتو په لړ کې يې مهمې سيمې تصرف کړې وې په ځانګړې توګې د جمنا په لويديځې غاړې کې چې د ‹ديګهـ، کومبر، برت پور او آګره› [6] پياوړې سيمې وې. په ټولو هغو سرچينو کې چې زه ورسره مخامخ سوی يم ددغو نښـتو د دلايلو په هکله څه نـۀ دي ويل سوي چې ښايي د نجيب الدوله پر تأريخ باندې په کافي اندازه رڼا واچوي. په ډېر احتمال سره ښايي دغو نښتو له هغو شرايطو سرچينه اخيستې [7] وي چې پايله يې د وخت او زمان په ګڼ شمـېـر بدلونونو او نښتو اوښتې ده. دا هغه مهال ده چې پياوړي او زورور پرته له دې چې

---

[1] - Panifrett - دغه قاطع جګړه په ١٧٦١ز کال کې وسوه.- ليکوال

[د ژباړونکي يادونه : دلته په انګليسي متن کې يې Panifrett ليکلي دي چې غالباً ټايپي تېـروتنه ده. اصلي بڼه يې پاني پټ Panipat ده. د هندوستان په تأريخ کې په پاني پت کې درې جګړې سوې دي. پاني پت د هرياڼې په ايالت کې د يوۀ ښار نوم دئ. دا درې واړه جګړې په دې ډول دي لومړۍ په ١٥٢٦ز کال کې، دوهمه يې په ١٥٥٦ز کال او دريمه يـې په ١٧٦١ز کال کې وسوه چې همدا وروسته يې قاطع جګړه وه. ]

[2] -In the battle of Panifrett, the fortune of which was to decide the existence of the Mahometan Empire in India, the Afghans were powerfully assisted by Najeb-ud- Dowlah, who during the period of an important intercourfe with them, evinced an invaried fidelity and Spirit. {pages 126 volume 1, combined both volumes in PDF format pages : 153}

[3] -THE Overthrow of the Mahrattas and Ahmed Shah's return into his own country, contributed to give the affairs of the Empire a less distressful aspect;

[4] - غازي الدين په ١٧٦١ز کال کې له ډهلي ووت؛ دۀ نور نـۀ سواى کولى په ډهلي کې خپل نفوذ وساتي، ځکه ډهلى دۀ ته داسې ځاى وو چې دۀ په کې ظلمونه کړي ول او د خلکو کرکه ورڅخه راتله. - ليکوال

[5] -Tewen Rucht

[6] - Deigh, Combere, Burtpoure, and Agrah

[7]- هغه عوامل چې پايله يې د مغولو د امپراتورۍ په زوال واوښتله اوس په مهمو مسائـلو رابرسيره سوې دي او ريښه يـې د اورنګزيب د سلطنت دوران ته ورګرځي. سره له دې چې اورنګزيب د (ګوډ - ژ) تيمور له ښېنته يو له ډېرو زيرکو واکمنو څخه وو خو ددۀ اقدامات ددۀ د کورنۍ د نادرستو او ناسمو وفاداريو په دليل ترسره کېـدل او همدې کار ددۀ د دولت او د رعاياوو امنيت له ګواښ سره مخامخ کړ. نوموړي د امپراتورۍ تر ټولو سمسور او سوکاله ايالتونه خپلو جاه طلبو زامنو ته اختصاص کړل او هغوی ته يې دومره قدرت او نفوذ ورکړ چې پادشاه ته په ګواښ بدل سول. زامنو د اورنګ زيب له مړينې وروسته وسلو ته لاس واچاوۀ؛ دا هغه څه ول چې پيش بينې يې کيدله او ددوی جاه طلبيو ته يـې نوې بڼه ورکوله. دوی پراخې نښتې وکړې ؛ د وروڼو په دغو خونړيو نښتو کې بهادر شاه بريالی سو او د ډهلي تاج او تخت يې ونيوۀ او شخړې حل سوې. ايالتي واليان ددۀ د لنډ مهاله حکومت په لړ کې ددۀ د بې تجربګۍ او ښايي هم د پلار د نوم په پار دۀ ته لږ وفادار پاتې سول او يوازې هغه فرمانونه يې پلي کول چې د هغوی له شخصي ګټو سره يې سمون خوړ. مرهټه چې د اورنګزيب په لاس له تقريباً دېرش کلنې جګړې وروسته ماته خوړلې وه، د اورنګزيب له مړينې وروسته له خپلو غرنيو مورچلونو څخه راووتل په چټکۍ ټولې هغه سيمې يې بېـرته

له مجازاتو ویره ولري ضعیفان تر پښو لاندې کول، داسې یو وخت چې ثابت حقوق له پامه غورځول کیدل او شخصي اعتماد له منځه تللی وو.

د جټانو مشر (سوریج مل) [1] د لښکر- لېږد په کولو سره د نجیب الدوله په پلوي جاګیردار [2] برید وکړ. سوریج مل ته ددې جګړې پایلې مهلکې وې خو نجیب الدوله ته یې کومه مغزنه یا معنی داره پایله نـهٔ درلوده. سره له دې نجیب الدوله پر خپل دښمن سوریج مل باندې بشپړ بری تر لاسه کړ خو دې ته مجبور سو چې د سیکهانو پر وړاندې چې د (سرنپور) [4] پر سیمو یې برید کړی وو مقابله وکړي او دا ددې لامل سوه چې له خپلې بریا څخه اړینه میوه راټوله کړي. [3]

د ۱۷٦۴ ز کال په مني کې نجیب الدوله په ډهلي کې کلابند سو، دا کلابندي د مسلمانانو، جټانو او سیکهانو د یوهٔ لوی اتحاد له لوري وو چې مشري یې د سوریج مل زوی (جویرسینګهـ/ جواهر سینګهـ) [5] کوله. جویرسینګهـ د نجیب الدوله د واکمنۍ د لمنځه وړلو او د خپل پلار د غچ اخیستلو لپاره لوړې هیلې په سر کې درلودلې. پر دې سربیره غازي الدین چې له فرخ آباد څخه یې د پټهانانو یوه ډله له ځان سره راوړلې وه د متفقینو له ځواکونو سره یو ځای سو. نجیب الدوله د څلور میاشتنې اوږدې محاصرې د سختیو له زغملو وروسته چې سختي یې د خوراکي توکو د کمښت له کبله لا شدیده سوه، وکولای سول د مرهټه وو بولندوی (ملر راو) [6] ته په بریالیتوب قناعت ورکړي ترڅو خپل ځواکونه د جویر سینګهـ له کړۍ وباسي. د محاصرې له کړۍ دداسې پیاوړې متحد وتل جویر

---

ونیولې چې ورڅخه شړل سوي ول. د فارس له برید مخکې د (اودې) او (دکن) صوبه دارانو خپل مشرتابه عملاً په مستقلو بنسټونو تثبیت کړی وو او د دربار له څار او نظارت پرته یې ستر پوځي ځواکونه تر لاس لاندې درلودل او د امپراتورۍ له ګزارش پرته یـې پر مالیاتي عوایدو کنټرول درلود؛ په پای کې امپراتوري ضعیفه سوه او د یوه خانتما/ از خود راضی او تجمل خوښوونکي حاکم له لوري اداره کېـدله او همدا ضعف ددې لامل سو چې نادر شاه افشار ورڅخه ګټه پورته او پر هند برید وکړي. فارسیان د اټک **Attoc** سیند څخه چې د هند لویدیځ طبیعي سرحد جوړوي پرته له کوم مزاحمت او مخالفت واوښتل؛ توقع خو دا وه چې محمود شاه باید د همدې سیند پر غاړه باید د مقاومت لپاره حضور درلود. دغـهٔ خوار پادشاه د هغې سترې سلطنتي کورنۍ لیاقت نه درلود چې بابر، اکبر او اورنګزیب جوړ کړی وو او د تیریګرو پر وړاندې له جګړې پرته تسلیم او د هندوستان له ثروتونو ډک هـېـواد یـې خوشې کړ. له دې وروسته د بـېـلابـېـلو ورانیو چټکه لړۍ راپیل کـېـږي چې د مغولو د امپراتورۍ ټولې پاتې شونې یا بقایاوې یې له منځه یوړلې او یوازې اسماً د پادشاه په نوم پاتې سول. - لیکوال

[1] - **SOORIDGE Mull**

[2] - موسی خان د فرخ آباد جاګیر دار، فرخ آباد د ډهلي او آګرې تر منځ یوه ولسوالي ده. - لیکوال

[3] - سوریج مل د ۱۷٦۳ ز کال د ډسمبر په میاشت کې په غازي آباد کې د جګړې په لړ کې ووژل سو، دا ځای د هیندیا **Hindia** سیند ته نـېـږدې دئ او له ډهلي څخه ۱۸ مایله واټن لري. - لیکوال

[4] - **Sarunpour**

[5] - **Jewayir Sing**

[6] - **Mullar Row**

سینگهـ اړ کړ چې محاصره پای ته ورسوي. اوضاع سرهند ته د دراني احمد شاه په راتګ چې نجیب الدوله ته د مرستې لپاره پر لاره وو، ښه سوه. په دې حال کې چې نجیب الدوله د وروستنیو چلنجونو د بهبودۍ لپاره کار پیل کړی وو دې ټکي ته یې پام سو چې د خپل قلمرو د دفاع لپاره باید خپلې هڅې د سیکهانو د بریدونو پروړاندې د ګنګا د سیند په لویدیځو څنډو کې متمرکزه کړي ځکه دا هغه مشهوره ډله ده چې د چریکي یا ګوریلایي بـېـلابـېـلو جګړو لپاره مناسب خلک دي.

په ۱۷۷۰ز کال کې نجیب الدوله د (توکجي هولکر) او (مهاجي سیندیا) [1] تر مشرۍ لاندې د مرهټه له ځواکونو سره اتحاد ټینګ کړ. د روهیلیه د اسنادو له مخې نوموړي مرهټه ددې لپاره راوبلل چې د دوآب له سیمې څخه سیکهان وباسي. د ژوندون په وروستیو وختونو کې د نجیب الدوله روغتیایي وضعیت وخیم سو او د مرهټه وو په قرارګاه کې شدیداً ناروغ سو. نوموړي د خپل لښکر یوه برخه د خپل مشر زوی ذبیح الله خان تر مشرۍ لاندې پرېښودله او هڅه یې وکړه چې روهیلکنډ ته ستون سي. خو ناروغۍ یې شـېـبه په شـېـبه ډېـرېـدله او ویې نـهٔ سو کولی چې د دواب پر غاړې د (هاپر) [2] له کوچني ښارګوټي نور وړاندې لاړ سي. او همدلته وفات سو. [3] د دهٔ جسد یې (نجیب آباد) [4] ته راوړ او همدلته یې ښار ته ورڅـېـرمه په یوې مقبرې کې چې ښار ته نـېـږدې یې جوړه کړې وه خاورو ته وسپاره. نجیب الدوله داسې قلمرو تر ولکې لاندې درلود چې لمن یې د (پانفرت) [5] له ختیځه تر نجیب آباد پورې غځـېـدله. ددې سیمې شمال کې (سرن پور)، سویل ته یې دډهلي ورڅـېـرمه سیمې وې؛ او په روهیلکند کې د سرینګر تر غرونو او له هغـهٔ ځایه تر مراد آباد [6] پورې رسـېـدله.

ددې سیمې مالیاتي عواید په خپل غوره حالت کې یو لک روپۍ محاسبه سوي دي؛ خو ویل سوي چې د سیکهانو د ورانیو له کبله چې په درې کالو کې یې ورباندې راوستل اویا ۷۰ زرو وو ته راټیټ سول. نوموړي په پوځي تکتیکونو او له لوټمارو سره د ټکر پر مهال که سیاسي مانورونه نـهٔ ول ښودلې ممکن دا اندازه یې نـهٔ وه ساتلې. د نجیب الدوله د حکومت تر سیوري لاندې خلکو د هغه په مړینې کې ویر / سوګ وکړ اوس هم د هند په ټول شمال کې د هغه میراث په درنښت لمانځل کـېـږي. هغه د یوهٔ زړور سرتـېـري

---

[1] - Tuckejei Holcar and Mhadgee Scindia

[2] - Happer

[3]- نجیب الدوله د ۱۷۷۰ز کال د اکتوبر په میاشت کې مړ سو. - لیکوال

[4] - Najebad

[5] - Panifret

[6] - دا په روهلیکنډ کې یو عمده ښار دئ چې د (رام ګنګ Ramgunge) په څنډو کې ودان سوی دئ. وګورئ د رینل نقشه - لیکوال

**شهرت وساته او د امپراتورۍ د وروستني مشر په توګه په پام کې نیول کېږدۍ چې د مرهټه او سیکهانو د بریدګرو ځواکونو پر وړاندې د مقاومت وړتیا یې درلوده.**

# د شجاع الدوله لنډ خاطرات

د خپلو دوستانو د سخاوت او څېړنيزو هڅو په برکت مې وکولی سول د شجاع الدوله لنډ تأريخ راټول کړم؛ دی هغه شهزاده دئ چې د هندوستان په تأريخ کې لوړ ځای لري. په هندوستان کې له انګليسانو سره د هغـهٔ معاملاتو د هغوی په تأريخ کې مهم دوران رامنځته کړ. زه داسې اسناد په لاس کې لرم چې په ډېر ځير مې غوره کړي او په څرګنده مې د هغوی په هکله خبرې کړي دي او ډاډه يم چې زما روايت په هيڅ ډول له عاطفي ملاتړ څخه برخمن نـهٔ دئ او نـهٔ د حقايقو د بل ډول ښودلو يا پټولو تکل لرم. برسيره پر دې زه غواړم دداسې يوهٔ شهزاده د کړو وړو يو بشپړ انځور وړاندې کړم چې خپلو رعاياوو ورته له متوسط حد پورته درناوی درلود او دا به د هغه د شخصيت په لا ښـهٔ پوهېـدلو کې مرسته وکړي او ممکن پايله يې د هندوستان د اوسېـدونکو د خصايلو او اخلاقي ځانګړتياوو په اړه په مستدلو نظرياتو واوړي.

شجاع الدوله د صفدر جنګ زوی او مور يې د سعادت خان لور وه چې په ۱۷۲۹ز کال کې سترګې په نړۍ وغړولې.ښايي د هندوستان د حکومت په سلاطينو کې به د يو معتبر اصل و نسب لرل کوم مهم تر ټولو مهم عامل نـهٔ وي چې د قدرت د ترلاسه کولو او ساتلو د ابزارو لپاره اغلب وختونه پر ثروت او پوځي قدرت ډېره لګوي خو يو برجسته اصل ونسب کـېـدای سي د يوهٔ اغـېـزمن مشر شهرت او اعتبار ډېـر کړي چې ډېري وختونه ورباندې وياړي. د شجاع الدوله د کورنۍ تأريخي ادعاګانې چې ښاغلی (داو) د (هندوستان په تأريخ) کې ورڅخه د «يوهٔ بدنامه فارسي سوداګر حتی بدنام تره زوی»[1] په نوم يادونه کوي ضروري دي. د شجاع الدوله نيکونه په پخوا وختونو کې د خراسان د نيشاپور په ښار کې استوګن سوي ول او هلته يې ځمکې درلودلې او د سيمه ييزې ټولنې د برجسته غړو په توګه پـېـژندل کـېـدل.

پرسيا/ فارس ته ما د خپلو سفرونو په لړ کې ما ته دا فُرصت مساعد سو چې په نيشاپور کې د سيمې له څو تنو اوسـېـدونکو څخه د شجاع الدوله د کورنۍ په هکله انکار نـهٔ منونکي شواهد تر لاسه کړم. ددې ټکي د تشريح لپاره که څه هم ډېر تفصيل غواړي ددې

---

[1]- ښاغلی داو **Dow** په پرله پسې ډول هڅه کوي چې د وزير شهرت او نسب ککړ او پيکه کړي. کله چې شجاع الدوله د خپل کورني تأريخ په هکله ددغه ليکوال له سپکو او له تحقيره ډکو خبرو خبر سو نو د ښاغلي داو ددغو سپکو د عباراتو دليل په هغه وړانديز کې ويني چې داو ورڅخه د الله آباد په سيمې کې د مالګې په کان کې د ونډې غوښتنه کړې وه او شجاع الدوله رد کړې وه. - ليکوال

ټکي يادول ضرور دي چې د شجاع الدوله د مورني نيکـهٔ پلار [1] ميرزا نصير د بهادر شاه [2] د سلطنت په پيل کې هندوستان ته راغی. هغـهٔ ته په ﴿پټنه﴾ [3] کې چيرته چې ددهٔ مقبره اوس هم سته يو مهم مقام وسپارل سو. ميرزا نصير دوه زامن درلودل، کشری يې محـمد امين نومـېـدهٔ چې د خپل پلار له مړينې وروسته بـېـرته فارس ته ولاړ او د ۱۷۰۸ز کال په شاو خوا کې يې د ﴿فرخ سير﴾ [4] له دربار څخه يې ليدنه وکړه ﴿د ژباړونکي يادونه : فرخ سير په ۱٦۸۳ز کې زېـږېدلی او په ۱۷۱۹ز کال کې مړ سوی يو مغل پادشاه وو چې له ۱۷۱۳ تر ۱۷۱۹ز کال پورې يې سلطنت کړی دئ. دی د خپل اکا د سلطنت په ړنګولو سره د هند سلطان سو.﴾ فرخ سلطان دی د آګرې د کلا حاکم مقرر کړ او کله چې په رسميت وپـېـژندل سو د ﴿اودې﴾ د وايسرا په توګه مقرر او د ﴿سردت خان برهان الملک﴾ [5] لقب ورکړل سو. نوموړي په دې ايالت کې د خپلو هڅو په لړ کې وکولی سول د پام وړ پوځي شهرت وګټي او ورپسې د ﴿داروغـهٔ خاص﴾ [6] په لقب د ۷۰۰۰ سپرو د بولندوی يا قوماندان په توګه مقرر سو.

د همدې مودې په شاو خوا کې د سعادت خان وراره محـمد مقيم چې وروسته د صفدر جنګ په نوم ونومول سو هند ته راغی او د خپل اکا له لور سره يې وادهٔ وکړ او زما په باور ددغـهٔ وادهٔ محصول يوازې يو نارينه وو، شجاع الدوله. صفدر جنګ چې هم هڅاند او هم ماهر وو د ﴿اودې﴾ د حکومت په چارو کې د سعادت خان مرستيال سو.

د محمود شاه [7] د حکومت په منځنيو کلونو کې ول چې مرهټه وو چې ويل کـېـږي د نظام الملک [8] له لوري چې له دربار سره په تضاد کې وو، ولمسول سول او د امپراتور په قلمرو باندې يې بريد وکړ او د پام وړ ورانی يې رامنځته کړې. په دې لړ کې کله چې هغوی د ﴿اودې﴾ پر لور د پرمختګ تکل درلود د سعادت خان له څواکونو سره چې بولنه يې دده پر غاړه وه مخامخ سول او پريکنده ماتې يې وخوړله. په دې پسې دغه افسر د امپراتوری له لښکر سره چې د بريدګرو د دباندې شړلو لپاره راټول سوي ول، يو ځای سو. خو د يوې پلمې په راوړلو سره د لښکر له قرار ګاه ووت او له امپراتور سره له ليدنې پرته بيرته ﴿اودې﴾ ته په شا سو.  باور دا دئ چې

---

1 - سعادت خان ملقب په برهان الملک - ليکوال

2- دغـهٔ امپراتور خپله واکمني په ۱۷۰۷ز کال کې پيل او په ۱۷۱۲ز کال کې مړ سو.- ليکوال

3 - **Patna**

4 - **Furrucksir**

5 - **Saredut Khan Burhaan- ul- Mulck**

6 - **Darogha Khas** : داروغـهٔ خاص په انګلستان کې د شاه د کورنۍ د سرپرست لقب ته نـېـږدې يو لقب دئ. - ليکوال

7 - دغه پادشاه په ۱۷۱۹ز کال کې پادشاه سو او ۱۷۴۷ز کال کې مړ سو.- ليکوال

8- د اوسني نظام الملک پلار. ليکوال

سعادت خان د نظام الملک په همکارۍ نادر شاه افشار ته بلنه ورکړه او هغهٔ ته یې د کورني/ داخلي د پام وړ ملاتړ او د امپراتورۍ د آسانه سوبې ډاډ ورکړ. دغه ادعا د «هندوستان د تأریخ په کتاب کې» د ښاغلي «داو Dow» له لوري تأیید سوې ده او له اعتبار څخه یې په ټینګه ملاتړ کوي. ددې تر څنګ ښاغلی فریزر په خپل تأریخ (نادرشاه) کې دې موضوع ته نغوته او په صداقت او څرګنده یې سپړلې ده. فریزر مدعي دئ چې سعادت خان د ډهلي له ناراضي اشرافو سره د چل او دوکې په یوې مرکې کې چې ظاهراً د فارس له دربار سره په اړیکه کې ول ګډون درلود. له دې سره سره باید دا خبره په پام کې ولرم چې سره له دې چې دا ادعا زما له اصلي څېړنې څخه لېرې ده خو د فریزر ادعا له هېڅ راپور سره چې پر هند باندې له برید څخه د سعادت خان له ګټو څخه ملاتړ وکړي سمون نهٔ خوري او نوموړی هم د خپل استدلال د تأیید لپاره هېڅ ځانګړې سرچینه نهٔ وړاندې کوي. د هغهٔ انځور پر بنسټ چې فریزر یې د فارس د جګړو په لړ کې د سعادت خان په اړه وړاندې کوي منطقي ده چې دې پایلې ته ورسېږو چې د «اودې» والي په کومو خبرو اترو او یا د نادر افشار په ګټو کې ګډون نهٔ درلود. که نوموړي د ادعا سویو مرستو په دلیل چې دهٔ یې لیاقت درلود په رښتیا د نادر افشار ملاتړ ترلاسه کړی وای نو ددې خبرې منل لېرې ښکاري چې ولې د ډهلي لښکر په کارنال کې ډېرې سختۍ ولیدلې.

د فریزر د تأریخ د روایت په یوې برخې کې دا احتمال شتون لري چې په خپله سعادت خان په داسې موقعیت کې نهٔ وو چې له فارس سره دې محرمه اړیکه [1] ولري او یا دې د هغوی له رحمت څخه برخمن اوسي. فریزر وایي : « مخکې له دې چې د نظام - د سعادت خان او نادر شاه - تر منځ خائینانه مکاتبه وسي خبرې وکړم او، له هغې جملې څخه یوه یې دا وه چې نادرشاه افشار ته یې بلنه ورکړه چې د هندوستان پر لور دې راوخوځېږي، او همدا بلنه د هندوستان پر لور د هغه د لښکر - لېږد اصلي عامل وو، غواړم څو نور ټکي روښانه کړم.» پر دې برسیره، متن څرګندوي چې پلازمینې ته د نادر افشار په نېږدې کېدو سره سعادت خان ته فرمان ورغی چې د ډهلي له لښکر سره دې یو ځای سي. هغه له ګنګا څخه اوښتی وو چې «اودې» ته د بېرته تګ فرمان ورته ورکړل سو. د محمد شاه مشورتي شوراګانو پرېکړه وکړه چې د لښکر بولنه دې د وزیر پر غاړه وي او امپراتور دې په ډهلي کې پاتې سي او ساتنه دې د سعادت خان د ځواکونو پر غاړه وي. سره له دې چې له دې اشرافي څخه هیله کېده چې بولنه پر غاړه واخلي خو شدیدې ناروغۍ اړ کړ چې په «اودې» کې پاتې سي او ویې نهٔ سوای کولی چې کوم کار سرته ورسوي. آخرالامر نوموړی په ۱۷۳۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د محمد شاه قرارګاه ته ورسېد، دا هغه ځای وو چې امپراتور خپل مخکینی تصمیم بدل کړ او ورپسې له لښکر سره یو

---

[1] - په راتلونکو کرښو کې دغه ډول اړیکو او مکاتباتو ته هېڅ ډول نغوته نهٔ ده سوې. ژ

ځای سو. په هغه ورځ چې سعادت خان د امپراتورۍ له ځواکونو سره یو ځای سو [1]، ددهٔ قرارګاه د فارسیانو د ځواکونو له خوا تار په تار او لوټ سوه او په پای کې د دهٔ ډیري ملازمین او خادمین ووژل سول. په مجردې چې سعادت خان ته ددې فاجعې خبر ورکړل سو، فوراً له دې ځایه چې شاه ورته سترګې په لاره ووت او د خپلو ځواکونو مرستې ته ورغی. د امپراتورۍ جنرال (خان ډوره) [2] د سعادت خان د ملاتړ لپاره پرمختګ وکړ او له هغې لږ وروسته د محـمد شاه تر مشرۍ لاندې د امپراتورۍ اکثریت افسران چې د بېـلو ډلو مشري یې پر غاړه درلوده په نښته کې ښکېـل سول. د جګړې په شدت موندلو سره نادرشاه افشار د خپلو ځواکونو بولنه په خپله واخیسته او ځواکونه یې په دغو شیبو کې نور د توقف وړ نـهٔ ول او په پای کې د ډهلي پر لښکر یې قاطع بریا ترلاسه کړه او سرتېـرو او افسرانو ته یې د پام وړ تلفات ورپېـښ کړل. (خان ډوره) ټپي سو او مشر زوی او ګڼ شمېـر (اومرې – Omrahs) [د دربار غړي - ژ] یې ووژل سول او سعات خان د دښمن ځواکونو اسیر ونیو. راپورونه وایي چې د نادر تر مشرۍ لاندې ځواکونو ۲۵۰۰ سرتېـري له لاسه ورکړل او ۷ تنو افسرانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل او ۵۰۰۰ تنه ټپیان سول. له جګړې وروسته نادر شاه افشار دستور ورکړ چې د خپلې سیمې په ګاونډ کې دې د سعادت خان او د محـمد شاه د دوه وو (اومرو) [3] [دهندوستان د مسلمانانو په سلطنتونو کې د دربار غړو ته اومره ویل کیده- ژ] لپاره دې کېـږدۍ ووهل سي. ددغو مقامات ضروري او اړین لوازم د هغوی له خادمانو سره ځای له قرارګاه دباندې او لیـرې پرېـښودل سول او هغوی ته یې د ورتګ او یا د آذوقې د اخیستلو واک نه وو ورکړی. ښاغلی فریزر له دې پېـښې وروسته د سعادت خان په اړه لږ معلومات وړاندې کوي او یوازې دې ټکي ته نغوته کوي چې نوموړی د نادر شاه د را تګ په لومړۍ ورځ د ډیلي د ښار د ساتـنې په مسؤولیت منصوب سوی وو. همدا شان لیکوال دې ټکي ته نغوته کوي چې نادر افشار د ۱۷۳۹ز کال د مارچ په میاشت کې سعادت خان احضار کړ او هغـه یې په دې توبیخ کړ چې د مالیاتو د اخیستلو ممانعت یې کړی وو. [4] په بله ورځ یې سعادت خان په داسې حال کې چې له دې پېـښې وروسته په نامناسب وضعیت کې وو، سترګې له نړۍ پټې کړې. ښاغلی فریزر د سعادت خان په هکله خپل روایت په دې خبرې پای ته رسوي چې د یو شمېـر کسانو په باور د سعادت خان د

---

[1]- لښکر په کرنال کې قرارګاه نیولې وه چې د ډهلي د لویدیځ لور په ۱۰۰ مایلۍ کې موقعیت لري.- لیکوال

[2] - Khan Dowrah

[3] -Omrahs

[4] - نادر شاه افشار د ډهلي په استوګنو وګړو باندې مالیات وضع کړې ول. –لیکوال

مرګ لامل د نادر افشار د توندو خبره له کبله وو؛ حال دا چې يو شمېر نور ګومان کوي چې حسادت دې ته اړ ايستل سو چې د زهر په خوړلو ځان وژنه وکړي. [1]

د سعادت خان د چار چلند په هکله د ښاغلي فريزر روايت چې په دقت يې ساتلی دئ اوس د بې پرې قضاوت لپاره چمتو دئ چې نادر شاه افشار ته پر هندوستان باندې د برید لپاره د سعادت خان د بلنې احتمال مشخص کوي. شک نه سته چې دغه ليکوال موږ ته د هند په تأريخ کې خپله د پام وړ ونډه وړاندې کوي. دی د خپل کار په نورو ځايونو کې موږ ته وايي چې د فارس پادشاه د محمد شاه د څو تنو اومر/ دربار غړو په نسبت د مهرباني او سخاوت نښې ښرګندې کړې وې، خو ورسره هېڅ داسې سند نه سته چې وښيي چې نوموړي دې د سعادت خان پروړاندې همداشان مهرباني او يا سخاوت ښودلی وي. په حقيقت کې څرګنده خبره دا ده چې سعادت خان د کرنال د جنګ په لړ کې له سختو عواقبو سره مخامخ سو او وروسته ورسره په شدت چلند وسو.

صفدر جنګ چې د سعادت خان د مړينې پر مهال په (اودې) کې ژوند کاوۀ د والي مقام ته ورسېد. دغه انتصاب د کورني دود پر بنسټ د نادر شاه افشار له لوري ورته اعطا سو. خو له دې سره سره زه غواړم په دې فکر وکړم چې د محمد شاه پر وړاندې د فارسيانو سخاوتمندانه چلند ته په کتنې کيدای سي دا مقام يې د خپل پادشاه له لاري تر لاسه کړی وي. کله چې فارسي لښکر له ډهلي څخه ووت صفدر جنګ ته د (مير آتش) [2] (توپچي باشي – ژ) دنده وسپارل سوه.

دراني احمد شاه په ۱۷۴۶ ز کال کې په هندوستان بريد وکړ او سرهند ته ورسېد او په سرهند کې د ډهلي د لښکر له ټينګ مقاومت سره مخامخ سو؛ د ډيلي د لښکر بولنه د صفدر جنګ پر غاړه وه. وروسته له دې چې احمد شاه [3] (احمد شاه بهادر په ۱۷۴۸ز کال کې د ډهلي پر تخت کښېناست چې مغل پادشاه وو- ژ) د ډيلي د سلطنت پر تخت جلوس وکړ صفدر جنګ د وزارت په مقام منصوب او د شجاع الدوله زوی ته د مير آتش/ توپچي باشي دنده ورکړل سوه. خو په دربار کې يوه پياوړې ډله جوړه سوه چې له غازي الدين [4]، د روهيليه له مشر نجيب الدوله،د دربار له خواجه سرا تميد خان [1] څخه جوړه وه وکولی سول د صفدر جنګ نفوذ

---

1- په ډهلي کې باور دا وو چې سعادت خان په پښه کې د ټپ/ السر له کبله مړی سوی دئ.- ليکوال

2 - Meer Atush

3- دغـۀ پادشاه خپل سلطنت په ۱۷۴۷ز کال کې پيل کړ. ليکوال

[ د ژباړونکي يادونه : دلته ليکوال تېروتنه کړې ده. لوی احمد شاه بابا عليه الرحمه په ۱۷۴۷ز کال کې د افغانستان شهنشاه سو او احمد شاه بهادر په ۱۷۴۸ز کال کې د ډهلي پادشاه سو. فکر کوم ليکوال د نومونو د يووالي له کبله تير وتلی دئ ځکه احمد شاه بابا عليه الرحمه له ۱۷۴۸ تر ۱۷۶۹ز کال پورې ۹ ځله بريدونه کړي دي. - ژ]

4 - د ستر نظام الملک لمسی – ليکوال

ضعیف کړي او دې ته یې اړ ایست چې له ډهلي دباندې ووځي. خو صفدر جنګ له خپلو وتلو مخکې د جنید خان د ترور پلان جوړ کړ او په هغې غونډې کې تر سره سو چې د خواجه سرا په ویاړ جوړه سوې وه.

صفدر جنګ د لوی لښکر په راټولولو سره د امپراتورۍ په قلمرو برید وکړ او پلازمینه یې تر شپږو میاشتو پورې محاصره کړه. [2] نوموړی د ګڼ شمېر فجیعو اعمالو په تر سره کولو تورن سو او دا تور هم وربانديې ولګېد چې د کلابندۍ پر مهال یې له تاوتیرخوالي ډک چلند کړی دئ په ځانګړې توګه دا چې سلطنتي ماڼۍ یې د توپونو په ګولیو وویشتله خو د ماڼۍ په نیولو کې یې ورسره مرسته ونـهٔ کړه. د ډهلي دربار مجبور سو چې د شورشیانو له شرایطو سره موافقه وکړي او په دې موافقې کې د (اودې) او (الله آباد) د ایالتونو ورکړه صفدر جنګ او د هغـهٔ زامنو ته وه. صفدر جنګ په ۱۷۵۴ز کال کې د عالمګیر ثاني د سلطنت پر مهال مړ سو او زوی یې شجاع الدوله [3] د (اودې) صوبه دار سو. له دې چې زموږ دا بحث موږ ته اجازه نـهٔ راکوي چې د صفدر جنګ په هکله تفصیلي خبرې وکړو یوازې ددې ټکي یادول اړین بولم چې د صفدر جنګ طبیعت او شخصیت ظالم او خښمناک وو او ددهٔ نـهٔ مړېـدونکی حرص وو چې دهٔ ته یې د پام وړ رسوایي راوړله.

د شجاع الدوله د ټولنیز ژوند د اړخونو د پوهېـدلو لپاره د هغـهٔ وخت د ډهلي د دربار د شاوخوا د شرایطو ارزول مهم دي. په ۱۷۵۳ز کال کې غازي الدین احمدشاه (بهادر- ژ) ړنګ کړ او عالم ګیر ثاني یې پر ځای پر تخت کښېـناوهٔ او د عالمګیر ثاني مشر زوی (علي ګوهر) [4] د وزیر د خاـئنانه نیت له ویرې له ډهلي ته وتښتـېـد. [5] نوموړی د مرهټه وو د یوې کوچنۍ ډلې په ملتیا په دې بریالی سو چې د څو میاشتو په لړ کې د پلازمینې د سویل له سیمو څخه حداقل سرچینې راټولې کړي. ورسره، د محدود ملاتړ په دلیل ژر تر ژره له ستونزو سره مخامخ سو او د روهیلیه وو له مشر نجیب خان څخه یې مرسته وغوښته. کله چې نجیب خان ددهٔ له ملاتړ څخه پښیمانه سو نو علي ګوهر د شجاع الدوله قلمرو ته په شا سو. شهزاده په (اودې) کې تر یوې مودې پورې مېلمه پاتې سو او درناوی یې وسو. خو ویې نـهٔ سوالی کولی چې هېـڅ ډول مرسته تر لاسه کړي. آخرالامر په ادب او احترام رخصت او مخ په الله آباد

---

[1] - **Tameid Khan**

[2] - دا پېښنه په ۱۷۵۳ز کال کې رامنځته سوه. – لیکوال

[3]- دغه شهزادګی په کورنۍ کې د طلاالدین حیدر **Tillah- ud- Dein Hyder** په نوم پېـژندل کېـدهٔ. پلار یـې د (اودې) په ایالت کې د شجاع الدوله د زېـړېـدنې پر مهال د همدې پېـښې په ویاړ لکنهو ته نـېـږدې د (طلا آباد کلا) ودانه کړله. – لیکوال

[4] - **Aly- Ghohir**

[5] - دا پېښنه په ۱۷۵۸ز کال کې رامنځته سوه– لیکوال

وخوځېد؛ دا مهال الله آباد د فارسی الاصله محمد قلي په لاس کې وو چې د شجاع الدوله د کشر اکا زوی وو. محمد قلي په ډېرې لېوالتيا سره د شهزاده پلانونه چې موخه يې د بيهار او بنګال د ولايتونو بېرته نيول ول و منل. ګډ ځواکونه له (کره منسا) [1] څخه پورې غاړه تېر سول، دوی د بېلابېلا برياوو د ترلاسه کولو تر څنګ په ۱۷۶۱ز کال کې په (سوان) [2] کې د انګليس د ځواکونو له لاسه ماتې وخوړله. د انګليس په قرارګاه کې هغه له مهربانۍ او درناوي ډک چلند چې له علي ګوهر سره وسو، د قاسم علي خان حسادت يې راوپاراوۀ. وروستنيو شواهدو ته په کتنې يعنې له خپلو ګټو سره د شهزاده مخالفت او له علي ګوهر سره د يوۀ انګليسي افسر ډېر نـېږدې والی ددې لامل سو چې قاسم علي ددې اتحاد پر وړاندې خپله ژوره دښمنې څرګنده کړې. شهزاده په دې باور وو چې قاسم په لښکر کې د تفرقې اچولو مسؤول دئ چې په پای کې د پام وړ پاڅون يې رامنځته کړ. که د انګليس د وسله وال ځواک ملاتړ نـۀ وای نو ډېره رسوايي به يې رامنځته کړې وای. دغه وضعيت علي ګوهر مجبور کړ چې د شجاع الدوله قلمرو ته په شا سي چې تښتـېدلي شاه [3] ته يې د سرغندويې وفاداری په ننداري ښـۀ راغلاست وويل او ځان يې د سلطنتي مرام پلوی اعلان کړ.

د شجاع الدوله په تأريخ کې د يوې مهمې پېښې د روښانولو لپاره، پخوانيو سوابقو او د هغو د سرچينو ارزونه ضروري ده. صفدر جنګ خپل ورارۀ محمد قلي خان د الله آباد په قوماندې باندې منصوب کړی وو. قدرت ته د شجاع الدوله له رسېدلو وروسته محمدقلي ظاهراً د (اودې) له اختياراتو څخه واتن ونيوه. شجاع الدوله ددغـۀ افسر د پوځي توان او د هغـۀ د منلتوب او محبوبيت په درک کولو سره د الله آباد پر وړاندې له هر ډول بريدګر اقدام څخه ډډه وکړه. بيهار ته د محمدقلي د ټول لښکر لېږد په اوږدو کې هغه د خپلو سميو د ادارې واګې نجف خان ته وسپارلې، دا هغه مشر وو چې وروسته د هند په شمال کې په شهرت ورسېد. شجاع الدوله د محمدقلي له غيبت څخه په استفادې له يوۀ کوچني لښکر سره د الله آباد د سرحداتو پر لور پر مخ ولاړ. هغه له نجف خان سره له صميمت ډکې اړيکې ټينګې کړې او د محمد قلي هوساينې ته د شجاع الدوله په صادقانه وفاداری بوخت سو. هغه ادعاوکړه چې د درانيانو بريد هغه مجبور کړ چې د خپلې کورنۍ د ژغورلو لپاره د الله آباد کلا ته پناه يوسي ځکه الله آباد د بل هيڅ ځای په پرتلې دۀ ته د مقايسې وړ امنيت نـۀ ورکاوۀ. نجف دا وړانديز په پام کې ونـۀ نيوۀ او د محمدقلي خان لاړښوونې ته سترګه پر لار وو؛ محمد قلي امر وکړ چې د شجاع الدوله کورنۍ او د هغوی د کورنۍ يو شمېر غوره سويو ساتونکو ته دې اجازه ورکړل سي چې کلا ته

---

[1] - Caramnassa

[2] - Suan

[3] - په دغه وخت کې علي ګوهر اسماً د شاه عالم په لقب پادشاه سوی وو. پلار يې په ۱۷۶۰ز کال کې وفات سو. – ليکوال

ننوځي. راپورونه وايي چې شجاع الدوله د ښځو په منځ کې خپل يو شمېـر وسله واله پټ کړل او له دې سره سم يې پر کلا بريد وکړ او کلا يې له وينو تويولو پرته په برياليتوب ونيوله. دغه پېښه د ۱۷۶۱ز کال په شاو خواو وو کې رامنځته سوه؛ په دې سره مـحمـد قلي خپل ځان په نامطمـئـن وضعيت کې احساس کړ او همدې حالت دی اړ ايست چې د شجاع الدوله په سخاوت ډډه ولگوي. شجاع الدوله، محـمدقلي د څو مياشتو لپاره د دولتي جناياتو په تور زنداني کړ. محـمدقلي د (اودې) په لښکر کې د خپلې زړورتيا او سخاوت له کبله زښت ډېر درناوی تر لاسه کړ. د الله آباد له تصرف وروسته نجف خان د شجاع الدوله په خدمت کې سو. نجف خان له ځانه د پام سرښندنه او فداکاري څرگنده کړه او د محـمدقلي [1] د آزادۍ لپاره يې خپل امنيت له خطر سره مخامخ کړ. ددې ترڅنگ هغه پرله پسې ويرونکې گنگوسې چې ددۀ په گټې خپرېـدلې دی يې په دربار کې په يوې ويروونکې څـېـرې بدل کړی وو. د شجاع الدوله انديښنې تر هغو آرامه نـۀ سوې تر څو چې د زنداني ترور يې په برياليتوب سره تر سره سو. عاقبت الامر شجاع الدوله له شاه څخه د وزير لقب تر لاسه کړ. اوس نو ددۀ تر فرمان لاندې ستر لښکر او شهنشاهي حضور په رښتيا سره کولی سو د هندوستان د مقتدر او پياوړي مشر په توگه وگڼل سي.

په ۱۷۶۳ز کال کې د انگليسانو او قاسم علي ترمنځ جگړه ونښته چې له يو شمېـر برياوو او ماتو وروسته پايله يې له بنگال څخه د قاسم علي په ايستلو واوښتله. د هماغـۀ کال په پای کې نوموړي د خپلو پاتې ځواکونو په ملتيا چې د پام وړ خزانه هم ورسره وه د شجاع الدوله قلمرو ته شا تگ وکړ. د بنگال له دولت څخه تر ډېرې مودې پورې لاره ورکه وه ځکه وزير د هغـۀ د ملاتړ په هکله د

---

[1] - د طلا آباد په کلا کې د محـمد قلي مرگ هغه د انديښنې وړ موضوع لا نوره برجسته کړه چې معمولاً په آسيايي هـېـوادونو کې موندل کـېـږي. يو تـېـرغمال يا مستبد حاکم نه سي کولی خپل ستمگر رژيم تر هغو د تل لپاره په خلکو وتپي چې د رعيت افکار او ژبې ته يـې شکل ورکړی وي. که له خشونت او له وحشت څخه ملاتړ او ورسره مرسته نـۀ وای نو د تيمور، نادر شاه افشار يا په اوس وخت کې د حيدرقلي په څـېـر کسانو د خپلو امپراتوريو لپاره فتوحات نـۀ سوای تر لاسه کولی. هغه وخت چې شجاع الدوله د محـمد قلي د حذفولو لپاره تصميم نـۀ وو نيولی، هغه لا تر دې دمه خپل حکومت نـۀ وو ټينگ کړی. ددۀ د لښکر بولندويان که فارسيان ول، که مغول او يا افغانان، ټول زړور او سرکش کسان ول چې د پام وړ لوړې مالي غوښتنې يـې لرلې. هغوی محـمد قلي ته په داسې سترگه کتل چې يو زړور جنگيالی، د اصل او نسب او د ډېر ښه چارچلند شخصيت دئ. د محـمد قلي پر وړاندې د شجاع الدوله خيانت ته په کتنې هغوی د شجاع الدوله په راتلونکي نيت شکمن ول. شجاع الدوله همغومره چې د محـمد قلي له پريمانو ځانگړتياوو څخه ويره لرله په هماغه اندازه د هغـۀ د رسمي غوښتنو د پلي کولو له پايلو څخه يـې هم ويره لرله. که شجاع الدوله پرېکړه کړې وای چې محـمد قلي محکمې ته راکاږي او يا علناً د هغه د اعدام حکم صادر کړي نو د خپل حکومت ثبات يې له گواښ سره مخامخ کاوه او د انقلاب له خطر سره مخامخ کـېـدۀ. د خزانې ويروونکی وضعيت، د پام وړ پورونه، له پوځي مهارتونو څخه د شهزاده ذاتي فقدان د لښکر نظم او انظباط په شدت ضعيف کړی وو. له دې سره سره د نوموړي توند اقدامات چې د يوۀ ضعيف ظالم له نوميد کوونکو تکتيکونو څخه يې سرچينه اخيسته، دی مجبور کړ چې د خپل امنيت ساتنه وکړي او د خپل رژيم ثبات په دې ډول تأمين کړي چې په پټه له خنجر څخه کار واخلي. – ليکوال

بنګال مکررو اعتراضاتو ته مبهمه ځوابونه ورکول؛ آخرالامر د بنګال دولت متوجه سو چې وزیر په بنارس کې خپل ځواکونه سمبال کړي او د قاسم علي په ملتیا بیهار باندې برید ته چمتو سي. نوموړي د بنګال دولت ته په خطاب یوهٔ لیک کې په ډېر جسارت سره خپلې موخې په متکبرانه او سپک ډول اعلان کړې وې. هغـهٔ انګلیسان په دې تورن کړي ول چې د هندوستان امپراتورانو ورته امتیازات ورکړي دي خو دوی له دغو امتیازاتو څخه ناوړه ګټه پورته کړې ده او مدعي سو چې دغه کار په امپراتورۍ کې دننه ناآرامي رامنځته کړې دي. وزیر ویلي ول چې هماغسې چې سوداګرو ته لازمه او مناسبه ده تاسو په سوداګرۍ پورې د خپل فعالیت د محدود کولو پر ځای د امپرتورۍ په چارو کې لاسوهنه کړې او په خپل سر مو د تاج و تخت خادمانو ته د رتبو ارتقاء او تنزل ورکړی دئ. وزیر له هغوی (انګلیسانو – ژ) څخه وغوښتل چې خپل اقدامات دې توجیه کړي او ډېر ژر دې خپل افراد د پادشاه له قلمرو څخه وباسي او ګوابښ یې وکړ چې د ویل سویو اقداماتو نه مراعاتول د سلطنتي خښم لامل ګرځي او سلطنتي خښم د «خدای خښم» دئ. که څه هم شجاع الدوله له قاسم علي سره ژمنه کړې وه چې له لاسه تللي ایالاتونه به ورته بېـرته ورته ونیسي خو دداسې سرې د خبرې منل ګران دي چې خپلو خپلوانو ته یې په دې وروستیو کې خیانت کړی او داسې څوک یې اعدام کړی چې کورنۍ اړیکي او دوستي یې ورسره درلوده - او هغه دې په ډېرې لېـوالتیا خپله پانګه او ژوند د یوهٔ پردي لپاره په داسې حال کې په ګوابښ کې اچولی وو چې کومه روښانه او د پام وړ ګټه ورته نـهٔ درلوده. که د وزیر ځواکونه په دې نښته کې بریالي سوي وای د هغـهٔ د چارچلند نښو په څرګنده په ډاګه کول چې نوموړي په خپل قلمرو پورې د مفتوحه سیمو په ادغام کې کوم شک نـهٔ درلود.

په ۱۷٦۴ز کال کې کلکتې ته یو شمېـر راپورونه ورسېـدل او څرګندول یې چې د وزیر او قاسم علي ځواکونو چې پادشاه ته د وفادارو یوه کوچنۍ ډله ورسره مل ده (پټنې) ته نیږدې سیمو پورې پرمختګ کړی دئ. ددغو ګډو ځواکونو د تقرب پر وړاندې ځواب کې زموږ ځواکونو په چټکۍ شاتګ وکړ. ورپسې کله چې دښمن په اروپایي مورچلونو له برید وروسته په شا وتمبول سو وزیر او ځواکونو یې د (سوان) [1] د سیند بلې غاړې ته شا تګ وکړ. وزیر انګلیسي افسر ته چې د خبرو اترو لپاره ټاکل سوی وو، د سولې وړاندیز وکړ او هغه ته یې په ربنو ټکو دستور ورکړ چې د مقدماتي شرایطو په توګه دې د (سامبرو) [2] او اروپایي فراریاتو د تسلیمولو غوښتنه ولري. سولې ته د وزیر رښتوني اشتها په لومړي سر کې د دښمنیو توقف یا درول ول [3] او دې خبرې ورته اجازه ورکوله چې

---

[1] - Soane

[2] - Sombro

[3] - د اروپایانو شاو خوا ۲۰۰ تنو سرتیرو وزیر ته پناه وړې وه. – لیکوال

خپل ځواک بشپړ کړي. راپورونو ویل چې نوموړي هڅه کوله چې جعفرعلیخان خپلې خوا ته راوکاږي، جعفرعلیخان هغه څوک وو چې د قاسم خان له عزل کولو وروسته انګلیسانو ورته د ولایتونو ګورنرتوب ددوهم ځل لپاره ورسپارلی وو. په دې پسې وزیر ددغو مکاتباتو ادعا رد نه کړه او داسې ښکاري چې میرجعفر د (نندوکمار) [1] له لارې دا مکاتبات پر مخ وړل او وزیر ته یې ډاډ ورکړی وو چې ارباب یې یوۀ بیل تړون ته لېـوالتیا لري. شجاع الدوله د قاسم د مخ په ډېریدو ویرې څخه په ځانګړې توګه په (پټنه) کې له ماتې وروسته، ګټه پورته کړه. نوموړي اروپایي ځواکونه او د قاسم تر ټولو وړ/لایق بومي ځواکونه وغولول او ورپسې یې د پانګې د پام وړ برخه او نظامي تجهیزات تصاحب کړل. د وزیر د تکل په څرګندیدلو سره پرېکړه وسوه چې انګلیسي ځواکونه دې د هغـۀ د ګارنیزیون پرلور پر مخ ولاړ سي ترڅو دا شخړې نور د جګړې په ډګر کې حل او فصل کړي. له یوې څلور یا پینځه ساعته جګړې وروسته چې انګلیسان په زړورتیا وجنګیدل، انګلیسانو بریا تر لاسه کړه. [2]

په (بوکسار) [3] کې ماتې وزیر ته د هغه په سیاسي او پوځي هڅو کې مهم خنډونه رامنځته کړل؛ ځکه له دې پـېـښې وروسته،د وزیر متحدینو ورته شا کړه. شاه علم په داسې حالت کې وو چې د خپل لقب رسمي مقام لیاقت یې نور نـۀ درلود او د انګلیسانو ګارنیزیون ته یې پناه یوړه او هلته یې شجاع الدوله شدیداً په دې تورن کړ چې له سلطنتي ځواک څخه د خپلو جاه طلبیو او د انګلیسانو پرضد د خپلو دښمنانه اقداماتو د توجیه لپاره د ابزارو په توګه کار اخلي. دا دوهم ځل وو چې بدمرغه شاه علم د انګلیسانو لښکر ته پناه راوړې وه. غواړم د ښاغلو لوستونکو پام هغو مهمو بدلونونو ته راوړوم چې په دې وروستیو کې یې د هندوستان په امپراتورۍ اغـېـز کړی دۍ. په پای کې د درناوي او تواضع په احساس سره زه وینم چې د تیمور د مجلل کور تهدابونه ولړزېـدل.

کولای سو په ډېر ځیر او زغرده دا خبره وکړو چې هندوستان د اورنګزیب[4] د سلطنت پر مهال د آسیا یو تر ټولو برجسته سلطنت او امپراتوري وه چې د خپلې پانګې، پراخوالي او پوځي قابلیتونو له اړخه د پام وړ وو. همدا شان ددې ټکي یادول اړین دي چې هغه مهال انګلیسان عمدتاً د هند له سواحلي غاړو پرته په نورو ځایونو کې چا نـۀ پـېـژندل؛ دوی دلته د بـېـلابـېـلو محدودیتونو په لرلو سره

---

[1] - Nundocomar : دغه سړي ته په کلکته کې د محکمې په حکم چې جعل یې کړی وو د اعدام سزا ورکړل سوه- لیکوال

[2] - انګلیسي ځواکونه چې له ۸۵۷ تنو اروپایي سرتېـرو او ۶۲۱۵ تنو بومي سرتېـرو جوړ ول تلفات یې ۱۰۱ تنه اروپایي او ۷۷۳ تنه سپاهیان ول چې یا ووژل سول او یا ټپیان سول. شجاع الدوله تر خپلې مشرۍ لاندې لښکر څلوېښت زره سرتېـري درلودل چې له دې شمېـر څخه یې ۲۰۰۰ تنه له لاسه ورکړل. انګلیسانو ددې جګړې په لړ کې ټول ټال ۱۳۳ قبضه توپونه او ګڼ شمېـر توپک او ددښمن تعقیب تر لاسه کړ. - لیکوال

[3] - Buxar

[4] -دغه سلطان له پینځوس کالو سلطنت وروسته په ۱۷۰۷ز کال کې مړ سو. -- لیکوال

د سوداګرو په توګه فعالیت کاوۀ. خو اوس تاسو ددې ورځې شاهد یاست چې د ډهلي شهزادګان دومره ضعیف سوي چې د اورنګزیب تر ټولو نــېـږدې وارث د خپلې پانګې د له منځه تللو په انګیزې راپورته کــېـږي او د هغــۀ ټاټوبي د سطحې پر مخ له یوۀ انګلیسي تبعه څخه د ملاتړ او محافظت غوښتنه کوي چې نیکونو یې یو وخت وربادنې حکومت کاوۀ.

وزیر چې د انګلیسي پوځیانو په ډېر قدرت پوه سوی وو، سولې ته د رســېـدلو لپاره یې خپله ربښتوني لــېـوالتیا څرګنده کړه. خو ورسره د بنګال د دولت له لوري په لومړنیو موادو کې درج سوي شرایط یې رد کړل. هغــۀ د قاسم علي او (سامبرو) له تسلیمۍ څخه ډډه وکړه خو ډاډ یې ورکړ چې د یوۀ د حذف او له خپل ټاټوبي څخه د بل د ایستلو لپاره به مناسب ابزار ومومي. دغه حالت د توافق د مادې د صلاحیت د تصریح لپاره ونــۀ منل سو نو ډګروال (منرو) دې ته اړ سو چې خپل لښکر د بنارس پر لور ولــېـږدوي. د یو شمــېـرو اروپایانو تــېـښته او (بیهار) ته د وزیر د ننوتلو په درشل کې او پټنې ته زموږ د ځواکونو شاتګ، وزیر ته یو شمــېـر خوشبینانه هیلې را ټوکولې وې چې دا هیلې د بوکسار په ماتې کې ټولې له منځه لاړې. په دې ماتې پسې وزیر د خپل لښکر بیا جوړول په دې ډول سره تر لاس لاندې ونیول چې دا لاره مخکې د هندوستان د واکمنو له پلوه نــۀ وه منل سوې. د یوې ارزښتناکه قلمي نسخې لیکوال [1] چې دغه روایت په څرګند ډول سره بیانوي وایي چې د وزیر د اغیز او ربښتوني اقتدار دوره د بوکسار په جګړې کې پیل سوه. د هندوستان د دود دستور پر بنسټ، دغه شهزاده دومره لوی لښکر راټول کړ چې د ساتلو لپاره یې د هــېـواد سرچینو ځواب نــۀ سوای ویلی. ان کله چې بودیجه کافي نــۀ وي د سیمه ییزو پوځیانو تنخواه ګانې اغلب وختونه لږ ویشل کــېـږي چې کــېـدای سي ناوړه او شدیدې منفي پایلې ولري. د وزیر په ځواکونو کې د پام وړ شمــېـر آس سپارۀ او د توپخانې ځواک وو، سرتــېـري له بــېـلابــېـلو ملتونو او قومونو څخه او اکثریت یې مغول ول. دغو ځواکونو چې ذاتاً یې په بریدګر او غولوونکي چارچلند شهرت درلود په ډېرې چټکۍ سره د خپلو تنخواه ګانو د ورکړې په موده کې غبرګون وښود او ډېري وختونه به یې یا پاڅون کاوۀ او یا به یې داسې اقدامات تر لاس لاندې ونیول چې د سیمې مدیریت یې بې سیکه یا ضعیف کاوۀ. بزګران او ولسوالان اړ ول چې سرتیرو ته تنخواه ورکړي او دوی د سرتــېـرو د حسابونو تر پاکولو پورې د سرتــېـرو د رحم تر چړې لاندې اوســېـدل. دغه حالت د پام وړ بې نظمۍ رامنځته کړې وه چې د نورو دولتي اړتیاوو د رفع کولو لپاره یې کومه سرچینه پرېــنـښودله. په بوکسار کې ماتې د وزیر د ستونزو پیټی لږ سپک کړ، دلته د

---

1 - Colonel Munro

مغولو سپرو ځواکونو په جګړه کې د ګډون هېڅ تکل ونښود ځکه دوی لومړني کسان ول چې د جګړې له ډګر څخه وتښتېدل. هغوې د خپلې ناځوانۍ په منلو سره غوره وبلله چې د وزیر څنګ ته ورنسي.

د انګلیس لښکر له بنارس څخه وخوځېد ترڅو چنارګهر کلابند کړي. خو د چنارګهر د نیولو له دوه وو ناکامو هڅو وروسته بنارس ته په شا سو. د ایالت د هندوانو مشر (بل وَت سینګ) له وزیر سره د انګلیسانو پر ضد یو ځای سوی وو او د ګنګا په شمالي څنډه کې د بوکسار دښتې ته مخامخ یې د یو شمېر ځای پر ځای سویو سرتېرو مشري کوله. نوموړي له جګړې وروسته له وزیر څخه ځان لیرې کړ او له ډګروال منرو سره په توافق ورسېد او په دې پسې یې ځان له انګلیسي ځواکونو سره همغږی کړ. خو کله چې د چنارګهر نابریالۍ کلابندۍ او د وزیر پرمختګ یې ولید یو ناڅاپه یې بنارس او تازه جوړ سوی تړون خوشې کړ او په شا سو.

په دې وخت [1] کې ډګروال مونرو د لښکر له بولنې استعفا ورکړه او د لښکر مسؤولیت جګړن فلچر **Major Fletcher** واخیست. فلچر په چټکۍ سره له بنارس ووت او د وزیر په تعقیب کولو پسې ورغی چې تر جوانپور پورې سیمه یې کلابند کړې وه. فلچر لښکر په دوه وو برخو وویشـۀ : یوه برخه یې د جګړن ستیبرت **Marjor Stibbert** په مشرۍ وه چې د چنارګهر کلا یې ونیوله او ورپسې د وزیر د قلمرو تر داخلي برخو پورې یې پرمختګ وکړ. په همدې حال کې په خپله فلچر شخصاً د لښکر بله برخه د الله آباد سیمو ته چې ددۀ تر کنترول لاندې وې ولېږدوله. وزیر چې ددغو د پرمختګ په حال کې ځواکونو پر وړاندې د درېدلو توان په ځان کې ونـۀ لید، د مرهټه وو یوه ډله یې راوغوښتله؛ د مرهټه وو دا ډله د (کوره) [2] له لارې د وزیر سیمې ته ننوتلې وه خو په پای کې د جنرال کارنک [3] په مشرۍ یې ماتې وخوړله. مرهټه ددوهم ځل لپاره په (اکبرپور) [4] کې د همدغـۀ افسر تر برید لاندې راغلل او پایله یې له سیمې څخه د مرهټه وو په وتلو واوښتله؛ خو دوی په دې بریالي سول چې د اروپایانو د لوژیستیکي ملزوماتو ډیره برخه لوټ کړي. هغو ډېر ژر مجبور سول د (کلوپي) [5] په ګودر کې د جمنا له سینده واوړي، دغلته دوی هڅه وکړه چې یو ځل بیا سره راټول سي. له یوې لنډې ښتې وروسته ټول تیت او تاش په تاش سول. وزیر مرهټه وو ته بلنه ورکړې وه چې (اودي**Oude** ) ته ورسي خو د هغوی د

---

[1] - دغه پېښه د ۱۷۶۵ز کال په پیل کې رامنځته سوه. - لیکوال

[2] - **Corah** : دغه ولسوالي چې د الله آباد په سیمې کې ده له جمنا سره پوله لري. - لیکوال

[3] - **Général Carnac** : د ۱۷۶۵ز کال د مې په میاشت کې- لیکوال

[4] - **Ackbarpour** :د ۱۷۶۵ز کال د مې یا د جون په میاشت کې. - لیکوال

[5] - **Culpee**

سبسایدۍ د ورکړې د تادیاتو ترتیبات یې ونـهٔ نیول. هغـهٔ له دې ډاره چې ښایي دغه ماتې ددهٔ پر ضد په یوه باالقوه تاوتریخوالي او یا د سرتـېـرو په منځ کې یې د ناآرامۍ لامل وګرځي غوره وبلله چې له هغو سره مل او ملګری نـهٔ سي.

د وزیر وضعیت له بده پسې بد سوی وو. هغـهٔ د خپل قلمرو ډیرۍ برخه له لاسه ورکړې وه، د لښکر د سرتـېـرو د تـېـښتې شمـېـر ډېره او لښکر ضعیف سوی وو او خپل ځان یې په داسې حالت کې لیدهٔ چې نـهٔ مالي توان او نـهٔ متحدان لري. د بوکسار [1] له جګړې وروسته چې ډیره ناامیدي ورسره مل وه روهیلکند ته یې شاتګ وکړ او هلته یې خپلې کورنۍ ته پناه یوړه او له روهیلیانو یې د مرستې غوښتـنه وکړه. حافظ رحمت خان ورته ددهٔ له ارزښت او لیاقت سره سم درنده مـېـلمستیا او درناوی وکړ او ټول لازم امکانات یې ورته برابر کړل. خو حافظ رحمت خان له وزیر څخه په ټینګه وغوښتل چې له انګلیسانو سره دې د سولې په لټون کې اوسي تر څو وکولی سي خپله له لاسه تللې پانګه بـېـرته تر لاسه کړي. وزیر چې په بدبختیو کې ډوب او د جګړې د تود ساتلو لپاره یې بله هـېـڅ ډول وسیله نـهٔ درلوده عاقبت الامر پرېـکړه وکړه چې نور به د انګلیس په ترحم ډډه ولګوي. وزیر فرانسوی (مسیو جنتیل) [2] د انګلیسانو ګارنیزیون ته واستاوهٔ چې د خپلو دښمنانو له نیاتو څخه خبر سي. مسیو جنتیل د وزیر پیام انګلیس بولندوی ته وړاندې کړ چې د مکاتبې لحن یې د نورو مکاتبانو د لحن په پرتلې د پام وړ توپیر درلود. هغـهٔ څرګنده کړې وه چې ددوی ترمنځ رامنځته سوې دښمني کولی سو په الهي مشیت پورې وتړو. هغـهٔ د رامنځته سویو پـېـښو له لارې ددې خبرې لپاره روښانه شواهد درلودل او پرېکړه یې وکړه چې د انګلیس د درناوي وړ مشرانو په انصاف باندې اعتماد وکړي چې په خپلو خبرو او ژمنو کې ثابت قدمه پاتې سول. هغـهٔ د خپل خبرو په پای کې وویل : «زه ثروت او قدرت ته هـېـڅ ارزښت نـهٔ ورکوم، ستاسو دوستي او ملاتړ یوازینی شی دئ چې زه یې غواړم. انشاء الله ډېر ژر به ستاسو تر څنګ اوسم او ممکن هغه وخت به له ما سره هر هغه شی وکړئ چې ستاسو په فکر کې ګرځي» دغه وخت کې لارد کلایو [3] بنګال ته رسـېـدلی وو او د دولت له پلوه ورته اجازه ورکړل سوه چې د جنرال کرنک **General Carnac** ترڅنګ دې له وزیر سره خبرې اترې وکړي. له کتنې وروسته د ۱۷۶۵ز کال د آګست په میاشت کې په الله آباد کې د سولې تړون په

[1] - دا زما دنده ده چې د فرخ آباد له برجسته شخصیت احمد خان بنګښ څخه چې پخوا په هندوستان کې د خپلې زړورتیا او سخاوت له کبله د پام وړ ګرځـېـدلی دئ دلته په قدر یادونه وکړم. کله چې د بوکسار له جګړې وروسته ډګروال مونرو ورڅخه وغوښتل چې د شجاع الدوله د لا ماتولو لپاره چې د هغـهٔ د کورنۍ اوږدمهاله دښمن وو ورڅخه د مرستې غوښتنه وکړه په زغرده وویل چې ددهٔ د شرافت احساس ورته اجازه نـهٔ ورکوي چې د یوهٔ مغلوب پروړاندې دې وسله پورته کړي.

[2] **Monsieur Gentil**- : په همدې تړاو نجف خان هم د وزیر له لورې استخدام سو چې له انګلیسانو سره خبرې اترې وکړي. خو نوموړی د خپل مافوق د مطلبو شرایطو د ترلاسه کولو په پرتلې تر ډېـره په خپلو موخو متمرکز وو.

[3] - **Lord Clive**

بریالیتوب لاسلیک سو. په دې تړون کې تصریح سوې وه چې د ښکېلو خواوو تر منځ به د دایمي سولې یو تړون رامنځته سي. که د طرفینو په قلمرو باندې بل څوک برید کوي نو پوځي مرسته به له یو بل سره وکړي. ددې ترڅنګ وزیر له دې خبرې منع سوی وو چې له قاسم علي، سامبرو او یا له کوم فراري انګلیس څخه به کار واخلي. په پام کې وه چې د (کوړه) او (الله آباد) سیمې به پادشاه ته وسپارل سي. (بل وت سینګهـ) به د بنارس په زمینداری کې خپل موقعیت وساتي چې د (اودې) د صوبه داری یو جاګیردار یا تیول پېـژندل کېـږي. پر دې برسیره په دې ایالت کې د چنارګهر Chunar - Ghur کلا به انګلیسانو ته وسپارل سي. د وزیر په ټوله سیمه کې د انګلیس په سوداګریزو توکو به هېـڅ ډول مالیات نـهٔ وضع کېـږي. د وزیر ټول همکاران او نور افراد چې له انګلیسانو سره په وروستیو جګړو کې ښکېـل ول له عفوې برخمن سي. په پای کې به دا تړون د وزیر پر زامنو هم لازم الاجراء پاتې سي.

انګلیسي بریمنو ځواکونو شجاع الدوله ته د هغـهٔ تر کنترول لاندې ټولې ځمکې چې مخکې یې د نابودی کندې ته نـېـږدې کړی وو بـېـرته وروګرځولې. هغه اصطلاحات چې ددهٔ په هکله وکارول سول په څرګنده د هغـهٔ د لویتوب او د ستاینې وړ روحیه ښیي او د هغوی فکري بڼه منعکسوي. ددغه هندي اتل شهرت په ناحقه د ښاغلي داو Mr. Dow له لورې پیکه او لکه داره سوې دئ چې ادعا کوي : «شجاع الدوله خپله پانګه وساتله او د سوبمنو عالي خصوصیاتو، دی له وسوسې خوندي پرېـښود.» خو دا د تأیید ور واقعیت دئ چې لارد کلایو په قاطعیت سره د وزیر له لوري هر ډول وړاندیز سوی انعام رد کړی دئ. د تړون په شرطونو برسیره،[1] د ښکیلو خواوو تر منځ یو بل توافق رامنځته سو چې وزیر باید د جنګ د لګښت لپاره پینځه لکه روپۍ د انګلیس دولت ته وسپاري، دا ځکه چې انګلیسانو هغه مهال د بنګال په چارو کې چې د میر جعفر له مړینې وروسته نظام الدوله ته لـېـږدېـدلې وو ګډون نـهٔ درلود.

---

[1]- وزیر ته د هغـهٔ د قلمرو بـېـرته سپارلو مسـئـلې نـهٔ یوازې د برتانیې د ملت شهرت لوړ کړ بلکه د سیاست له اصولو سره یې هم همغږی وموند. دا اقدام فراست او دور اندیشي ښیي چې په دردناک ډول سره د نورو راتلونکو پېـښو په وسیلې تأیید سوی دئ. لارد کلایو کمپنۍ ته په یوه لـېـږل سوي لیک کې لیکي : « موږ چې شجاع الدوله ته د هغه قلمرو بـېـرته وروګرځاوهٔ دلیل یـې تر ډېره د درناوي او د یوهٔ شریف نیت په پرتلې چې ګڼې نوموړی له خپلو ګټو سره ملحق کړو بلکه د شرکت د ځمکو پراخولو ته زموږ نالېـوالتیا ده؛ که څه هم دا دلیل روښانه دئ او د ډیریو کسانو له نظره رښتونی دلیل د هغـهٔ د ساتلو لپاره دئ. دا کار به موږ اړ کړي چې خپل لښکر پراخ کړو او نور اضافي جاګیرداران مقرر کړو. هلته بې شمېـره ظلمونه تر سره کـېـدل او د کمپنۍ له مرکزي ریاست څخه په لیرې واټن کې چا نـهٔ سوای کولای د یادو ظلمونه مخه ونیسي او یا یـې اصلاح کړي. دغسې وضعیت وو چې له ناچارۍ یې یو بلې ښتې ته لاره خلاصوله. د نوي رژیم د ملاتړ لپاره که موږ له هر ډول پخوانیو حقوقو څخه تـېـرېدلو او شتمني مو وړاندې کوله بیا هم له خطر سره مخامخ کـېـدلو او په پای کې د جاه طلبیو په مدیریت کې زموږ د ماتې په دلیل ول چې بومیان برلاسي سول. په هند کې دغه ټکي ته پاملرنه مهمه ده چې هغه هدایا او تحایف چې اغلب وختونه ذینفوذو خلکو او یا دا وانګیرو چې پر هغوی باندې مسلط دي په دې موخه ورکول کـېـږي چې یا شخصي امنیت ترلاسه کړي او یا شتمني ورڅخه ترلاسه کړي. رد سوی وړاندیز د نارضایتۍ څرګنده نښه ده او په ډاګه کوي چې یا دا هدیه ناکافي ده او یا دا چې مخکې له مخکې بل لوی او د پام وړ انعام ته سترګې پر لار وو. شجاع الدوله په لومړیو کې د لارد کلایو له اقداماتو څخه وارخطا وو او د هرډول هدیې له اخیستلو څخه یې ډډه کوله او له خپلو ګټو سره د دښمنۍ په معنی یې تفسیرول. خو کله چې د تړون په پای کې یې یوه متوسط الارزښته د لاس د ګوتی غمی د حسن نیت په توګه ترلاسه کړ د سرتـېـري مناعت یې وستایـهٔ.
- لیکوال

ټرون له شجاع الدوله سره وسو چې له یوه لوري د شجاع الدوله وو او له بل لوري د بنګال د صوبه دار وو چې لارد کلایو یې ترڅنګ وو خو په راتلونکي کې د هر ډول احتمالي ستونزې د مخنیوۍ لپاره پادشاه دا صلاحیت ورکړ چې د انګلیسي- هند شرکت ته یې اجازه ورکړه چې د ایالاتونو پر عوایدو باندې څارنه ولري. برسیره پر دې په دې خبرې هم توافق وسو چې د ایالتونو په پوځي او اجرائیوي مشرتابهٔ باندې د نظام الدوله د انتصاب په درناوي دې، انګلیسانو ته د هغهٔ د مدني صلاحیت د لېږد [1] ترڅنګ دې په کال کې شپږ لکه روپۍ [2] د بنګال له مالیاتي عوایدو څخه پادشاه ته ورکړل سي. په عین وخت کې د الله آباد او کوره سیمې د وزیر له قلمرو څخه بېلې او شاه علم ته ولېږدول سوې او هغه ته اجازه ورکړل سوه چې له هېڅ محدودیت پرته دې له خپل مقام او منزلت څخه دفاع وکړي.

سره له دې چې وزیر د انګلیسانو له سخاوت څخه ډېره ګټه پورته کړه خو د نښتو په لړ کې یې د پام وړ تاوانونه وګالل. د الله آباد د سیمو تر څنګ له (اودې) څخه تر لاسه کېدونکی عاید یو سلو شپېته لکه روپۍ اټکل سوی دئ. خو د الله آباد او کوره په سپارلو سره دغه شمېر شپږ دیرش لکو ته راټیټ سو. پردې سربیره ددهٔ د ځواکونو په لاس رامنځته سوې ورانۍ او ورسره زموږ د ځواکونو بریدونو چې تر لکنهو پورې پرمخ لاړل په ټوله کې د سیمې بزګري او محصول راټیټ کړ.- ددغو سیمو د سپارلو په تصدیق او په رسمیت پېژندلو کې شاه علم د وزیر موروثي حقوق د اودې ایالت ته ورکړل.

اوس لیدل کیدله چې شهزاده په ځیر او دقت سره د خپلو چارو په مدیریت تمرکز کوي. نوموړي د عوایدو برخه هغو، وړ او معتبرو کسانو ته وسپارله چې د څو کالو په اوږدو کې یې ورسره مرسته کړې وه ترڅو د پام وړ پوروړتیا له منځه یوسي او د عمومي اړتیاوو لپاره یوه زیرمه جوړه کړي.

د راپورونو له مخې، نوموړي اودې ته له رسېدلو وروسته خپل کلیدي افسران احضار او له هغو ټرونونو څخه یې خبر کړل چې دهٔ له انګلیسانو سره کړي ول او د ژمنو د پلي کولو لپاره یې د هغوی مرسته وغوښته. وزیر له دې تګلارې څخه چې معمولاً هندي شهزادګان یې د اړتیا پر مهال کاروي وکولای سول ملاتړ تر لاسه کړي خو دومره ملاتړ یې تر لاسه نهٔ کړ چې دهٔ ورته اړتیا درلوده. ددهٔ بیګم چې تر خپل مخې پرتې ننګونې ولیدلې او هم یې خپلې ذهنې ناآرامۍ ته وکتل نو پریکړه کې یې وکړه چې له خپلو ګاڼو او نورو

---

[1] - دا اصطلاح یې د دیواني Dewany په نوم یاده کړې ده. - لیکوال

[2] - له دې شمېر څخه دوه لکه روپۍ د انګلیسانو په منځګړتوب سره نجف خان ته ځانګړې سوې چې د (اودې) په جګړې کې یې د هغوی مرسته کړې وه. - لیکوال

ارزښتناکو شمنیو څخه لاس پر سر سي او ټینګار یې وکړ چې ددغو شتمنیو له عاید څخه دې د مسایـلو د حل لپاره کار واخلي. ویل کـېږي چې شجاع الدوله د بیګم له دې وفادارانه خوځښت څخه چې ددهٔ ناآرامۍ یې لرې کړلې دومره خوابدی سو چې نذرونه یې ورکړل او ویې ویل چې له ټاکلي ساعت وروسته دې دی په خپل استوګنځي کې یوازې نـهٔ پرېـږدي او دې دی یوازې نـهٔ خوشې کوي. او ژمنه یې وکړه چې له همدې شیبې وروسته به هغه د خپلې سلاکارې او وفادارې دوست په توګه وګڼي. هېـڅ داسې کوم سند نـهٔ سته چې وښیی هغه دا ژمنه تر پښو لاندې کړې وي ځکه چې بیګم ددهٔ د شتمنۍ او پانګې ساتندویه او د خصوصي چارو محرمه سوه.

په بوکسار کې ماتې دومره وکولی سول چې د وزیر له اوږو څخه د یوهٔ ناآرام سپارهٔ نظام د مدیریت پیټې لیرې کړي او هغه ته یې اجازه ورکړه چې په خپل لښکر کې د نظم یو سیستم او د معاشاتو د ورکړې یوه منظمه تګلاره پلې کړي. وزیر پوه سو چې د اروپایانو د پوځي ځواک د پیاوړتیا راز په نظم، انظباط، ښو وسلو او د توپخانې په اغیزمن مدیریت کې پروت دئ. نتیجتاً هغه خپل توان په دې ننګوونکي کار متمرکز کړ چې په اروپایي معیارونو برابر یو پلی منظم ځواک، سره له لازمې توپخانې جوړ کړي. دغه هڅه سخته او د ډېریو آسیایي حاکمانو له وسعې پورته خبره وه. خو د شجاع الدوله نبوغ او انرژي وکولی سول چې په دودونو او عاداتو کې پر نغښتو ګڼ شمیر ننګونو باندې برې ومومي. هغـهٔ د فرانسوي سلاکارانو په مرستې چې دهٔ په خپله استخدام کړي ول په فیض آباد کې د وسلو جوړولو یوه فابریکه جوړه کړه چې هلته توپونه، توپک، مهمات او نور پوځي تجهیزات په کارآمد او ماهرانه ډول تولید کـېدل. د وسلو جوړولو دغـې نوې فابریکې وکولی سول چې د لسو پلیو کنډکونو او د توپخانې یوه کوچنۍ کتار ته د وسلو د ترلاسه کولو آسانتیا رامنځته کړي. سره له دې چې ددغـهٔ واحد د جوړولو لپاره د پام وړ مالي پانګونه وسوه خو بیا هم په هـېـواد کې د واکمنۍ لپاره اغـېـزمن تدابیر پلي سول او د لګښتونو لپاره کافي بودیجه ځانګړې او د سالمې خزانې د ساتلو لپاره یې لاره هواره کړه. سپور ځواک چې د بوکسار د جګړې په اوږدو کې یې دېرش زره ۳۰۰۰۰ سپارهٔ جنګیالي درلودل اوس داسې ښکاري چې شـمـېـر یې پینځو زرو سپرو سرتیرو ته راټیټ سوی دئ. وزیر په الله آباد کې د ځای پرځای سوي انګلیسي ګارنیزیون له شتون څخه ځکه پریمانه ګټه واخیستل سوه چې هغوی د سیمې د نظم ساتنه کوله او له سرحد څخه د دفاع د مالي پیټې لګښت یې لرې کاوهٔ.

په ۱۷٦۸ز کال کې شجاع الدوله د یوهٔ سمبال او مجهز لښکر او د خپلو اړتیاوو لپاره د کافي خزانې د لرلو څښتن سو او تر څنګ یې پر پریمانه حاصل زېږوونکي او ګټورې سیمې باندې د ځار توان په لاس ورغی. د هغـهٔ چټک پرمختګ او د هغو اړیکو د خلاصون

لپاره هڅو چې د یوۀ ترلاس لاندې سرې په توګه ورته اړ سوی وو په الله آباد کې د میشت ډګروال سمیت Colonel Smith پاملرنه ځانته واړوله. ډګروال سمیت وویل چې د شجاع الدوله اقدامات د ملي ګټو لپاره یو باالقوه ګواښ دئ چې چټک غبرګون ته اړتیا لري. دغۀ ګواښ ته په غبرګون کې مشورتي شورا ښاغلي (کارتیه، رافل او ډګروال سمیت (Cartier, Russel and Colonel Smith منصوب کړل چې له وزیر سره وګوري او د وزیر د پوځي توان د ډېریدو د نتایجو په هکله دې، چې دوی خپل اتحاد ته د بې اعتمادۍ د ښنو په توګه تعبیرولې، بحث وکړي. دغو استازو د ۱۷۶۸ ز کال د نوامبر په میاشت کې په بنارس کې له وزیر سره ولیدل او د شدیدو نظریاتو له تبادلې وروسته وزیر په اکراه سره موافقه وکړه چې د خپلو ځواکونو شمیر به د سرتیرو تر ټاکلې اندازې او د وسلو تر ټاکلې بنې پورې محدود کړي:

| | |
|---|---|
| سپور ځواک | ۱۰،۰۰۰ |
| د ببلابېلو پوځي رتبو د افسرانو په ګډون د سپاهیانو لس کنډکونه | ۱۰،۰۰۰ |
| د نجیب Nujjeeb د لیوا توپکو لرونکي | ۵۰۰۰ |
| د توپچي ځواک قطعه - شمیر یې نه باید ډیر سي له : | ۵۰۰ |
| نامنظم ځواک چې نه دې د انګلیسي سپاهیانو په شان جامې ولري او نـۀ دې وسلې او دسپیلن او نـۀ دې د نجیب د لیوا په شان وي | ۹۵۰۰ |
| | ۳۵۰۰۰ |

وزیر دغه محدودیت غیرعادلانه او د خپلې رسوایۍ سرچینه وبلله. خو ورسره یې نـۀ سوای کولی چې د خپلو حسودو او ځواکمنو متحدینو غوښتنې په څرګنده او برالا توګه ونګوي نو پرېکړه یې وکړه چې خپلې موخې په لا نورو چلونو او حیلو داسې تعقیب کړي چې اساساً ددۀ له انګیزو سره داسې سمون ولري چې ددۀ د ټولو اقداماتو لارښوونه وکړي. د یادونې وړ ده چې د بنارس د تړون په پایله کې هغـۀ ان خپل یو سرتـېری هم له خپلو صفوفو لـېرې نـۀ کړ. د هغـۀ اقدامات د دقیقو ستراتیژیو تر سیوري لاندې پلې او د انګلیسانو په منځ کې یې د خپلو پلویانو او وړ کسانو په مټ ملاتړ ترلاسه کړ. خو وزیر پوه سو چې د چارو د پرمختګ لپاره پروګرامونه او ددۀ جاه طلبي دایماً د انګلیسانو له مخالفت سره مخامخ کـېږي او دۀ ورته په خوابدۍ او سؤظن کتل. وزیر په دې هم پوه سو که څه هم فرانسویان ددۀ د ملت ګډ دښمنان دي خو هڅه یې وکړه چې د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي.

په ۱۷۷۲ز کال کې د مرهټه وو لښکر د (سکیندیا، هلکر او هري پونټ) [1] په مشرۍ په هندوستان برید وکړ او د دوآب سیمه یې ویجاړه کړه او د فرخ آباد د ښار او ورځېرمو سیمو په استثنا، د (ایتاجوح) [2] سیمې یې د احمدخان بنګښ د قلمرو په ګډون ونیولې. دغه برید د روهیلیه وو مشرانو په منځ کې سترې اندیښنې رامنځته کړې او د مرهټه وو د پرمختګ له ویرې یې له وزیر څخه یې وغوښتل چې له کوم انګلیسي کنډک څخه دې مرسته وغواړي او په بدل کې دې ورته څلوېښت لکه روپۍ ورکړي. وزیر د خپل قلمرو امنیت ته د لومړیتوب په ورکولو سره چې مخکې د دښمن د لښکر له لوري ګواښل سوی وو دا وړاندیز په آسانۍ ومانه او ورسره یې مرسته وکړه چې د اضافي ځواکونو لګښت تر پوښښ لاندې ونیسي او له دې کار څخه یې ډېره ګټه ترلاسه کړه. په پای کې په ۱۷۷۲ز کال کې وزیر د مرهټه وو د قریب الوقوع برید په پار د خپل قلمرو د ساتلو او د پوځي مرستو د ترلاسه کولو لپاره د انګلیس دولت ته مراجعه وکړه. ددې غوښتنې په ځواب کې یو انګلیسي کنډک د بنارس پر لور وخوځېد او هلته ورسره د وزیر ځواکونه او د بومي وګړو درې غنډونه یوځای سول او د روهیلکنډ پر لور پر مخ لاړل. د برسات فصلي بارانونو او د ګډ لښکر قریب الوقوع تقرب مرهټیان اړ ایستل چې په بېړه له ګنګا څخه واوړي. په راتلوني کال یې [3] مرهټه یو ځل بیا روهیلکنډ ته راغلل او د پام وړ ورانۍ یې رامنځته کړلې. خو د وزیر د ځواکونو په راتګ سره چې د یوه انګلیسي کنډک ملاتړ ورسره وو مرهټه وو شاتګ وکړ.

د ګنګا په لویدیځې غاړې کې د مرهټه قرار ګاه ته نېږدې د ګډو ځواکونو له رسېدو یوه شپه مخکې د هغوی د سپرو ځواکونو یوه لویه ډله د ګنګا له سیند څخه واوښتله. هغوی د روهیلیانو ځواکونه تیت کړل او د هغوی یو تن کلیدي افسر احمد خان یې یرغمل ونیوۀ. کنډک د ښتې دې سیمې ته په شنۀ سهار کې راورسېد او له سیند څخه د مرهټه وو د اوښتلو شاهد وو [4] چې دا مهال یعنی د تیریدلو وړ وو. یو توپ له لیرې واټن څخه ډزې پیل کړې او د دښمن ګڼ شمیر سرتیري او آسونه یې ووژل. خو بیاهم مرهته وو وکولی سول له هغې سیمې ته شاتګ وکړي او له همدې نیټې وروسته بیا تر نن پورې له وسلو سره د ګنګا په ختیځ کې راڅرګند نۀ سول.

---

[1] - Scindia, Halcar, and Hurry Punt,

[2] - Etajoh

[3] - 1773

[4] - په روهیلکنډ کې په (رام ګوټ Ramgaut ) کې د ګنګا یو ګودر – د واید رینل نقشه - لیکوال

ددښمن له شاتګ وروسته وزير له حافظ رحمت خان څخه چې هغه مهال يې د روهيليه ځواکونو د لوړ پوړي افسر په توګه دنده درلوده او د هغوی د سياسي ستراتيژيو مسؤوليت يې درلود، د ځلوېښت لکه روپيو غوښتنه وکړه. حافظ رحمت خان استدلال کاوۀ چې روهيله وو هغه ملاتړ چې ورسره ژمنه سوې وه نـۀ ده ترلاسه کړی او که دا ملاتړ تير کال تر لاسه سوی وای نو کيدای سوای چې ددښمن له لورې دومره تاوان نـۀ وای راپېښ سوای. هغه څرګنده کړه چې اوسنی لښکر- لېږد په خپله روهيليه وو کړی دئ. خو له دغو خبرو سره يې دا هم څرګنده کړه چې که نور مشران د غوښتل سوي رقم په ورکړه کې خپله ونډه ورنـۀ کړي نو دی به د خپل توان په حد کې په ژمنو عمل وکړي.

د وزير جاه طلبانه روحيه، او عدالت او نيکنامي ته د هغـۀ نـۀ پاملرنه دغـۀ نظر ته د پام وړ وزن وربخښي چې ښايي د روهيليه وو د توافق له عملي کېـدلو خوښ سوی وي. وزير د خپلو سوبو د پراخولو په هڅو او د خپل مقام د لوړولو لپاره بايد د روهيليه وو پرووړاندې تل مبارزه کړې وای چې د سرتېـرو خلکو په توګه يې د وزير پوځي ځواک ته په سپکه او تمسخر کتل او هغه يې په هېڅ کې شمېـرۀ. له دې کبله د روهيلکنډ سوبه احتمالاً د وزير د لويو پلانونو يوه نـۀ بـېـليدونکې برخه وه چې د پراختيا پر لور يې په پام کې درلودل.

د مرهټه وو له کمپاين وروسته وزير د بنګال له ګورنر سره د يو شمېـر مشخصو ستراتيژيو په چوکاټ د وراشې لپاره د ليدنې غوښتنه وکړه. ښاغلی (هستينګ) [1] له څو تنو نورو دولتي مقاماتو سره له وزير سره د خبرو اترو لپاره په بنارس کې وټاکل سول. ددغې غونډې بنسټيزه موخه د يوۀ قطعي توافق له لارې د انګليسانو تر لاس لاندې د هغو لويديځو سيمو تقويت وو چې پادشاه ته اختصاص سوې وې.

د ۱۷۶۵ز کال د تړون له لاسليک وروسته، شاه علم په الله آباد کې استوګنه درلوده او هلته يې په خپل ګوښي ګوټ کې ځانته آرام او مجلل ژوند ژواک درلود. خو پلازمينې ته ددۀ ستـنـېـدل ددې لامل سول چې په ۱۷۷۱ز کال کې ډهلي ته کډه وکړي او په نتيجه کې له هغو ډيرو فوايدو څخه يې سترګې پټې کړې چې انګلیسانو ورته ورکړې وې. دغه پرېکړه ددۀ د سلاکارانو تر اغېـز لاندې هم سوې وه، ځکه هغوی احساس کاوۀ چې د يوۀ باندني قدرت حضور هغه دوديز امتيازات او اقتدار تضعيفوي چې ددۀ شخصيت يې په طبيعي ډول جذب کوي. سره له دې چې پادشاه په ډهلي کې د خپل موقعيت د پياوړي کولو لپاره په ځلونو د پوځي ملاتړ غوښتنه

---

[1] - Mr. Hastings

کړې وه خو ډېرې لږ مرستې وروړسېدې چې بیا هم له هیله مندیو ډکې وې. شاه علم په دې بریالی سو چې دوه بومي غنډونه راټول کړي چې مخکې یې په الله آباد کې ساتل خو اروپايي افسران یې نـهٔ درلودل. دغه غنډونه د شلو زرو تنو نامنظمو سرتېرو په ملتیا چې مشري یې نجیب خان کوله د ۱۷۷۱ ز کال په وروستیو کې ډهلي ته راغلل [1].

د شجاع الدلوله په ژوند پورې اړوند اصلي پېښې یوازې په حاشیوي ډول د شاه علم له تأریخ سره اړه مومي چې کله ناکله اشارات ورته ضروري ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده چې د هند د دربار تکتیکونه چې اغلب وختونه په فریبکارۍ او یا د خیانت په جسورانه کړنو ډېره لګوي اروپايي لوستونکو ته لږ لاربنوونه کوي مګر دا چې په کوم مهم انقلاب واوړي او یا د ټول حکومت په عمومي سیستم باندې د پام وړ اغیز ولري.

وزیر د خپلو پلانونو د بریالیتوب او یا د خپل قدرت د پراخولو لپاره د ډهلي په دربار ډېره نـهٔ لګوله. خو د خپل یو غوره او معتمد خدمتګار (الیچ خان) [2] له لارې یې په دربار کې حضور درلود. الیچ خان به مناسبو مواقعو کې پادشاه ته د تحایفو د وړاندې کولو له لارې پادشاه خوشحاله ساتـهٔ او له دې لارې بریالی سو چې هغه ځمکې چې مخکې وزیر نیولې وې او یا یې د نیولو تکل درلود، په رسمیت وپېـژني. خو ددې ټکي یادول اړین دي چې دغسې سرچینو ته لاسرسی چې تل خوځند ول له ضعیفې منبعې سرچینه اخلي او ددغـهٔ واکمن موخې ورځخه نه ترلاسه کېـدې.

د انګلیس د دولت او د وزیر تر منځ د وروستي ځانګړې تړون د عناصرو د هر اړخیزو پوهیدو لپاره اړینه ده په دې ټکي ټینګار وسي چې شاه علم ته د ټاکل سوي قلمرو له وتلو وروسته د هغو ځمکو حقوق د انګلیس دولت ته ورسېـدل. د اګرې په شاوخوا کې له مرهټه وو سره د پاد شاه له اتحاد وروسته هغه مجبور سو چې د (کوړه) او د کره اړوندې سیمې په رسمي ډول ور وسپاري. دغه امتیاز چې داسې قدرت ته ورکړل سوی وو چې د بنګال ګټو ته ګواښ انګېـرل کېـدهٔ د انګلیس دولت ته دا منطق ورکړ چې په یاد تخلیه سوي قلمرو باندې هم د سوبې د حقوقو پر بنسټ او هم د مسؤولانه حکومت د حکم پر بنسټ کنټرول ولري. وزیر چې په اکراه او

---

[1] - ادعا سوې چې د (زا بیتا خان/ ضابط خان Zabitah khan) په وسیلې د ډهلي د تصرف په اړوند خبرونو د پادشاه سفر لا ګړندی کړ، زابیتا خان/ ضابط خان په ډهلي کې وحشت خپور کړی وو او ان د پادشاه پر حرمسرای یې هم اغېـز کړی وو. - لیکوال

[2] - **Ellich Khan**

زړۀ نازړۀ توګه دغه امتیاز ورکړی وو د شاه له وتلو وروسته ددغو ځمکو د بیرته د تر لاسه کولو لپاره خپله خالصانه لېوالتیا وښوده او د وزیر دغه غوښتنه د خاصو شرایطو په منلو سره ومنل سوه.[1]

د بنارس د کنفرانس په ترڅ کې هوکړه وسوه چې وزیر به د بلوَنت سینګهـ د ځای ناستي یعنی د هغـۀ د زوی چیت سینګهـ ملاتړ وکړي ترڅو پر بنارس او اړوندو سیمو یې کنترول ولري. وزیر دا پرېکړه په اکراه ومنله او له ځانه یې د نارضایتی د پام وړ نښې څرګندې کړې. د وزیر د اکراه دلیل ددې لپاره نـۀ وو چې ددۀ ځمکې له لاسه تللې دي بلکه وزیر په دې ناراضي وو چې چیت سینګهـ یې خپل مستقیم ګوډاګی ګاڼـۀ او اوس یو باندنی د هغـۀ استازیتوب کوي. وزیر په دې باور وو چې د باندنیو دا ډول ملاتړ کولی سي

---

[1] - د ۱۷۷۳ز کال تړون لږ اهمیت لري او که د ورپسې کال جدي ملاحظات نـۀ وای رامنځته سوي نو نـۀ مې غوښتل چې د لوستونکي پر اوږو جزییات یې وربار کړم. په دې تړون کې راغلي دي : « په هغه تړون کې چې د ۱۷۶۵ز کال د آګست د میاشت په ۱٦ نـېټې د شرکت او وزیر ترمنځ په الله آباد کې لاسلیک سو اشاره سوې چې د کوره او الله آباد سیمې د اعلیحضرت د لګښتونو لپاره ځانګړې سوې دي. خو له دې چې اعلیحضرت ددغو سیمو کنترول خوشې کړی او ان یو سند یې ورکړی چې د کوره او کره په اړوند یـې مرهته وو ته ورکړی دۀ چې وزیر او انګلیسي شرکت ته یـې سخت تاوان رسولی او د تړون له مفادو سره په ټکر کې وو. په پای کې اعلیحضرت ددغو سیمو په اړه خپله ادعا اخیستې او دا سیمې یـې شرکت ته ورکړې چې په لومړیو کې ورکړل سوې وې. له دې کبله موافقت کیږي چې یادې سیمې دې د لاندې شرایطو تر سیوري لاندې وزیر ته وروګرځول سي او هغه ته دې اجازه ورکړل سي چې کوره، کره او الله آباد هماغسې ددۀ په اختیار کې ورکړل سي چې د اودې ولایت او نورې سیمې یـې په اختیار کې دي. هغه به په یادو سیمو کې تر هېـڅ شرایطو او پلمې لاندې د شرکت او یا د انګلیس د مشرانو له لوري له کوم خنډ سره مخامخ نه سي او د ټاکل سویو پیسو له اندازې په استثناء چې اوس ټاکل سوي دي هیڅ ډول ذکر او یا غوښتنه د هیڅ شي لپاره چې په کوم دلیل د پرداخت وړ وي هغه ته ورنه کړل سي. ددغه تړون رعایت به د انګلیسي رییسانو، د شورا دغړو او د کمپنۍ له لوري وسي او له هغه نقض او انحراف به مجاز نه وي.لیکوال

شرایط

| | |
|---|---|
| دی مؤظف دۀ چې کمپنۍ ته پینځوس لکه سیکه Sicca روپۍ د هغـۀ پولي ارزښت له مخې ورکړي چې د اودې په ولایت کې چلیږي. | ۵۰،۰۰،۰۰۰ |
| په نغدو | ۲۰،۰۰،۰۰۰ |
| له یادې سوې نیټې دوه کاله وروسته – یعنی په لومړي کال | ۱۵،۰۰،۰۰۰ |
| دوهم کال | ۱۵،۰۰،۰۰۰ |
| سیکه روپۍ | ۵۰،۰۰،۰۰۰ |

د هغو تادیاتو لپاره چې وزیر یې د شرکت ځواکونو ته چې ممکن وزیر ته د مرستې لپاره ولـېږل سي په هغوی کې د هر ډول احتمالي اختلاف د مخنیوي لپاره توافق سوی چې د اودې د ایالات د پولي واحد پر بنسټ دې د یوې لیوال لګښت په میاشت کې دوه لکه او لس زره سیکه روپۍ محاسبه سي. د "لیوا" اصطلاح په لاندې ډول تعریف کیږي:

دوه اروپایي کنډکونه

د سپاهیانو شپږ کنډکونه او

د توپچي ځواک یوه قطعه

په یادو سویو ځواکونو پورې اړوند لګښتونه له هغې شیبې وروسته د وزیر له پلوه چمتو کـېږي کله چې دا ځواکونه د ایالت له سرحده واوړي. ددې ترڅنګ له یاد سوي مبلغ څخه پورته به بله هېـڅ ډول مطالبه له وزیر څخه ونـۀ سي. په هغه صورت کې چې که شرکت او انګلیس مشران د وزیر ځواکونو ته اړتیا ولري نو هغوی به هم په عین بڼه لګښتونه پر غاړه واخلي.

د دواړو خواوو له پلوه د ۱۷۷۳ز کال د سپتمبر په ۷ نـېټه په لاسلیک، مهر ، مومیایي او سوګند رسمي سو. - لیکوال

د یوۀ پیاوړي رژیم تر سیوري لاندې د مسلمانانو تر لاس لاندې د ځمکوالو اغیز لږ او یا یې بیخي ورځخه لیرې کړي. که څه هم شجاع الدوله د خپلو هیوادوالو په منځ کې د ظریفو آدابو په لرلو او په ښه چلند او ښکلو جامو شهرت درلود بیا یې هم ونـۀ سوای کولی په خپل حضور کې د چیت سینگهـ پر وړاندې د انگلیس د بولندوی پر ټینګار خپله نا امیدي پټه کړي. خو له دې سره سره د وزیر ټول فکر پر هغو پلانونو متمرکز وو [1] چې ددۀ په پلانونو کې یې اهمیت درلود او ان که ددۀ خښم نور هم شدید سوی وای بیا به یې هم د خپلو موخو لپاره څه نه ول ویلي.

وزیر په خپل قلمرو کې د انگلیسي سوداګرو او د هغوی د استازو د استوګنې او یا د سوداګرۍ د ترسره کولو د اغیزمنې مخنیوۍ لپاره له بنګال او اروپا څخه پر وارداتي توکو باندې د لوړو ګمرکي تعرفو د لګولو مجوز تر لاسه کړ. وزیر هغه زبېښاک ګر یا استثمارګرانه انحصار چې په بنګال کې د شرق الهند د کمپنۍ عواملو رامنځته کړی وو لیدلی وو او متوجه سو چې پر سیمې باندې ډیرۍ بدبختۍ او ناورینونه چې راغلي دي کیدای سي پر سوداګرۍ باندې د اروپا تسلط ته نسبت ورکړل سي. دا سوداګري په داسې شرایطو تر سره کـېـدۀ چې تر ډېره د اروپایانو په ګټه وو او تقریباً هر سوداګر یې مجبور کاوۀ چې د خپلو ګټو د ساتنې لپاره اروپایي هویت تر لاسه کړي. راپورونه وایي کله چې شجاع الدوله یوه انګلیسي سوداګر ته خپل قلمرو ته د ننوتلو اجازه ورکړه هغه یوه پولي انګیزه وړاندې کړه غوره یې وبلله چې دداسې سیستم له معرفي څخه ډډه وکړي چې له سره تر پایه د سوداګرۍ د اصولو لپاره مضر دئ.

د بنارس له تړون وروسته وزیر په دوآب کې د مرهټه وو د ګارنیزیون پر وړاندې برید پیل کړ او په بریالیتوب سره یې له دې ځایه وشړل او د خپلو سوبو لمنه یې لویدیځ لور ته د ‹جنفي› [2] تر کلا پورې پراخه کړه. له دې چې د مرهټه وو د لښکر اصلي بدنه دکن ته لـېـږدېـدلې وه په دو آب کې د خپلو شتمنیو د دفاع لپاره یې کافي ځواکونه نـۀ ول پرېښي او هماغه ول چې له کوم مقاومت پرته د وزیر لاس ته ولوېـدل. ددغـۀ لښکر- لـېـږد په اوږدو کې د نوي لاس ته راغلي قلمرو د پام وړ برخه مخکې د فرخ آباد په مشر په ‹احمد خان بنګویه› [3] پورې اړه درلوده چې ځوان مظفر جنګ د هغـۀ ځای ناستی سوی وو، احمد خان بنګویه، مظفر جنګ د خپل زوی په توګه لوی کړی او منلی وو. مرهټه وو په چټکۍ سره مظفر جنګ له خپلو ارزښتناکو سیمو څخه بې برخې کړ. وزیر په دو آب کې د

---

[1] - د روهیلکند د نیولو لپاره د سرتـېـرو ټولول- لیکوال

[2]- Fort of Jaunfy : جنفي د کلپي Kalpy د سیمې په لویدیځې انتها کې ده. وګورئ د رینل نقشه- لیکوال

[3] - Ahmed Khan Bunguih

خپل لښکر- لېږد په لړ کې د فرخ آباد د پټهانانو د ناپیلتوب د تضمین لپاره ژمنه کړې وه چې د مرهټه وو د اخراج په صورت کې به ټولې هغه ځمکې چې د احمد خان بنګویه په اختیار کې وې هغه به مظفر جنګ ته بېرته ورکړي.

په ترون کې راغلي چې : « زما او زما د نیکونو او د مفظرجنګ ترمنځ د لرغوني دوستۍ په رڼا کې زه هغه د خپل زوی په توګه په خپل غېږ کې نیسم. د الله تعالی په مهربانۍ او عنایت به د هغهٔ په ګټه عمل وکړم او د هغهٔ د دوستانو او دښمنانو په چارو کې به د خپلو چارو په شان چلند وکړم. موږ ژمنه کوو چې د ځان او د خپلو بچیانو لپاره تر وروستۍ سلګۍ پورې پاتې سو. په الله متعال، پیامبر او قرآن عظیم الشان سوګند کوم چې هېڅکله به په دې ترون کې بدلون رانولم او ورڅخه به ونهٔ وځم په دې شرط چې زما ګران مظفر جنګ هم له خپله اړخه دغه ترون ته ژمن وي. د خدای په لطف سره هر کله چې په مرهټه وو باندې سوبه ترلاسه سوه او له هېواده وایستل سول، زما دښمنان وایستل سول نو زه به ټولې هغه ځمکې چې مخکې یې په مفظر جنګ پورې اړه لرله خپل ګران زوی مظفر جنګ ته بېرته وسپارم. د ترون نېټه په مسیحي دوران د ۱۷۷۴ کال د جنورۍ له میاشتې سره سمون خوري. »

شجاع الدوله په بریالیتوب سره وکولی سول چې مرهټه د بنګښ له سیمې څخه وشړي. خو له مظفر جنګ سره د ترون د شرایطو پر بنسټ یې عمل ونهٔ کړ. سره له دې چې د مرهټه وو له بریالي کمپاین وروسته یې یو شمېر پیسې ورکړې خو هیڅ یوه ځمکه یې بېرته مظفرجنګ ته ورنهٔ کړه چې په ترون کې یې یادونه سوې وه.

د وزیر پخوانۍ جاه طلبۍ خپل ثمر ورکړ او اوس یې مخ بربنډ سو : وزیر د روهیلکنډ په نیولو کې د انګلیس له دولت څخه د مرستندوی وسله وال ځواک په قالب کې د مرستې غوښتنه وکړه. وزیر مدعي سو چې سیمه ییزو مشرانو ددهٔ پر وړاندې په خپلو ژمنو عمل نهٔ دئ کړی او تل مدام ددهٔ د اصل او نسب دښمنان ول. داسې ښکاري چې د انګلیس دولت د وزیر ددغسې غوښتنې په اړه وارخطا سوی دئ. هغوی د لیرې پرتو سیمو له جنګیالیو وګړو سره د لاس او ګریوان کیدلو خطر تشخیص کړی وو او داسې ملت پر ضد چې پر هغوی یې ظلم نهٔ وو کړی د توجیه په لټه کې سو. د څو ورځو نامشخص بحث وروسته یې پرېکړه وکړه چې پر خبرو اترو دې بشپړ څار د اودې ګورنر ته وسپاري. هغه هم دغسې یوې لیرې پرتې سیمې ته د انګلیسانو د پوځي هڅو د پراختیا لپاره خپله نالېوالتیا څرګنده کړه او توصیه یې وکړه چې د لازم ملاتړ لپاره دې زښت ډیر پام وسي چې احتمالاً وزیر به اړ کړي چې خپله غوښتنه بیرته واخلي. د همدې توصیې په رڼا کې وزیر ته د روهیلکنډ د سیمې د نیولو د آسانتیا لپاره د یوې انګلیسي لیوا وړاندیز وسو خو شرط یې دا وو چې د عملیاتو له پای ته رسېدلو وروسته دې وزیر د شرق الهند کمپنۍ ته څلور لکه روپۍ ورکړي او ورسره دې د

مياشتې دوه لكه روپۍ سبسايدي تر هغې مودې پورې وسپاري چې انګليس ځواکونه د هغـهٔ په قلمرو کې وي. د دولت اقدامات په دې معنی نـهٔ دي چې وزير به ددغو شرايطو له منلو څخه ډډه وكړي. په پټنا كې فابريكې ته امر صادر او ويل سوي ول چې په دې سيمه كې د يوې ليوا فعاليت پرته له دې چې د شركت له رياست سره دې كوم اضافي ارتباط ولري په راتلونكي كې اداره سي. وزير هم له همدغه اقدام څخه خبر كړل سو. وزير چې په خپلو پلانونو كې تر ملاتړ لاندې ونيول سو خپل پلانونه يې په ډيرې چټكۍ سره تر سره كړل. سره له دې چې ګورنر شورى ته د نوامبر د مياشتې تر وروستيو پورې د روهيلكنډ په هكله د وزير موخې بربنډې نـهٔ كړې خو ليوا په جنورۍ كې وخوځېـده او ددريو مياشتو [1] په لنډه موده كې روهيليه وو د خپل قلمرو په زړه كې د يوې برخه ليک جوړوونكې جګړې په ترځ كې بشپړه ماته وخوړله. د روهيليه وو تقريباً پينځه زره تنه ووژل او ټپيان سول. خو دا ماته ددوی د مشر په وژلو سره غير قابل جبران سوه چې د جګړې په ډګر كې ووژل سو. سره له دې چې حافظ رحمت خان د خپل آرمان لپاره جګړه وكړه خو د ښـهٔ او نرم برخليک لياقت يې درلود. هغه هېـڅكله د انګليسانو پر وړاندې دښمني نـهٔ درلوده او په ډيرو سختو شيبو كې يې د شجاع الدوله ملاتړ كاوه.[2]

له ښښتې وروسته، فيض الله خان د ماتې خوړلي لښكر د لوی شمېـر په ملتيا (لال دونګ) [3] ته په شا سو او همدلته يې د يوې ستوغې غونډۍ په ډډه كې خپلې پوستې واچولې. وزير د انګليسې ليوا په ملتيا د روهيليه وو مورچلونه كلابند كړل. روهيليان چې د خپلو محدودو او ناسالمو شرايطو له كبله له شديدو سختيو سره مخامخ ول او دداسې يوهٔ مشر تر مشرۍ لاندې ول چې پوځي مهارتونه يې نـهٔ درلودل د بيرته استوګن كېـدلو لپاره يې د انګليسانو بولندوی ته صميمانه شرايط وړاندې كړل. له اوږدو خبرو اترو وروسته هغه وزير ته قناعت وركړ چې فيض الله خوشې كړي او په روهيلكنډ كې دې ورته يوه خاصه ځمكه وركړي. له ښښتې مخكې دغه مشر د رامپور جاګير د پينځو لكو روپيو په ارزښت په واک كې درلود. خو دغه قرارداد [4] ورته د پينځلس لكه روپيو مالياتي عايد او د روهيلكنډ د ييرورۍ يا حاصلخيزې ځمكې كنترول په لاس كې وركړ.

---

[1]- دا جګړه د ۱۷۷۴ز كال د اپريل د مياشتې په ۲۳ نېـټې د تيسنه Tessunah كلي ته نـېـږدې پېښ سوه. وګورئ د رينل نقشه- ليكوال

[2] - شجاع الدوله د بوكسار له جګړې وروسته له خپلې كورنۍ سره په روهيلكنډ كې پناه اخيستې وه. - ليكوال

[3] - د روهيلكند شمالي حد- ليكوال

[4]- زما د او فيض الله خان تر منځ دوستي رامنځته سوې ده. په دې وسيلې هغـهٔ ته رامپور او څو نورې اړوندې سيمې چې ټولټال په كلني ډول سره ۱۴ لكه او ۷۵۶۰۰ روپۍ حاصل لري وركوم. برسيره پر دې دستور وركوم چې فيض الله خان په هېـڅ صورت او هېـڅ وخت كې له ۵۰۰۰ تنو پورته سرتيري نـهٔ سي استخدام كولی. زه ژمنه كوم چې تل به په هر ډول شرايطو كې د فيض الله خان احترام ولرم او د هغـهٔ له حيثيت څخه به دفاع وكړم او ددهٔ په ګټه به كار وكړم په دې

د خبرو له بريالیو پای ته رسېدلو وروسته چې په بشپړ ډول د انګلیسي افسر له لوري اداره کېدلې فیض الله د شرق الهند کمپنۍ د تأيید د تر لاسه کولو لپاره همدې ته ورته یو بل تړون هم لاسلیک کړ. د مخکیني ترتیب پر بنسټ نوموړي پینځلس لکه روپۍ وزیر ته ورکړې. بر سیره پر دې د بنګال د حکومت په نظام کې وروستیو بدلونونو چې د شجاع الدوله په تاوان ول دا ممکنول چې هغه وهڅوي چې په چټکۍ سره دې د روهیلیه تړون وروستنی کړي.

په ۱۷۸۳ز کال کې فیض الله خان په لکنهو کې مقیم انګلیس افسر ته د یوۀ مبلغ له ورکولو وروسته د وزیر پر وړاندې د پوځي ژمنو له مسؤولیت څخه خلاص سو، نوموړی مبلغ د بنګال ددولت خدماتي څانګې ته اختصاص سو.

که شجاع الدوله ته فرصت په لاس ورغلی وای چې هماغه سیاست د فیض الله په باب هم اجراء کړي چې د روهیلیه وو نورو مشرانو په هکله عملي کېدۀ نو احتمالاً فیض الله به نن په فقر او نیستۍ کې ډوب وای. له نیکه مرغه فیض الله او د هغـۀ د ټولنې نورو وګړو ته چې یوه پراخه سیمه یې په ېبره ورې یا حاصلخیزه او له ګڼه ګونې ډکې سیمې ودانه کړه او د هغوی د ملاتړ لپاره یو پیاوړی ملاتړ کوونکی راپیدا سو. سره له دې چې نوموړی د یوۀ تر لاس لاندې د ډلې مشر وو مګر د هغوی د ساتنې د مهم مسؤولیت لپاره یې یوه شریفه موخه په اوږو واخیستله. وزیر له دغه افسر څخه په یوه تونده شکایت کې وایې «له دې چې هغـۀ د روهیلیه وو د جرړو د ایستلو لپاره پریکنده پریکړه کړې وه او ددې کار لپاره یې له انګلیسي ځواکونو څخه مرسته غوښتې وه نو آیا دا ډېره بده خبره نـۀ ده چې بولندوی افسر دې ددۀ له تأیید پرته په داسې اړیکه کې ګډون وکوي؟» وزیر په حقیقت کې دا پریکړه کړې وه چې یا به د روهیلیه وو جرړې باسي او یا به یې له سیمې دباندې باسي. دا هغه پرېکړه وه چې د روهیلکنډ پر وړاندې د ټولې مبارزې په لړ کې یې د وزیر

---

شرط چې نوموړی صرفاً زما ملاتړ وکړي او موافقت وکړي چې منحصراً دې له انګلیسانو سره مکاتبه وکړي. موږ ګډ دوستان او دښمنان لرو. فیض الله خان به د خپل ظرفیت پر بنسټ له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ تنو پوري سرتېري زما په اختیار کې راکړي. که زه کوم سفر پیل کوم او یا په خپل قلمرو کې بلې هرې سیمې ته ځم نو فیض الله خان به زما ملتیا کوي. دې ټکي ته په پاملرنې سره چې دۀ ته د یوۀ محدود شمیر ځواک د لرلو اجازه ورکړل سوې ده خو ښایي دی به ونـۀ سي کولی ټول یـې په یوۀ ډګر کې ځای پر ځای کړي. په داسې حالت کې به زه ورته له ۲۰۰۰ تر ۴۰۰۰ تنو پورې سرتیري اختصاص کړم تر څو په دې ډاډه سم چې دی کولی سي په مناسب وقار او درنښت له ما سره یو ځای سي او ددغو اضافي سرتېرو لګښت به زه برابر کړم. د پورتنیو ملاحظاتو پر بنسټ زه په دې وسیلې موافقت کوم چې له فیض الله سره په بل هېـواد کې توافق وکړم او ددۀ د ګټو ملاتړ ته ژمن یم. که هغه ددې تړون په ساتنې کې ثابت قدمه پاتې سي نو د خدای په لطف به د هغه سوکالي او ګټه تل مدام په خپلو لومړیتوبونو کې ولرم. هغه دنده لري چې ډاډمن سي چې ټول روهیلیان د ګنګا له سیند څخه اوړي. ددغو شرایطو د تحقق لپاره دا تړون په قرآن عظیم الشأن، خدای او پیامبرانو یې د شاهد په توګه له سوګند وروسته لاسلیک سوی دۀ.

د بنګال ۱۷۷۴ز کال له آریشف څخه اخیستل سوې | د ډګروال چمپین مهر | هجري ، ۱۱۸۸ رجب
اکتوبر ۱۷۷۴ز

اقدامات دیکتې کړل. له دې چې روهیلیان زړور او په چارچلند کې متکبر او غره ول او یا یې مخکې له روهیلیانو څخه تاوانونه ګاللي ول نو له دغې ټولنې څخه د هغـهٔ ژورې ویرې دی مجبور کړ په خپل قلمرو کې د مظلومو کسانو حضور منع کړي.

په روهیلکنډ کې د انګلیسي لښکر د پرمختګ په هکله ددې لنډې کتنې په پای کې به د هغو ځمکو د تصاحب په هکله اړینه ده وwایم چې د وزیر مرستې ډیر لږ اهمیت لري. اوس به ددې سیمې د امنیت د ټینګولو د هڅو لپاره له وزیر سره زموږ د تعامل او د هغوی د پایلو په اړه لږ خبرې وکړم. څرګنده ده چې د بنګال دولت یا له وزیر سره د خپل قرار داد له اهمیت او پراخوالي څخه خبر نه درلود او یا یې په برالا توګه د خپل د یوهٔ متحد د موروثي حق په سلب کولو کې له وزیر سره همکاري کوله. یوې متفق القوله پرېکړې په پام کې لرل چې وزیر ته روهیلکنډ په واک کې ورکړي چې سرحدات یې تر شمالي غرونو او په لویدیځ کې د ګنګا تر سیند پورې پراختیا موندله. د روهیلکنډ د شمال یوه د پام وړ برخه د «زابیته خان/ ضابط خان» [1] تر کنترول لاندې وه چې هغه مهال د انګلیسانو متحد وو. انګلیسان هغه تړون ته ژمن ول چې هغوی یې مؤظفول چې د زابیته خان له تأریخي ټاټوبي څخه ملاتړ وکړي؛ نوموړی چې د انګلیسانو تر ملاتړ لاندې د یوهٔ ګوډاګي په څیر وو باید ډاډمن اوسي چې ددوی دښمنان د هغوی دښمنان او متحدان یې هم د هغوی متحدان دي.»

په روهیلکنډ باندې له برید مخکې وزیر په دې بریالی سوی وو چې زابیته خان/ ظابط له خپلو ګټو سره همغږی کړي. سره له دې چې زابتیه خان د روهیله وو د ټولنې غړی او د هغوی له څو تنو مشرانو سره یې نـېـږدې اړیکې درلودلې غوره وبلله چې د خپل ولس پر ضد د وزیر تر څنګ ودرېـږي. خو نوموړی د خپل خیانت په دلیل او د رامنځته سوي بدغوني اتحاد په علت له شدیدو عواقبو سره مخامخ سو. له سوبې وروسته، وزیر ادعا وکړه چې زابیته خان د ټولو نښتو په اوږدو کې له دښمن سره مکاتبه درلوده چې پایله یې د ګنګا د سیند په ختیځ کې ددهٔ د ټولو ځمکو په مصادرې واوښتله او تر نن پورې د اودې د دولت یوه برخه ده.

د محب الله خان [2] د کورنۍ پر وړاندې د وزیر اقدامات څرګندوي چې د هغـهٔ جاه طلبي د شرافت او وفادارۍ پر ټولو مفاهیمو باندې سیوری غوړولی دئ. دغـهٔ مشر چې د «بیسولي» [3] پر ښار او ورڅـېـرمو سیمو یې حکومت کاوهٔ، احتمالاً د روهیلیه ایالتونو په منځ کې د کورنۍ جګړې د اور د بلـېـدلو په دلیل له وزیر سره مخالف وو او یا به یې کوم بل دلیل درلود نو ځکه یې په جګړې کې له

---

[1] - **Zabitah Khan** : د نجیب الدوله زوی- لیکوال

[2] - د دهونډې خان زوی چې مخکې د روهیلیه وو په طرح کې تر پاملرنې لاندې راغلی دئ.- لیکوال

[3] - **Bissouly**

ګډون څخه ډډه وکړه. د روهیلکند پر لور د لښکر له پرمختګ مخکې هغـهٔ د وزیر پر ضد شکایت وکړ او د خپلې کورنۍ او د خپلې شتمنې د ساتنې لپاره د ملاتړ د موندلو په هڅه کې وو. شاهزاده په څرګنده ژمنه وکړه چې دی به ددې ویاړ ولري چې ددوی امنیت تضمین کړي. د همدې اطمینان پر بنسټ ول چې محب الله خان د لښکر- لـېږد پر مهال په بیسولي کې پاتې سو. په خواشینۍ سره کله چې وزیر هغې سیمې ته ورسېـد محب الله او کورنۍ یې زنداني او تر شدید څار لاندې ونیوله، ټول قیمتي شیان یې لوټ سول او مـېـرمنې یې له ډېـر سپک چلند سره مخامخ سوې. انګلیس بولندوی ته د یوهٔ لیک په ترڅ کې محب الله د وزیر هغه اصلي لیکونه هم ضمیمه کړي ول چې هغـهٔ ته یې بې قید او شرطه ملاتړ وړاندې کاوهٔ. هغـهٔ په ډاګه کړه : «وزیر موږ له خـپل هـېـواد، مال او ان آبرو څخه بې برخې کړي یو او ته به وایې چې دا لا تر اوسه هم کافي نه ده بلکه دا تکل هم لري چې موږ فیض آباد ته د یرغمل په توګه واستوي. موږ نـهٔ ځمکه، نـهٔ ثروت او نـهٔ کور غواړو، بلکه موږ غواړو چې د خپلو نیکونو تر څنګ پاتې سو او خپل ژوند په خضوع، آرامۍ او تواضع تـېـر کړو. موږ د وزیر په تضمینونو باندې د اعتماد په پار په دې هـېـواد کې پاتې سو او همدا ځای مو غوره کړ. که موږ نـهٔ وای پاتې سوي او د نورو مشرانو په شان تښتـېـدلي وای نو خپله آبرو او حیثیت به مو ساتلی وای. هغه له موږ څخه زموږ دارایي ګانې واخیستلې؛ هغه زموږ شتمنۍ راڅخه اخیستي دي موږ کولی سوای د نوروسردارانو په شان د خپل شرافت د ساتلو په پار وتښتو. زموږ مالونه یې راڅخه واخیستل او ټول پوهـېـږي چې له موږ سره کومې رسوایانې نه دي چې نه یې دي کړي.» راپورونه وایي چې وزیر د روهیلیه وو د ټولنې د هغو یرغمل مـېـرمنو پر وړاندې چې ددهٔ ګوتو ته د یرغمل په توګه ورغلي نامناسب شدت او چلند کړی دئ. په وزیر باندې تور دئ چې د حافظ رحمت خان [1] د کورنۍ د یو شمـېـر ښځو حیثیت یې تر پښو لاندې کړی دئ. خو دا وروستنی تور د پام وړ شواهد نـهٔ لري او پر ښځو باندې د تیریو دا ډول کړنې ان د بې عدالت ترینه مسلمانانو په منځ کې چې ښایي بـېـلابـېـل افراط او شدت د عمل به ولري خو په ندرت سره د حرم حرمت تر پښو لاندې کوي.

د سوبې په ترڅ کې د وزیر ظالمانه اقدامات او طمعې د انګلیسانو پر شهرت لوی داغونه پرېـښودل. ماتې خوړلي خلک طبیعتاً په دې باور ول چې هماغو لاسونو چې دوی یې د بري پر لور پر مخ بیولي دي کولای یې سول په خپله د وزیر وحشي ګرۍ په اغیزمنه توګه مهار کړي. وزیر د روهیلیه وو پر وړاندې د جنګ توجیه د هغه پولي مبلغ عدم پرداخت وو چې د یوې انګلیسي لیوا د خدماتو لپاره یې ژمنه کړې وه. خو څرګنده خبره دا ده چې نوموړې انګلیسي لیوا په خپل وخت روهیلکنډ ته نه وه رسـېـدلې ځکه هغوی په دوه وو پرله

---

[1]- شجاع الدوله ددغو رسواییو او د بې عدالتۍ د تور پروړاندې خپل شدید خښم څرګند کړ او کله چې پوه سو چې انګلیسي افسر هم دا خبره معتبره ګڼلې او منلې ده نو په کړس یـې وژل. - لیکوال

پسې کلونو کې په سیمې کې پراخې ورانۍ رامنځته کړې وې او د انگلیسي لیوا په ورتگ سره هغوی درست له سیمې ووتل. د برید لپاره د وزیر وړاندې سوي استدلالونه ضعیف ول چې نـهٔ یې انصاف درلود او نـهٔ یې دلیل او نـهٔ د عقلانیت پر بنسټ ولاړ ول. وزیر کولای سوای چې له دغسې له شرمه ډک پوښښ پرته خپلې موخې تر لاسه کړي. په هغو هېـوادونو کې چې د عدالت او شرافت معیارونه د هندوستان په پرتلې په څرگنده بیان او مراعات کېـږي، هلته د شهزادگانو سیاسي چارچلند تر ډېره حده د شجاع الدوله له هغو کړنو سره همغږي مومي چې د خپلو لوړو هڅو د بریالیتوب لپاره یې کارول. معهذا، د انگلیسانو به څرنگه دفاع وکړو چې د یوهٔ سولند او حریص متحد د رضائیت د تر لاسه کولو په پار او پرته له دې چې ددولت لپاره کومه د پام وړ گټه ورڅخه ترلاسه سوې وي، داسې یو ملت تس نس او دړې وړې کړ چې له هغه څخه د شکایت لپاره کوم د قناعت وړ دلیل موجود نه وو .

د روهیلیه وو د جنگ موضوع د هغوی د پلویانو او منتقدانو له لورې تر بحث لاندې نیول سوې ده او دا ددې لامل کېـږي چې ددې موضوع په لا پراخه څېـړلو کې شک ولرم ځکه کیدای سي د یو شمېـر کسانو نارضایتي راوپاروي. ددې تر څنگ دغه بحث زما د مقالې له اصلي متن سره سمون نـهٔ خوري. خو بیا هم ځان ناچاره گڼم چې د انگلیسانو دا نادرست سیاست تر شننې لاندې ونیسم چې روهیلکنډ یې د وزیر په حکومت پورې ملحق کړ. ددغه اقدام غیر عادلانه توب او جدي عواقب یې اوس د ټولنې د گڼ شمېـر خلکو له لوري تأیید سوي دي او پایلې یې په هند کې د برتانیې پر شهرت باندې ژورې اغیزې شیندلي دي. د بنگال دولت په روهیلکنډ باندې وزیر ته د اختیار ورکولو د دلیل په توضیح کې استدلال وکړ چې کله چې ددغـهٔ شهزاده لاس ته ډېر واک ولویږي نو د اتحاد گټې به ورسره څو ځلې ډېرې سي. دداسې استدلال په ورکولو سره څرگنده ده چې انگلیسانو د شجاع الدوله له شخصیت څخه محدود درک درلود که نه نو په داسې ضعیف استدلال به یې ډېړه نـهٔ وای لگولې. شجاع الدوله چې د اقتدار پر وړاندې د حسادت او د خپل نـهٔ مړېدونکي جاه طلبۍ له کبله راپاریدلی وو چې مخکې تر ډېرې مودې پورې د هغه ددولت او د حکومت بنسټ وو پریمانه کړاوونه تجربه کړي ول. د روهیلیه ملت د وزیر د جاه طلبۍ د ماهیت او د هغـهٔ د رښتوني قدرت پر وړاندې د یوې د پام وړ موازنې په توگه عمل وکړ. وزیر په دې پوه سو چې هوښیاره ټولنه او وگړي دې له نېـږدې وڅاري ترڅو د هغـهٔ د بې خرته قدرت د زیاتیدو مخه ونیسي نو له دې کبله ده چې وزیر باید د روهیلیه وو او د شمالي ایالتونو د بریدونو او یا د هغوی د چلینجونو د دفعې لپاره له انگلیس څخه د ملاتړ د ترلاسه کولو په لټه کې سوی وي. په هند کې کومې شتمنۍ او ځمکې چې موږ تر لاسه کړي دي عمدتاً د برتانیې د افسرانو د سرغندنو او وړتیاوو له کبله تر لاسه سوي دي او یوازې او یوازې عدالت ته په ژمنتیا او یووالي د ساتنې وړ

دي. په خواشینۍ چې له وزیر سره زموږ په وروستي چلند کې دغه اوصاف څرګند نـهٔ ول. پر دې برسیره، د محتاطانه سیاست اصول له پامه وغورځول سول، پرته له دې ایا دا تصور امکان لري چې ووایو ملتونه دې د منني او دوستۍ له لارې له یو بل سره متحد سي؟

شجاع الدوله د نویو فتح سویو ایالتونو د چارو په اداري بوخت وو چې پخوانۍ ناروغۍ یې تر دې کچې شدت وموند چې فیض آباد ته په شاتګ اړ سو. نوموړی د ۱۷۷۵ز کال د جنورۍ په میاشت کې مړ سو. د هغـهٔ د مړینې لامل د یوهٔ مقاربتي تومور له کبله وو چې یوه فرانسوي جراح په غیر مسلکي ډول د سیماب د جیوې د غټ دوز د کارولو له لارې یې درملنه کړې وه؛ دغې درملنې نوموړی ډېر ضعیف کړی وو او د درملو تر اغیز لاندې راغلی وو. په هغې لیوا کې چې د روهیلیه وو پر وړاندې جګړې کې یې ګډون کړی وو یو طبیب وو، دغـه طبیب په دې توانیدلی وو چې د شجاع الدوله په درد او د ناروغۍ په شدت کې یو څه کمښت راولي خو ددرملنې له پای ته رسـېـدلو مخکې بیرته وغوښتل سو. د وزیر او د انګلیس د لښکر د بولندوی تر منځ مداوم اختلافات تر دې کچې لوړ سول چې سره له دې چې د وزیر ژوند له ګواښ سره مخامخ وو بیا یې هم غوره وبلله چې د لیوا له طبیب څخه مرسته ونـهٔ غواړي.

شجاع الدوله په داسې وخت کې مړ سو چې قدرت ته ددهٔ لـېـوالتیا او تنده تر ډېره تر سره سوې وه او احتمالاً اقتدار یې هم خپل اوج ته رسـېـدلی وو. د بنګال ددولت نوي منصوب سوي مقامات چې یو کال مخکې دغه هـېـواد ته راغلي ول، د شجاع الدوله له عمومي ګټو سره په تضاد کې ول او داسې ښکاري چې له هغه سره یې شخصي دښمني درلوده. هغو بیلابیلو نوښتونو او پروژو چې د شجاع الدوله افکار یې بوخت ساتلي ول خپل ثمر ته د رسـېـدلو په حال کې ول او په بالقوه ډول سره د هغـهٔ د مالي شرایطو د کړکیچ په یوهٔ ټکي بدلیدل. هغه به یا داسې وضعیت ته رسـېـدهٔ چې د پام وړ استقلال به یې ترلاسه کاوهٔ او یا به داسې ډوب کـېـدهٔ چې ددهٔ په پرتلې به ددهٔ د ځای ناستي درناوی ډېـر کـېـدهٔ. د شجاع الدوله نظریات په ډېر لږ محدودیت سره افشاء سول او نوموړي له خپلو راتلونکو موخو څخه دومره شواهد وړاندې کړل چې سیاسي شهرت یې د ټولو پوهو کسانو له پلوه تر ارزونې لاندې راغی. شجاع الدوله به اغلب وختونه خپلو درباریانو ته ویل چې د روهیلکنډ له فتحې وروسته تکل لري چې د مرهټه وو په قلمرو برید وکړي او د هغو ورانیو سخته سزا به ورکړي چې په هندوستان کې یې رامنځته کړي دي. همدا شان شجاع الدوله د ډهلي پر چارو د کنترول او د پوځي ځواک د پاتې شونو د مدیریت د تر لاسه کولو لپاره چې لا تر دې دمه د تیمور د کورنۍ په واک کې وه خپله لـېـوالتیا وښودله. خو د شجاع الدوله دغه جاه طلبي د ستردرستیز نجف خان له لوري له خنډ سره په بریالۍ توګه مخامخ سوه، نجف خان د خپلو پوځي بریاوو په لړ کې د امپراتورۍ له حکومت څخه مستقل پر یو پراخ او قلمرو باندې خپل کنترول تضمین کړی وو.

..................

**د ژباړونکي يادونه :** موږ تر دې ځايه د لومړي ټوک په ۱۷۸ او ۱۷۹ پاڼو کې يو چې د پي. ډي.ايف. فارمت ۲۰۵ او ۲۰۶ پاڼه کيږي. ما له همدغه ځايه تر ۲۷۲ پاڼې پورې برخه د خپلې ژباړې له موخې سره برابره ونه ګڼله. ځکه زما موخه په دې تأريخي يون ليک يا سفرنامې کې د افغانستان، افغان، افغان دولت، افغان امپراتورۍ، د دراني امپراتورۍ د لغاتو موندنه او اړونده شرحه ده. په يادو سويو پاڼو کې ما څه ونه موندل او تر هغه مخکې پاڼې مې د روهيليه وو د تأريخ په پار وژباړلې چې ښايي د څېړونکو لپاره ګټور وي.]

تأريخي راپورونه څرګندوي چې له ډيلي څخه د نادر شاه (افشار- ژ) د راستـنـېـدلو پر مهال د سيکهانو ځواکونه سره راټول او په خوځښت راغلل. کله چې فارسي لښکر د بې نظمۍ او بې دسپيلنۍ او له قوماندې څخه د سرغړونې له کبله او د لوټ سويو وسايلو د لرلو له کبله په بارونو او پيټو دروند سوی وو د سيکهانو د سپرو ځواکونو د شا له پلوه په فارسي لښکر بريد وکړ او کله نا کله به يې د لښکر د پـېـټو او کڅوړو په ساتونکو بريدونه وکړل او بې شمـېـره غنايم به يې ورڅخه تر لاسه کړل. د فارسيانو له بريد او د افغانانو له لومړي بريد وروسته کومه هغه ګډوډي او بې نظمي چې رامنځته سوې وه ددې لامل سوه چې سيکهـ ځواکونه له خپلو پټن ځايونو راووځي. سيکهانو د بـېـلا بـېـلو ماجراپالو د سترې ټولګې او ډلې په راټولولو سره وکولی سول چې په چټکۍ سره پوځي اهميت ته ورسـېـږي. [1]

آدينه بيګ هغه افسر وو چې د مير منو تر فرمان لاندې وو، دی د يوهٔ لښکر په سر کې د سيکهانو د سيمې زړه ته استول سوی وو او نوموړي دا سيمه نيولې وه؛ کله چې لښکر يې له سيکهانو سره مخامخ سو نو په ۱۷۴۹ز کال کې يې سيکهانو ته ماتې ورکړه او د پام وړ تلفات يې ور واړول. په پای کې د کورا مول **Korah Mul** په منځګړتوب د سيکهانو او د لاهور د والي تر منځ توافق تر لاسه سو. له دې چې والي په داسې عملياتو کې ښکيل وو چې پايله يې د مهمو اهدافو په تر لاسه کولو واوښتله نو سيکهانو ته يې اجازه ورکړه چې ځانونه پياوړي او خپل قلمرو ته پراختيا ورکړي چې لمنه يې د لاهور له ورځيرمه سيمو تر غرونو غځيدله. تر هغهٔ مهاله چې کورامول ژوندی وو پر سيکهانو باندې د هغهٔ کنترول سيکهان دې ته اړ کړي ول چې تر خپلو سيمو محدود پاتې سي او خپل لوټمار

---

[1] -During the periods of tumult and distress, which followed the Perfian , and the first Afghan invasion , the Sicques emerged more conspicuously from their places of concealment ; and collecting a numerous party of promifcuous adventurers , they soon rose into military importance.{Volume I, page 272, PDF format combined volume I and II page 299}

فعالیتونه یوازې په خپلو سیمو کې وکړي. خو د کورامول له وژل کیدلو وروسته (کورا مول په ۱۷۵۱ز کال کې ووژل سو) چې له افغانانو سره د جګړې په لړ کې ووژل سو [1] د لاهور د ادارې پر سر د مخالفتونو له وجهې ګډوډۍ او بې نظمۍ په ځانګړې توګه د میرمنو له مړینې وروسته ( میرمنو په ۱۷۵۲ز کال کې مړ سو) رامنځته سوې او دغو ګډوډیو سیکهانو ته اجازه ورکړه چې ځانته د قدرت د تر لاسه کولو لپاره لاره پرانیزي؛ سره له دې چې سیکهان په راتلونکي کې له شدیدو ستونزو سره مخامخ سول خو دوی یې د قانون ماتونکو له یوې لوېې ډلې څخه یوې ربښتونې غیر قانوني ډلې ته بدل کړل. د هغه کوډګر ودم لمنه چې د هندي مغولانو پراخه ستروا‌کي یې پیاوړې او په ختیځ قلمرو کې د هغـهٔ نـهٔ ماتـېدل یې اعلان کړی وو، نوره تړوله سوې وه. په پایله کې داسې یوه پراخه عرصه رامنځته سوه چې په کې بې باکو ماجراجویانو د خپلې زړورتیا د ښودلو لپاره په کافي اندازه د عمل آزادي درلودله او د فردي آرمانونو او حرص لپاره خورا زړه راښکونکي امکانات برابر سول. سویلي سیمې له ستروا‌کۍ څخه جلا سوې وې؛ او فارسیانو او افغانانو له مرهټو او سیکهانو سره یو ځای هر یو د پلازمینې په ګډون شمالي ولایتونه لوټ او ویجاړ کړي ول. [2]

د میر منو له مړینې او د لنډ مهالو والیانو له چټک چټک بدلیدلو وروسته د لاهور حکومت آدینه بیګ ته منتقل سو (آدینه بیګ د مکاول Mackavaul په جګړې کې سیکهانو ته ماتې ورکړې وه)؛ په عین وخت کې د دهلي دربار، د دراني احمد شاه د ستراتیژي برخلاف چې د لاهور قلمرو یې په خپل قلمرو اضافه کړی وو، د آدینه بیګ له هغه قدرت څخه چې په لاهور کې یې تر لاسه کړی وو، څرګند ملاتړ وکړ.[3] ددغه افسر زړورتیا او پوځي پوهې د سیکهانو په وحشي او له حرص څخه ډکو لېـوالتیاوو په مهارولو کې فعاله ونډه درلوده؛ له دې سره سره آدینه بیګ له داسې خلکو سره چې د هغوی لوټماري او ګڼ شمېـر غلاوې له مداومو جګړو پرته د مخنیوۍ

---

[1] - Whilst Korah Mul lived, his influence over the Sicques confined them to their own limit, and restrained their depredations. But the death of this officer, who was slain in an action fought with the Afghans, and the tumult which arose at the decease of Munnoo, from the various competitors to the government of Lahore, enabled the Sicques to fix the basis of a power, which, though severely sfhaken at a subsequent period, has raiſed them from a lawleſs banditti to the rank of fovereigns of an extenfive dominion. .{Volume I, page 273-274, PDF format combined volume I and II page 300-301}

[2] -The southern territories had been dismembered from the empire; and the Persians and Afghans, the Mahrattas and the Sicques , had severally plundered and laid waste the northern provinces, and the capital. .{Volume I, page 274, PDF format combined volume I and II page 301}

[3] -AFTER the death of Meer Munnoo, and a rapid succession of fleeting governors , the government of Lahore devolved on Adina Beg Khan; and the court of Dehli, in oppofition to the arrangements of the Duranny Ahmed Shah, who had annexed the Lahore province to his dominion, avowedly supported the power which Adina Beg had affumed in the Punjab. {Volume I, page 274, PDF format combined volume I and II page 301}

وړ نه وې له سیکهانو سره ټلواله جوړه کړه او ددې ټلوالې محور د افغانانو پر ضد د ګډو بریدونو ستراتیژي وه او پرته له دې چې په غنایمو د کومې ونډې غوښتنه وکړي هڅوی یې د افغانانو د سیمو ورانولو ته هڅول.(دغه مهال افغانانو د سیمې یوه برخه په لاس کې درلوده چې لمنه یې د چناون Chinnaun له سینده تر اندس پورې رسېدله [1] لمنلیک) آدینه بیګ له سیکهانو سره د قرار داد هرډول سرغړونې باندې خوابدی کېدهٔ له دې امله ډېر لږ او په ندرت لیدل سوي دي چې سیکهانو دې د هغه د حکومت په آرامۍ کې کوم اختلال رامنځته کړی وي. [2]

د ډهلي دربار د دسیسو او توطئو له لارې او د کله نا کله پوځي مرستو له لارې زښتې ډېرې هڅې وکړې چې د لاهور د مشر بریالیتوبونو ته وده ورکړي؛ په ۱۷۵٦ز کال کې احمد شاه د یوهٔ لښکر په ملتیا په دې هیلې هندوستان ته راغی چې پنجاب یو ځل بیا ونیسي او د دوهم عالمګیر وزیر ضیاء الدین ته سزا ورکړي ځکه نوموړي په پلازمینې کې مطلقه واک تر لاسه کړی وو. د وزیر د ګټو وفادار متحد آدینه بیګ چې ګټې یې د وزیر په ګټو کې نغښتې وې دومره ځواک نهٔ درلود چې له دراني احمد شاه سره مخامخ ډغرې ووهي نو ځکه غرونو ته وتښتېد او تر هغهٔ مهاله په غرونو کې پټ پاتې سو کله چې افغان پادشاه بیرته خپلو د شمال سیمو ته ستون سو.[3]

---

1 -The Afghans were at that time possessed of a tract of country , reaching from the Chinnaun river to the Indus. Volume I, page 275, PDF format combined volume I and II page 302 Footnote}

2 -The courage and military experience of this officer found an active employment in curbing the turbulent and rapacious ſpirit of the Sicques: but aware of the advantages that would ariſe from a confederacy with a people whoſedepredations , accompanied with every ſpecies of rapine , could not be prevented without continued warfare, Adina Beg made an alliance with the Sicques, founded on a ſcheme of combined hoſtilities againſt the Afghans, whoſe territories he invited them to lay waste, without requiring participation of the booty. Every infringement of the compact being ſeverely reſented by Adina Beg, the Sicques were rarely ſeen interrupting the peace of his government. {Volume I, page 274 - 275, PDF format combined volume I and II page 301- 302}

3 - THE Court of Dehli, having by intrigue and occasional military aids, zealously contributed to promote the successes of the Lahore chief, Ahmed Shah brought an army in the year 1756 into India, to recover the possession of the Punjab, and to punish Ghaze-ud-Dien , the miniſter of Alumguir the Second, who had assumed an absolute authority in the capital. Adina Beg, an active supporter of the minister's interests , which were cloſely united with his own, not having a ſufficient force to meet Ahmed Shah Duranny in the field, fled into the adjacent mountains , where he remained in concealment until the departure of the Afghan prince to his northern dominions. {Volume I, page 275, PDF format combined volume I and II page 302}

د ۱۷۵۷ یا ۱۷۵۸ز کلونو په ترځ کې [1] د مرهټه وو یوۀ ستر لښکر د ډهلي د شاوخوا د سیمو له نیولو وروسته د ډهلي ښار ته ننوت او مشرانو یې ددې ځای بشپړ کنترول په لاس کې واخیست. آدینه بیگ له مرهټه وو سره د ټلوالې د جوړولو د گټې په پوهېدلو سره د مرهټه وو مشرانو ته خبر ورکړ چې د احمدشاه په تللو سره د پنجاب گارنیزیونونه ضعیف سوي دي او دا به ددوی د ځواکونو لپاره یو آسانه هدف وي او وړاندیز یې وکړ چې دی به له خپلو ډلو او په دې سیمې کې له خپل نفوذ څخه په گټې اخیستلو د مرهټه وو د ځواکونو ملاتړ وکړي. د مرهټه لښکرو په چټکۍ د پنجاب پر لور پرمختگ وکړ او له «سرهند» او لاهور څخه د افغانانو په شړلو د هغې سیمې کنترول په لاس کې واخیست چې (له ختیځ لوري د پنجاب تر پینځم سیند) د جیلم [2] تر سیند پورې غځېدله. [3] ملي پاڅونونه او گډوډۍ ددې لامل سوې چې د مرهټه وو ارشد مقامات بیرته دکن ته ستانـۀ سي او ددې کار پایله په دې واوښتله چې آدینه بیگ د لاهور په مشرتابـۀ انتصاب سي، ځکه آدینه بیگ د مرهټه وو په لاسته راوړنو کې ونډه درلوده. خو آدینه بیگ په راتلونکي کال یې د عمر د ډیروالي له کبله چې په علیا هند کې یې د خپل پوځي او سیاسي وړتیاوو له کبله شهرت درلود، مړ سو.

سیکهان چې د مرهټه وو د غالب ځواک تر اغېـز لاندې راغلي ول او د آدینه بیگ د خښم له پارېـدلو څخه ډارېـدل نو د هغه د قدرت پر مهال یې د سفلی سیمو پر لور د خپلو لوټمارو فعالیتونو لمنه پراخه نـۀ کړه. د افغانانو د بېـلابېـلو بریدونو په اوږدو کې چې د

---

[1] - دوی د غازي الدین له لوري هندوستان ته راوبلل سول ترڅو له هغه حکومت سره مرسته وکړي چې له یوې خوا خلکو ورڅخه کرکه درلوده او له بل خوا په دربار کې دننه ورسره مخالفت کېـدۀ. که احمد شاه دراني د پاني پت په جگړې کې په مرهټه وو نـۀ وو بریالی سوی نو دا احتمال موجود وو چې په هندوستان کې د مسلمانانو د نفوذ جرړه وایستل سي. - لیکوال

د ژباړونکي یادونه

غازي الدین څوک وو : دریم فیروز جنگ یا نظام شهاب الدین فیروز خان صدیقی بای آفندی چې د عماد الملک په نامه پېـژندل کېـږي د مغولو د ستراوکۍ مشر وزیر وو. دی د غازي الدین خان دوهم فیروز جنگ زوی او د آصف جاهي د سلطنتي کورنۍ د بنسټ ایښودونکي نظام الملک آصف جاه لمسی وو. په ۱۷۵۲ز کال کې د خپل پلار له مړینې وروسته د نواب صفدر جنگ د سپاربښتنې پر بنسټ د (میر بخش) په توگه وټاکل سو او د (امیر الامرا) او عماد الملک القاب ورته ورکړل سول.

عماد یوه جنجالي څېـره وو ځکه دۀ مغولي امپراتور احمد شاه بهادر ړوند کړی وو، امپراتور دوهم عالمگیر یې ترور کړی وو او د هغه کورنۍ یې د راتلونکي امپراتور دوهم شاه علم په گډون شکنجه کړې وه.

نوموړی د بېـلابېـلو اسلامي علماوو لکه شاه ولي الله ډهلي او دراني امپراتور احمد شاه ابدالي له لوري مرتد اعلان سوی وو. عماد الملک مرهټه وهڅول او له هغوی څخه یې مرسته وغوښته چې د بهارت پور په جټانو برید وکړي او په دې سره د ډهلي د باالفعل حاکم په توگه راڅرگند سو. مرهټه وو د ۱۷۵۴ز کال د جنوری په لومړۍ نیټې د کومهر کلا ونیوله خو د سورج مل د مقاومت له کبله په شا سول. عمادالملک ۱۵۰۰۰۰ درهم راټول کړي ول خو د مغول د لښکر او د مغول د مقاماتو د تنخواه له ورکړې څخه یـې غاړه وغړوله او همدا کار ددې لامل سو چې دی له امپراتورۍ لیري سي.

[2] - له ختیځ لوري د پنجاب پینځم لوی سیند - لیکوال

[3] -The Mahratta army moved without delay into the Punjab, and, expelling the Afghans from Sirhend and Lahore, reduced to their power a tract of country that extended to the river Jaylum. {Volume I, page 276, PDF format combined volume I and II page 303}

احمد شاه پر مهال يې تر سره کړل، افغانان په مکرر ډول د سيکهانو له لورې وکړول سول او د افغانانو ګن شمېر خوارۀ واره ځواکونه يې له منځه يوړل؛ سيکهانو د افغانانو د کړولو لپاره په خپلو بېلابېلو تکتيکونو سره له ځانه نۀ ستړې کېدونکې زړورتيا وښودله.[1]

احمد شاه د هندوستان د مسلمانو مشرانو په همکارۍ د ۱۷۶۱ز کال په پيل کې د هندوانو متحدو ځواکونو ته د پاني پت په جګړې کې ماته ورکړه او مرهټه يې له شمالي سيمو څخه وشړل. هغه له سيکهانو څخه د بشپړ غچ اخيستلو په فکر کې وو ځکه سيکهانو د هماغه کال په وروستيو کې د احمد شاه د لنډمهالي غيابت پر مهال د لاهور د ولايت يوه لويه برخه تصرف کړې وه. د ۱۷۶۲ز کال په لومړيو کې احمد شاه د يوۀ لوی لښکر په وسيلې په پنجاب بريد وکړ او هر چيرې چې سيکهان يې وموندل هغوی يې خواره وارۀ کړل او د ډيرو ورانيو په رامنځته کولو چې د هغه د بريدونو مشخصه وه، يوه پراخه ويره يې د خلکو په منځ کې رامنځته کړه. افغانان په چټکۍ سره پر ټولو ټيټو ځمکو مسلط سول او سيکهان چې د احمد شاه له چټکې بريا او د هغه د وحشي سرتېرو له وحشي ګريو څخه اندېښمن سوي ول له دښتو وتښتېدل او له خپلو کورنيو سره يې د غرونو لمنو ته پناه يوړه. [2] د سيکهانو يوه د پام وړ ډله چې د سرهند شمالي سيمو ته په شا سوې وه او د افغانانو له پوځي مرکز لاهور څخه يې څه دباندې سل مايله واټن درلود ځان د افغانانو له هر ډول قريب الوقوع بريدونو څخه خوندي احساس کاوۀ. خو له دې سره سره، د احمد شاه اقدامات او تګلاره په هماغه اندازه چټکه او وحشتناکه وه.[3] هغه د ۱۷۶۲ز کال د فبرورۍ په مياشت کې د لاهور له سفره وروسته له دوه وو ورځو په لړه موده کې يو ناڅاپه د سيکهانو په دې ډلې بريد وکړ او ادعا سوې چې د سيکهانو پينځه ويشت زره سپارۀ يې نيست او نابود کړل.

---

[1] -THE Sicques, awed by the superiour power of the Mahrattas, and fearful of incurring the refentment of Adina Beg, had not during his government, carried their depredations into the low country. In the course of the several expeditions which the Afghans made into India under Ahmed Shah, they were feverely harrassed by the Sicques, who cut off many of their detached parties; and evinced, in the various schemes of annoying the Afghans, an indefatigable intrepidity. {Volume I, page 276- 277, PDF format combined volume I and II page 302- 303}

[2] -The Afghan soon became possessed of all the low country, and the Sicques dismayed at his rapid success, and the cruelties exercised by his fierce soldiery, abandoned the plains, and fought a shelter with their families in the, skirts of the mountains. {Volume I, page 277, PDF format combined volume I and II page 304}

[3] -A large party of Sicques had retired towards the northern diſtricts of Sirhend, which being more than an hundred miles distant from Lahore, the station of the Afghan army, they were not apprehensive of any immediate attack. But the motions and onfet of Ahmed Shah were equally rapid and dreadful. {Volume I, page 277, PDF format combined volume I and II page 304}

سیکهانو د خپلې بریا پر مهال د مسلمانانو مسجدونه او مسلمانانو ته نور د درناوي وړ ځایونه تخریب او له منځه وړي ول او ګڼ شمېر مسلمانان دې ته اړ ایستل سوي ول چې د نانک دین ومني. همدا وه چې دوی د خپلو دښمنانو له شدید خښم سره مخامخ سوي ول. امرتسر له خاورو سره یو او سپېڅلې اوبـۀ د ورانیو په منځ کې ډب سوې، اهرامونه جوړ او د وژل سویو سیکهانو په ککرو سینګار سول؛ ویل کېږي چې احمد شاه دستور ورکړ چې د جامع مسجد دیوالونه چې د سیکهانو له پلوه ککړ سوي ول د سیکهانو په وینو دې پاک سي ترڅو ناپاکي له منځه لاړه سي او هغه شرم نور په بشپړ ډول جبران سي چې اسلام ته اړول سوی وو. [1] د بې رحمۍ او خشونت ددې اندازې ښودلو بیا هم ونۀ سو کولی د بومي سیکهانو زړورتیا وننګوي ځکه له دې سره سره هغوی بیا هم له خپلو مورچلونو راوتل او د افغان لښکر په شا یا عقبه کې به راپیدا سول او د هغوی د لښکر خوارۀ وارۀ ځواکونه به یې مختل کول.

احمد شاه د ۱۷٦۲ز کال د پای په میاشتو کې افغانستان ته راستون سو؛ هغه ټاټوبی چې له وروستیو تصرف سویو یا فتح سویو ولایتونو څخه جوړ وو د زېږو او جنګیالیو ټولنو ټاټوبی وو له دې کبله هغوی ته دقیقه او شخصي پاملرنه اړینه وه. د احمد شاه د ځواکونو یوه برخه د یوۀ لوړ پوړي افسر په مشرۍ په لاهور کې ځای پر ځای سوې سوه او د لاهور مرکز په ټینګې مدافعې سمبال سو. خو له دې سره سره د احمد شاه له پرمختګ ډېر لږ وروسته سیکهان په پنجاب کې له خپلو بېـلابېـلو مورچلونو څخه دباندې راووتل. له څو ګډو وډو نښتو وروسته چې په لړ کې یې افغانانو ماته وخوړله سیکهانو د لاهور ښار ونیو او ډېره برخه یې تصرف کړه. سیکهانو ددغو بې رحمو ستمګرانو پر وړاندې خپله پخوانۍ دښمني ځرګنده او پایله یې په شدید تاوتریخوالي واوښتله. هغه جوماتونه چې مسلمانانو له سره جوړ کړي ول او یا یې د ګټې اخیستنې لپاره مرمت کړي ول په بې اندازې تحقیر او سپکاوي او خشم ونړول؛ په څنځیرونو کې په تړل سویو افغانانو یې د مسجدونو تهدابونه د خوکانو په وینو رنګ کړل. همدا شان هغوی مجبور کړل سول چې په امرتسر کې د اوبو زیرمه چې مخکې په خاورو ډکه سوې وه له سره وکیندي. سیکهان چې تر ډېره د غچ تر احساساتو

---

[1] -The Sicques, in their day of success , having defiled and destroyed the mosques and other sacred places of the Mahometans, compelling alfo many of them to embrace the faith of Nanock, now felt the savage vengeance of their enemies . Amrut Sir was rased to the ground, and the sacred waters choaked up with its ruins. Pyramids were erected, and covered with the heads of slaughtered Sicques; and it is mentioned, that Ahmed Shah caused the walls of the principal mosques which had been polluted by the Sicques to be washed with their blood, that the contamination might be removed, and the ignominy offered to the religion of Mahomet, expiated. {Volume I, page 278, PDF format combined volume I and II page 305}

لاندې راغلي ول بيا هم وكولی سول چې د خپل غچ انګيزه راټيټه کړي؛ سره له دې چې د هغوی په افکارو کې د افغانانو کړول او ځورول په نـهٔ انکار کېـدونکي توګه اخښل سوې وه خو ادعا کـېـږي چې سيکهانو ان د يوهٔ زنداني ځان وانخيست.

د سيکهانو روايت د لاهور له نيولو مخکې د افغانانو پرضد د يوې جګړې جزئـيات شرحه کوي؛ خو که په هندوستان کې د احمد شاه تر مشرۍ لاندې د افغان ځواکونو د پام وړ برياوې په پام کې ونيسو نو دا روايت له هغو برياوو سره هيڅ مطابقت نـهٔ لري او همدا شان ما هيڅ کوم سند يا سرچينه ونـهٔ موندله چې ددې ادعا اثبات وپلټم. په پای کې زه مجبور يم چې د سيکهانو د روايت خاص اړخونه تر پوښتنې لاندې راولم او شک ورباندې وکړم . [1] ادعا وايي چې دا پېـښه د ۱۷٦۲ز کال د اکتوبر په مياشت کې رامنځته سوې ده او وايي کله چې د سيکهانو شپيته زره سپاره د امرتسر [2] په کنډوالو کې سره راټول سول ترڅو له مخکې په پام کې نيولو مراسمو کې ګډون وکړي. دوی دا طمع درلوده چې بريد به ورباندې کـېـږي نو ځکه يې تکل وکړ چې خپل ملي هويت د جګړې له پايلې سره ونښلوي. دغه مهال چې احمد شاه په لاهور کې ځای پر ځای سوی وو د خپل لښکر د يوې د پام وړ برخې په ملتيا د امرتسر پر لور پرمختګ وکړ او يو ناڅاپه له سيکهانو سره لاس او ګريوان سو. سيکهانو غچ اخيستلو ته سخته لېـوالتيا درلوده او له بل لوري د هغـهٔ ټاټوبي درناوی ورته اړين وو چې بنسټ ايښودونکو ته يې مقدس وو؛ ځکه چې ددوی تأريخي ودانۍ او بنسټونه د هغه دښمن په لاس نړول سوي ول چې اوس به ورسره مخامخ کـېـږي؛ سخته خونړۍ جګړه ونښته چې له سهاره تر غرمې يې دوام وکړ؛ سيکهانو له ځانه زړورتيا وښودله. په پای کې د هغوی دغه ټينګ عزم احمد شاه مجبور کړ چې په بېړه لاهور ته شاتګ وکړي. همدا شان ادعا سوې چې سيکهانو دښمن تر لاهور پورې تعقيب کړ او له لنډې محاصرې وروسته يې لاهور ونيو؛ او احمد شاه چې له تسليم کـېـدلو مخکې تـېـښته کړې وه له سند څخه واوښت. ددې پـېـښې احتمال کولی سو يوازې په دې فرضيې توضيح کړو چې دا پـېـښه هغه مهال شونې بريښي چې د احمد شاه د لښکرپه ليکو کې له مدعا سوي وخت مخکې يو فوق العاده کموالی رامنځته سوې وي. [3] پرته له دې چې ددغې مبهمې ادعا نور اړخونو وسپړو موږ د هغه وخت مروجه اسنادو ته مخه کوو، په دغو اسنادو کې دې

[1] -THE records of the Sicques give a relation of a battle fought with the Afghans, previously to the capture of Lahore: but as its asserted issue does not correspond with the series of success, which conspicuously in India accompanied the Afghan arms under Ahmed Shah, or stand supported by any collateral proof to which I have had access, I am necessarily led to doubt ſome parts of the Sicque's relation. {Volume I, page 279, PDF format combined volume I and II page 306}

[2] - دا ځای د لاهور د لويديځ لور په ۴۰ مايلۍ کې موقعيت لري. - ليکوال

[3] - د نښتې په همدې ورځ ويل کـېـږي چې بشپړ کسوف هم سوی وو. - ليکوال

ټکي ته اشاره سوې کله چې د ۱۷٦۳ز کال په مني کې درانیان پنجاب ته ستانه سول نو لاهور یې یو ځل بیا ونیوځ او یو ځل بیا یې سیکهان له هموارو سیمو وشړل. ددغه پادشاه لاسته راوړنې سره له دې چې هغه مهال د پام وړ لاسته راوړنې وې خو نـهٔ یې ده ته او نـهٔ یې مطیع ملت ته کومه ګټه وکړه؛ دا لاسته راوړنې یوازې وینې بهونې او لوټماری درلودې. په بل کال یې یوازې د هغـهٔ د لنډمهالي غیابت پر مهال سیکهانو پنجاب وران ویجاړ کړ، افغان ځواکونه یې دباندې وشړل او په دومره چټکۍ یې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ چې تر ۱۷٦۴ز کال پورې یې هغه سیمې تصرف او کنترول یې په لاس کې واخیست چې لمنه یې د سند له سواحلو د ډیلي تر سیمو پورې غځېـدله.

احمد شاه د راتلونکو درېو کالو په اوږدو کې د سیکهانو پر وړاندې خپلو خورو ورو جګړو ته دوام وکړ، خو په دې دلیل چې په هند کې یې کومه ګټه نه درلوده او له خپل پلرني ټاټوبي څخه د لیرې توب له عواقبو څخه یې ویره درلوده او له بل لوري هغې سترې ټولنې ته د ماتې ورکولو له ننګونو سره مخامخ وو او هر کله چې دا وګړي له دښتو څخه شړل کېـدل نو په غرونو او ځنګلونو کې یې نـهٔ ماتېـدونکو پناه ځایونه ته به یې پناه یوړه او همدا لامل وو چې شا ته تګ یې وکړ. پر دې برسـیره له هغه څه څخه چې ددوی دښمنانو ستره ویره وه د هغوی نـهٔ ماتېـدونکې زړورتیا وه.

له ۱۷٦۷ز کال وروسته داسې ښکاري احمد شاه هند ته د خپل وروستي لښکر لېـږد په ترڅ کې د پنجاب د نیولو له طرحې څخه په بشپړ ډول منصرف سوی وي. په دې پسې سیکهان د یوې مهمې سیمې واکمنان سول او په ټوله سیمه کې یې یو منظم اقتدار رامنځته کړ او دداسې یوهٔ دین لپاره یې یو ټینګ بنسټ جوړ کړ چې د دین په پرمختګ او ساتنه کې د هغوی تلپاتې زړورتیا ټولو ته د ستایلو وړ ده.

د افغانستان اوسني پادشاه چې د احمد شاه زوی دئ د بریالیتوب او لاسبرۍ په بېـلابېـلو درجاتو سره د سیکهانو پر وړاندې جګړې وکړې. [1] تیمورشاه هندوستان ته د خپل وروستي لښکر لېـږد په ترڅ کې د پنجاب ښار د ملتان یوې د پام وړ برخې سره ټول ونیول؛ سیکهانو د خپل ملي شخصیت او خصیصې برخلاف دا ځای له یوهٔ ضعیف مقاومت خوشې کړ. دغه تسلیمي په لومړیو کاتو کې ښایي یو بزدلانه عمل وانګېـرل سي؛ خصوصاً د تیمور منفعلې موضع ته په کتنې. خو له دې ټولو سره سره داسې ښکاري چې ددوی د کورنیو دائـمي اختلافاتو منطقي پایلې او د فردي اقتدار د ظهور په اړه ددې پراخو اندېښنو دغې تسلیمۍ ته اړ کړي وي. په ۱۷۸۲ز

[1] -TIMUR SHAH , the reigning prince of Afghanistan, the ſon of Ahmed Shah, had made war on the Sicques with various success. {Volume I, page 281 PDF format combined volume I and II page 308}

کال کې د سیکهانو د قلمرو ځمکې چې سرحدونه یې دایماً د بدلون په حال کې ول له شمال لوري له هغو غرونو سره وصل وي چې په مورب ډول سره د پنجاب له شمال څخه تېرېږي، له ختیځ لوري د امپراتور او د هغهٔ د مقاماتو تر تصرف لاندې ځمکو سره اړخ لګوي چې لمنه یې تا پاني پت او کوروال پورې رسېږي او له سویل ختیځ لوري د اګرې له سیمو، له سویل لوري له ملتان او له لویدیځ لوري د سندهـ له سیند سره پوله درلوده البته د اټک او د اټک له توابعو او په ټوله سیمه کې له څو کوچنیو خان سالاریو په استثناء.

سیکهانو د ضابط خان د قلمرو ډېره لویه برخه ونیوله او د غوث ګهر [1] او ورڅېرمو محدودو سیمو پرته یې بل څه ورته پرېنښودل. د نجیب الدوله بد نام زوی ضابط خان د خپل موقعیت د دفاع په لاره کې کوم کوټلی ګام اوچت نهٔ کړ. برعکس د سیکهانو د آرام کولو او د هغوی د پرمختګ د مخنیوي په پار یې ځانته د سیکهـ لقب غوره او د نانک [2] په دین واوښت. خو داسې ښکاري چې نوموړي ته دې ان د دین په اوښتلو سره هم کومه ګټه نهٔ وي رسېدلې. ځکه د دو آب له لارې زما د سفرونو په لړ کې سیکهانو د هغهٔ کلا محاصره کړې وه او مجبور سو چې د هغوی له هغو سرتېرو څخه مرسته وغواړي چې د پېسو په بدل کې ورته کار وکړي.

د ۱۷۸۳ز کال په لومړیو کې د سیکهانو یوه ډله د غوث ګهر له سیمې څخه تېرېدله؛ ددې ډلې موخه دا وه چې له سیند څخه واوړي او د وزیر په قلمرو برید وکړي؛ دوی د ګنګا سیند ته چې د روهیلکنډ لویدیځه پوله ده نېږدې سول. هغه مهال زه هم په روهیلکنډ کې وم او زه د هغې ویرې او ډار شاهد وم چې د ددې سیمې د خلکو په منځ کې خپور وو؛ دوی له مخ خلاصو او پراخو سیمو وتښتېدل او د نورو خلکو ځایونو کلاګانو او تنګو ځایونو ته یې پناه یوړه چې د سپرو سرتېرو لاسرسی ورته سخت وو. سیکهانو چې ولیدل چې وزیر ورته د سیند په ختیځه څنډه کې سترګې په لاره دئ او هم په دې پوه سول چې له سیند څخه اوښتل ورته ګران دي نو له خپل قصد څخه منصرف سول. دا ټکی مې ځکه دلته یاد کړ چې وښییم سیکهان د ګنګا سیند [3] ته له خنډ پرته لاسرسی لري.

---

[1] -Gous Ghar

[2] - د ضابط د سیکهـ دیني نوم دُرَم سینګهـ وو. په ۱۷۷۵ز کال کې ددهٔ ځایناستی ددهٔ زوی غلام بهادر سو. که څه هم غلام بهادر یو فعال افسر وو او سیکهانو ورته درناوی درلود خو بیا یـې هم ونه سو کولی چې د سیکهانو له قدرت څخه خلاصون ومومي. لیکوال

[3] - سیکهـ څواکونه د ۱۷۸۵ز کال په لړ کې بیا راټول سول او کله چې د روهیلکنډ ولایت ته ورسېدل نو د سلو مایلو په واټن د روهیلیانو سیمې یې ویجاړې کړې او له کوم خنډ او مزاحمت پرته بیرته ستانه سول. - لیکوال

له دې کبله ما د تر ټولو معتبرو سرچینو په حواله چې لاسته مې راوړی سوای تاسو ته د سیکهانو د پیل، د هغوی د لومړني ټاټوبي او یوې د پام وړ سیمې کې د هغوی د پرمختګ د ځانګړتیاوو او د هغوی د اوسني موجوده قدرت د پیاوړتیا په اړه شرحه وړاندې کړه. موږ دغه قوم په دوه وو بېلابېلو مهالیزو پړاوونو کې لیدلی دئ چې د مغولو د امپراتورۍ له قدرت سره جنګیدلی او دومره د هغو تر اغېزو لاندې تعضیف سول چې د هغوی د فرقې بقاء تقریباً پای ته ورسېده.

افغان جګړې دوی له یو شمېرو شدیدو مصایبو سره مخامخ کړل؛ هماغسې چې هغوی د یوۀ مخ په ودې قدرت لپاره زمینه برابره کړه د یوۀ پیاوړي دښمن له لاسه یې ورانۍ هم په شدت احساس کړلې. [1] هغوی د خپل دین له پناه ځایونو څخه دباندې وشړل سول او له داسې ځنبم سره په ځور او کړاو مخامخ سول چې ظاهراً ددوی د سیالانو د مخ په ودې قدرت او سرسختۍ سره یې شدت موند. خو له دې سره سره موږ لیدلي دي چې دوی د خپل بخت په وروستۍ مخ په زوال برخې کې بیا هم د خپل مقاومت روحیه ژوندۍ ساتلې ده. هغوی له هرې موقع او شیبې څخه ګټه اخیستله چې په لاس ورتلله. په پای کې او د خپل پیاوړي تکل پر مټ د خپل وخت او زمان د تر ټولو قدرتمند حاکم پر وړاندې بریالي سول. د سیکهانو د حکومت په منځته راتګ او وروستي تثبیت کې نورو فرعي او مهمو فکتورونو ونډه درلوده. له دې کتنې مخکې موږ ولیدل چې ددې ډلې لومړنۍ هڅې په داسې دوره کې پیل سوې چې د مغولو د امپراتوري قدرت او استحکام مخ په زوال وو. دا هغه وخت وو چې کورنۍ جګړې پیل سوې وې د مخ په زوال درباریانو دسایس او د لیرې پرتو سیمو د والیانو خیانتونه روان ول او دا ددې لامل سول چې واکمن شخصي ګټو ته مخه او وفاداري یې په بشپړ ډول محو سي.

پر سیکهانو باندې د میرمنو د پام وړ او قاطع برلاسی چې له هغو څخه یې په عاقلانه او اغېزمنه توګه ګټه اخیستله موږ په دې باوري کوي چې ددغۀ ایالت رتبه په هندوستان کې لا نوره هم ټيټه سوه. د هغو افرادو د اعمالو شرحه چې تر یوې کچې د هغوی له تأریخ سره آشنا یو د ګومان کولو یو پیچلي سیستم ته اړتیا لري؛ داسې ښکاري چې له سیکهانو څخه محافظت تر ډېره حده د هغۀ د وزیر د کورا مول له کړو وړو سره غوټه خوړلې وي او په خپله د یوۀ سیکهـ په توګه طبیعتاً ددې ډلې د یوۀ ډاډمن مدافع په توګه تبدیل سو؛ ویل کېږي چې هغۀ پر مسلمانانو باندې خپل تسلط د خپلو د پام وړ مرستو له لارې تضمین کړ؛ که د حدس او ګومان دغه ټکی نـۀ

---

[1] - The Afghan war involved them in a series of still more grievous calamity; as they had then laid the foundation of a growing power, and more sensibly felt the ravages of a formidable foe. {Volume I, page 284 PDF format combined volume I and II page 311}

وای ما داسې پیچلې موضوع نـهٔ سپړله. د احمد شاه د افغان او فارسي قلمرو مختل حالت چې په عاجل ډول یې ځانګړې ادارې او کنترول ته اړتیا درلوده سیکهانو ته بهترین فرصت په لاس ورکړ چې پنجاب ونیسي؛ دا احتمال سته چې که افغان پادشاه په هندوستان کې د خپلو لښکر- لېږدونو (لشکر کشی) دوام باندې بریالی سوی وای د هغـهٔ د ژوندون پر مهال به سیکهانو هېڅکله په ملي کچه اهمیت نه وای تر لاسه کړی. [1] (تر ۲۸۵ پ پورې چې د پي. ډي. ایف د فارمت ۳۱۱ پاڼه کیږي)

[له ۲۸۵ تر ۲۹۵ پ پورې ټوله برخه د سیکهانو په سیاست او ژوند ژواک راڅرخي. له دې کبله ددې برخې د ژباړې اړتیا نه سته. دا د پي ډي. ایف د فارمت له ۳۱۱ تر ۳۲۳ پاڼو پورې کیږي]

په دې پسې دولسم XII لیک راځي او نېټه یې ۱۷۸۳ز کال د اپریل میاشت ده چې له کشمیر څخه لیکل سوی دئ، دا د لومړي ټوک ۲۹۷ پاڼه ده او تر ۳۱۵ پاڼې دوام مومي چې د پي. ډي. ایف له ۳۲۴ پاڼې څخه تر ۳۴۱ پاڼې پورې کیږي. دلته لیکوال د خپلې لارې په اوږدو کې هغه کلي شرحه کوي چې ددهٔ مخې ته راځي او په ۳۱۵ پاڼې لومړی ټوک پای مومي. دا برخه زموږ د ژباړې له موخې سره اړخ نه لګوي نو ځکه ورڅخه تیریږو] په دې پسې دوهم ټوک پیل کېږي :

---

[1] - But the distracted state of Ahmed Shah's Afghan and Persian dominion, which urgently called on a personal administration, afforded the Sicques the most favourable occasions of accomplifhing the conquest of the Punjab; and it is probable, that, had the Afghan prince been enabled to prolong his campaigns in Hindostan, the Sicques would not, during his life, have attained any extensive degree of national consequence. {Volume I, page 285 PDF format combined volume I and II page 312}

# دوهم ټوک

A

# JOURNEY

FROM

# BENGAL TO ENGLAND,

THROUGH

THE NORTHERN PART OF INDIA,
KASHMIRE, AFGHANISTAN, AND PERSIA, AND
INTO RUSSIA, BY THE CASPIAN-SEA.

BY GEORGE FORSTER.

IN THE CIVIL SERVICE OF
THE HONOURABLE THE EAST-INDIA COMPANY.

IN TWO VOLUMES.

VOL. II.

LONDON:
PRINTED FOR R. FAULDER, NEW BOND-STREET.

1798.

ليکوال له کشمير څخه خپل د سترګو ليدلی حال بيانوي چې د ژباړې اړتيا يې نه ليدل کېږي. يعنی د دوهم ټوک له لومړی پاڼې تر نهمې پاڼې پورې نه دئ ژباړل سوی ځکه د ژباړې له موخې سره اړخ نه لګوي. په دې توګه د دوهم ټوک له لومړی تر نهمې پاڼې پورې نه دئ ژباړل سوی چې د پي. ډي. اف په فارمت کې چې دواړه ټوکونو سره يوځای سوي دي له ۳۴۴ تر ۳۵۲ پاڼې پورې کېږي. او زه يې ددوهم ټوک له نهمې پاڼې او دپي. ډي. ايف له ۳۵۲ پاڼې منځنې پاراګراف څخه پيلوم. ځکه چې د (افغانستان د دولت د نوم ذکر) په کې راغلی دئ.

***************

په اوومه ورځ ديوان **Dewan** له خپل قايق سره پمپر **Pamper** ته راورسېد، موږ له پمپر څخه تر ښار پورې لاړو چې واټن يې له ۷ کاس (**Coss** د واټن لپاره يو هندي واحد دئ چې له يو تر دريو مايلو پورې راځي -ژ) سره معادل واټن وو. که هم څخه دا قايق په کشمير کې مجلل قايق ګڼل کېږي خو د پخلنځي د متصدي يوهٔ بومي بنګالي لپاره نامناسب نهٔ وو. کشميري قايقونه هم اوږده او هم نري دي او شا يې لږ لوړه ده او له همدې ځايه د پارو په مرستې د مرکز پر لور پر مخ خوځېږي؛ د قايق په مرکز کې د مسافرانو او يا د توکو لپاره د بوريا پوښښ کارول سوی دئ. له دې هېواد څخه ګڼ شمېر سيندونه تېرېږي چې د کوچنيو بېړيو لپاره مناسب سيندونه دي؛ که د افغانستان د دولت مخرب سياستونه نه وای چې د خلکو روحيه تضعيفوي، نو دې سيمې به د اوبو د لېږد راليږد له لارې په ځانګړې توګه کورنی سوداګری کې به يې د پام وړ ګټې تر لاسه کړې وای.[1]

دا ښار يو وخت د لرغوني هند په تأريخ کې د (سيرينګ نګر **Siringnaughr** : سری نګر – ژ) په نوم ياد سوی دئ او اوس د يوهٔ لوی ولايت په نوم يادېږي. دا ښار د جيلم د سيند په درې مايلې کې د سيند په دواړو غاړو کې واقع دئ چې څلور يا پينځه لرګين پلونه ورباندې تير سوي دي او د دوه وو مايلو په شاو خوا کې يو نامنظم پسور لري. کورونه يې چې اکثريت يې دوه يا درې پوړيزه دي له خښتو د سمنټو او شګې له تعميراتي مسالو څخه جوړ او د پام وړ لرګي په کې کارول سوي دي. د لرګين چت له پاسه د نرمو خاورو نري انبارونه دي چې ودانۍ په ژمي کې له درندې واورې څخه ژغوري. دغه ډول پوښښ په ژمي کې تودوخه او په اوړي کې زړه

---

[1] -The country being intersected with numerous streams, navigable for small vessels, great advantage and convenience would arise to it from the water conveyance, especially in its interior commerce did not the miserable policy of the Afghan government crush the spirit of the people. {Volume II, P. 9. Both volumes combined in PDF format page 352}

راښکونی سرښت رامنځته کوي او د بام شا ګانې د ببلابېلو ګلانو په ښکلاوو پسولل سوي دي چې له ليرې داسې يوه منظره رامنځته کوي چې څوک فکر کوي دا بڼونه دي. سړکونه يې نرۍ او د استوګنو وګړو په کثافاتو ډک دي چې دا د دوی د نظافت په عدم مراعات دلالت کوي. په دې ښار کې کومه ځانګړې ودانۍ نه سته، کشميريان يو لرګين جومات لري چې د (جمعه مسجد) [1] په نوم يې يادوي او د هندوستان د کوم امپراتور له لوري ودان سوی دئ او په همدې باندې وياړي خو ددې جومات اهميت لږی دئ.

د کشمير صوبه دار يا حاکم د شيرګهر **Shere Ghur** په نوم کلا کې مېشت دئ چې د ښار په سويل ختيځې څنډې کې واقع ده او همدلته د حاکم ډيري سرتيري او افسران هم ځای پر ځای دي.

دا ښار سالمه او معتدله هوا لري او له منځه يې يو سيند تير سوی دئ خو ددغه ښه نعمت ګټې هغه مهال بې ګټې کېږي کله چې څوک د ښار تنګ او د استوګنو وګړو کثيف چاپيريال ته وګوري. خوځند حمامونه يې سرپټي دي چې د سيند د غاړې په اوږدو کې کتار سوي دي او دا ددې ښار د راحت يوازينۍ نښه ده؛ هندي مسلمانان د دې ځای د اقليم او د خپلو ديني احکامو له مخې دغو حمامونو ته ځکه شديده اړتيا لري چې بايد ځانونه مرتباً پاک وساتي او په همدې موقع کې بايد د خپلو ښځمنو د ساتنې لپاره پراخ اقدامات تر لاس لاندې ونيسي.

د کشمير جهيل چې په سيمه ييزه ژبه د ډال **Dall** په نوم ياديږي له ډيرو وختونو راهيسې د خپلې ښکلا او سخاوتمنې خوښۍ لپاره چې خلکو ته يې ډالۍ کوي تل ستايل سوی دئ. دا جهيل بيضوي بڼه لري چې د ښار له شمال ختيځه پيل او حدوداً پينځه يا شپږمايله اوږد والی لري او د ښار له ورځيرمه سيمې سره د يوه کانال له لارې نښلول سوی دئ. په ختيځ کې يې يوه جلا غونډۍ ده چې يوۀ متدين مسلمان د سترپادشاه سليمان عليه السلام د نوم په وياړ يو جومات د همدې غونډۍ پر سر جوړ کړی او په کشمير کې ورته ډير درناوی کيږي.

ددې سيمې افسانې مدعي دي چې «حضرت- ژ» سليمان دغې درې ته راغلی دئ. سليمان وليدل چې دا سيمه په مضرو اوبو ډکه ده او هيڅ د وتلو لاره نه لري، يوازې لوړې او مرتفعې ځمکې يې درلودې چې اوس ورته نغوته سوې ده. هغه د غرونو په منځ کې د اوبو د تلنګ لپاره لاره پرانيستله او د کشمير ښکلې دښتې يې جوړې کړلې. مسلمانانو دا سيمه د تخت سليمان په نوم ياده کړې ده چې له يوې خوا ورته يو پرتمين جهيل رانغوتلی او په بل لور کې يې يو ټيټ غر دئ چې په هيندويي **Hinduee** کې يې د «هيرني پروټ **Hirney**

---

[1]- جمعه د مسلمانانو مقدسه ورځ ده چې د يهودو د سبات **Sabbath** له ورځې سره سمون خوري او مسجد د عامه خلکو عبادت ځای دئ. د مسلمانانو په ټولو ښارونو کې د لمانځه اصلي ځای د جمعه مسجد په نوم ياديږي. - ليکوال

Purvet » په نوم يادوي چې معنی يې شنه غونډۍ کيږي؛ ددې نوم تسيموي وجهه ښايي دا وي چې دا غونډۍ تکه شنه ده او په ځنګلونو او د ميوو په ښونو ډکه او پوښل سوې ده.

د هيرني پروټ پر څوکې باندې کشميريانو د مخدوم صاحب Mackdoom Sahib په وياړ، چې په داستانونو کې يې د کنتربري Canterbury په داستانونو کې د تامس – يو - بکت Thomas- a- Backet په اندازې شهرت لري، يو جومات جوړ کړی دئ. ددې سيمې نارينه خپل هيڅ يو مهم کار د مخدوم صاحب له مشورې پرته نه پيلوي؛ او کله چې يوه کشميرۍ ښځه د يو ښايسته ميړۀ يا يو ښه هلک په لټه کې سي نو دغه ولي ته عذرونه او زارۍ کوي او ويل کيږي دعا غوښتونکې په ندرت نوميده کيږي. د جهيل شمالي منظره په دولس مايلۍ کې له يوۀ يوګړي جلا غره سره نښتې ده چې له مرکز څخه هر لور ته اړخونه لري؛ له جهيل کوز يوه پراخه دښته ده چې د ګڼ شمير نهرونو په وسيلې تکه شنه ساتل سوې ده چې په آرامۍ سره د اوبو تر ژۍ پورې غځيدلې ده.

د دښتې په مرکز کې جهيل ته نيږدې د ډهلي يو امپراتور، فکر کوم چې شاه جهان وو، د شاليمار په نوم يو لوی بڼ جوړ کړ چې د ميوو په ونو او رنګا رنګ ګل- بوټو ډک او پسولل سوی وو. د دښتې له منځه يو شمير ويالې تيرې سوي دي چې مخې يې د بڼ شا ته يو نهر ته اړول سوي دي، ورپسې دا نهر د همدې بڼ له منځه تيريږي او ورڅخه د اوبو په فوارو کې چې د شاليمار اصلي راښکون او جاذبه ده استفاده کيږي. د هند مغولي پادشاهانو په ځانګړې توګه سلطان جهانګير ددې ځای د لا ښايست لپاره له ځانه عالي پرتم او سبک ښودلی دئ؛ جهانګير له خپلې ګرانې معشوقې نورمحل سره يو ځای دلته راتـۀ او خپل ددوبي د استوګنځي په توګه يې ورڅخه کار اخيست او ددې سيمې په طبيعي ښکلاوو کې يې ډيره مرسته کړې ده. د نهر په اوږدو کې د آپارتمانونو څلور يا پينځه ټولګې دي چې له يو بل څخه په مساوي واټن ودان سوي دي. هره ټولګه ځانته يو سالون او په شاو خوا کې يې د ملازمينو او خدمتکارانو لپاره څلور کوټې جوړې کړې ترڅو شربت، قهوه او چلم تيار کړي. د اصلي سالون د دروازې چوکاټ له تورې ډبرې څخه جوړ سوی دئ چې ژيړې ژيړې کرښې په کې تللې دي او د نورو بلور ډبرو په پرتلې ځلانده او ښايسته دئ. ويل کيږي چې دا ډبرې يوه مغول پادشاه له کوم هندو معبد څخه اخيستې دي او ډيرې ارزښتناکه دي.

د شاليمار نهر ان تر کوزنۍ ودانۍ پورې له بنايي موادو څخه جوړ سوی دئ، دا نهر له هغه ځايه وروسته د ونو له منځه په خاورين بستر کې بهيږي او بيا جهيل ته ورلويږي چې سره له نورو کوچنيو نهرونو څخه يې تغذيه کوي. د جهيل مقابل لوري ته د ټيټ کيفيت ښونه جوړ سوي دي؛ خو دوه ښونه يې په دولت پورې اړه لري چې د خپل پراخوالي او ښکلا له اړخه ځانته بيلوالی لري؛ دا ښونه د «باغ

نسیم» او «باغ نشاط» په نومونو یادیږي چې لومړی یې په شمال لویدیځ او دوهم یې په سویل ختیځ کې موقعیت لري. ددې تر څنګ څو دانې کوچني ټاپو ګان هم سته چې په جهیل کې راوتلي دي او د سیمې د منظرې ښکلا لا ښایسته کوي. په دغو ودانیو کې یوه یې چې څلورځنډیزه بڼه لري د چهار چنار په نوم یادیږي ځکه په هر ګوټ کې د چنار ونې لري خو یوه ودانۍ یې چې په مرکز کې او ګنبد ډوله بڼه لري له شالیمار پرته د مغولو د ټولو نورو ودانیو په شان د له منځه تللو په حال کې ده یوازې شالیمار په ښه حالت کې ساتل کیږي، اغلب وختونه والي په همدې ګنبدي ډوله ودانۍ کې وي چې ما ورسره همدلته ولیدل، والي له خپلو افسرانو او د ښار له اصلي استوګنو وګړو سره له دې سیمې لیدنه کوي.

له هغه مهاله راوروسته چې کشمیر د هندوستان له امپراتورۍ راجلا سوی دئ [1] کشمیر د افغانانو له توابعو څخه دئ چې د مغولو خلاقیت او سخاوت یې نه درلود او اجازه یې ورکړه چې هغه ښکلې ودانۍ ورانیدو ته مخه کړي او دا ددوی د ملت په بربریت شاهدي ورکوي. [2]

امیر خان چې په خټه یو فارس نژادی وو د کشمیر وروستنی حاکم وو؛ نوموړي د جهیل ختیځې ژۍ کې یوه مانۍ جوړه کړه؛ خو ددې مانۍ په جوړښت کې د کارول سویو موادو او مصالحو کیفیت دومره ضعیف وو چې یوازې د اته کلن عمر په لړلو سره نور د ژوند کولو وړ مانۍ نه ده. امیر خان په خپل دې خلوت ځای کې ډیره موده تیره کړه چې د اناتولیکي **Anatolic** د بیلابیلو تجملاتو له ډولونو څخه د خوند اخیستلو لپاره مناسب وو. هغه لا تر اوسه هم د مینې او تأثر په یادونو کې پاتې دئ ځکه دی هم ددوی په شان خوشحاله، د ښه چلند خاوند وو او ښې فوق العاده ډوډۍ ته یې ډیره لیوالتیا درلوده. هر مانو چلوونکی لا تر اوسه او ددهٔ میرمن دا خان په تحسین یادوي او هغه په دې خاطر ستایي چې یو وخت یې عیش او عشرت برابر کړی وو. دغه والي د خپلو نورو اسلافو په شان په طبیعي دفاع او له پلازمینې څخه د واټن په نیولو ډډه ولګوله او د خپل واکمن[3] پر ضد یې پاځون وکړ. هغه ځواک چې د والي پر ضد ولیږل سو کوچنی او د تجهیزاتو له اړخه ضعیف وو؛ یوازې څو تنو ژمنو کسانو که ځانونه په تنګیو کې پټ کړي وای کولای یې سوای دا ځواک ببـرته په شا وتمبوي. له بلې خوا ډارنو کشمیریانو چې ډاډ ورباندې نه کیدهٔ دا والي یوازې پرېښود؛ دوی ځکه دی

---

[1] - ښایي دا پېښه په ۱۷۵۴ز کال کې رامنځته سوې وي. - لیکوال

[2] - **Since the dismemberment of Kaslimire from the empire of Hindostan , it has been subject to the Afghans, who possessing neither the genius nor liberality of the Moguls, have suffered its elegant structures to crumble into ruins , and to hold out against them a severe testimony of the barbarity of their nation.{Volume II page 14, PDF format both volumes combined page 357}**

[3] - تیمور شاه د افغانانو اوسنی امپراتور – لیکوال - **Timur Shah the reigning emperor of Afghans**

یوازې پرېښود چې ادعا یې کوله که والي په کشمیر کې نور پاتې سوی وای نو ټول کشمیریان به یې د علي مذهب (شیعه -ژ) ته اړولي وای او په آخرت کې به د خلاصون هیله یې ورڅخه اخیستې وای. دا د کشمیریانو خاصیت دئ چې مذهبي اصل ته د خپلو اعمالو په نسبت ورکولو کې ستونزه لري؛ ځکه که واکمن هندو وای نو دوی هندوان کیدل او که مسلمان وای نو مسلمان کیدل او که کوم عیسوي ملا وای او له عیسوي ملا څخه یې ګټې ترلاسه کولی سوای نو هرو مرو عیسوي کیدل.

د ښار شاو خوا سیمې که د ښار په ختیځ یا لویدیځ کې دي؛ په ځانګړو ښونو یا باغونو ډکې دي چې د جیلم د سیند پر غاړو موقعیت لري او یا په هغو کوچنیو نهرونو خړوبیږي چې له جیهل څخه راغځیدلي دي؛ دا ښونه د ښار د استوګنو وګړو لپاره بیلابیل تفریح ځایونه دي. د چنار ونې چې د پلاتانس اوریتنلز **Platanus Orientalis** په بوټانیک یا علمي نوم یادیږي تر ډېرې کچې په کشمیر کې شنې کیږي او باور دا دئ چې دا ونه د نورو ځایونو په پرتلې په کشمیر کې ډېره وده کوي، دا ونه چې د آسیا په نورو ځایونو کې د چنار د ونې په نوم یادیږي کولی سي د نښتر د ونې په اندازې وده وکړي چې لوړه دنګه او نرۍ ونه ده او پوستکی یې د سپینو زرو یا نقره یې رنګ لري. پاڼې یې د پرانیستي لاس ورغوي ته ورته دي چې روښانه زرغون رنګ لري. کله چې د چنار ونه پاڼې وکړي نو یوه ښکلې منظره جوړه کړي او په تودې هوا کې سوړ سیوری جوړوي. زه غواړم کشمیري ګلاب د نورو بوټو او ګلانو په منځ کې ددې سیمې تر ټولو ښه او فوق العادق محصول ونوموم. د کشمیري ګلاب عطر له ډېرو پخوا وختونو راپه دېخوا په ختیځ کې پېژندل سوي دي؛ د هغه ګیاهي عطر هر چیرې خپل ارزښت لري. کله چې ګلاب غوټۍ وکړي نو کشمیریان ورته جشن نیسي او په ډېرو خوښیو یې لمانځنه کوي؛ په دې مناسبت ګڼ شمیر کشمیریان د ښار د شاو خوا په ښونو کې راټولیږي تر څو له دې جشن څخه خوندونه واخلي؛ دا هغه کار دئ چې په آسیایي هیوادونو کې لږ لیدل کیږي. د جشن په دغو شیبو کې جدي او شدید چلند چې د مسلمانانو د هویت یوه مهمه برخه ده یوې خوا ته ایښودل کیږي. تورکان، اعراب او فارسیان چې د خپل معمول فرهنګ د جدي او محتاط چلند له ښودلو څخه ستړي سوي دي په دې جشن کې ځانونه ته اجازه وکوي چې په خپلو نفسیاتي غوښتنو کې ډوب سي.

د کشمیر دره بیضوي بڼه لري او له سویل ختیځ لوري تر شمال لویدیځ لور پورې د شاو خوا ۹۰ مایلو په اوږدو یو پیچلی او له موږونو ډک جوړ ښت لري. دا دره متدرجاً د اسلام آباد پر لور غځېدلې ده او پسور یې تر اسلام آباد پورې تر څلویښت مایلو پورې رسېږي او په جزئـي بدلونونو د سمپرې **Sampre** [1] تر ښار پورې دوام مومي. له دې ځایه وروسته غرونه د لویدځ لور ته ریوندوالی

---

[1] - د ښار د لویدیځې خوا په تقریباً ۲۵ مایلۍ کې. - لیکوال

یا میلان لري او هغه سرحد جوړوي چې کشمیر له مظفر آباد څخه جلا کوي. کشمیر په شمال او شمال ختیځ کې له هغو غرونو سره هم – سرحده دئ چې د تبت د غرونو په نوم یادیږي. زما په گومان دا د هغه لوی غرۀ ځانگه ده چې له تور سمندرگي څخه راپیلیږي، له ارمنستان څخه تیریږي او د کسپین د سمندرگي په سویلي غاړه کې دوام مومي او د فارس تر ختیځ ولایت پورې رسیږي او بیا تر تبت او چین پورې غځون مومي. په سویل ختیځ او سویل کې له کیشتوار **Kishtewar** سره سرحد لري حال دا چې په سویل لویدیځ او لویدیځ کې له (پرون **Prounce**) [1]، مظفر آباد او ځو نورو مستقلو سیمو سره سرحد جوړوي.

جیلم چې د پنجاب یو لویدیځ سیند دئ د درې د بې شمیرو ویالو او د جهیل اضافي اوبه راټولوي او په دې سره په یوۀ ډیر لوی سیند بدلیږي او د باره مولا **Baramoulah** ښار ته نیږدې د غرونو له منځه تیریږي. له دې چې دلته ځمکه ریونده ده نو د سیند د اوبو بهیر هم ډیر چټک دئ. کشمیریان وایي چې سلیمان علیه السلام په باره مولا کې غرونه سوري کړل او هغو اوبو ته یې د تیښتې اجازه ورکړه چې د ځمکې د پیدایښت له وخته په دښتو کې بندې وې.

د ښار لویدیځ لور ته د شاو خوا اتو مایلو په واټن د جیلم له سیند سره د چوټ **Chote** یا د کوچني سندهـ **Little Scind** په نوم یو سیند یو ځای کیږي؛ یوۀ کشمیري پنډت راته وویل چې دا سیند د تبت له غرونو څخه سرچینه اخلي او یوازینی سیند دئ چې له دې درې څخه سرچینه نه اخلي. کشمیر د مسلمانانو په لاس د هند له فتحې مخکې د خپلو مجللو معابدو د جوړولو او د برهمني زده کړو په پار مشهور ځای وو. هغه تأریخي اسناد چې ما لیدلي دي په هغو کې دا نـۀ دي مستند سوي چې پر کمشیر باندې د مسلمانانو سلطه له کومه وخته پیل سوې ده خو له دې سره سره دا فرضیه منطقي بریښي چې د کشمیر د ملت د پام وړ سوداگري او د کشمیر طبیعي ښکلاوو د مسلمانو سوبمنو پاملرنه د هند د سوبې په هماغو لومړیو کې ځانته راکاږلي ده. کشمیر د اوږدې مودې لپاره تر ۱۵۸۶ز کال پورې د تاتاري پادشاهانو د چوگ **Chug** یا د چگاتی **Chugatay** د کورنۍ تر ولکې لاندې تر هغه مهاله وو کله چې اکبر دا سیمه ځانته مطیع کړه. ویل کېږي چې اکبر د خپلو ځواکونو د قدرت په پرتلې تر ډېره په دسیسو ډه ډه لگوله. کشمیر تر ۱۶۰

---

[1] - سره له دې دا چې ولسوالۍ د بمبر **Bember** تر غاښې پورې غځیدلې خو ښاغلي برنیه **Bernier** په ډیر تفصیل سره تشریح کړې ده. - لیکوال

کالو پورې د تیموري کورنۍ تر سلطې لاندې پاتې سو او تر هغو پورې پاتې سو کله چې یوه ژمن ماتي مغولي والي، دراني احمد شاه ته وسپارۀ او دراني احمد شاه هم د یوۀ ولایت په توگه د افغان په امپراتورۍ پورې وصل کړ. [1]

د کشمیر دره عمدتاً مسطح او په اوبو ډکه ده او پریمانه وریجې تولیدوي چې د سیمه ییزو وگړو اصلي خوراک دئ. په لوړو سیمو کې د غونډیو په لمنو کې غنم، وربشې او نور غلات کرل کېږي. دا سیمه یو ډول ښایسته زعفران تولیدوي او د لوړ کیفیت وسپنه کولی سو په شا و خوا غرونو کې ترلاسه کړو. د کشمیر پانگه او شهرت عمدتاً د کشمیر د بې ساري شالونو د تولید له کبله ده چې بل سیال نۀ لري. هغه وړۍ چې په دغو شالونو کې کارول کېږي په سیمه ییزه توگه نه چمتو کېږي بلکه د تبت له سیمو څخه چې د یوې میاشتې په مزل په شمال ختیځ کې واقع ده راوړل کېږي. دغه وړۍ په لومړي سر کې تیارۀ خړ رنگ لري چې د وریجو د اوړو د یوۀ ځانگړي میتود له لارې په کشمیر کې سپین رنگ ورکول کېږي. د وړیو تار په هغو رنگونو رنگیږي چې د پلور لپاره غوره گڼل کیږي؛ کله چې دا تار واوبدل سي نو ټوکر ورڅخه جوړ او بیا مینځل کیږي. ژۍ یا حاشیه یې ډیري وختونه بیلابیل ډیزاینونه او رنگونه لري چې د شالونو له جوړولو وروسته وراضافه کېږي؛ دا لړۍ په دومره احتیاط او ځیر تر سره کیږي چې د چا پام د شال د ټوکر او اضافه سوې حاشیې ته نه اوړي. ددغه شال اوبدنگ او جوړښت اروپایي شالون **Shaloon of Europe** ته ورته ده او احتمالاً نوم یې له همدغه شال څخه اخیستل سوی دئ. د شال اوبدلو په فابریکې کې یو معمولي شال اته روپۍ قیمت لري او که کیفیت یې لوړ وي نو قیمت یې له پینځلسو تر شلو روپیو پورې لوړ ځي. ما یو ډیر ښایسته او نفیس شال ولید چې په لومړیو کې یې څلویښت روپۍ ارزښت درلود. د شال ارزښت هغه مهال لا لوړ ځي کله چې گلدار ډیزاینونه وربانديې اضافه سي. تاسو پوهیږئ چې که یو اوبدونکی د یوه شال لپاره سل روپۍ تر لاسه کړي نو کولی سو ووایو چې ددغو سلو روپیو قیمت نیمایي یې د پسولنیزو یا تزئیني عناصرو له کبله ده.

د کشمیر د عایداتي حاصل یوه برخه افغان پلازمینې ته د شال د کالیو په بڼه لېږدول کېږي؛ ما دا فرصت تر لاسه کړ چې له لیږلو مخکې ددغو کالیو د لېږد شاهد اوسم؛ هغه معلومات چې ماته په هماغه وخت کې راورسېدل په معقول ډول ددې ادعا په اعتبار

[1] -Kashmire remained annexed to the house of Timur for the space of one hundred and fixty years, after which it was betrayed by the Mogul governor, to Ahmed Shah Duranny, who formed it into a province of the Afghan empire. .{Volume II page 18, PDF format both volumes combined page 361}

باندې اطمینان لرم. [1] شالونه معمولاً په دریو اندازو دي چې دوه ډوله یې اوږدۀ او کوچني مربع ډوله دي چې معمولاً په هندوستان کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي؛ دریم ډول یې اوږدۀ او نري شالونه دي چې د پام وړ توروالی لري او د آسیا د شمال د وګړو له پلوه د کمر بند په توګه کارول کېږي.

په کشمیر کې داسې ډول شراب تولیدیږي چې مدیرا **Madeira** ته ورته شراب دي او که د وخت په اوږدو کې په ماهرانه ډول جوړ سي نو فوق العاده کیفیت به ولري. ددې ترڅنګ له انګورو څخه تقطیر سوي الکهولي مشروبات هم جوړېږي چې هم شراب او هم الکهولي مشروبات د ټولنې د هر قشر د افرادو له پلوه په آسانۍ کارول کېږي.

کشمیریان د لیکنې لپاره بهترین کاغذ په ختیځ کې تولیدوي چې یو وخت د سوداګرۍ ډېر لوی توکی وو؛ په همدې ډول سره تزئیني لوښو، چاړو، چاقو او قندیاتو ته په پراخ ډول اړتیا وه. ددغو محصولاتو کیفیت په څرګنده ښيي چې که ددې ځای استوګن وګړي د هوښیارو او سخاوتمندو شهزادګانو له پلوه اداره کیدای نو داسې ډیر لږ هنري لاسته راوړنې به وای چې دوی ونه سي کولای ورته لاسرسی ومومي. خو ددولت له پلوه تر سره سوي ظلمونه او ستمونه او ورسره د ګاونډیو هېوادونو حریص او سولند ماهیت چې له سوداګرو څخه په بې رحمۍ سره ناوړه ګټه اخلي او اغلب ددوی سوداګریز توکي لوټي ددې لامل سوی چې د کشمیر د سوداګرۍ کچه ټيټه او له ضعیف او مخ په زوال حالت سره یې مخامخ کړي. کشمیریان ددې ادعا د اثبات لپاره ادعا کوي چې د مغولو د حکومت پر مهال دغه ولایت د شال اوبدلو څلویښت زره فابریکې درلودلې حال دا چې اوسمهال له شپاړس زرو لږ فابریکې لري. په کشمیر کې د هندوستان د شمال د سترو ښارونو او همدا شان د تاتارستان، فارس او تورکیې سوداګر او سوداګریز استازي کولی سو په سترګو ووینو. دغه کسان له یوې خوا د همدې ټاټوبي له خوندورو اوبو او هوا څخه چې د طبیعت پریمانه جلال او ښایست ورسره مل دئ ګټه اخلي او له بل لوري د خپلې پانګې د ډیرولو په لټه کې دي.

کشمیري جامې په دې ډول دي : یوه لویه لونګۍ چې په بې سیلقې ډول سره اغوستل کېږي؛ له وړیو جوړ یو پنډ واسکټ یا صدرۍ چې پلن لستوني لري؛ یوه کځوړه چې ول په ول تاو سوې او تر ملا تاویږي. تر واسکټ لاندې د اغوستلو یو شی چې په دقیق ډول ورته پوښ ویلی سو د ټولنې د لوړو پاړکو یا طبقاتو خلک یو کمیس (پیراهن) اغوندي خو د ټيټو پاړکو خلک هیڅ تحتاني

---

[1] - **A PORTION of the revenue of Kashmire is transmitted to the Afghan capital in shaul goods, which I had an opportunity of seeing previously to the dispatch, and from the information then received; I am reasonably confirmed in the accuracy of this statement. I have given. .{Volume II page 19, PDF format both volumes combined page 362}**

جامې نه اغونډي او خپلې ملاوې نه تړي. کله چې له دغو کسانو سره د هغوی په پلرني ټاټوبي کې مخامخ سوم نو د هغوی د جامو بڼو، د مخونو جدي او اوږدو بڼو او د ږيرو جوړښت ته په کتلو دې باور ته ورسېدم چې ګنې د يهودي ملت منځ ته راغلی يم. همدا تصور د ښاغلي (فرانسيسکو - ژ) برنييه [1] ذهن ته هم ورغلی وو او هغه خو لا د يوۀ بل ګام په اوچتولو هڅه کړې ثابته کړي چې دوی د يرغمل سويو يهودانو له قبايلو څخه دي او ددې کار لپاره له داسې استدلالونو څخه کار اخلي چې د پاخه بنسټيز او اساسي استدلال په پرتلې ظاهراً اقناع کوونکي دي. [2]

---

[1] -Mr. Bernier

[2] - فرانسوا برنيه يا فرانسيسکو برنيه François Bernier يو فرانسوی طبيب او سيلانی وو چې په اولسمې پيړۍ کې د خپل مفصل يون ليک يا سفرنامې په پار شهرت لري. فرانسوا برنيه خپل يون ليک د «مغولو په امپراتورۍ کې سفر Travels in the Mogul Empire» تر عنوان لاندې ليکلی دئ چې له ١٦٥٦ تر ١٦٦٨ز کال پورې يې د مغولو په امپراتورۍ کې سفرونه کړي دي. فرانسوا د هندوستان او د مغولو د دربار د شرحې په لړ کې له "افغانانو" څخه يادونه کوي.

د فرانسوال ليکنې اغلب دغه ټکي رانغاړي :

د مغولو د دولت او د وسله وال ځواک جوړښت : فرانسوا برنيه د مغولو په امپراتورۍ کې د بيلابيلو قومي ډلو يادونه کوي چې له هغې ډلې څخه "افغانان"، مغول، فارسيان اوهنديان يادوي چې په دربار کې يې مختلف منصبونه درلودل. فرانسوا برنيه په دې باور دئ چې د مغولو د سلطنت د وسله وال ځواک لپاره يوه ستره منبع د باندنيو سرتيرو تل مدام راتګ دئ چې د سيل په شان راروان دي؛ برنيه دغه سرتيري عمدتاً د "تورکانو او افغانانو" په نوم يادوي.

د سياسي ځواک له اړخه : برنيه په خپلو خبرو کې د اورنګ زيب د سلطنت شرحه ورکوي او هلته په دربار کې بيلابيلې ډلې يادوي چې په امپراتورۍ کې حاضر اشراف له افغان يا " پټهان" سرتيرو سره تعاملات لري.

د تأريخي شننې يا تحليل له اړخه : تأريخي شننې چې د فرانسوا برنيې اثر ته مراجعه کوي وايي چې افغانانو د مغولو په امپراتورۍ باندې پراخ اغيز درلود لکه په ډيلي باندې د افغانانو يرغل چې د ډيلي پانګه يې افغانستان ته يوړله او د مغولو د سلطنت لمنه يې عملاً ورټوله کړله. کارل مارکس او انګلس هم د برنيه له شننو څخه يادونه کړې ده

فرانسوا برنيه د مغول امپراتور اورنګزيب د صدراعظم يا لوی وزير جعفر خان يادونه کوي او وايي چې د جعفر خان ميرمن يوه ډيره هوښياره پيښتنه "افغانه" ده.

په دې توګه موږ ګورو چې فرانسوا برنيه لومړنی اروپايي دئ چې په هندوستان کې د افغانانو او مشخصاً د پښتنو يادونه په اولسمې پيړۍ کې کوي او ورپسې څه د باندې سل کاله وروسته زموږ اوسنی ليکوال جورج فوستر لومړنی اروپايي دئ چې عملاً افغانستان ته او د افغانستان توابعو سيمو ته سفرونه کوي او د افغانانو، پښتو، د افغانستان ددولت، د افغان دولت، د افغان امپراتورۍ او کله هم د دراني د امپراتورۍ يادونه کوي. - ژ

د ښځو جامې هم د نارینه وو د جامو په شان بې ډوله دي او د هغوی له طبیعي ښایست سره مناسبې نـهٔ بریښي. د هغوی اصلي جامې چې اغلباً یوازینۍ جامې دي چې دوی يې اغوندي له مالوچو جوړې جامې دي او د یوهٔ اوږدهٔ او پراخ کمیس په شان جوړې سوې دي. هغوی د خپلو ویښتانو پر سر چې یوه کوڅۍ لري یوه تنګه خولۍ اغوندي او معمولاً ارغواني رنګ لري او له وریو جوړې سوې دي؛ د خولۍ شا ته له هماغه جنسه یوه مثلثي ټوټه نښتې ده چې کښته تللې او د ویښتانو ډیرۍ برخه پوښي. د خولۍ تر لاندنۍ ژۍ لاندې یو کوچنوټی لونګۍ ډوله ټوکر دئ چې شا ته په یوې لنډې غوټې تړل سوی دئ او داسې ښکاري چې دا دې یوازینۍ پسولنیز توکی وي. ښایي تاسو به خوښ سئ چې که زه د عادي ښځو د جامو یادونه وکړم ځکه هغوی یوازیني کسان دي چې په عام محضر کې لیدل کیږي. د لوړو پاړکو یا طبقاتو مېـرمنې په ندرت په آزادې فضا کې لیدل کـېـږي؛ ددې ترڅنګ ان دغه یادونه او اشاره هم د هیڅ مسلمانې ټولنې د کورنیو د ښځو له دودونو او رواجونو سره سمون نـهٔ خوري.

کشمیریان په تن پیاوړي او په ځـېـرو ښایسته دي او له دې چې د جغرافیوي عرض البلد په څلوردیرشمو درجو کې استوګن دي نو کولی سو ووایو چې د هغوی د بدن پوستکي روښانه دي. د هغوی مېـرمنې د فرانسي یا اسپانیې په سویل کې د قهوه يي رنګو ویښتانو لرونکو مېـرمنو په توګه یادوي. خو له دې سره سره که څه هم زه مخکې له مخکې د هغوی د راښکون او جذابیت تر اغـېـزو لاندې وم ما ته یوه د پام وړ ناامیدي پیدا سوه؛ سره له دې چې یو شمـېـر نڅاګرې ښځې مې ولیدلې چې د خپلو ښکلاوو او راښکون د ځانګړتیاوو له کبله مشهورې وې. د هغوی په هیکلونو کې معمولاً یو ډول زمختي لیدل کـېـږي چې په پلنو او هموارو ځانګړتیاوو سره مشخص کـېـږي او اغلب وختونه پنډې پښې لري؛ حال دا چې د پوستکي د رنګ له اړخه تر هر چا سر دي خو په څرګنده د لویدیځ هند د یو شمـېـر ولایتونو د جذابو ښځو د ظاهر او رعنایي تر اغـېـز لاندې راځي.

یو وخت کشمیر د بډایو او شتمنو کسانو لپاره په کنچنیو یا فواحشو ډک وو چې هم شتمنې او هم مستې وې خو هغه درانده مالي اخراجات چې افغانانو غوښتل ددې لامل سول چې ددوی شمـېـر د پام وړ کچې ته راټیټ سي او اکثر کسان چې تر اوسه پاتې دي هغوی له سخت فقر او ربړو سره مخامخ دي. [1] هغه لږ شمـېـر چې ما لیدلي دي په نڅا کې د خپلو وړتیاوو او په ښکلو ځانګړو غړونو باندې يې ماته ډیرې خوشحالۍ راوړي دي. ددې ترڅنګ غواړم ووایم، چې وروسته مې هـېـر نه سي، د کشمیر مېـرمنې د

[1] -THE city of Kashmire once abounded with courtezans, equally gay and affluent ; but the rigorous contributions of the Afghans have greatly reduced their number, and driven moſt of thoſe that remain into a languid poverty. {Volume II page 22, PDF format both volumes combined page 365}

دولت له سرکوبگر ماهیت او یا نا مساعدو شرایطو په صرف نظر سره له ځانه د زیږون استثنایي وړتیا ښیي؛ هیڅ داسې مضر اغیز چې په دوې کې د تکثر خنډ وګرځي نـهٔ دئ لیدل سوی او دا د ستاینې وړ خبره د هڅو په مټ ساتل سوې ده. زه خپل ځان په دې مکلف نـهٔ ګڼم چې د هغه فزیکي فضلیت د جرړو په اړه پلټنه وکړم چې ددې ملت په ښځو او نارینه وو کې پریمانه موندل کېـږي، خو دومره تاسو ته وایم چې ددې ځای اوبـهٔ په کبانو باندې ډکې دي او دا د تولید مثل لپاره یو محرک ګڼل کېـدای سي او د خلکو لپاره د خوراک اصلي سرچینه ده.

د کشمیري ژبې سرچینه د سانسکریت ژبه ده او د مرهټه وو له ژبې سره ورته والی لري خو لږ تونده او شډله ده. همدغه شډل توب ددې لامل ګرځېـدلی چې سیمه ییز خلک خپلې سندرې په پارسي جوړې کړي او یا د پارسي شاعرانو آثار ومني. خو له دې سره سره چې د ژبې لحن یې لږ شډل دئ تاسو به دلته په دې سیمې کې په ندرت داسې څوک ومومئ چې که ځوان وي یا بوډا د موسیقۍ قدر دې ونه کړي.

کشمیریان خوشحاله او شور او له ږوږ ډک خلک دي او تلذذ او خوند اخیستلو ته شدیداً لېـوالتیا لري. هېـڅوک ددوی په اندازې د پانګې او ثروت په لټه کې لېـوالتیا او اشتیاق نـهٔ لري او هېـڅوک ددوی په اندازې د ثروت په لاس ته راوړلو کې نوښت او خلاقیت هم نـهٔ لري او یا د بې ځایه اسراف لپاره د نوښت لارې چارې ونـهٔ لټوي. کله چې یو کشمیری ان له کومې ټیټې پاړکې یا طبقې څخه لس (انګلیسي – ژ) شیلینګه تر لاسه کړي نو د وخت له تلف کولو پرته خپله ډله راټوله کړي او د سیند غاړې ته ځي ترڅو خپله وروستۍ پیسه مصرف کړي. د افغان حکومت ظالمانه طبیعت، چې پر دوی باندې د ظلم بیلابیل ډولونه تحمیلوي نه سي کولی د انحطاط پر لور د هغوی دا پیاوړې لیوالتیا له منځه یوسي. راپور ورکړل سوی چې له هندوستان څخه ددوی د هیواد له جلا کیدلو راهیسې ددوی په چارچلند کې د پام وړ بدلون راغلی دئ. [1] دوی د مغولانو د سخاوت او جوړجاړي یا د مدارا په انګېـزې په خپلو عیشونو کې ډوب او خپلې نوښتګرې لېـوالتیاوې یې څرګندولې. هغوی په ځل- بلي جامو کې لیدل کېـدل او مجللې ودانۍ یې جوړولې او خوندورو خوراکونو ته یې زښته ډېره لېـوالتیا درلوده. ددې ولایت لومړیتوبونه په دربار کې تر دې اندازې ملاتړ تر لاسه

---

[1] -Nor can the despotism of an Afghan government, which loads them with a various oppression and cruelty, eradicate this strong tendency to dissipation, yet their manners, it is faid, have undergone a manifeft change, since the dismemberment of their country from Hindostan. {Volume II page 23, PDF format both volumes combined page 366}

کاوۀ چې ددې ځای د واکمنو پر ضد هر ډول شکایت ته په ځیر غوږ نیول کېدۀ او ددې ځای د استوګنو پر ضد هر ډول هڅه به یا ژر تر ژره مهار او یا مجازات سوه.

د اورنګ زیب د حکومت پر مهال کله چې د امپراتورۍ د بېلابېلا سیمو مالیاتي عاید د نن ورځې له مالیاتي عاید څخه پورته وو، له کشمیر څخه د راټول سوي عاید اندازه درې نیم لک روپۍ وې. خو اوسمهال افغان والي له شل لکو روپیو څخه لږ عاید نۀ ترلاسه کوي او که دی خپل خراج په موقع دربار ته واستوي نو والي ته اجازت سته چې له هر ډول عواقبو پرته له شدت عمل څخه کار واخلي. [1] د سخت ګیرۍ دغۀ شدید ډول د کشمیریانو پر کړو وړو اغېزه کړې ده، دوی د افغانانو له ظلم او ستم څخه ویره او وحشت لري او د خپل ثروت له ښوولو څخه ډارېږي. [2]

یوۀ جیورجیایي سوداګر چې ډېره موده یې په دې سیمې کې تېره کړې ده د کشمیر په هکله راته د قناعت وړ معلومات راکړل. هغه وویل کله چې دې ولایت ته د لومړي ځل لپاره راغلم نو یو معتدل او نرم چلند سړی په کې واکمن وو، د ولایت خلکو به له ځانه بې بندوبارې، هوسبازي او اسراف څرګنداوۀ. خو د وروستي والي له حکومتولۍ را په دیخوا چې یو افغان دئ د هغه د توند، خښمناک او حریص طبیعت له کبله خلک زړۀ تورن سوي دي او ژوند بڼه یې مخ په ځوړ او زوال ده، جامې یې نامرتبې دي؛ سره له دې چې دغو خلکو مخکې ډېرې خبرې کولې خو اوس د لومړنیو معلوماتو په ورکړه کې اکراه کوي. [3]

---

[1] - In the reign of Aurangzebe, when the revenue of the different portions of the empire exceeded that of the present day, the sum collected in Kashmire amounted to three and a half lacks of rupees , but at this time, not less than twenty lacks are extracted by the Afghan governor, who, if his tribute be regularly remitted to court, is allowed to execute with impunity every act of violence. {Volume II page 23, PDF format both volumes combined page 366}

[2] - This extreme rigor has sensibly affected the deportment and manners ners of the Kashmirians , who shrink with dread from the Afghan oppressions, and are fearful of making any display of opulence. {Volume II page 23 - 24, PDF format both volumes combined page 366- 367}

[3] -He said that when he first visited the province, which was governed by a person of a moderate disposition, the people were licentious, volatile and profuse. But, that since the administration of the late chief, an Afghan of a fierce and rapacious temper, they had become dispirited, their way of living mean, their dress slovenly, and though of a temper proverbially loquacious , they were averse from communicating ordinary intelligence. {Volume II page 24, PDF format both volumes combined page 367}

په کشمیر کې زما د استوګنې په اوږدو کې زه په مکرر ډول له عادي وګړو سره د اربابانو د خښمناک چلند شاهد وم چې په ندرت پرته له دې چې د خپل د تبر په ژۍ ضربه ووهي فرمان یې صادر کاوۀ؛ افغانان معمولاً په جګړو کې له جنګي تبر څخه کار اخلي. [1] سره له دې چې ددې ولایت خلک تر شدید ظلم او ستم لاندې دي او د سختۍ داسې شېبې ورځې تېروي چې د انساني طبعیت لپاره له سپکاوي ډک ژوند دئ خو ما ددوی د پراخ اخلاقي فساد په اړه داسې بېلابېل او پریمانه شواهد تر لاسه کړي دي چې د هغوی د کړاو په اړه یې زما حساسیت راټیټ کړ؛ او د هغوی د کړاوونو خاطرات ډېر ژر زما له ذهن څخه ووتل او ان دې باور ته ورسېدم چې دوی د خپل داسې شوم برخلیک د لرلو لیاقت درلود.

کله چې د یوې ټولنې چارچلند ته په ټولیزه توګه ګورو نو د احساساتي او یا تخیلي جزئیاتو زیاتول حقیقت او بله هره له تأریخي اهمیته برخمنه موضوع تحریف کېږي؛ ددې خبرې په پام کې نیولو سره زه چې یو بیطرف لید لرم باید ووایم چې ما بله هیڅ داسې ټولنه نه ده لیدلې چې د کشمیر د خلکو په اندازې دې په اخلاقي فساد کې ډوبه وي. د یوه کشمیري اصلي ماهیت هغه مهال څرګندېږي کله چې د قدرت واګې په لاس ورسي؛ دی خپلو مأمورانو ته له ملي ګټو څخه د راټولولو په لاره کې هیڅ پوله او سرحد نه پېژني او په دې ډول خپل شخصیت ننداري ته وړاندې کوي. داسې شخص تکل لري چې قدرت په چټکۍ تر لاسه کړي او هر هغه څه کوي چې له دۀ سره خپلې موخې ته د رسېدلو په لاره کې مرسته کوي. دی په طمع، تکبر، فریب، خیانت دا ظلم په داسې ډول له ځانته رابربنډوي چې ټول کړۀ وړۀ یې معمولاً د یوۀ ډارن او بزدل کړۀ وړۀ وي. ویل کېږي چې دی هماغومره چې په خپلو اړیکو کې توند او تیز دئ په خپلې کرکې کې هم بې رحمه دئ. کاشکې ما د انسانیت په پار دغسې یو ککړ انځور نه وای وړاندې کړی؛ دا هغه انځور دئ چې دا درې میاشتې ورسره مخامخ یم، دا انځور په بېلابېلو بڼو راته ښکاري خو ډېره لږ آرامتیا لري او دا ددې لامل سوې چې د خلکو پر وړاندې له یوې عمومي بېزارۍ سره مخامخ سم.

کشمیریان متجسس او ډېر کنجکاو خلک دي. که یوه کوچنۍ پوښتـنـه ورڅخه وسي، هغوی اغلب وختونه مخکې له دې چې معلومات درکړي او منظور روښانه سي تاسو ته په خپلو بې ربطو پوښتـنو ځواب درکوي. که له هـېـټوال څخه پوښتـنه وکړې چې پلانکی شې لري نو تر هغو ځواب نـۀ درکوي چې پوه سي څومره ستا په کار دي. د هغو شرایطو او د اړوندو اغـېـزو په پام کې نیولو

[1] -DURING my residence in Kashmire, I often witnessed the harsh treatment which the common people received at the hands of their masters, who rarely issued an order without a blow of the side of their hatchet, a common weapon of the Afghans, and used by them in war, as a battle - axe . {Volume II page 24, PDF format both volumes combined page 367}

سره چې دا کسان په کې واقع دي ښايي د اخلاقي چارو يو ښوونکی متفکر وکولی سي په دوی کې د دوی د چار چلند او ليدلوري د شکل نيولو اصلي دلايل ومومي. دا ښوونکی به ددۀ سړي پام دې ټکي ته راواوړي چې ددۀ د هېـواد منحصر په فرد موقعيت لري او ارزښتناکه او بډايه سرچينې يې چې ښکلې او زړه راښکونې هوا او اوبـۀ لري او دا به کشميری دې ته وهڅوي چې تجمل او ګڼ شمېـر لذتونه ته يې لېـوالتيا ډېره سي؛ دی به پوه سي چې د هغو شيانو پر وړاندې مقابله چې ذهن ضعيف او فاسدوي يوۀ ديني يا اخلاقي نظام ته اړتيا سته تر څو له فضيلت سره د مينې پيدا کولو تدريس ورکړي په ځانګړې توګه په ځوانانو کې د عدالت او شفقت د ابتدائـيي احساساتو القا کول. ددۀ پام به دې ټکي ته واوړي چې د نن ورځې د مسلمانانو نـۀ په ديني لارښوونو کې او نـۀ هم په اخلاقي لارښوونو کې نه کوم فضيلت سته او نه نجابت. بر عکس پر ځای يې هڅول کـېږي چې د نړۍ ښکليو ټکيو او ځايونو ته په سپکه وګوري او هغو ته تاوان ورسوي چې د دوی د پيامبر پيروي نه کوي. کله چې کشميريان ګورو چې ظاهراً د التذاذ په مرکز کې دي او اخلاقي اصولو ته هېـڅ ډول قيد او بند نـۀ لري نو دا ټکی د پوهـېـدنې وړ دئ دوی په آزاده خپلې جسماني غوښتنې او خوندونه تعقيبوي.

د کشمير اوسنی والي آزاد خان چې افغان دئ د خپل د پلار حاجي کريمداد ځای ناستی سو؛ حاجي کريمداد د دراني احمدشاه د کورنۍ کړۍ يو افسر وو. د احمد شاه له مړينې وروسته تيمورشاه نوموړی په دې وياړ د کشمير د والي په توګه مقرر کړ چې د اميرخان په مشرۍ د بغاوت په تس نس کولو کې يې هڅې کړې وې، مخکې مو د امير خان نوم ياد کړ. [1] مخکې مو د امير يادونه وکړه. کشميريانو د حاجي کريمداد د حکومت د بنې پر ضد خپل قهر څرګنداوۀ ځکه هغوی ويل چې حاجي کريمداد ظالم او شديده طمع لري. کريمداد به اغلب وختونه متهمين محض د جزيې تخلفاتو په پار په جوړه ډول له يو بل سره وتړل او سيند ته به يې واچول؛ دغه سزا ګانې به د غلاوو او يا د ښځو د څورولو په تور ورکول کېـدې. کشميريان وايي چې نوموړی يو سيستماتيک ستمګر وو چې د خپلې ډاډمنې تګلارې له لارې خپلو وحشتناکو موخو ته رسېـدۀ. کشميريان د کريمداد زوی ته بله اصطلاح کاروي، (ظالم خام) **Zaulim Kham**؛ دا يوه فارسي اصطلاح ده او هغه چا ته په خطاب کې ظالم ويل کېـږي چې د تشخيص قوه نـۀ لري؛ او که يو

---

**[1] - AZAD KHAN , the present governor of Kashmire, of the Afghan tribe, succeeded his father Hadji Kareem Dad , a domestic officer of Ahmed Shah Duranny, and who was, at the death of that prince, advanced to the government of Kashmire, by Timur Shah, as a reward for quelling the rebellion of the Amir Khan, who has been already mentioned. {Volume II page 26- 27, PDF format both volumes combined page 369- 370}**

شمېـر جزئـيي تورونه د هغـهٔ پر وړاندې سم وي نو دا نوم هغـهٔ ته يو مناسب نوم دئ. دی اتلس کلن دئ او د ځوانۍ رزايل په کې لږ دئ؛ د حرم خوندونو او شراب ته لېـوالتيا نـهٔ لري؛ ان د چلم په څښلو کې هم افراط نـهٔ کوي. خو ددهٔ تاوتريخوالي او له خشونت ډک کړهٔ وړهٔ له هغـهٔ هم اوښتي چې مخکې عام ول؛ داسې ښکاري چې دا کړهٔ وړهٔ له وحشی هوسونو څخه سرچينه اخلي او هغه خلق او خوی له ځانه څرګندوي چې په ندرت سره د انسان په طبيعت کې ليدل کـېږي.

ددې لپاره چې ددغـهٔ جهنمي مستبد د شخصيت يوه برخه مو تاسوې ته ښودلې وي تاسو ته به هغه څه ووايم چې ما ته په دې ولايت کې د استوګنې پر مهال وويل سول. يو وخت دی له خپلو درباريانو سره د ښار تر يوهٔ لرګين پلـهٔ لاندې تـېرېـدهٔ او خلک ددهٔ د ليدلو لپاره راټول سوي ول؛ نوموړي همدې پله لاندې يو بدمرغه څوک په توپک په نښه کړ او دی چې يو ماهر ډز ويشتونکی وو هغه يې وويشت او ويې واژهٔ. کله چې د ولايت د مقام په څوکۍ کښېـناست له لنډې مودې وروسته يې خپله مور په دې تورنه کړه چې ګنې خپل مېړهٔ ته يې خيانت کړی دئ. سره له دې چې دا تور پوچ او بې بنسټه وو خو دهٔ دا خبره په پام کې ونـهٔ نيوله او د هغې ښځې له نومېـدې ډکو غوښتنو ته يې غوږ ونـهٔ نيوهٔ چې دی يې لوی کړی وو ترڅو له بې عزتۍ څخه ځان وژغوري خو دهٔ خپله مور له ماڼۍ څخه وايستله. تقريباً په همدې مهال په هماغه تور او د ورته بې اهميته دليل پر بنسټ خپله يوه ميرمن يې ووژله. ددهٔ يوه سترګه په پلاستکي پاڼې پټه وه او ګڼ شمېـر ډاکټران يې سربداله کړي ول؛ دی چې د درملنې له نـهٔ برياليتوب څخه نا اميده سوی وو خپل وروستي جراح ته يې اخطار ورکړ چې که زما ستونزه په لنډو څو ورځو کې  جوړه نـهٔ سي نو نس به دې درته جراحي کړم؛ جراح په خپلې درملنې کې بريالی نـهٔ وو او آزاد خان خپل ګواښ عملي کړ.

دا هغه نقل قولونه دي چې له بېـلابېـلو خلکو مې اورېـدلي دي، په دې کسانو کې يو شمېـر يې په دې سيمې کې پردي ول او نور يې د خپل ټولنيز دريځ په پار غوره بلله خپل مثبت نظريات وړاندې کړي. آزاد خان د خپلې حکومتولۍ په لومړيو دريو مياشتو کې د کشميريانو په زړونو کې داسې يو وحشت خپور کړ چې يوازې د هغـهٔ د نوم په اخېـستلو به د هغوی په زړونو کې يو ناڅاپه وحشت رامنځته سو او له خپل پيغمبر څخه به يې د مرستو غوښتنه کوله. د آزاد خان يو له ډېرو کوچنيو غوښتنو څخه چې زما په اند تر ټولو ډېره کرکجنه او کرغېـړنه غوښتنه ده، پر نڅاګرو او يا بدلمنو ښځو باندې د مالياتو وضع کول ول. هغوی بايد د پوليسو رئـيس ته راپور ورکړي چې څومره روپۍ يې تر لاسه کړي دي او غټه اندازه يې بايد د پوليسو رئـيس ته وسپاري. پر دې برسيره هغوی د پوليسو د رئـيس له اجازې پرته نه سي کولی په هـېـڅ جشن يا بلې پـېـښې کې ګډون وکړي. د ښځو له دغې ډلې سره داسې سخت چلند چې

اغلباً د هغوی پر وړاندې له زیاتې څخه کار اخیستل کېږي طبعاً د ټولنې زړه وربانديې سوځي، د جدي بدلون لامل سوی دئ. سره له دې چې کشمیر د خپلو ښکلو ښځو له کبله شهرت لري خو اوس د هغوی لږ شمیر د بد لمنو ښځو په منځ کې لیدل کېږي.

دغه ولایت له شلو تر دیرش لکو روپیو پورې مالیاتي عواید راټولوي او اووۀ لکه روپۍ یې د تیمور شاه خزانې ته لېږل کېږي. د کشمیر د لښکر په اړه چې زه یې د یوې برخې شاهد وم تقریباً ۳۰۰۰ سپارۀ او پلي چې عمدتاً افغان [1] سرتیري دي دا دوه کاله کېږي چې ډېره لږ یا حد اقل تنخواه تر لاسه کوي. د هغوی غټې شمېرې چې کوم ښـۀ خوراکي غوراوی یا انتخاب یې نـۀ درلود اړ سول چې د سینګره [2] Singerah یا واتر نت – Water- nut په مغز خپله چاره وکړي او وربانديې ژوندي پاتې سي، سینګره د سیمې د اوبو پر غاړو په پریمانه اندازه وده کوي. (واتر نت یو ډول مغزنه میوه ده لکه چهارمغز چې سوربخن نصواري رنګ لري. -ژ)

د کشمیر د والي طبیعت ته په کتلو چې عمده مشخصه یې بې معنی بې رحمي او ورانکاري ده، ښايي تاسو به تعجب وکړئ چې دی ولی تر اوسه د محکمې له لورې له مجازات یا محدودیت سره نـۀ دئ مخامخ سوی. برسیره پر دې، ددې ټکي په پام کې لرلو سره چې ددغه ګوښي ګوټ یا منزوي ولایت لاره له غیر دوستانه یا خپلواکو سیمو څخه تېرېږي او دا چې تیمور شاه د خپلو پریمانو پورونو او د خپلو ځواکونو د ضعف له کبله او ورسره د داخلي خیانت له ویرې او لټې ته د لېـوالتیا په پار د لیرې پرتو سیمو پر وړاندې له اړینو اقداماتو څخه منع سوی دئ، دغو ټکیو ته په کتنې په څرګنده پوهېږو چې د کشمیر په کورنیو چارو کې د تیمورشاه د بې تفاوتۍ دلایل په څه کې دي. تیمور شاه چې په باج بسنه یا اکتفا کوي او په ندرت سره دې ته لېـوالتیا لري چې یو لېـږې پروت

---

[1] - ددې ولایت خلک په ندرت په نظامي چارو کې لیدل کېږي، څکه داسې ښکاري چې دوی له نظامي چارو څخه بېزاره وي. افغان دولت په نظامي چارو کې کشمیریانو ته په لښکر کې د داخلیدلو د اجازې په هکله سخت قانون لري. عادي خلک د ژمي په موسم کې اغلب وختونه له ځان سره یو کوچنی کلالي نغری ګرځوي او په خپل ورون پورې یې تړي او دوی ته د سوځېـدلي دود وهلي ظاهر ورپه برخه کوي، که یو کشمیری وغواړي په پټه له لښکر سره یو ځای سي نو په ډېره آسانه پېـژندل کېـدای سي. داسې ښکاري چې د هغوی د خوښې وړ وسله، غوځاروونکی (پرتاب) وسله ده چې په کارولو کې یې مهارت لري او دوی ته اجازه ورکوي چې له لېـرې خوندي واټن څخه د دښمن پر وړاندې مقابله وکړي. – لیکوال

**The natives of this province are rarely seen engaged in a military occupation, from which their genius seems averse; and it is held an established rule in the Afghan government, to refuse the admittance of a Kashmirian into their army. The common people usually carry abroad with them in the winter season an earthen stove, which hanging near the thigh, gives it a scorched appearance; and by this mark a Kashmirian is discovered, should he by stealth endeavour to enlist. The fling, in the use of which they are expert, seems to be their favourite weapon, and enables them with little variation to oppose an adversary at a distance, and from places of security. {Volume II page 29, PDF format both volumes combined page 372 Footnote}**

[2] - سینګره د بومي وګړو د ټیټې پاړکې یا طبقې د پام وړ خوراکي برخه جوړوي او د مارکیټ انحصاري حق لري چې دولت ته په کال کې دولس زره پونده عاید جوړوي. - لیکوال

حاکم یا بولندوی تر څار لاندې ونیسي. زه احساس کوم چې دلته باید خپل تأسف په دې دلیل ولیکم چې ما له خپل سفر مخکې د ښاغلي برنیه دقیق او روښانه خاطرات چې د هند د تأریخ په برجسته وو لیکوالانو کې محترم دئ نـهٔ ول لوستي؛ خو له دې سره سره که دغه لنډ روایت له کشمیر څخه د ښاغلي برنیه انځور چې له دقت څخه برخمن دئ وکولی سي د هغـهٔ د مهال یوه برخه تصدیق او روښانه کړي زه به یې قدر وکړم او که زما د سفر له کبله هر ډول ممکنه ستونزه رامنځته سوې وي هغه به په درنښت جبران کړم. ښاغلی برنیه له داسې مزایاوو څخه برخمن وو چې ډېرو لږو آسیایانو تجربه کړي دي او د علمي ټولنې لپاره د نـېکمرغی ځای دا دئ چې نوموړي له خپلو ورتیاوو څخه په بشپړه توګه ګټه اخیستې ده. کشمیر ته ددهٔ د لارې مل، دانشمند خان **Danishmund khan** وو، دانشمند خان د اورنګزیب یو له غوره اشرافو څخه وو. دانشمند خان د علم او ادبیاتو د قدر په پوهـېدلو سره دغه فرانسوي الاصله مستعد لیکوال وهڅاوهٔ چې د کشمیر د جذابو محصولاتو بـېلابـېل ډولونه په بشپړ ډول وڅـېړي. همدا شان هغـهٔ د پردې تر شا هغه مهم تحولات په تفصیل شرحه کړي چې اورنګزیب یې د هندوستان تخت ته ورساوهٔ.

دې ټکي ته په کاتو چې برنیه په یو شمیر کلیدي پېښو کې مستقیم ګډون کړی او یا د پـېښو مستقیم شاهد وو چې ټول یې په مستقیم او جذاب ډول سره شرحه کړي دي زه په ټینګار سره ددغـهٔ ژور او سنجول سوي کتاب بشپړ لوستل توصیه کوم. دغه لیکوال هماغومره چې عمدتاً له داسې مسلمانانو سره یې سر او کار درلود چې د هندوانو د باورونو پر وړاندې بې اعتنا ول او د بشپړې څـېړنې لپاره لازم اسناد نـهٔ لري په هماغه اندازه په دې نـهٔ دئ توانـېدلی چې د هندوانو د دیني تعالیمو او اصولو جوهر په بریالی توګه روښانه کړي. یوازې په همدې برخې کې غواړم د ښاغلي برنیه لید لوری تر پوښتنې لاندې ونیسم. د کشمیر په هکله ددې پای-لیکنې په پای کې له تاسو هیله کوم چې ماته اجازه راکړئ چې له سیمې څخه خپلې بـېلابـېلې تجربې شریکې کړم.

په مجردې چې ښار ته ورسـېدم د ذوالفقار خان په کور کې یو آپارتمان راته راکړل سو. د ذوالفقار خان درانده شخصیت ته په کتلو او ما ته د هغـهٔ د مرستې د لـېوالتیا په پوهـېدلو مې تکل وکړ چې همدلته به پاتې سم. خو زما خدمتګار یعنی هماغه کس چې مخکې یې په جمبو **Jumbo** کې پر ما برید کړی وو زما حضور په هغه کورکې چې معرفت لیکونه مې وروړي ول فاش کړ. نتیجتاً له ما څخه په ټینګار وغوښتل سول چې که غواړې ونـهٔ ځورول سې نو زما د کوربه کور شیخ میرزا ته لاړ سه او هماغلته پاتې سه. په دې توګه اړ سوم چې د خان له کور څخه ووځم او زه به تل له هغه څخه په درنښت یادونه وکړم. پلار یې د هند په شمال کې د افغانانو او

سیکهانو د یرغلونو پر مهال لوړ مناصب درلودل [1]. ذوالفقار خان چې په څو جګړو کې ګډون کړی وو د جګړو د ډګرونو د پردو تر شا له انګیزو څخه بشپړه خبرتیا درلوده. د هغه مهال د پېښو په اړه د هغۀ پوهه او خبرتیا چې ما ورڅخه ارزښتناک معلومات تر لاسه کړي د مستدلو او دقیقو قضاوتونو څرګندویه ده او له هاغه ډول تعصب څخه پاک او په هغو تنګ نظرانه باورونو پورې محدود نۀ ول چې اغلباً د یوۀ مسلمان پر فکر حاکم وي. نوموړي خپل دیني مناسک په شدت او له قضاء کولو پرته ترسره کول او د هغو پر سموالي یې بشپړ ایمان درلود؛ که څه هم دۀ لیدل چې زه ددۀ په کورنۍ کې له دودیز عبادت څخه مرتباً غاړه غړوم خو دۀ به راته نۀ په دې هکله څه نه ویل او نۀ به یې ګوتنیونه ورباندې کوله.

د شیخ میرزا په کور کې د فوق العاده دوستۍ په وړاندیزونو راته ښۀ راغلاست وویل سول، البته له ټولو هغو بې معنی کلماتو سره بدرګه چې په معمولو بې معنی آسیایي کلماتو سمبال وي او چندان معنی یې نۀ درلوده. واقعیت دا دئ چې ددۀ ورور په جمبو کې فکر کاوۀ چې زه داسې یو لوی سوداګر یم چې وبه کولی سم ددۀ سوداګرۍ ته به پریمانه ګټه ورسوم؛ همدا خبره ددې لامل سوه چې په هماغه لومړي ځل او کتلو غوړه مالي پیل سي، لکه زما پښې یې په غېږ کې نیولې او زما ږیره به یې د ګلابو په اوبو پریوله. هغه په خپلو بې شمېرو خو بد خوندو پاملرنو تر فشار لاندې راوستلم خو په پای کې مې ورته وویل چې زما کار ما مجبوروي چې ژر تر ژره کابل ته لاړ سم. له قسطنطنیې څخه د یوۀ سوداګر راتګ او رسېدل ول چې ما ته لږ هوساینه را په برخه سوه؛ په هغه شیبه کې، شیخ وخت نۀ درلود چې له چا سره مؤدبانه خبره وکړي. دی پوهېدۀ چې زما استوګنه ددۀ کور ته هېڅ ګټه نۀ رسوي نو که کوم بل تورک راسي دی به د سترګو په رپ کې ما له کوره باسي.

له دې چې په کشمیر کې کوم کاروانسرای نۀ سته نو سوداګران له خپلو دلالانو سره پاتې کېږي؛ دلالان دداسې استوګنځیو په برابرولو سره ګټه تر لاسه کوي او معمولاً لوی او راحت کورونه لري. یو سړی چې د جیورجیا وو زما د کوټې څنګ ته اوسېدۀ، دی زما آرام او ښه ګاونډی وو او داسې ښکارید لکه چې زما په داستان باندې شکمن سوی وي. هغه د شک او تردید په ژبه راڅخه پوښتنه وکړه؛ یو ورځ یې راڅخه وغوښتل چې راسره ووینې؛ وروسته یې په پریکنده ژبه وویل چې ستا سر د یوۀ مسیحي سر دئ. کله چې ما ورته اخطار وکړ چې دداسې یوۀ خطرناک نظر له وړاندې کولو مخکې دې ښه فکر وکړې سړی وترهېد؛ دی باید پوه سي چې په یوۀ مسلمان هېواد کې یو رښتونی مؤمن په داسې لقب یادول درونډ جرم دئ. دغه جیورجیایي په راتلونکې کتنه کې د پرتلې له لارې راته

---

[1] -His father having filled high stations in the upper part of India, at the period of the <u>Afghan</u> and Sicque invasions. {Volume II page 31, PDF format both volumes combined page 374 }

وويل چې د يوۀ مسيحي سر شا خواته پلن او د کوپړۍ په پاسنۍ برخه کې هموار وي حال دا چې د يوۀ مسلمان سره د کوپړۍ په پاسنۍ برخې کې نرۍ مخروطي ډوله دئ کټ مټ لکه د بيزو سر. دغه گورجي يا جيورجيايي له خپل بل هېـواد وال سره چې په بنارس کې استوگن وو، سوداگري کوله. زما پر وړاندې د هغـۀ بې اعتمادۍ ته په کتنې چې کيدای سوای ماته منفي عواقب ولري له ځان سره مې فکر وکړ چې ما ته به عاقلانه خبره دا وي چې خپل ربښتونى داستان ورته فاش کړم. هغه ته مې ډاډ ورکړ چې که ما ته دې خيانت وکړ او يا په احتياطۍ ډول دې کومه ستونزه راته جوړه کړه نو په بنارس کې به خپل ټول املاک له لاسه ورکړې او ددۀ ملگرى به هم مجازات سي. دغه ژبه چې طبيعتاً شريفانه تومنه يې تر شا درلوده د يو ې لويې وفادارۍ ضمانت يې کاوۀ، هغه وفاداري چې په کشمير کې مې د خپلې استوگنې پر مهال ورځخه ډېره گټه واخيسته.

ديوان Dewan چې هره ورځ مې ليده خپلې پخوانۍ مهربانۍ ته يې دوام ورکړ او هماغسې چې ژمنه يې کړې وه له حاکم څخه يې اجازه وغوښته چې ما ته دې له دې ولايت څخه د وتلو اجازه راکړي. ديوان په يوۀ يادداشت کې راته وښودل چې له هندوستان څخه يو تورک له خپلو دوه تنو خدمتگارانو سره غواړي د کمشير له لارې قسطنطنيې ته لاړ سي. ددې نقشې په خبرېـدو سره زه د هغې په احتمالۍ ناکامۍ باندې اندېښـمن سوم؛ له دې چې کشمير ته ډېرى خلک د ساعت تيرۍ او وخت تيروولو لپاره راځي او ما ته کومه خاصه دنده نـۀ وه سپارل سوې نو ديوان ته مې وويل چې ددې غوښتنې د رد کيدلو احتمال سته. هغه ويره چې راسره وه د آزاد خان په خبرو تأييد سوه: «تورکان پياوړي سرتېـري دي» دا هغه څه ول چې دى وروسته گرځـېد او تکل يې کړى وو چې ما په خپل لښکر کې ځاى پر ځاى کړي. ديوان ډېره هڅه وکړه چې زما د هېـواد له ليدلو څخه خپله لېـوالتيا ځرگنده کړي، زه خپله له خپل هېـواده ډېره موده ليرې وم نو ځکه دديوان دا هڅې بې گټې وې او په دې باوري سوى وو چې ځوک چې زما په شان په يوې غوټې کې بند وي ورځخه کومه گټه نه سي ترلاسه کولى. هغه په لوړ غږ په هندو غږ وکړ چې له خپلې غوښتنې نور لاس پر سر سي ځکه چې هغه پريکنده پايلې ته رسـېدلى دئ.

کله چې ديوان دا معلومات راته راکړل په ځـېره او چلند کې يې د پام وړ نا آرامي له ورايه ښکاره سوه؛ ښايي تصور وسي چې گنې زه هم وارخطا يم نو ما هم هاغه ډول تسليمي په ځان کې ښکاره کړه چې يو آسيايي يې په سختو شـېبو کې له ځانه ښکاره کوي او ومې ښودله چې ديوان ته تسلى ورکوم او په حقيقت کې ما ته دا معلومات ډېر ضروري ول. له همدې شـېبې وروسته مې دى هـېڅکله

ونـهٔ لید [1] او د خپلې ماتې پېښنه مې بل چا ته ونـهٔ ویله ځکه زه ښـهٔ پوهـېـدم چې که دا خبره فاش سي نو هيڅ څوک دا جرئـت نـهٔ کوي چې راسره مرسته وکړي او یا ان پناه ځای راکړي.

زه له دې مخمصې څخه د وتلو په چرتونو کې ډوب وم چې بانکدار مې فکر ته راغی چې له جمبو څخه مې ورته حواله اخیستې وه؛ له یوې یا دوه وو ورځو وروسته مې ورڅخه د پاسپورت غوښتنه وکړه. هغه راته په ځرګنده ژمنه وکړه چې مرسته به راسره وکړي؛ له دې چې هغه مهال والي ورته درناوی درلود نو د بریالیتوب لپاره مې ډېره هیله درلوده. د (خروی Khuroe ) له نوم سره د هر ډول نغښتي خطر د مخنیوی لپاره چې په بل لیک کې مې ورڅخه یادونه کړې ده پرېکړه وکړه چې د یوهٔ مسلمان سوداګر یوسف له نوم څخه استفاده وکړم چې پـېـښـور ته په سوداګریز سفر ته روان وو. خو په هغه ورځ چې په پام کې ول زما پاسپورت صادر سي زما بدمرغی د اوضاع کنترول په لاس کې واخسیت. بانکدار د والي خښم راپارولی وو او دا ددې لامل سو چې د بانکدار چرت ګډوډ سي او زما کار یې هـېـر سو. له بانکدار څخه غوښتل سوي ول چې حکومت ته دې ستر پور ورکړي خو بانکدار د احتمالي خطراتو په پام کې لرلو سره ادعا وکړه چې دا کار نـهٔ سی کولی. د وروستي ځل لپاره چې زه یې کور ته ورغلم د آزاد خان له ویرې لکه پاڼه رپـېـدهٔ او ډاریدهٔ چې آزاد خان وربانديې په قهر سوی دئ. [2]

د کشمیر د حکومت په اړه د بحث په برخه کې ما دې ټکي ته نغوته ونـهٔ کړه چې حکومت له دې مخکې سوداګرو ته پاملرنه نـهٔ کوله، هغه سوداګر چې دغـهٔ ولایت ته ثروت راوړي درناوی یې کـېـږي او لطف وربانديې کـېـږي. هغه چلنجونه یا خنډونه چې زما د تګ مخه یې ونیوله اهمیت یې وموند او ماته یې تشویش وزېـږاوهٔ. زه د یوهٔ دمدمي مزاجه تیرغمال یا مستبد تر کنترول لاندې وم او ظاهراً کیدای سوای راته وژونکي اوسي نو د وروستیو پـېـښـو له کبله مې شخصاً نـهٔ سوای کولی محکمې ته مراجعه وکړم. د خپلې نومـېـدی د پټولو په هڅه کې مې له هماغه جیورجیایی یا ګرجي سړي څخه چې مخکې مې یاد کړ او پرته له دې چې د خپلو مخکنیو ماتو جزئـیات ورسره شریک کړم وغوښتل چې زما د وتلو لړی چټکه کړي. متوجه سوم چې ډیریو اداري کارونو د دیوان پاملرنې ته اړتیا درلوده خو له ما سره د هغه دوستي ددې خنډ سوه چې نور ورته مزاحمت رامنځته کړم. کار په آسانه او شوق سر ته ورسـېـد او له پینځلس ورځني حضور او لړو بډو پای ته ورسـېـد. په دې پسې مې له یوهٔ پـېـښـوري څخه چې د بـېـرته تګ تکل یې درلود یو آس

---

1 - وروسته خبر سوم چې دغه بدمرغه سړی د آزاد خان له لوري د ډېرو ظلمونو، ستمونو او هوسبازیو په کړس کې اعدام سو.- لیکوال

2- ډیر وروسته خبر سوم چې د افغان واکمن له پلوه اعدام سوی وو.لیکوال

کرایه کړ او هم یې یو پاړسي ژبی هلک زما د مرستې لپاره راووست او د جون د میاشتې په یوولسمې نېټې مې له خپل ډاډمن جورجیایي یا ګرجي دوست سره یو ځای له کشمیر څخه سفر پیل کړ.

د جیلم سیند د ښار په لس مایلۍ کې موقعیت لري چې د ځمکې په لوی غوچ ځای کې د اتو مایلو په محیط د اوبو د یوې لویې ټوټې په بڼه جوړ سوی دئ، دغه محیط ته په کشمیري ژبې کې «وولر Wuller» وایي. دا سیند سویلي نرم بهیر لري او د ځمکې د سطحې په لوړیدلو سره تدریجاً نری کېږي.

ددولسمې نېټې په سهار سومپرې Sompre ته ورسېدو، واټن یې ۹ کاسه دئ (کاس د واټن لپاره هندي واحد دئ چې یو کاس درې کیلومتره دئ چې په دې حساب ۲۷ کیلومتره کېږي - ژ)؛ سومپره د جیلم د سیند په ختیځه غاړه کې واقع او له ګڼه ګوڼې ډک ښار دئ. هلته مې خپل پاسپورت وسپارهٔ او بل پاسپورت راکړل سو. درې ساعته مو دمه وکړه؛ دا دمه عمدتاً د سپریدلو د وسایلو او تجهیزاتو لکه د آس واګه، رکابونو او ټانګ په ترمیم ولګېده. ورپسې زه د آس له څښتن محب الله او د پاړسي ژبي هلک له پلار حسین سره د مارکور Makore په نوم د یوهٔ کوچني کلي پر لور چې لس کاسه یې واټن درلود وخوځېدلو. محب الله یو ښهٔ سفري پلو travelling Plillaw چمتو کړ، هغه د غوښو هډوکي ایستلي ول او زه په دې ویاړ چې د کشمیر حاکم مې غولولی دئ په خوشحاله زړه همدې ځای ته نېږدې جومات ته لاړم او هلته بیده سوم.

په دیارلسمې نېټې د څلورو کاسو په واټن هورې دانې Houree Dana ته ورسېدو چې د ولایت د سرحد په درې مایلۍ کې یو کوچنی کلی دئ. شپه سره وه له دې کبله ما خپلو د خوب پر جامو باندې خپل بالاپوش واچاوهٔ، په دغه بالاپوش کې مې خپل پاسپورت ایښودهٔ. زه تازه د ویښېدلو په حال کې وم چې یو غل راغی او زما بالاپوش یې کش کړ او له بالاپوش سره یو ځای وتښتېد. که زما بالاپوش له سرهٔ/ سرخ رنګ پرته بل هر رنګ درلودای فکر نهٔ کوم چې د غلهٔ به ورته پام اوښتی وای. زما غرور په ډېریو ځایونو کې ما ته د سرخوږیو د زېږېدلو لامل سوی دئ، همدغه غرور هڅولی وم چې د روښانه رنګ دا بالاپوش چې اغلب د خلکو پام ورته اوښت واخلم. ما په سرحد کې د تګ راتګ مسؤول افسر ته د خپل پاسپورت د سرقت او ورک کېدلو خبر ورکړ چې محب الله دا خبره تأیید کړه. ما وویل چې زه یو سید یم او ټول پوهېږي چې سیدان هېڅکله درواغ نهٔ وایي؛ حسین هم ددې موضوع د حقیقت د تأیید لپاره ان د خپل پلار په ږیره سوګند وخوړ. دا افسر چې یو کشمیری وو زموږ د داستان په اوریدلو داسې جدي سو ته به وایي چې ددې داستان یوه خبره هم نه مني او ویې ویل چې باید د بل پاسپورت مراحل طی کړم. زه پوه سوم چې زموږ

هېـڅ خبرې په دغـهٔ هوښيار ساتونکي اغيز نـهٔ دئ کړی (که يې کړی وای نو ما به تعجب کړی وای). د هغه د روغ نيتې يا حسن نيت د پارولو لپاره يې څو روپۍ [1] په پټه دغه افسر ته ورکړې. د روپيو په ليدلو په څـېـره کې يې يو ناڅاپه بدلون راغی او کله چې د موافقت موسکا يې پر شونډو وغوړېده ما هم خپل مزل ته دوام ورکړ. زموږ ډلې لا درې سوه يارډه واټن نـهٔ وو وهلی چې څلور تنه په موږ پسې په چټکۍ راغلل او چيغې وهې چې ودرېږو. په مجردې چې راورســېـدل زه يې ونيولم او ادعا يې وکړه چې زه حکومت ته يو جنايت کار يم او دوی ته دستور ورکړل سوی چې ما بېـرته ښار ته بوځي؛ ما ونـهٔ سوای کولی چې ځان ددوی له منګولو څخه خلاص کړم ترڅو چې له هماغـهٔ استدلال څخه مې چې مخکې مې په دروازه کې کارولی وو کار واخلم خو دا ځل په ډېـر قوت سره. حسين چې پاسپورت يې ليدلی وو او د سرقت شاهد وو د ډېرو روپيو د ورکړې له کبله يې ټکان وخوړ او ما ته يې د بې ځايه اسراف په خاطر د احمق خطاب وکړ؛ خو حسين نـهٔ پوهېـدهٔ ولې زه په عام محضر کې له پلټنو څخه بېزاره وم.

په څوارلسمې نـېـټې دومباه **Doumbah** ته ورسـېـدم چې پينځلس کاسه واټن لري؛ دا د مظفر آباد په مشر پورې اړوند يو کوچنی کلی دئ. په سيمه کې د کشمير سرحد په يوهٔ ګڼ ځنګل او ټيټو ونو پای مومي. په مخامخ لور کې يې د غرونو يوه لړۍ ده چې له شمال څخه د سويل پر لور غځـېـدلې ده او يو شمير څوکې يې اوسمهال په واورو پټې دي، دا يوه ژوره سيمه ده چې ورڅخه تـېـر سوم. د مظفر آباد د ولسوالۍ خلک چې د بومباس **Bombaus** په نوم پـېـژندل کـېـږي مسلمانان او په قوم افغانان دي او له کشميريانو سره چې د اوسني والي پلار ددوې سيمې ورانې کړلې دښمني لري. [2] د بل کـېـدونکي بريد ګنګوسې خپرې وې او په دې موده کې چې زه په بشپړ ډول تر نظر لاندې وم د محب الله مديريت له موږ سره کوچنۍ مالي مرسته وکړه او موږ ته يې اجازه راکړه چې خپل کار پرته له کومې ستونزې پر مخ يوسو. ددې ځای د سيمې څيره د دائـمي غرونو يو منظر ښيي چې څنګ ته يې د کرنيزو ځمکو ټوټې او کوچني کلي دي او هر کلی درې يا څلور کوټې يا کليوال کورونه لري.

---

[1] - د کشمير اوسنی پولي واحد روپۍ ده چې د روهيلکند په مُراد آباد کې ضرب کـېـږي او په روهيلکند کې يـې ارزښت لوړ دئ. د سپينو زرو د ټيټ کيفيت له کبله کشميري روپيو ته د پام وړ تخفيف ورکول کـېـږي، ددې ترڅنګ ددې سيمې نور پولي واحدونه هم سته لکه مسي مسکوکات چې د نيم پيني ارزښت لري او کوچنۍ د سيند مرغلرې دي. - ليکوال

[2] -**The inhabitants of the Muzzufferabad districts, denominated Bombaus, are Mahometans of the Afghan tribe and inimical to the Kashmirians , who , under the father of the present governor, had laid their territory waste. {Volume II page 39, PDF format both volumes combined page 382 }**

په پينځلسمې نېټې دولس کاسه لېـرې نوسيرې Nousere ته ورسېـدم، د لارې يوه برخه په ستوغ ډبرين غرۀ کې تيره سوې چې په موړونو ډکه او تاويږي. د همدې غرۀ په لمن کې يو سيند بهيږي چې دلته د مظفر آباد [1] په نوم پېـژندل کـېـږي او ډېر چټک بهيږي، په سيند کې منفرده لويې ډبرې پرتې دي چې د اوبو د توند بهير مخه ډب کوي او کله چې اوبـۀ په دغو ډبرو ولګـېـږي نو د تندر په شان لوړ غږ ورڅخه پورته سي.

په شپاړلسمې نېـټې شپږ کاسه لېـرې پانچ ګرام Paunch Graum ته ورسـېـدو، پر دې لارې سفر ان تر پرون لارې هم سخت وو. په ځينو ځايونو کې غر دومره ستوغ دئ چې د لارې په اوږدو کې يې ستنې اينبې دي چې پر ډبرينو تختو باندې د پليو کسانو لپاره د تګ راتګ لاره جوړه سي؛ آسونه پر نورو لارو ځي. دغه لاره په دې وروستيو کې د يوۀ مسلمان قلندر د خيريه مرستو په مټ جوړه سوې او همدا رنګه يې د مسافرانو د استراحت لپاره د غرۀ په ډډه کې په يوۀ ګوټ کې يوه کوچنۍ کوټنۍ هم جوړه کړې ده. دا د دغو ډول کسانو د عمومي خدماتو يو له نوادرو څخه ده چې زه يې پېـژنم. ددغو معلوماتو شريک کول زه خپله وجداني دنده ګنم ځکه په ځلونو ځلونو داسې پېـښې سوي چې دا ډول کسان په ناعادلانه ډول تر نيوکو لاندې راسي.

په اولسمې نېـټې لس کاسه لېـرې په مظفر آباد کې وم دا ښار د کشن ګنګا [2]د سيند په ختيځې ضلعې کې واقع دئ، دا يو کوچنی ښار دئ خو ډېر خلک په کې استوګن دي د سلطان محمود په نامـۀ د يوۀ رئيس استوګنځی دئ. کله چې ددۀ ډېر ځمکې د کورنې له نورو کشرانو سره وويشل سوې نو دۀ دا ښار يې له يوې سيمې سره چې په کال کې يو لک روپۍ عايد لري د خپل ځان د شخصي لګښتونو لپاره وساتـۀ.

د اتلسمې نېـټې په سهار له سيند واوښتم او د شال له يوې قافلې Shaul Kafilah سره چې د پېـښور پر لور روانه وه يو ځای سوم. له هغه مسافر وړونکي قايق څخه چې دلته استفاده کـېـږي اغلب وختونه د سيند د چټک بهير او د سيند د ډبرينو غاړو له کبله وران کـېـږي. زه په دغسې شرايطو کې په دې بريالی سوم چې له يوۀ طنابي پله څخه چې حدوداً ۱۰۰ يارډه اوږدوالی لري له سيند څخه تېـر سوم خو ډېر سخت کار وو. يو ډېر ټينګ طناب د سيند په دواړو غاړو کې په لرګينو ستنو پورې ټړل سوی دئ او د جغ / يوغ په

---

[1] - ددغه سيند صحيح نوم کشن ګنګا دئ- ليکوال

[2] - د کشن ګنګا سيند دلته په کيڼ لاس کې بهـېـږي او بهير يې له سويل مخ پر لويديځ دئ؛ ما ته وويل سول چې دا سيند د پنجاب په سر کې د غرونو په منځ کې جيلم ته ورغورځي. ما ګن شمير کسان وليدل چې د سپيانو او پسونو پوستکي يـې پړسولي ول او په دغو باندې له سيند څخه پورې غاړه اوښتل، دا پوستکي په سيند کې مرسته کوي چې خپل سرونه او سينه له اوبو دباندې ونيسي او پښې يې خوځـېـږي. - ليکوال

شان څو قطعې ترانښل سوي لرګي ورپورې تړل سوي دي، ددغو جغ په شان لرګیو منګولې په عمودي ډول راوتلي دي؛ د جغونو طرفین د کوچنیو طنابونو په وسیله ټینګ تړل سوي چې مسافرینو ته دا توان ورکوي چې ځان ورپورې ټینګ ونیسي. د کشمیر له سرحد څخه تر مظفر آباد پورې لاره مخ پر سویل لویدیځ تللې او د غرنیو سیمو او ستوغو دَرو له منځه تېرېږي.

په اتلسمې نېټې مې په یوه جومات کې دمه وکړه چې د کشن ګنګا په لویدیځ اړخ کې وو.

په نولسمې نېټې زموږ قافله له سیند څخه د یوه کاس په واټن په وچې کې پر مخ لاړ. د ورځې تودوخې او زما ناروغۍ دواړو زما انرژي دومره لږ کړې وه چې په سختۍ سره مې څو ګامه له شدیدې ستړیا او له درد پرته نهٔ سوای اخیستی. خو زما کوچنۍ اړتیاوې په آرامۍ د محب الله له خوا راته چمتو کېدلې او ښهٔ خوراک یې راته چمتو کاوهٔ او زما چلم یې له ځان سره لېږداوهٔ.

په شلمې نېټې د دریو کاسو په واټن د «نها **Nhah**» په ختیځې ضلعې کې د «دني **Dunee** » کوچني کلي ته چې د یوهٔ نري سیند پر غاړه ودان دئ ورسېدو، دا سیند کشن ګنګا **Kishen Gunga** ته لوېږي. قافله همدلته تر هغو پاتې سوه چې د کلي اوسېدونکو پُل جوړ کړ، دا پُل له دوه وو لویو لرګیو جوړ وو، د لرګیو تر منځ واټن درې فوټه وو او په منځ کې یې د لرګیو تختې په طنابونو تړل سوې وې. ددې کار تر سره کول ډېر ستومانه کوونکی وو خو د کار لړۍ د سلطان محمود په وسیلې چټکه سوه، سره له دې چې هغه زوړ سړی وو خو له خپله ځانه یې ډېره انرژي او صبر ښکاره کړ. د پله لپاره مواد په اوبو کې د لامبلو په وسیلې له لیرې ځایه راوړل کېدل خو د اوبو د بهیر په دلیل له مناسب ځایه تیر سول. موږ اړ سو چې د لرګیو لپاره په «دني **Dunaa**» کې تر اته ویشتمې نېټې پاتې سو. وروسې مو درې کاسه واټن مزل وکړ او په یوې متروکې درې کې مو دمه ونیوله.

په نهٔ ویشتمې نېټې د لسو کاسو په واټن د یوهٔ غرهٔ سر ته ورسیدو، دا دجدون **Jiddon** د ولسوالۍ برخه ده او مشر یې یو پټان **Patan** دئ. ددې غرنۍ سیمې په یوهٔ ستوغ ځای کې لاره د باران له کبله ښویه سوې وه او زما آس پر ځمکه ولګېد. که زما لاس ته د ونې څانګه نه وه راغلې نو زه به هم لاندې د ګړنګ کندې ته لوېدلې وم. په همدې شپه له یو شمیر ستونزو سره مخامخ سوم چې زما په شان مسافران ورسره مخامخ کېږي. زما بکس په بشپړ ډول د باران په اوبو ډک سوی وو؛ له بلې خوا په خپلو د ځنباک په اوبو پسې لالهانده سوم، ډېر یې وځورولم له بل لوري یوه ټوټه لرګی یا بوټی هم نهٔ وو چې اور ولګوم. دغه حالت ددې لامل کېدهٔ چې ډېر ژر خوابدی او مجبور کېدم چې له خپلو ګاونډیو سره په تونده ژبه او جر او بحث وکړم. په پای کې محب الله له لېرې لارې څخه د اوبو په راوړلو راسره مرسته وکړه او همدا شان یې د پسه له غوښې څخه چې درلوده مو،شوربا جوړه کړه؛ دا شوربا زموږ ډلې ته چې

ډېره وړې وه ډېره په زړه پورې وه. د جدون لارې ته لاسرسی سخت دی نو ځکه اغلب وختونه ورځخه ګټه نـهٔ اخیستل کـېـږي. ما ته وویل سول چې زموږ له قافلې پرته نور سوداګر هیڅکله په دې لاره نه ځي. دا لاره له «پکلي Puckley» څخه تـېـرېـږي خو ددې ځای خلک معمولاً بلوسګری یا تیري ته چمتو او په غلا کې شهرت لري. په دې وروستیو کې دوی له هټیو څخه ګڼ شمـېر غلاوې کړي دي او همدا ددی لامل وو چې موږ د ډلې سرپرست دا لاره خطرناکه وبلله.

په دېرشمې نـېـټې موږ د «منغلي Manghellee» په کوچني ښار کې د ښادي خان Shadee Khan په کور کې چې د «تیدون Tiddoon» مشر دئ دمه وکړه. همدلته مو توقف وکړ ترڅو د ګمرکي محصول او د بدرګه کسانو لپاره د مالي وجهې بند و بست وکړو چې د جون تر څلورمې پورې په دې ټوله لاره کې راسره ول. په همدې ورځ د «کوټیلي Kotillee» پر لور وخوځـېـدو، هلته د «میمون خان Meimoun Khan» کلا ده؛ میمون خان د «جنول Janoul» د رئـیس له پلوه دلته کنبـېـنول سوی او هم د نوموړي رئـیس ورور دئ. په پینځمه نـېـټه مو په دې دلیل توقف وکړ چې د سوداګرو تر منځ د لارې پر سر د رامنځته سوي اختلاف لپاره د حل لاره ومومو.

په شپږمې نـېـټې اتـهٔ کاسه لیرې نعمت سرا یا عنایت سرا Nheamut or Enayet Sarau ته ورسـېـدو چې یو استحکامي کلی دئ او یو کاروان سرای لري او د جنول په لویدیځ حد کې واقع دی چې د ګل شیر خان سیمه ده؛ ګل شیرخان په قوم یو افغان مسلمان دئ.[1] ما ته خبر راکړل سو چې سوداګر به دلته د څو ورځو لپاره پاتې سي تر څو د ګمرکاتو حسابونه یې تصفیه سي او وروپسې د ګل شیر خان د استوګنې سیمې ته ځي. دلته به هم د نورو تم ځایونو په شان اوږد مهالی انتظار ولرو. له همدې کبله مې محب الله ته وړاندیز وکړ چې که وکولای سو د خپل سفر لپاره کومه بله لنډه لاره غوره کړو. هغه زما وړاندیز په ورین تندي ومانـهٔ او ژمنه یې وکړه چې له سیمې او اشخاصو سره ددهٔ بلدیت ددوی د بریا چانس لا ډېروي؛ خو ورسره یې راغبرګه کړه چې لومړنی شرط زما له دستوراتو څخه بشپړ اطاعت او د بې صبرۍ کنترول دئ چې دهٔ په ما کې لیدلي ول.

---

[1] - On the 6th, at Nheamut or Enayet Serau , eight cosses , a fortified village, with a karavansera, situate on the western limit of Janoul, the territory of Gul Shere Khan , a Mahometan of the Afghan tribe. {Volume II page 43, PDF format both volumes combined page 386 }

په اوومه نېټه موږ له سراوس Serauce څخه ووتلو او له لارې سره د يوهٔ بلد سړي په ملتيا له يوې خلوت لارې تېر سوو او پرته له کوم مزاحمت د تيرون Tyrrhone له سيمې چې ډير خطر په کې دفع سوی وو تېر وو او د ورځې په تودوخه کې مو په يوهٔ کوچني او تينګ کلي کې دمه وکړه.

ماښام مهال له څو خطرونو وروسته ۹ کاسه ليرې د کوټ کلا fort of Kote ته ورسېدو، دا ځای او ورځېرمه ځای د نجيب خان دئ. د يادونې وړ ده چې عنايت سرا د غرونو د لړۍ په لويديځې ضلعې کې په يوې چاودې کې واقع دئ، دا غرونه د پنجاب د سر په اوږدو کې پراتهٔ دي. ما له ګنګا څخه په لږ تغيير سره د غرونو د لړۍ تر دې برخې پورې سفر کړی وو او له همدې ځايه هموارې سيمې ته راکوز سوم.

په اتمه نېټه پينځه کاسه وړاندې مري Mourree ته ورسېدو، دا ځای د هاربري Harbarry قلمرو دئ چې رئيس يې يو قدرتمند افغان دئ. [1] موږ خپل خوځښت له کوټ Kote څخه په خوښۍ پيل کړ. په دې خوشحاله وو چې له داسې يوې ډلې څخه مو خلاصون ترلاسه کړ چې تل له خنډ او ځنډ سره مخامخ وه او په ډېرې لېوالتيا مو غوښتل چې په نوې مونډل سوې لارې کې چټک سفر وکړو خو اوس په دې لاره کې د غلو له خطر سره هم مخ يو. موږ په همدې خوښۍ کې وو چې يو مسافر راغی او ويې ويل کله چې تاسو له کوټ څخه خوځېدئ څو تنه سپرو ستاسو پل ونيو او چمتو دي چې تاسو لوټ کړي؛ دې خبر زموږ خوښي ترغې په ترغې کړه. محب الله په چټکۍ سره پرېکړه وه چې بېرته کلا ته ستون سي او ويې ويل چې که کلا ته وګرځو نو غلهٔ به موږ ته د تاوان له رسولو منصرف سي. محب الله زه د سيمې د يوهٔ استوګن سړي په کور کې ځای پر ځای کړم او ورپسې همدې ځای ته نېږدې يوهٔ کلي ته لاړ چې هلته د همدې سيمې يو سيد اويو قدرتمند اوسېدهٔ ترڅو ورڅخه مرسته وغواړي؛ محب الله وروسته د يو چا په لاس احوال راکړ چې سيد زموږ د ملاتړ خبره منلې ده. په مجردې چې دا ښهٔ خبر راورسېد زه لاړم چې سيد ووينم او د هغهٔ له مرستې څخه چې په داسې موقع کې يې نهٔ ده سپمولې مننه وکړم. زه چې لاړم ګورم چې سيد د سيوري لرونکو ونو په منځ کې د ونو سيوري ته په يوهٔ کټ کې غځېدلی دئ او زامنو يې ورته پکه وهله او نورو کسانو ددهٔ بدن ته په آرامۍ مساژ ورکاوهٔ. سره له دې چې ددهٔ چلند هماغه چلند وو چې د پيغمبر محمد، ګڼل سوي يا فرضي اعقاب يې د خپل د نسب او موقعيت پر بنسټ کوي او دا په څرګنده د هغوی د برلاسي څرګندونه کوي خو دا سړی ډېر مؤدب او مهربان وو. او هغه کوچني تحايف او ډالۍ چې دهٔ ته

[1] -On the 8th, at Mourree, five cosses , a small village, depending on the Harbarry territory, which is governed by a powerfull Afghan chief. {Volume II page 44, PDF format both volumes combined page 387 }

وراندې کېدلې په ډېر درناوي يې منلې. ددې سرې اقتدار د وګړو په منځ کې دومره ډېر وو چې يوازې يوۀ خدمتګار موږ ته په هوسا او آرام ډول لاره رابنودله او موږ به هم په سخاوت نازاوۀ. ويره په افرادو کې د سخاوت پياوړی احساس راپاروي او کله چې د يوۀ دنيوي سرې له خوا په ماهرانه ډول سمبال سي نو پايله يې په غټو تحايفو او ډاليو اوړي. بروير Bruyere وايي چې دا د انسانانو په چارچلند کې يو مهم تفسير او نښه ده چې افراد اغلب له يوې فاجعې سره په مخامخ کېدو سره تر ټولو ښـۀ بهبود او ښـۀ والی له ځانه څرګندوي. موږ په مري کې وو چې خبر راغی له پېښور څخه يوه قافله ددې کور پر لور څو ساعته مخکې راخوځېدلې ده. دغه خبر موږ ډېر خوشحاله کړو په ځانګړې توګه محب الله ډېر خوښ سو ځکه دی په ډېرې لېوالتيا ددې خطرناک مأموريت پای ته منتظر وو چې پيل کړی يې وو.

په نهمې نېټې له لمر خاتـۀ مخکې د سپيده دم مهال وو چې له مري Mourree څخه وخوځېدو. په تيارۀ کې له څو ساعتو سفر وروسته يوې متروکې تيارې سيمې ته ورسېدو؛ دلته زما افکار هم د همدې تيارۀ ځای په شان تيارۀ سول ځکه موږ له ګڼ شمېر مشکوکو کسانو سره مخامخ سوو چې موږ يې له نـېږدو څارلو. ورپسې د پېښور له يوې ډلې سره مو ليدنه وسوه او همدلته سيمه ييزو خلکو محب الله او موږ ته په ډېر ورين تندي ښـۀ راغلاست وويل.

ځانښت مهال وو چې له اټک څخه ۹ کاسه ليرې د حيد بنغي Hyder Bunghee کلي ته ورسېدو، دا کلی له ګڼه ګوڼې ډک کلی دئ؛ اټک يو کوچنی ښارګوټی دئ چې د تيمورشاه په قلمرو پورې اړه لري. د قبيلې رئيس يو افغان دئ چې پادشاه او يا حاکمو شرايطو ته خپله وفاداري څرګندوي؛ خو له دې سره سره کله چې نور امکانات يې په لاس کې نـۀ وي دی تقريباً پينځوس زره روپۍ خراج ورکوي. [1]

په لسمې نېټې پينځه کاسه ليرې د بازار Bazzar کلي ته ورسېدو، دا يو کوچنی کلی دئ چې د اندس [2] د روډ د لويديځې غاړې د يوۀ مايل په ثلث واټن کې پروت دئ او ورڅخه واوښتلو چې له اټک څخه تقريباً ۲۰ مايله ليرې دئ. سره له دې چې د اوبو بهير د باد په وسيلې نـۀ ګډوډېدۀ بيا هم سيند په څپاند ډول په توند بهېدۀ او پسور يې د يو مايل يو په دريمه تر يوۀ مايل پورې وو او ټاپوګانو د اوبو د بهير مخه نـۀ نيوله او زما په ګومان د اوبو بهير له لويديځ څخه د سويل پر لور وو. اوبـۀ په شدت سره په تورو شګو رنګ سوې

---

[1] -The chief, an Afghan, yields an obedience conformable to the motions of that prince, or the leading motives of the day ; but, when destitute of other refource, he furnishes a tribute of about fifty thousand rupees. {Volume II page 46, PDF format both volumes combined page 389 }

[2] - په پارسي ژبې کې اندس ته معمولاً د سند Scind اوبـۀ يا آبِ سيند او کله ناکله نيلاب يا شنې اوبـۀ وايي او هندوان يې د سند او اټک په نوم يادوي.- ليکوال

وې او کله چې يوۀ لوښي کې اچول کېـدې نو شګې په چټکۍ سره د لوښي په بيخ کې کښېـناستلې. هوا سړه وه او احتمالاً د ويلي سويو واورو اوبـۀ وې چې په دوبي کې ويلې سوې وې؛ دا اوبـۀ دومره سړې وې چې کله چې مو څښلې زموږ غاښونه يې شديداً په درد کول. زموږ کښتۍ ۷۰ تنه، څو آسونه او زموږ ګڼ شمير وسايل او کالي لېـږدول. د کښتۍ نامناسب بار، د اوبو چټک بهير او د وحشت وهلو ويريدلو مسافرانو لالهاندۍ چې د سيند له اوبو څخه تېـرېـدل خطرناک او ټول يې زښت ډير ستومانه کړي ول.

د اندس سيند د هندوستان پر وړاندې د هندوستان په لويديځ کې د يوۀ لوی خنډ په توګه دئ. څرګنده ده چې که هنديانو د تاتارانو، افغانانو او فارسيانو د يرغلونو پر وړاندې د همدې سيند په اوږدو کې دفاع کړې وای نو کولای يې سوای چې يوه پياوړې امپراتوري جوړه کړي. لښکرونه تل له اندس څخه د تېـرېـدلو پر مهال له خنډونو او ننګونو سره مخامخ سوي دي او ددې کار د ترسره کولو په لړ کې يې سختۍ ليدلې او له خطرونو سره مخامخ سوي دي.

هغه لاره چې له مظفر آباد څخه مخ پر لويديځ تللې ده زه يې د غرونو له منځه په عليا پنجاب کې نعمت سرا **Nheamut Serau** ته ورسولم؛ له هغـۀ ځايه تر کوټ **Kote** پورې خورې ورې غونډۍ پرتې دي؛ خو له هغه وړاندې مسطح ځمکه ده چې لږ ونې لري. ددې سيمې خلک چې عمدتاً افغانان دي په هندوستان کې د پټهانانو په نوم يادېـږي، دا خلک په کوچنيو کلاګانو يا داسې کليو کې اوسېـږي چې تر کلي يې ديوالونه راتاو دي. هغوی د يو بل پروړاندې ويره او بې اعتمادي لري له همدې امله چې دلته مسافر په ندرت ليدل کېـږي. [1] په اټک او ورڅېـرمو سيمو کې د سيکهانو ورانيو دا سيمه په کنډوالو بدله کړې ده. د تېـر کال د باران کمبود دا سيمه يوې دښتې ته ورته سيمه وګرځوله.

په يوولسمې نېـټې د اکوړي کوچني ښار ته ورسېـدو. دا سيند له لوی سيند څخه چې له اټک څخه تېـرېـږي پينځه مايله ليرې دئ؛ له دې چې دا سيند د اندس سيند ته ورغورځي او د اټک په نوم دغـۀ ښار ته نـېـږي دئ نو ځکه د اټک د سيند په نوم يادېـږي؛ خو د افغانستان په يو شمير سيمو کې هغه ته د کابل سيند وايي. [2] هوا زښته ډېره توده سوې وه؛ زه خپل بدن ته حيران وم چې پرته له کومې سرپناه يې داسې سوځنده لمر زغملی دئ. ځانښت مهال وو چې اکوړي ته ورسېـدم؛ په مجردې چې ښه لوی او ساړه جومات ته ننوتم نو زما بستره يې راته خپره کړه او په آرامه اوږد وغځېـدم. ماسښپين د لمانځـۀ پر مهال يوۀ ملا راته وويل چې د لمانځه او اقتدا

---

[1] -The inhabitants, chiefly Afghans, or as they are called, in India, Patans , live in small forts or walled villages , and entertain such mutual dread and distrust of each other, that a single traveller is a rare object. {Volume II page 47, PDF format both volumes combined page 390 }

[2] - د سيند د اوبو بهير د دې ښار د سيول ختيځ په شپږ مايلۍ کې دئ. - ليکوال

لپاره چمتو سم. ما ورته وویل چې زه ډېر ضعیف یم او وضعیت مې ښـهٔ نـهٔ دئ او دداسې کار تر سره کول راته گران دي. هغـهٔ را ته په سپکاوي وکتل او ویې ویل چې زما د روغتیا او سلامتۍ لپاره لمونځ تر ټولو مهمه مسئـله ده. نیمه شپه وه چې یو څوک مې ولیدل او هڅه یې کوله کوم شی زما د بیدو کیدو له ځایه واخلي. کله چې ما ددهٔ بازو ټینگ ونیو وینم چې په غړ کې یې لړزه وه او ویې ویل چې د جومات ملا یم. ددهٔ له خبرو مې فکر وکړ چې دی هماغه سړی دئ چې لمانځه ته زما د نـهٔ پاملرنې له کبله یې راباندې انتقاد کړی وو. ښه نو زما ملگریه تاسو ددغو مسلمانانو په هکله څه فکر کوئ! چې په ورځ کې پینځه وخته اودس او لمونځ په ټاکل وخت کې کوي، شراب نـهٔ څښي او د خوک د غوښو له خوړولو ځان لیرې ساتي او یو شـمېر عربي عبارات لولي چې په خپله په معنی یې نـهٔ پوهـېږي او په دې سره په دې فکر کې دئ چې د عدالت قوانینو ته په نـهٔ اعتنا کولو کې یې د الهي تأیید تر لاسه کړی دئ؟ دا یوازینۍ پـېښه او نظر نـهٔ دئ چې یو دم دې رامنځته سوی وي بلکه په هندوستان کې زما د بـېلابـېلا دندو پر مهال لیدل سوي دي؛ او اوس دا نظر دداسې منسجمو شواهدو له لوري تأیید کـېږي چې د مسلمان د شخصیت په هکله زما په عامو احساساتو اغیز کوي. کله چې دوی دغه ډول چلند د یو بل پر وړاندې پرته له کومې ویرې ان د خپلو مذهبي مراسمو په لړ کې تر سره کوي نو داسې کوم شی سته چې ددوی مخه دې د هغو کسانو پر وړاندې ونیسي چې بـېل باور او ایمان ولري.

نن اکوړې ته نـېږدې د افغان سپرو یوې ډلې قرارگاه جوړه کړه او د ملخانو د لښکر په شان هرې خوا ته تیت سول او هر شی یې چې مخې ته راتلل ویې خوړل او وران ویجاړ یې کړل. [1] دا کار یوهٔ برید ته ورته یو کار وو؛ هغوی چې هر کلي ته رسـېدل برید یې کاوهٔ او د سیمه ییزو خلکو د ځان او ژوند په بیعه یې ځان او خپلو آسونو ته ډوډۍ برابروله. د سرتـېرو دا ډول لـېږل په دې معنی کـېږي چې دغو وړو موجوداتو ته د بقاء لپاره بله لاره نـهٔ سته مگر دا چې له عامه خلکو یې وشکوي؛ کله چې کار نـهٔ کوي اغلب وختونه د خپل شهزاده د ړندې سپما په دلیل دوی نا امیدهٔ کـېږي او مجبورېږي چې د ژوندي پاتې کـېدلو لپاره خپل آسونه، وسلې او جامې وپلوري.

په دولسمې نـېټې لس کاسه لیرې د پیر پیاه **Peer Pyah** کلي ته ورسـېدم.

---

[1] -THIS day a body of Afghan cavalry encamped in the environs of Akorah, and overspread the country like a swarm of locusts, devouring and destroying wherever they went. {Volume II page 49, PDF format both volumes combined page 392 }

په دیارلسمې نېټې اتۀ کاسه لېرې د کلاله Kalalah کلي ته ورسېدم، دا د محب الله کلی او کور دئ؛ همدلته راته ډېر ښکلی او په ورين تندي تود ښۀ راغلاست ووېل سول. ددغۀ کلي سړي کچړي/ قاطرې لري چې د سوداګريزو توکو په لېږد رالېږد کې کار کوي؛ د کلي استوګن ددوی د کلي د نوم د کلاله په پار کلاله وال بلل کېږي.

په څوارلسمې نېټې څلور کاسه ليرې پېښور ته ورسېدم؛ پېښور يو لوی او بډای ښار دئ چې د پيښور او د اړوندو ولسواليو حکومتي واګې يې د يوۀ افغان افسر پر غاړه دي او د کال اوۀ لکه روپۍ عايداتي ماليات پلازمېنې ته لېږي. [1] له اندس څخه تر پېښور پورې سړک تقريباً د لويديځ او سويل پراتۀ لري؛ هغه سيمه چې له اکوړي سره نښتې ده ټوله شګلنه ده او زښتې ډېرې ډبرې لري؛ له هغۀ ځايه تر پېښور پورې ځمکې ټولې کرنيزې ځمکې دي. د پېښور د اوسني ښار بنسټ ستر اکبر great Acbar ايښودی دئ. ويل کېږي چې اکبر متوجه سو چې افغانان ښاري ژوند او سوداګرۍ ته چنداني لېوالتيا نۀ لري. دغۀ وضعيت ته د بدلون لپاره اکبر د پنجاب خلک که مسلمانان ول که هندوان راوبلل چې دغه نوي استوګنځي ته دې راسي او له همدې مهاله وروسته ددې نسل په شمير کې د پام وړ زياتوالی راغلی دئ. [2] پېښور په يوۀ ښۀ ستراتيژيک ټکي کې موقعيت لري چې پرسيا او افغانستان له هند سره د سوداګرۍ له لارې نښلوي له همدې کبله ده چې پېښور په يوۀ مهم بازار او د بډايو سوداګرو لپاره په کور بدل سوی دئ. [3] دا خبره د شالونو د سوداګرو په اړه ډېره صادقه ده او د کشمير د خطرناکې او جنجالې لارې پر ځای دا خوندي او له امن څخه ډکه لاره غوره بولي او دوی ته اجازه ورکوي چې سوداګري توکي د اصلي قيمت په پرتلې په لړ لوړ قيمت وپيري. زه په پېښور کې د يهودانو له يوې کوچنۍ ټولنې سره مخامخ سوم چې په سوکالۍ او هوساينې کې يې ژوند کاوۀ او له بشپړ ملاتړ څخه برخمن ول.

---

[1] -On the 14th, at Peshour, four cosses, a large, populous and opulent city, governed, with the dependant districts, by an Afghan officer, who remits to the capital revenue of seven lacks of rupees. {Volume II page 50, PDF format both volumes combined page 393 }

[2] - The city of Peshour was founded by the great Acbar, who seeing, it is said, the Afghans averse from dwelling in towns and the occupations of commerce, encouraged the inhabitants of the Punjab, Mahometans, and Hindoos, to resort to his new settlement , where their descendants have greatly multiplied. {Volume II page 50, PDF format both volumes combined page 393 }

[3] -From its well chosen position , which unites, by a commercial chain , Persia and Afghanistan with India, Peshour has become an important mart, and the reſidence of wealthy merchants; {Volume II page 50, PDF format both volumes combined page 393 }

ما ته د پېښــور تودوخه د هندوستان په شمال کې تر نورو ټولو سيمو چې ماليدلي دي، تر ټولو شديده توده وه. ښايي نور ځايونه تر دې هم زښته ډېره تودوخه ولري؛ د شگلنو سيمو له سطحو څخه تاوده بادونه څوک مجبوروي چې په اوبو لمدې - پَردې - لاندې - ځای ته پناه يوسي؛ هرگوره د پېښــور تودوخه په اوړي کې سوځنده او سور اور ده. دا ټکی باید په پام کې ولرو چې له همدومره تودوخې سره سره بيا هم خلک د پام وړ روغتيا لري او په ندرت د ساري نارغيو تر اغيز لاندې راځي. بازارونه په پريمانو سوداگريزو او عالي خوارکي توکو په ځانگړې توگه د پسـهٔ په غوښو ډک دي؛ دا پسونه لوی او اوږدهٔ لمونه لري او گومان کېـږي ددغو پسونو سرچينه له سويلي امريکا څخه ده. سره له دې چې دغـهٔ ښار ته بې شمېـره سوداگر راځي خو په ښار کې هېـڅ کاروانسرای نـهٔ سته؛ زه ځان نـېکمرغه بولم چې ومې کولای سول يوهٔ قديمي جومات ته لاړ سم خو دلته مې زښتې ډېرې خولې توی سوې. دا موضوع ما ته يوه پېـښـه رايادوي چې ما ته يې لوی سرخوږی پيدا کړ.

په کشمير کې زما د شتمنۍ يوه برخه د کابلي روپيو په يوهٔ پينځه سوه گون بدله سوه او دا مې په يوهٔ کرباسي کمربند کې چې تر ملا به مې تړلی وو ايښودی وو.  په پېـښـور کې د خپلو پيسو د لټون پر مهال زما پام دغه پينځه سوه گون ته واوښت چې د خولو له کبله بيخي سوليدلی وو او نور د لوستنگ وړ نـهٔ وو او هېـڅ چا حتی حدس نـهٔ سوای وهلای چې د هغه د محتوی په هکله حدس هم ووهي. سر تر پايه تک تور سوی وو. زه په څرگندو ستونزو کې ښکېـل سوی وم چې سرچينه يې زما په مالي وضعيت کې وه او په داسې هېـواد کې وم چې ان خوشبيني هم راسره مرسته نـهٔ سوای کولی. دداسې ډلو تر څنگ اوسېـدل چې له هر ډول ښو يا منطقي اصولو څخه بې برخې ول کله ناکله يې نوميده کولم او زما حالت به يې له بده پسې بدتره کړ.  له دې سره سره هغه لېـوالتيا او اشتياق چې په لومړيو کې يې دا سفر لامل سو او په شور او شوق مې دغه سفر ته دوام ورکړی وو ددې لامل سو چې دغه تياره احساسات محو سي او د راتلونکو خوښيو لپاره يې يو رنگارنگ انځور راته انځور کړ.

وروسته له دې چې ما واورېـدل چې يو کاروان د کابل پر لور روانـېږي نو يوه کچره مې کرايه کړه او د تهکال گاونډي کلي ته لاړم، دا کلی  د هغو مسافرانو د يو ځاکېـدنې ټکی دئ چې د لويديځ پر لور سفر کوي. کله چې هلته ورسېـدم پوه سوم چې اصلي کاروان لا تر اوسه په پېـښـور کې دئ او يوازې څو تنه سپاره د خپلې چټکې ځغاستې او وسلو په توکل سهار وختي د کابل پر لور خوځېـدلي دي. له يوې خوا د خپل موجوده موقعيت په اړه په فکر کې ډوب وم او له بل لوري زما کچره چې تر ډېره پورې خرهٔ ته ورته وه او ورو ورو روانه وه او هم د کچرې - والا انديښنې چې پايله يې په ډېرو درواغو اوښتله دوی ټولو د پېـښـور له شديدې

تودوخې څخه زما د تـښتـېـدلو لـېـوالتیا ضعیفه کړه. کوښښ مې وکړ چې ځان یادو سپرو ته ورسوم خو هڅه مې ناکامه وخته او په دې سره په جومات کې خپلې کوټې را ستون سوم. یوه ورځ په بازار کې وم؛ بازار معمولاً د بیکارو او کار والا خلکو ځای وي؛ دلته په بازار کې مې یو څوک ولید چې له هغـۀ سره مې له مظفر آباد څخه تر عنایت سرا **Enayat Serau** پورې سفر کړی وو. له دې چې زموږ دواړو تګلوری یو وو نو موږ داوړو پرېکړه وکړه چې یو ځای به سفر کوو او هم به د لارې په اوږدو کې د لارې لګښت په خپلو منځو کې وویشو. هغه خوښي چې له نورو سره په ملتیا او اوسـېـدلو تر لاسه کوو دومره پیاوړې وي چې په طبیعي ډول پر یو بل باندې د مرستې او یا هم ساعت تیرۍ لپاره ډېره لګولی سو. په ډېر لنډ وخت کې دا سړی راته ښه دوست ښکاره سو او له یوبل سره د اړیکي په لرلو مې د هوساینې احساس وکړ. زما دا دوست نور محـمد نومـېـدۀ، کله مې چې د هغـۀ د مالي وضعیت په هکله ورڅخه پوښتنه وکړه نو پوه سوم چې دی یوازې یوه روپۍ نقدینه لري او بس. دا تر کابل پورې ددۀ او ددۀ د زوی او د آس د اړتیاوو مبلغ وو؛ دغه سفر ۱۴ ورځې اوږد سفر وو او دوی یوازې یوه روپۍ درلودله. نو دلته پوه سوم کله چې دا یوۀ روپۍ خرڅه کړي نو زما مرستې ته به اړتیا ولري. ددې ټکي په پوهـېـدلو چې که خپله شتمني ورته څرګنده کړم نو خطر ورسره سته؛ له دې کبله مې نور محـمد ته په زغرده وویل چې دم مهال یوازې درې روپۍ لرم. تر پلازمینې پورې تر رسـېـدلو به زه او ته خپلې روپۍ ګډې کړو او په همدغو روپیو او په الهي تدبیر ډېره ولګوو. دغه مسلمان سړي چې په څېـره کې یې ایمان او لـېـوالتیا ځلـېـدله زه وهڅولم چې باید مثبت فکره اوسم؛ ځکه چې رښتوني مؤمنان د اړتیا پر مهال هـېـڅکله یوازې نـۀ پرېـښودل کـېـږي.

د جولای په ۲۵ نـېـټه موږ له یوۀ لوی کاروان سره چې د کشمیر د باج یوه برخه یې لـېـږدوله او په شالونو کې ترل سوې وه سفر وکړ. موږ درې کاسه وړاندې د تهکال کلي ته ورسـېـدو او دلته مو د درې ورځني سفر لپاره خوراک توکي ځکه زیرمه کړل چې تر مخه مو په پرتو لارو کې استوګن وګړي لږ ول.

په شپږویشتمه نـېـټه څلور کاسه وړاندې د تیمروډ **Timrood** (ښایي جمروډ وي -ژ ) کلي ته ورسـېـدو؛ دا یو کوچنی خو ټینګ استحکامي کلی دئ چې د ډبرینو غرونو په سویلي ضلع کې واقع دئ؛ د غرۀ ډبرې د سوځنده تودخې تاو لاندنۍ دښتې ته منعکس کوي. ددې کلي اوسـېـدونکي اصیل افغانان دي؛ له سره دې چې پـېـښـور ته نـېـږدې دي نو په خپله تیمور شاه او یا د هغه حکومت

ته لړ درناوی کوي، دا خبره موږ ته زموږ د توقف په لړ کې راڅرګنده سوه. [1] د کشمیر والي زموږ له قافلې سره څلور تبتي سپیان د پادشاه لپاره لېږلي ول. هغوی په ځانګړو تختونو کې لېږدول کېدل او زښته ډېره پاملرنه ورته کېدله. د سپیانو ساتونکو دا سپیان د اوبو یوه ډنډ ته د اوبو څښلو لپاره بوتلل؛ په دې مهال یوه افغان مېرمن دډنډ پر غاړې د خپل منګي په ډکولو بوخته وه. مسلمانان دا ځاروي نجس بولي، مېرمن چې ولیدل دا نجس ځاروي له مسلمانانو سره دي نو خپل منګی یې ځای پر ځای پرېښود او د ډېرو په ویشتلو یې پیل وکړ چې د سپیانو او د سپیانو د ساتونکو ډله یې له ځانه لېرې کړه او په لوړو چیغو یې له کلیوالو څخه د مرستې غوښتنه وکړه چې ډېره اړتیا یې ورته درلوده. افغانان په چټکۍ سره راټول سول او د سپیانو او د سپیانو د ساتونکو مخه یې بنده کړه او پادشاه ته یې سپکې سپورې پیل کړې. هغه تر هغو اجازه نه درلوده چې د اوبو ډنډ ته راستانه سي تر هغو چې د قافلې ساتونکي ورسره مل نهٔ وي.

په ۲۷ نېټې اتلس کاسه لېرې د ډکې Dikah په نوم یوهٔ کوچني کلي ته ورسېدو چې د کابل یا د اټک د سیند په ختیځې غاړې کې واقع دئ، سیند دلته په ښي لاس کې بهېږي. له تیمرود Timrood (ښایي جمرود وي - ژ ) څخه دوه مایله لیرې یوهٔ نري تنګي ته ورسیدو چې د کلي په شمال کې د غرونو د لړۍ له منځه تېر سوی دئ. د تنګي په خولهٔ کې افغانانو زموږ قافله ودروله او د شاه له څو تنو سرتېرو پرته پر نورو ټولو مسافرانو یې یو لږ شمیر مالیه وضع کړه؛ همدا شان هغوی د پېښور له حکومتۍ څخه یو شمېر روپۍ تر لاسه کوي چې مسافران له مزاحمت پرته ددوی له ولسوالۍ څخه تېر سي. [2] ددغې ورځې د سفر په پیل کې چې خطر او ستړیا دواړه ورسره ملګري وې زښت ډېر شدید باران وورېد چې زما تقریباً ټول کاغذات یې له منځه یوړل او زما د صورتحساب کاغذونو ته نوره هېڅ نښه او علامه او کرښه نه وه پاتې او ما هغه ټول داسې باطل سوې وانګېرل چې ګټې د ټولو لګښتونو پیسې راکړل سوې دي. همدا شان کله چې ورځ خپل پای ته نېږدې کېدله ما د خپلې بې احتیاطۍ په پار ځان د یوې خطرناکې ماجرا په لومې کې ښکېل کړ او کولی سم د نتیجې نسبت یې ټول په ښهٔ چانس پورې وتړم. کله چې باران ودرېد، ډېر

---

[1] -The inhabitants of this village, genuine Afghans, have little respect, though residing so near Peshour, for either the person of Timur Shah, or his government, which was in some degree evinced during our halt. {Volume II page 53, PDF format both volumes combined page 396 }

[2] -At the entrance of the pass, the Afghans stopped the kafilah, and, excepting some troops of the Shah, levied a small contribution on all the passengers; they receive, also, an annual sum from the government of Peshour, for permitting travellers to pass unmolested through their district. {Volume II page 54, PDF format both volumes combined page 397 }

سوځنده لمر وځلېد او  له بل لوري نـهٔ کومه سرپناه وه. له دې چې اوږد سفر مو مخې کې پروت وو او قافله هم سوکه سوکه روانه وه زموږ تقریباً دیرش تنو آس سپرو چې عمدتاً مسلح وو لـېـوال ول چې له دغو ستونزو تـېـښـته وکړو نو پرېکړه مو وکړه چې د خپلې لارې له ملګرو څخه جلا سوو. که ما هغه درسونه زده کړي وای چې خلک یې معمولاً له تجربه کولو څخه زده کوي او د نتایجو خصوصاً د ځان په اړه مې د چارچلند په هکله سوکه او مسلسل فکر کړی وای نو هـېـڅکله به ددغې دون کیشوت [1] ډلې غړی نـه وای سوای. موږ شاوخوا څلور مایله سفر کړی وو چې د افغانانو یوه ډله د غرونو له شا راووتله او موږ یې ودرولو او ټینګار یې کاوهٔ چې ددوی له سیمې څخه د تـېـرېـدلو په پار دې یو څو روپۍ د حق العبور په نوم ورکړو. [2]   زه دلته د یوهٔ صادق قصه ویوونکي په توګه په نرۍ غاړه اعتراف کوم چې زموږ ډلې په زښتې ډېرې بزدلۍ عمل وکړ او له یوې ګډې هڅې څخه چې امکان یې ډېر موجود وو ګټه پورته نـهٔ کړه. موږ دیرش تنه پیاوړي، مصمم، په ونه او څـېـرو ښکلي، له ما پرته نور ټول فتیله یې توپک یا توده وسله په لاس وو. په مجردې چې مـیرځمن رانـېـږدې سو زموږ د ډلې مشر چې په تن غوټ، پیاوړی وو، پلنه ږیره او غاټ غاټ بریتونه یې وو او په یوه مست او سرکشه آس سپور وو یو ناڅاپه له سره تر پښو پورې په ویره کې ډوب سو او دا ویره د سترګو په رپ کې د ډلې په هر غړي کې خپره سوه. دغو غرنیو یوازې دومره وکول چې زموږ ویره یې ډېره کړله او پرته له پوښتنې ګروېږنې خپله معموله غلا یې پیل کړه؛ خو د قافلې د رسـېـدو له ډاره یې ونه سوای کولی چې هر څه له ځان سره یوسي. د نن ورځې د سفر د خطر په پوهـېـدلو ما مخکې له مخکې خپلې روپۍ په دوه وو اوږدو کوچنیو او نریو بکسکونو کې اچولې وې او د جورابې په شان مې په خپلو پښو پورې ترلې وې او همدلته مې پټې کړې وې. ماته یو ښه چانس راپـېـښ سو؛ کله چې افغانانو ولیدل چې زه د کچرې له پاسه د کوزیدلو کومه لـېـوالتیا نـهٔ لرم نو زه یې د کچرې له پاسه لاندې راغوځار کړم او په وچ زور یې زما د ځان کالیو ته لاس واچاوهٔ او زما د ځان د جامو بیلابیلې برخې یې وپلټلې ؛ کله چې زما په جامو کې یې کوم ارزښتناک شی ونـهٔ موند نـېـږدې ول چې وهل ټکول پیل کړي خو په همدې مهال کې د کشمیر د دیوان د کورنۍ یو هندو چې ما ورسره هلته آشنایي درلوده پښه راوړاندې کړه او وړاندیز یې وکړ چې زما د آزادۍ لپاره به څو روپۍ جزیه ورکړي.  دغه مهربان او لاس خلاصي هندو چې که دی له خپله مرګه ورروسته ونه غواړي چې بیا

---

1 -Don Quixote - د ۱۶۰۵ او ۱۶۱۵ز کلونو هسپانوي ناول نوم دئ چې په دوه وو برخو کې لیکل سوی دئ. - ژ

2 - We had advanced about four miles, when a small body of Afghans, which had issued from the hills and stopped us, peremptorily demanded a sum of money, as a toll for paSSing through their territory. {Volume II page 55, PDF format both volumes combined page 398 }

راژوندی سي نو خدای دې نـۀ ژوندی کوي زما لپاره يې ډېره هڅه وکړه او له مهاجمانو سره يې دومره په ترخه او تونده ژبه خبرې وکړې چې د غلو يوتن، دا هندو ډېـر ټينګ په څـپـېـړه پر مخ وواهـۀ. دا هندو ددوی څـپـېـړې ته تسليم نـۀ سو او د پيسو او مداومې هڅې په وسيلې يې وکولای سول چې خپلې موخې ته ورسـېـږي. ددې وضعيت په پای ته رسـېـدلو سره زه يو ناڅاپه په خپلې کچرې باندې سپور سوم او له خپلې تـېـښتـې مې د هوساينې احساس وکړ. په همدې حال کې وم چې يو ناڅاپه يوه کلکه ضربه مې په شا وخوړله، کله چې شا ته مې وکتل ګورم چې يو افغان ځانته زما د پام اړولو لپاره دا ضربه راکړه او په بريالۍ خندا په کړس کړس وخنديد او راته ويې ويل چې اوس زموږ ډله کولی سي خپلې لارې ته دوام ورکړي ځکه چې قافله ورسره په جنګ اخته ده. خو له دې سره سره هغـۀ راته وويل چې موږ بايد د خپل ځان د امنيت په پار صبر وکړو ترڅو قافله د تـښتـې له سيمې تـېـره سي. ما له ټو تنو نورو سره په چټکۍ ددغـۀ دستور پيروي وکړه؛ خو زموږ زړور مشر خپلې محتملې مرستې ته په کتنې د زړورتيا خبرې پيل کړې او ښرګنده يې کړه چې د خپل مال او ناموس د ببـرته د ترلاسه کولو لپاره به په افغانانو بريد کوي. سره له دې چې قافله په هماغو شاو خوا وه کې نـېـږدې وه او زموږ د مشر د ګواښ په بدل کې ښنمـېـدلې وه نو خپل خنجر يې راوايست او ډال يې هوا ته پورته کړ او د خپل له لاسه تللي مال د وصول په پار يې هغوی جګړې ته راوبلل. زموږ زړور محتاط افسر خپل ښنم او قهر کښـېـناوۀ خو په توندو خبرو يې وګواښل چې تاسو ته په مناسب وخت کې سخته سزا درکړم. د ورځې د سفر په پای کې يو هندو چې زموږ له ډلې څخه د مايل د ربعې په واټن ليرې سوی وو د غلو يوه کوچنۍ ډله په چټکۍ له غرو راکښته سوه او د څلور سوه روپيو په ارزښت يې ددۀ شمتـنې لوټ کړه؛ مخکې له دې چې هندو ته مرسته ورسـېـږي غلـو له لوټ سويو مالونو سره تـېـښتـه وکړه. د ورځنيو خطرونو او سختو کارونو له پای وروسته زما سترګې د کابل په سيند ولګـېـدلې او د ډکې د کوچني کلي په ليدلو مې زړه ډېـر خوشحاله سو او همدلته مو دمه وکړه. له تيمرود (جمردو - ژ) څخه تر ډکې پورې د سفر لاره اغلباً د (هـيـبر تنګي **Hyber Pass**) [خـيـبر تنګي] په نوم يادېـږي. د همدې لارې په اوږدو کې د غلو خطر د پام وړ دئ. له دې کبله د بدرګه ډلې افسر خپلې ډلې ته بولنه ورکړه چې له قافلې ووځي او خپل سفر دې سبا په شنۀ سهار پيل کړي. دا د امنيت او سرعت لپاره ښـۀ فرصت وو او نـۀ بايد له لاسه تللی وای؛ خو د کچرې واله راضي کول ګران کار وو. د نورمحـمد له مداخلې پرته چې هغه اطاعت ته مجبور کړي زه هم مجبور سوم له قافلې سره

چې ورو ورور روانه وه وخوځېږم. مخکې له دې چې له دې تم ځای څخه ووځم، اړینه بولم چې د هغو افغانانو په اړه یو څه ووایم چې موږ د هغوی له سیمو څخه راتېر سوي یو. [1]

ښایي تاسو ته به په طبیعي ډول د تعجب وړ وي چې د یوې لویې امپراتورۍ پلازمینې ته نېږدې د وګړو یوه کوچنۍ ډله ژوند ژواک کوي او په اصلي سړک کې لارې نیسي او لارې بندوي او چا یې لا تر اوسه مخه نـهٔ ده نیولې. د افغانانو د دې ډلې باغي چلند چې په دې هېـواد کې د (هیبریانو ) Hybers (خیبریانو – ژ) په نوم یادیږي په لومړي سر کې د تیمور شاه د دولت له بې کفایتۍ او د هغه د نظامي قدرت له فقدان څخه سرچینه اخلي. [2] هغوی د خپلې سیمې د جغرافیوي جوړښت د دلیل پر بنسټ چې له ډېرینو غرونو جوړه سیمه ده د خپل ژوندژواک تومنه له دغسې غیر مقید ژوندون څخه ترلاسه کوي. ددغو غرونو معدوده دَرې یوازې د انساني اړتیاوو بنستیز توکي برابروي. دغه شډله ډله د تمدن د وروسته پاتې لامل سوې ده، په دې ډول چې د هغوی ګڼ شمېـر د لرغونو تروګولدیتانو Troglodites [3] په شان د سمڅو یا په دقیق عبارت د ډبرو په سوریو کې ژوند کوي. سره له دې چې دوی د محـمد د دین پیروان دي خو له دین څخه د ډیرې محـدودې پوهې په لرلو په دې باور دي چې محـمد د هغوی پیغمبر دئ او څلور یاران یې درلودل او فارسیان د علي ټوله مذهبي فرقه شریر او کافر دي. د هیبري (خیبري- ژ) لهجې بنسټ په افغان ژبه کې دئ خو ډېره زیږه او حلقي لهجه ده او ګاونډ قبائیل ورباندې په سمه نـهٔ پوهـېږي. تیمور شاه چې ژمي یې په پېښـور کې تېـرول ځکه چې هوا یې تر کابل معتدله ده، تل له هیبر (خیبر – ژ) څخه د تـېرېـدلو پر مهال د هیبریانو (خیبریانو) تر برید لاندې راتـهٔ چې ددهٔ د کتار مخکینی او یا شاتینی ګارد به یې تر برید لاندې راغی. ما له یوهٔ ارمني سره ولیدل چې له ملتان څخه یې کابل ته سفر کاوهٔ. دی پېښـور ته ورسېـد. کله چې دی د هیبریانو (خیبریانو – ژ) له خطر څخه خبر سو نو بېـرته ملتان ته ستون سو، دغه سفر درې اونۍ وخت ونیو. نوموړی له هغـهٔ ځایه کندهار ته لاړ چې د یوې میاشتې سفر دئ او له کندهاره تر کابله پینځلس ورځنی سفر دئ. دغه سفر ټول ټال ۹

---

[1] - Before I quit this station it is necessary to lay before you a brief account of the tribe of Afghans, through whose district we had now passed. {Volume II page 57, PDF format both volumes combined page 400 }

[2] - The lawless conduct of this sect of Afghans, who are known in this country by the name of Hybers, originates chiefly in the imbecility of Timur Shah's government, and his want of military spirit. {Volume II page 58, PDF format both volumes combined page 401}

[3] - Troglogyte په سمڅو کې ژوند کوونکي؛ مغاره نشین - ژ

اونۍ وخت ونیوهٔ حال دا چې د هیبر (خیبر) لاره معمولاً ۱۱ ورځې وخت غواړي چې کابل ته ورسېږئ. دغه حقیقت له یوې خوا د ارمني د احتیاط او صبر او له بل لوري د هیبریانو (خیبریانو - ژ) د واهمې څرګندونه کوي.

په اته ویشتمې نېټې له لمر ختلو مخکې د قافلې له بدرګه ډلې سره یو ځای سوو. موږ له ډکې **Dickah** ووتلو او اووهٔ کاسه لیرې د بیسولي **Bissouly** کلي ته نېږدې مو ځکه توقف وکړ چې خپل کالي او ځانونه چې له سهاره تر دې دمه د باران په اوبو کې خیشته سوي ول وچ کړو. کله چې بېرته وخوځېدو د تکې تورې شپې د تورې تربږمې په دلیل او د اوبو بهیر چې یو ناڅاپه له باران وروسته د غرونو له منځه راپورته کېدهٔ او په ډېر قوت سره یې مخ په ځوږ غړمبهاری جوړ کړی وو او لویې لویې ډبرې یې له ځان سره راوړې نو د آسماني تندر په شان به یې لوړ غږونه جوړ کړل؛ دغه حالت موږ له سختو ننګونو سره مخامخ کړو. نیمایي شپه سوه، تورو وریځو آسمان نیولی وو او د اوبو د شرشر غږ هرې خوا ته خپور وو، دغه حالت په ما کې هم ویره او هم تحسین راپاراوهٔ او د طبیعت د ښکلا عظمت ته مې په رڼو سترګو کتل.

کله چې سیند ته نېږدې سوو ګورو چې سیند د باران له کبله پراخ سوی دئ؛ زموږ د ډلې مشر د خپلو مېرمنو له منځه خپله غوره مېرمن تر ټولو مخکې سیند ته واستوله. هغهٔ غوښتل چې مېرمن یې د ډلې تر اغېز لاندې رانهٔ سي. سره له دې چې مېرمن پر یوهٔ غښتلي آس باندې سپره وه خو په مجردې چې د سیند په اوبو ننوتله د اوبو بهیر په چټکۍ له ځان سره یوړه او ډوبه سوه. دا پېښه ددې لامل سوه چې موږ ټول یو ناڅاپه توقف وکړو او زموږ د ډلې مشر یې زښت ډېر وارخطا کړ، نوموړی لاندې پر ځمکه راغوځار سو او د خپلې معشوقې په برخلیک یې ساندې پیل کړې. سپیده دم مهال وو چې د هغې جسد د سیند پر غاړه چې ختو پوښلې وو وموندل سو. له مناسبو تشریفاتو وروسته د هغې جسد خاورو ته وسپارل سو او دا مهال چې د سیند اوبهٔ لږ او پسور یې لنډ سوی وو، موږ له سیند څخه واوښتلو.

په نههٔ ویشتمې نېټې دولس کاسه لیرې جلال آباد [1] ته چې یو وخت ډېر لوی ښار وو او اوس وران ویجاړ ښار دئ ورسېدو، له ورانیو سره سره بیا هم دې ښار ته تګ راتګ دوام لري. دلته یو عام بازار سته او په ګاونډ سیمه کې یې خام شکر تولیدیږي. دا سیمه پرون پراخه او حاصلخیزه وه خو نن عامه لاره یې له یوې وچې بیدیا څخه چې غونډۍ غونډۍ لري تېرېږي.

---

[1] - د اټک سیند ددې ښار د شمال په شاوخوا دوه مایلۍ کې بهېږي. - لیکوال [د ژباړونکي یادداشت : لیکوال لا تر دې ځایه یعني په جلال آباد کې د کابل سیند د اټک د سیند په نوم یادوي.]

**The Attock river runs about two miles to the northward of the town{Volume II page 60, PDF format both volumes combined page 403 Footnote}**

په دېرشمې نېټې اتۀ کاسه لېږې د بالاباغ کلي ته ورسېدو.

په يو دېرشمې نېټې لس کاسه لېږې د گندمک کلي ته ورسېدو؛ د گندمک د ختيځ په درې مايلۍ کې له يوۀ کوچني سيند څخه واوښتو، دا سيند مخ په سويل يا د ښي لاس خوا ته بهېدۀ همدلته له خښتو جوړ د يوۀ پلۀ د پاتې شونو نښې لېدل کېدلې. هوا دلته مخکې توده وه خو يو ناڅاپه سړه سوه؛ دغه بدلون د اقليم له کبله نۀ وو خو مسافرانو ويل چې دا ددې سيمې يوه خاصه ځانگړتيا ده. له دې سيمې څخه زموږ لنډې کتنې راته اجازه رانه کړه چې د هوا د داسې چټک بدلون په هکله څېړنه وکړم، زما د لارې هيڅ يوۀ هملارې بدرگه ملگري چې ټول په دغو لارو کې بلد کسان ول ونۀ سواى کولى چې يو معقول دليل وړاندې کړي. زما په فکر د آسيا مسافران اغلب د گټو، هوساينې او کله ناکله د مذهبي دلايلو پر بنسټ سفرونه کوي. په ندرت پېښېږي چې د علم حاصلول او يا لذت دې هغوى کوم ليرې ځاى ته په سفر بوځي؛ هغوى له يوۀ ځايه بل ځاى ته پرته له کوم ضرورته نۀ ځي. هغوى په بازارونو کې د اجناسو له قيمتونو ډېر ښۀ خبر دي خو نۀ پوهېږي چې سيمه سړه ده که توده او په دې هکله له چا پوښتنه هم نۀ کوي. د گندمک د کلي تر څنگ يوه سپينه تيږه ده چې د فيل ککرې ته ورته ده او دا هماغه شى ده چې پاړسي ژبې ورته (سنگ سفيد) [1] وايي. ددې سيمې هوا حتماً نايتروجني ذرات لري؛ له دې چې زما د بدن پوستکى چې د هوا په معرض کې واقع وو په يوې سپينې مادې وپوښل سو چې تريو خوند يې درلود او په چټکۍ سره يې زما د پوستکي پرمخ خرابښکې پيدا کړې.

د آگست په لومړۍ نېټه لس کاسه لېږې په (بره کاو **Baracow**) کې وو چې يوه شگلنه او متروکه دره ده. د بدرگې افسر چې له خپلو سپرو سره کابل ته روان وو، زموږ ډله چې شمېر مو لږ وو، يوازې پرېښوده. موږ د ماسپښين په تودوخه کې په (جگيد الي **Jaggid Ali**) کې پاتې سوو او زما په فکر دلته يوازې يو کور او څو ونې وې او ويل کېږي چې دلته باد د ټول کال په اوږدو کې په شدت چلېږي. د باد دغه ځواک زموږ د حضور پر مهال ضعيف نۀ سو، که دا د باد معموله چټکتيا وي او که زموږ په عصر کې ايولوس **Aeolus** ژوندى واى نو ډاډه يم چې د جگيد الي سيمه به يې د خپلو سيمه ييزو پېښنو لپاره د يوې پېښې لپاره غوره کړې واى. فکر کوم چې زما د خبرو په ترڅ کې د نور محمد څرک درڅخه ورک سوى دئ؛ نور محمد له ځان سره انگېرلي ول چې گټې زما روپۍ خرڅې سوي دي او يا نوره ورسره مرسته نه کوم نو ځکه يې د يوې مودې لپاره له ماسره سوړ چلند درلود داسې چې ان

---

[1] - **Sung Suffede** : سنگ سفيد په پاړسي کې سپينه تيږه ده. - ليکوال

تقریباً سپکې سپورې یې راته ویلې. سره له دې چې مخکې یې ویلي ول چې سربښندویه مسلمانان هیڅکله یوازې نه پاتې کېږي که د آس له پلورونکي او زما له خصوصي روپیو څخه یې پور نـهٔ وای کړی نو په ډېرو اندېښنو کې به ډوب وای.

د آگست په دوهمه مو د شنـهٔ سهار په دریو بجو سفر پیل کړ، بالاخره یوې ستوغې درې ته ورسېـدو؛ دا دره د (بره کاو Baracow) یو اړخ جوړوي، موږ د پورته کېـدلو په حال کې وو چې زما د کچرې د سینې تسمې و شلېـدلې؛ په دې سره زه، زما کچره او زما کځوړې په چټکې سره لاندې د درې بیخ ته کولي سو او ونښوییدو. د کولیدلو په همدې حال کې وم چې د مرستې لپاره مې په لوړ غږ چیغې کړې خو هر څوک په خپلو جالبو کارونو بوخت وو او چا زما چیغې وانـهٔ وریدلې. که په دې اثنا کې نور محـمد زما له څنګه نـهٔ تېـریدای او په زاری مې ورڅخه د مرستې غوښتنه نه وای کړې نو زما وضعیت به ډېر خراب سوی وای. نور محـمد له یوهٔ اوږد مکث او ورسره د ډیرې درندې ښکنځلې له ویلو وروسته ودرید  او ما دا ټول وزغمل. وروسته یې راسره مرسته وکړه چې خپله کچره، خپلې کځوړې او د کچرې وسایل راټول او وخوځېـدم. د توندو خبرو په لړ کې ول چې  د نور محـمد په غیر عادلانه کړو وړو او زما پر بد چانسی باندې مو خبرې کېـدلې چې متوجه سوو له اصلي لارې څخه منحرف سوي یو. خو زموږ ټولو ګډه ویره په چټکی زموږ پر مخکینی نارضایتی او خوابدی غالبه سوه او موږ یې د سمې لارې په موندلو سره یو بل سره راټول کړو؛ له ډیرو هڅو وروسته مو اصلي لاره ومونده.

د اتو مایلو په واټن د ډېرینو غرونو له ټولګې څخه چې څو دَرې یې هم درلودلې تېـر سوو او یوې لویې دښتې ته ورسېـدو چې په اوبو ډکه وه او شاو خواته یې کلي پراتـهٔ ول. د کابل سیند د همدغې دښتې له منځه تـېـرېـږي او د ښار د سویل په څلور یا پینځه مایلی کې له خښتو جوړ یو پُل [1] هم سته. پلازمینې ته په نـېـږدې کـېـدلو سره موږ د شخصي تزئـیناتو د فعالې صحنې شاهدان وو، خو دا تزئـینات د اروپا له تزئـیناتو څخه توپیر درلود. یو مسلمان ددې پر ځای چې خپل د سر ویښتانو باندې د ویښتانو د شکل ورکولو پودر وکاروي او خپلې ځنې سمې کړي خپل د سر ویښتان په ډېر ځیر لنډوي او ددې پر ځای چې په دې باور سي چې سمبال او منظم مخ او څـېـره د ښکلا څرګندویه ده خپل ظاهر او ان خپله آبرو د خپلې ږیرې په اندازې په څرنګوالي باندې سنجوي. په دې هـېـواد کې په ږیره باندې قسم خوړل کومه عجیبه خبره نـهٔ ده؛ که چا ته (بد ریش) یا (بد ږیری) [2] وویل سي دا یوه ډېره ترخه او سپکه خبره ده. خو له دې سره سره لا تر اوسه د مسلمانانو په منځ کې په ځانګړې توګه د ږیرې د سینګار په اړه د کوچنیو ږیرو کمی یا

---

[1] - د بیرامي Bayramy په نوم یادېږي. لیکوال. دا د بګرامیو پُل دئ – ژ

[2] - فارسیان، افغانان او اکثر اصیل تورکان د زیږو پربښودل هڅوي حال دا چې  له پټهانانو په استثناء هندي مسلمانان ږیره خریي. - لیکوال

لړوالی نـهٔ سته، کیدای سي هغوی ماریچل یا پوماد دیواین پودر Marechale or Pomade devine powder ونـهٔ کاروي خو خپله ږیره په خپله خوښه په ګڼو ډولونو لندوي. که له طبیعي رنګ څخه یې راضي نـهٔ وي نو په تور ځلاند رنګ [1] یې رنګوي چې تر اوږدې مودې پورې یې رنګ پاتې کېـږي. ما له ځان سره وانګـېـرل چې ښايي سبا ورځ به نور محـمد ونـهٔ ګورم نو د هغه د شخصيت د تللو / وزن کولو لپاره مې خپله ورو‌ستۍ هڅه وکړه. له هغه مې وغوښتل چې د خپل پور د ورکړې نـېـټه دې وټاکي چې د پينځو شيلينګو په اندازې د پيسو يوه منصفانه اندازه وه. هغـهٔ دې خبرې ته چنداني لـېـوالتيا ښکاره نـهٔ کړه چې ګڼې سړک د حساب د تصفيې لپاره مناسب ځای نـهٔ دئ او تکل يې درلود چې دا کار به وروسته وکړي.

ماسپښين مهال وو چې له پينځلس کاسه مزل وروسته د افغان د امپراتورۍ پلازمينې کابل ته ورسـېـدم. [2] له ډېرې پلټنې وروسته مې يو ګورجي سړی پيدا کړ چې په کشمير کې مې د هغـهٔ له يوهٔ هـېـوادوال څخه يو معرفت ليک راوړی وو. د ليک له لوستلو وروسته يې خپل نيمايي آپارتمان راسره شريک کړ وړانديز يې وکړ چې بله هره هغه مرسته به راسره وکړي چې يو مسافر ورته اړتيا لري. دغه وړانديز مې له څون او ځار پرته ومانـهٔ او په چټکۍ سره د ګورجي بګدافير Bagdafir and the Georgian او ارمني په ډله کې چې مخکې مې ورته نغوته وکړه ولـېـږدول سوم چې له پـېـښوره تر کابله پورې يې اوږد مزل کړی وو. زما کوربه په يوهٔ کاروانسرای کې ژوند کاوهٔ، دغه کاروانسرى د يوهٔ باندني سوداګر له پلوه جوړ سوی وو او د خپل ژوند شل کاله يې په کابل کې تـېـر کړي ول. زما لومړنی کار دا وو چې دهٔ ته د خپلې کتبي حوالې بد حالت روښانه کړم؛ هغه خپل سر وښوراوهٔ او ويې ويل چې په دې حوالې کې خو هـېـڅ شی نـهٔ ليدل کـېـږي؛ دا به غير منطقي وي که دا فکر وکړو چې څوک به پر ځان وړيا تاوان وګالي او دا حواله به واخلي. هغـهٔ وويل چې د کابل سوداګر د هندوستان د سوداګرو په پرتلې په راکړې ورکړې کې بيل ډول چلند لري او د پيسو په ورکړه کې حتی په هغو مواقعو کې چې مشخص صلاحيت او اختيار ولري د پيسو ورکړه ورته به ګرانه وي؛ نامشخص صلاحيت او اختيار خو په ځای پرېـږده. ددې استدلال صحت په بله ورځ تأييد سو ځکه هـېـڅ سوداګر چې ورته مراجعه سوې وه حتی چې پوه سول چې د کاغذ پر مخ پرداخت وجود لري خو بيا يې هم د هغـهٔ د شفر د خلاصولو لپاره کومه هڅه ونـهٔ کړه. دغې پـېـښې زما پر

---

[1]- په دې رنګ کې نيل او د عاج د ونې پاڼې ګډې دي.- ليکوال

[2] - **In the evening I arrived at Kabul, fifteen cosses, the capital of the Afghan empire ; and, after a long search, found a Georgian, for whom I had brought a letter of introduction , from his countryman at Kashmire ; having read the letter, he made me an offer of half his apartment, and such assistance as a stranger might need . {Volume II page 64, PDF format both volumes combined page 407 }**

راتلونکې پرمختګ د پام وړ اغیزه وکړه؛ زه ډارېدم چې کابل کې تر هغو تر نظارت لاندې ونـۀ نیول سم ترڅو کوم معتبر سند ورته پیدا کړم. په دې لړ کې یوه بله ټکه راباندې راولوېدله چې لږ اهمیت یې درلود او کولی سي ددې ځای یوه دودیزه ځانګړتیا راوښیي چې د یادولو وړ ده.

کچرې والا چې له پېښور څخه یې له ما سره سفر کړی وو تورن کړم چې په لاره کې مې ورته تقلبي روپۍ ورکړې ده او غوښتل یې چې بدله یې کړم. هغه مخکې ددې سکې په اړه چې کوم مسافر ورته ورکړې وه خپل تردید ښکاره کړی وو او له ما څخه یې ددې ستونزې د حل لپاره د مرستې غوښتـنه کړې وه. کله چې ما ورته حقیقت ووایـۀ او ددې بې شرمه فریب هڅه مې محکومه کړه، هلک چې عمر یې له شپاړلسو کلونو لږ نـۀ وو، په ډېرې سپین سترګۍ راته وویل چې سکوت وکړم او پیسې ورکړم که نه له ما څخه به قاضي ته مضاعف شکایت وکړي او قسم یې وخوړ چې وبـۀ وایي چې د کچرې د کرایې هېـڅ یوه برخه دې نـۀ ده ورکړې؛ حال دا چې دی په خپله شاهد وو چې د کرایې نیمایي په پېښور کې ورکړل سوې وه. ددې هلک ځواني او جسارت راته ټکان راکړ نو په چټکۍ مې لاس خپلې کڅوړې ته یووړ چې نوره مخه یې ونیسم، خو بګدافیر چې زموږ خبرې یې اوریدلې وې ټینګار وکړ چې د قاضي له دستور پرته هیڅ پیسې ورته ورنـۀ کړم. دوی محکمې ته لاړل؛ کچرې والا هلک د خپلې ادعا د اثبات لپاره پرته له دې چې کومه وجداني ناراحتي ورباندې راسي قسم وخوړ او بګدافیر د سترګو په رپ کې پیسې ور اداء کړې. ورپسې بګدافیر په خپل ټټر باندې صلیب کش کړ او ما ته یې مبارکي راکړه چې د یوۀ ځوان شیطان له منګولو څخه په آسانه خلاص سوم.

فکر کوم چې دباندې په آزادې هوا کې د سړې ځمکې پر مخ بېـدېـدل ددې لامل سول چې کابل ته له رسېـدلو څو ورځې وروسته راته تبه پیدا سي؛ له تبې سره لړزه هم وه؛ ددې تبې علائـم په غیر معمول ډول پیاوړي ول. دا تبه دومره اوږده سوه چې ما نور د شطحیاتو په ویلو پیل وکړ او دومره تږی کېـدم چې په اوبو نـۀ مړېـدم. د ډیرو سړو اوبو څښل اغلب د تسکین لامل کېـده خو ما احساسول چې د بدن له هر منفذ څخه مې اوبـۀ رواني دي او ما په خولو کې ډوبوي. کله چې تبه پیل سوه بګدافیر زما د خوب د ځای کالي، د دۀ د خوب د تخت کالي او د آس هر ډول پوښښ او نور شیان چې په مخ ورتلل پر ما واچول خو هېـڅ ګټه یې نـۀ کوله؛ زه په داسې یوه جهنمي حالت کې اوږد غځېـدلی وم چې انسان یې لا تصور هم نـۀ سي کولی او تبې خپله اغیزه راباندې پرېښودله. زما پر بدن باندې د روښانه رنګ خاپونه یا خالونه چې د ګلابي او سرۀ رنګ تر منځ روښانه بڼه یې درلوده راڅرګند سول؛ که یوۀ ارمني راته نـۀ وای ویلي چې دا د طاعون نښې دي نو دا نښې به مې په ښه نیت نیولې او ستایلې وای ځکه زه په دې باور وم چې دا نښې ناروغي

لړ کوي. دې خبرې د ټولو په زړونو کې د خطر زنګ وکړنګاوۀ؛ سره له دې چې د بګدافیر چلند کې کوم بدلونه رانغی خو ویرې زما ګاونډیان په شدت تر خپلې اغیزې لاندې راوستل. کله چې ما هغوی ته ډاډ ورکړ چې د طاعون تبه تل د دربو ورځو په اوږدو کې خپل اوج ته رسېږي هغوی دا لېوالتیا درلوده چې ما له خپلې سیمې څخه لېرې کړي.

یوه ورځ مې د تنباکو د چلم پایپ راواخیست، خپله کینه سترګه مې وتړله او غوښتل مې د ښې سترګې په وسیلې د پایپ له لارې دباندې وګورم. ومې لیدل چې هر څه تیارۀ دي. دا ماته د نومیدۍ شیبه وه او تر ټولو یې بد تره لا دا چې له ټوخې سره مې وینه راغله. داوخت بګدافیر یو طبیب راوغوښت؛ طبیب وویل وضعیت دې وخیم دۍ او یوازې معجزه تاسو ژغورلی سي. هغه زما درملنه په داسې درملو پیل کړه چې ددۀ په ادعا یوازې دې په خپله دا درمل پېژني او هیڅکله بې اغیزې نـۀ دي. د طبیب خبرې راته په زړه پورې وې خو ددۀ په ورهښې او مهارت مې لږ باور درلود. له همدې کبله به مې پلمه جوړوله ترڅو بګدافیر له خونې دباندې وباسم او د هغو درملو له شره مې خلاص کړي چې تاوان رارسوي. شل ورځې سوې وې چې شدیدې ناروغۍ نیولی وم خو له شلو ورځو وروسته چې د ناروغۍ له شدت څخه سترې ستومانه سوی وم، ناروغي مې مخ په لږ کېدلو سوه. لږ وروسته په بشپړ ډول ښه سوه خو بدن مې داسې ضعیف او اعصاب مې دومره وران ویجاړ سوی ول چې په ډېرې سختۍ مې کولی سوای وښوریږم؛ ان یو کوچني غږ راته لړزه پیدا کوله. زما د ناروغۍ په اوږدو کې ګڼ شمیر ارمنیان زما لیدلو ته راغلل. یو له هغوی څخه چې زما وفاداره مرید ګرځېدلی وو وهڅولم یو کوچنی کاغذ چې پر مخ یې مرموز کلمات لیکل سوي ول وخورم. هغه ادعا کوله چې دا کلمات دا خبره تضمینوي چې پر مسیحي مؤمنانو به پیاوړی اغیز ولري.

ما ددغه طلسم وال د ټوټکې له کبله منه وکړه او ومې منله که زما اصلي لارښود بګدافیر یې تأیید کړي نو دا کاغذ به وخورم. بګدافیر د دې ټوټکې د ارزښت له سنجولو وروسته راته اجازه راکړه چې ویې خورم خو په دې کې یې شک درلود ځکه چې  ده د ارمنیانو له ډلې څخه کرکه درلوده او تر څنګ یې د هغـې د اغیز په هکله خپل شدید شک ښکاره کړ. ارمني راته ویلي ول چې که په ارتدکس مذهب ایمان ونـۀ لرئ ښایي دا کاغذ اغیز ونـۀ کړي او له بل لوري ددې طلسم د بدعت له کبله چې ګرجي ویلي ول دغه کاغذ ماته هېـڅ ګټه ونـۀ کړه، په حقیقت کې زما حال له بده پسې بدتره سو ځکه زما ناروغي په خپل پرمخ تللي حالت کې وه.

کله چې کابل ته ورسېـدم ما په کابل کې د مختلفو ادیانو عمومي زغم ولید؛ عیسویانو، هندوانو او یهودانو په برالا او څرګنده خپل عبادات کول او پرته له کوم مزاحمته به یې خپل کارونه پر مخ بیول. زه پوهـېـدم چې زما ظاهري مسلمان کرکتر له بګدافیر سره  زما د

اړيکې خنډ ګرځي ما ورته وويل چې زه يو اروپايي يم او له هند څخه خپل هېواد ته ستنېږم. [1] په لومړيو کې ما قصد درلود چې ځانته يو فرانسوي نوم غوره کړم خو فرانسويان نا آرام او سرګردانه خوی لري او د نړۍ هر ګوټ ته سفر کوي له دې کبله زه يې له رسوا کېدلو وېرېدلم؛ او که دومره زړوَر وای چې يو انګليس اوسم او يو له هغو کسانو اوسم چې په هند کې يې د مسلمانانو نفوذ منلی دئ او په هند کې يې پوځي شهرت ګټلی دئ ښايي اوس به د تيمورشاه په توپخانه کې د توپچی يو لوی افسر وای. ددغه خطر د مخنيوۍ لپاره مې خپل ځان يو هسپانوی ياد کړ.

کله چې خبر سوم چې له کابله تر پرسيا پورې لاره خلاصه سوې وه نو د ډيرې خوښۍ احساس مې وکړ او ما ډېر ښه چانس درلود چې له هغې لارې اروپا ته سفر وکړم چې ما مخکې له مخکې ټاکلې وه. دوه تنه ارمني مسافر چې له استراخان څخه تر اورګنج پورې د اوبو له لارې چې د کسپين سمندرګي ته نيږدې د يوۀ سيند پر غاړې (په کسپين کې يو تاتاري سټيشن) دئ او له هغۀ ځايه يې د بخارا او بلخ له لارې کابل ته سفر کړی وو هڅه کوله ما ته قناعت راکړي چې ددوی د سفر دغه لور غوره کړم ځکه چې دا هم چټکه او هم له امن ډکه لاره ده. دغې نقشې څو مهمې کمۍ درلودلې. پاړسي ژبه چې زما اصلي ډډه وربانديې لګــېدلې وه په دې لارې کې چندانې ګټوره نـۀ وه. همدا شان دې ټکي ته مې پام سو چې په بخارا کې ژمی سخت او اوږد وي او د اورګنج سيند د مارچ تر مياشتې پورې يخ وهلی وي. ددې ترڅنګ هېـڅ روسي کيښتۍ د مې له مياشتې مخکې هلته نـۀ رسـېږي. حال دا چې له کابله د تاتارستان له لارې د کسپين د سمندرګي تر شمالي څنډې پورې سفر کـېدای سي دوه نيمې مياشتې وخت ونيسي؛ له بل لوري د بخارا کږه وږه لار او د اوبو له لارې د تيريدلو د لاسوند يا سند ترتيبول ټول هغه مسايل ول چې تر استراخان پورې زما رسـېدل يې د جون تر مياشتې پورې شاته غورځول. هغه ځای ته له تګ څخه بيزاري چې د سيلاني توب لپاره کوم راښکون او انجذاب نـۀ لري زما مخه يې پرسيا ته واړوله ځکه هلته يې ما ته د ژبې په اړه خـبرنې کې راسره مرسته کوله او له بل لوري يې راسره مرسته کوله چې له خپل موقعيت سره په اغيزمنه توګه مقابله وکړم.

---

[1]- OBSERVING on my arrival at Kabul, a common toleration of religion; that Christians, Hindoos and Jews, openly prosessed their creed, and pursued their occupations without moleſtation; and aware also that the Mahometan character would deprive me of the advantage of Bagdafir's connection , I had informed him that I was a native of Europe, returning from India into my own country. {Volume II page 68, PDF format both volumes combined page 411 }

زه بېـربېـرېم چې د شخصي مسائـلو په هکله مې ډېرې خبرې نـهٔ وي کړي، له دې کبله ددې لیک په اصلي موخې باندې پیل کوم. غواړم تاسو ته خبر درکړم چې کابل د تیمور شاه استوګنځی او د هغـهٔ د حکومت پلازمینه ده؛ دا ښار د یو نیم مایل په اوږدوالي په دیوالونو کې محصور دئ. دا ښار د دوه وو غرنیو لړیو په ختیځو اضلاعو کې واقع دئ چې عموماً یوه نیم دایره جوړوي. دا استحکامات ساده جوړ سوي دي تقریباً هـېـڅ خندق نـهٔ لري او کورونه له ناهموارو ډبرو، له خټو او خامو خښتو جوړ او ساده په نظر راځي. ما انتظار درلود چې پلازمینه به د یوې سترې امپراتورۍ هغه جلال ولري چې ما په ذهن کې درلود خو دا جوړښتونه زما له مخکیني خیال سره اصلاً سمون نـهٔ لري. افغانان چې خشن او بې سواد خلک دي داسې مشران لري چې د ژوندون ظرافتونو ته چنداني لېـوالتیا نـهٔ لري، هغه ظرافتونه چې ملت یې د چمتو کولو وړتیا نـهٔ لري.

د اندس له سیند نیولې ددې سیمې تر لویدیځې ژۍ پورې د لرګیو مداوم کمبود شتون لري؛ په دې ډول چې د شمالي په سیمې کې ټیټه یا بې وزلې پاړکه/ طبقه د لرګیو له کمښت څخه په ځانګړې توګه په ژمي کې ډېره کړېـږي؛ کټ مټ لکه نور هـېـوادونه چې د خوراکي توکو د کمښت له کبله کړاوونه ګالي.

بالاحصار د پادشاه د سلطنتي مانۍ نوم دئ چې د هغـهٔ خدمتګاران، ساتونکي او مریيان په کې استوګن دي؛ دا ځای د ښار په ختیځې برخې کې د یوې غونډۍ پر سر واقع دئ او د خپل واکمن د موقعیت د یو پیکه شأن او جلال څرګندونه کوي.

ددې ټکي په پام کې لرلو سره چې په کابل کې کوم تزئیني یا پسولنیز کارونه ترسره سوي دي نباید د علي مردان خان [1] له ترسره سویو کارونو څخه سترګې پټې کړم. دغه (عمرا) [1] چې د سلطان جهانګیر په چوپړ کې وو او په دربار کې یې ځانګړی مقام درلود

---

[1]- ویل کـېـږي چې علي مردان خان د ګنج علیخان زوی د شاه عباس د دربار یو له مشاهیرو څخه وو. دی د صفویانو په عصر کې د کندهار والي وو خو له شیرخان افغان سره یې ستونزه پیدا کیږي او په ۱٦۳۸ ز کال کې کندهار د هند د مغولي پادشاه جهانګیر له توابعو څخه اعلانوي او خپله هند ته ځي. جهانګیر دی بیرته کابل ته رالیږي او د کشمیر، لاهور او کابل د والي په توګه یې مقرروي؛ علیمردان د امیر الامراء لقب غوره کوي. کله چې علیمردان د مغولو دربار ته لاړ ددهٔ ټول لوښي د سرو زرو لوښي ول. علیمردان خان ډېر شتمن سړی وو.علیمردان په ۱٦٥۷ ز کال کې په لاهور کې مړ سو او په لاهور کې خاورو ته وسپارل سو. د همدغه علیمردان خان مقبره په لاهور کې مشهور ځای دئ. علیمردان خان په هند کې ډېرې ودانۍ جوړې کړې دي. همدا شان د علیمردان خان په هکله په کابل کې یو مشهور خو غیر واقعی او تخیلي روایت هم سته چې وایي ګنې علمیردان خان یو غریب او بې وزلې سړی وو او کومه ورځ کوم ملنګ ددهٔ کور ته راځي او ورته وایي چې میرمن او بچي ته دې نن شپه د ډېرو مالګو اوبه ورکړه او نور د اوبو لوښي تش کړه او وګوره چې ستا میرمن څه کوي. علیمردان همدا کار کوي اوویني چې میرمن یې ډېره تږې کیږي او د تندې له لاسه خپله غاړه یا لاس اوږدوي او د کابل له سیند څخه اوبه څښي. ملنګ ورته وایي چې ستا میرمن او لور دواړه شیشکې دي او کله چې ډوډۍ یې پخوله دواړه په تناره کې ګوزار کړه او د تناره سر بند کړه. دی هماغسې کوي. په سبا یې ګوري چې د ښځې او لور جسد ورک دی او په دوه وو کاڼو یو غټ بل کوچني بدلې سوې دي. ملنګ ورته وایي دا د کیمیا کاڼی دئ چې که په هر څه یې ووهې په سرو زرو بدلیږي. غټ کاڼی په خپله واخله او کوچنی کاڼی ما ته راکړه نو هماغه ول چې علیمردان بډای سړی وو او ډیر ښه ښه کارونه یې وکړه. دا دوهم روایت د عوام الناسو غلط روایت دئ. علمیردان خان تر بالاحصار لاندې یو شمیر عمراني کارونه کوي او نوم یې لا تر اوسه په کابل کې د باغ علیمردان په نوم ژوندی دئ. - ژ

تقریباً د ښار په زړهٔ کې څلور لوی بازارونه جوړ کړل. دغه بازارونه په کتارونو کې د یو بل ترڅنګ جوړ سوي دي چې دوه پوړونه لري؛ کښــتــنی پوړ یې د سوداګرو او پورتنی پوړ یې د شخصي استفادې لپار دئ. د هټیو د کتارونو د دواړو خواوو تر منځ فضا په قوسي چت پوښل سوې ده او هر بازار د یوهٔ مخ خلاصي میدان په وسیلې ویشل سوی دئ، پخوا دغه میدانونو کې د اوبو فوارې وې خو اوس د فوارو ځایونه په خاورو ډک سوي دي او یا روز - مزدو کارګرانو نیولي دي. علي مردان له ځانه ګڼ شمېر ودانۍ پرېښې دي چې ددهٔ د سخاوت او سلیقې بېلګې دي؛ یوه له دغو پرتمینو ودانیو څخه چې اوس په کنډوالو بدله سوې هغه ودانۍ ته چې دې ته ورته بله یې د ډیلي ښار ته نـږدې یوې د یوې طرحې ته ورته ده چې هم د کار وړ او هم پرتمینه ده.

د ډیلي د پرتم پر مهال چې د مشهورو روایاتو له مخې د شلو مایلو په اندازې یې پراخوالی درلود د هغه استوګن وګړي چې له جمنا څخه یې لیرې ژوند کاوهٔ او یوازې د سیند په یوې لیرې ژۍ کې ول د اوبو له ستونزو سره مخامخ ول، ځکه داسې ګومان کېـدهٔ چې د څاهانو اوبـهٔ صحي نـهٔ دي. علي مردان غوښتل دا عامه ستونزه هواره کړي، لویدیځې ځمکې یې سروې کړې او ویې لیدل چې کرنال ته نـږدې یو ځای سته چې د ځمکې د ریونده والي یا مخ پر ځوړ توب په دلیل کولی سو اوبـهٔ د ښار شا ته راولو او له ټولو سیمو اوبـهٔ تیرې کړو. دا طرحه پلې سوه او ددې بریا په درښت او د کار د مطلوب وضعیت په پار علي مردان ته اجازه ورکړل سوه چې پر هغو کورونو باندې خاصه مالیه وضع کړي چې د اوبو له کانال څخه برخمن کېـدل. د جمنا د سیند دغې څانګې تر څه دباندې سلو مایلو واټن پورې اوبـهٔ لېـږدولې او ټولو استوګنو وګړو ته یې د څښاک مناسبې اوبـهٔ چمتو کولې. دا کانال د فارسیانو او افغانانو تر بریدونو پورې هماغسې سالم پاتې ول. علي مردان د خپل شخصیت او خپلې سلیقې له مخې کیدای سي له رومي لوکولوس [2] سره پرتله سي. علیمردان ټولنې ته ګڼ شمېـر ودانۍ او بڼونه ډالۍ کړې دي؛ په دغو بڼونو کې یو بڼ چې د سرو د ونو زښت ډېر ښه سیوری لري پېـښور ته نـږدې موقعیت لري او بل یې د نیملې په کوچني کلي کې دئ چې د پېـښور د لارې په اوږدو کې د کابل د سویل ختیځ په اتیا مایلۍ کې موقعیت لری.

ښايي دغه عمرا ته په درناوي کې له خپلې اصلي موخې تر ډېر لیرې تللې وم. او اوس بیرته خپلې خبرې ته راګرځم او غواړم تاسو ته خبر درکړم چې د کابل ولسوالۍ ګانې ټولې په خوراکي توکو ډکې دي، بازارونه یې په منظم ډول طرح او جوړ سوي دي او په ټولو

---

[1] - Omra : د هندوستان د مسلمانانو په سلطنتي دربار کې لوړ پوړي افسر ته عمرا ویل کېـدل - ژ

[2] -Roman Lucullus : رومي جنرال چې په ۱۱۷م. ز کال کې زېـږېـدلی او په ٥٦ یا ٥٧ م.ز. کال کې مړ سوی دئ. - ژ

ښارونو کې چې ما په آسیا کې لیدلي دي دا ښار یوۀ اروپایي ښار ته ورته والی لري. میوې یې ښې او ډېرې پریمانه دي لکه منې، ناک، شفتالو، انار او ډول ډول انګور. [1]

د افغانستان دا برخه لږ هندي محصولات لري چې بوره او کتاني جامې عمدتاً له پېښور څخه راواردوي او پر ځای یې اوسپنه، چرم او تنباکو صادروي. [2]کابل، کندهار ته اوسپنه، څرمن او د څراغ تیل صادروي او په کندهار کې د خوږو خربوزو تر څنګ په پرسیا او اروپا کې جوړ ګڼ شمیر محصولاتو باندې بدلېږي. د بخارا تاتاران د تورکستان آسونه، پوستینچې، خام پوست کابل ته راوړي، اخیر الذکره هماغه خام پوستونه دي چې په اروپا کې موندل کېږي او د بلغار په نوم شهرت لري؛ له دغو پوستونو څخه کومې پیسې چې تر لاسه کېږي په نیل او نورو هندي وسایلو باندې لګول کېږي. [3]

د تاتاري وزبیک ګاونډی سیمې چې بلخ [4] یې مرکز دئ تر ډېره په تیمور شاه پورې اړه لري او په مرتب ډول سره له کابل سره په اړیکه کې دي. [5] ما له هغه بازار څخه لیدنه وکړه چې په وزبیکانو ډک وو، دوی د چینایانو او مالایانو Malas په شان ځېرې لري خو دوی تر هغو ظاهراً زیږه خلک ښکاري. د باندنیو ملتونو په منځ کې خلک چې مرتباً له دې ښار (کابل - ژ) څخه لیدنه کوي هندوان، عمدتاً له پېښور څخه راځي چې تر بل هر چا ډېر په صنعت او سوداګریزو چارو کې د خپل استثنایي تخصص له اړخه د ښار په بډاینه کې مرسته کوي؛ دوی د افغان حکومت تر سیوري لاندې داسې آزادی او امنیت لري چې زموږ په هندوستان کې

---

[1] -A RESPECT for the memory of this omrah has, perhaps led me into too wide a deviation from which I will now return, and inform you that the districts of Kabul abound in excellent provisions, and that its market is arranged in a neater manner and more like that of an European town, than any I have seen in Asia. The fruits are of a good kind and in great plenty, as apples, pears, peaches, pomegranates and a variety of grapes. {Volume II page 72, PDF format both volumes combined page 415 }

[2] - THIS quarter of Afghanistan, possessing but few Indian productions , receive sugars and cotton cloths, chiefly from Peshour, whither it fends iron , leather and tobacco .{Vol.II. Page 72, PDF combined volumes page 415}

[3] -To Kandahar it exports iron, leather and lamp oil, whence there turns are made in sundry manufactures of Persia and Europe, with a large fupply of melons of an excellent sort. The Tartars of Bochara, bring to Kabul the horses of Turkistan, furs and hides, the latter resembling those in Europe, called Bulgar, the amount of which is applied to the purchaSe of Indigo, and other commodities of India. .{Vol.II. Page 72, PDF combined volumes page 415}

[4] - دا ښار د کابل د شمال لویدیځ په تقریباً ۲۰۰ مایلی کې موقعیت لري.لیکوال

[5] -THE adjacent parts of Usbeck Tartary of which Balk is the capital, hold a species of dependency on Timur Shah and maintain a common intercourSe with Kabul. .{Vol.II. Page 72, PDF combined volumes page 415}

استوګن لږ کسان دغسې آزادي او امنيت لري. [1] يو دولت معمولاً د هرې هغې طبقې له خلکو څخه ګټه ترلاسه کوي چې د هغوی ځاني او مالي امن ورته تضمين کاندي؛ خو زما په نظر د کابل هندوان د خپلې هغې ډلې په پار له امتياز څخه برخمن دي چې د پادشاه پر عوايدو څار او نظارت لري او دوی ځانګړی ځای لري. د کابل شاو خوا عمدتاً په باغونو پوښلې او ډکه ده چې بېلابېل نهرونه يې خړوبوي؛ تر ټولو لوی نهر يې د ښار له منځه تېرېږي چې يو کوچنی پُل [2] ورباندې تېر سوی دئ او د سالمو او ښو اوبو پريمانه سرچينه برابروي.

هماغسې چې مخکې مې وويل کابل د دوه وو له يو بل سره تقريباًمتصلو غرونو په لمن کې چې تقريباً له ختيځ څخه مخ پر لويديځ غځېدلي دي موقعيت لري. د ختيځ غرۀ په پای کې د يوې مسطح ځمکې پرمخ يوه پياوړې استحکامي کلا يا مانۍ واقع ده چې مخکې د ښار د واليانو استوګنځی وو؛ خو اوس تيمور شاه، دا ځای په دولتي زندان بدل کړی چې په هغه کې خپل ورونه او د هغوی کورنۍ د زندانيانو په توګه ساتي. له همدې ودانۍ پورته د کلا پر سر يو کوچنی برج واقع دئ، دلته ځمکه د پام وړ لوړوالی لري او يوې بلې ټيټې ځمکنې ټوټې په وسيلې له بلې غونډۍ سره نښلي. د دواړو غرونو له څوکو څخه يو ډبرين ديوال راکوز سوی او د لويديځ ترين غره په پای کې په يوۀ منظم مورچل پای مومي.

افغانان د هغې سيمې بومي ښتنان دي چې د تاتارستان له غرونو نيولې د (کامبې د خليج) [3] تر ځينو سيمو او د فارس تر خليج او له اندس څخه د پرسيا تر حدودو پورې سيمه په ځان کې رانغاړي. ددومره لويې او پراخې سيمې خلک ليکنيزه ژبه نـۀ لري او په خپلې منحصر په فرد ژبې ارتباط نيسي. دوی د پياوړو، قوي او سرسختو نارينه وو ډلې دي چې په لوټمارو جګړو کې ښکيل دي او همدا لامل دئ چې دوی وحشيانه او له تکبره ډک چلند ته لمن وهي. دوی په ځرګنده له مدني ژونده بيزاره دي. سره له دې چې د آسيا يو

---

[1] - Among the foreign nations who frequent this city, the Hindoos, chiefly of Peshour, contribute more than any other to enrich it, by a superior industry and knowledge of commerce; and they enjoy under the Afghan government, a liberty and protection, little short of that experienced by the inhabitants of our Indian possessions . .{Vol.II. Page 73, PDF combined volumes page 416}

[2] - ما ته وويل سول چې دا پُـل د پُـلِ مستان په نوم يادېږي. (ليکوال) په آئـين اکبري کې ويل سوي چې د شاه جهان د واکمنۍ پر مهال د کابل په ښار کې د روانو اوبو دوه نهرونه ول (جوی پُل مستان) او (جوی خطيبان). جوی پل مستان د لوګر له سيند څخه د «دۀ يعقوب» له تنګي څخه سرچينه اخلي چې د سياه بيني او قريه بغلک ځمکې خړوبوي د بالاحصار له لمنې په تېرېدلو مخ پر شمال بهيږي د قلعه چې، قلعه نو، قلعه خواجه له سيمو په تيريدلو په حضوري چمن ورځي او د کابل له سيند سره نښلي. او د جوی خطيبان نهر نن له منځه تللی دئ چې د کابل د سيند له ښي اړخه د پل آرتل په برخې کې جلا کېـده او د سيمنای پامير پر لور د مستورات يا د ميوند د روغتون پر لور بهيده او د مندوي، د پل خشتي شا، د امين الملک ګذر، خوابګاه، د شاطر باشيانو، شير بچه ها، ريکاخانې او باغ عليمردان سيمې به ئـې خړوبولې. – (آئـين اکبري ۲٦٦ پاڼه) - ژ

[3] - The Gulf of Combay : د کامبې خليج : د هندوستان د ګجرات د ايالت په سويل لويديځې انتها کې واقع او د عربي سمندر يوه مټ يا بازو دئ چې ۳۰۰۰ کيلومتر مربع ارتوالی لري. د نرمادا، تپتي، سمبر متهي او مهي د سيندونو په ګډوڼ څو سيندونه دغه خليج ته ورغورځي. – ژ

شمیر تواریخ د افغانستان بومي وګړي د تاتارانو په نوم یادوي خو باید دې ټکي ته نغوته وکړم چې دوی له ظاهري اړخه، د کردار او رفتار او یا ژبې له اړخه له تاتارانو سره هېڅ ډول شباهت نـهٔ لري. [1]

په نهمې میلادي پېړۍ کې د افغانستان یو شمېر ځانګړې سیمې د بخارا د خانانو په وسیلې چې د ساماني له کورني څخه ول تصرف کړې او دا سیمې یې د تاتاري خراسان له قلمرو سره محلق کړې او د غزني د چارو د ادارې لپاره یې یو سیمه ییز مشر د متبوع مرستیال په توګه مقرر کړ. خو داسې ښکاري چې د هېواد شمالي برخې د محمود [2] د حکومت تر وخته پورې چې د افغانستان [3] سوبه یې بشپړه کړه، لا نـهٔ وې فتح سوې. تر اوسه له ۹۹۷ز مخکې د افغانانو د روایاتو یا تأریخ په هکله هیڅ کوم د پام وړ سند نـهٔ دیٔ ترلاسه سوی. هغه مهال تاتاري سبکتګین د خراسان د واکمن په چوپړ کې وو او د بخارا د لوی خان منصور ساماني [4] تر فرمان لاندې وو، سبکتګین د خپل ارباب له مرګ وروسته دا قلمرو په خپله ولکه کې ونیو. هغه د تاتارانو له فرمانونو څخه سرغړونه وکړه او خپل فتوحات یې په افغانستان کې پراخ کړل او غزني یې د خپلې امپراتورۍ د پلازمینه په توګه وټاکـهٔ. [5]

---

[1] - THE Afghans are the indigenous possessors of a tract of country, which stretches from the mountains of Tartary to certain parts of the gulf of Cambay and Persia; and from the Indus to the confines of Persia. The inhabitants of this wide domain, have no written character and speak a language peculiar to themselves. They are a robust, hardy race of men, and being generally addicted to a state of predatory warfare, their manners largely partake of a barbarous insolence, and they avow a fixed contempt for the occupations of civil life. Though in some of our histories of Asia, the natives of Afghanistan are denominated Tartars, I am prompted to say, that they bear no resemblance to those people, either in their persons, manners, or language. { Volume II, page 74, combined volumes in PDF page 417}

[2] - دهٔ په یولسمې میلادي پېړۍ کې واکمني کړې ده. لیکوال

[3] - CERTAIN territories of Afghanistan were conquered in the ninth century by the khans of Bochara, of the Samani race, and annexed to the Tartar principality of Khorasan, from whence a subordinate chief was deputed to govern at Guizni. But it does not appear that the northern quarter of the country was subdued until the reign of Mahmoud, * the second prince of the Giznavi dynasty, who compleated the conquest of Afghanistan. { Volume II, page 74, combined volumes in PDF page 417}

[4] - ددې سلطنتي کورنۍ پینځم پادشاه- لیکوال

[5] - No substantial tradition of the Afghans or the state of their country is found on record, until the year of the christian æra, 997, when Sabuctagi , a Tartar officer, in the service of the chief of Khorasan, who was subject at that period to Munsur at Samani , ' the great khan of Bochara, having at his master's death , succeeded to the territory , renounced the Tartar vassalage , and extending his conquests to Afghanistan , made Ghizni the capitalof his empire. { Volume II, page 75, combined volumes in PDF page 418}

د غزنوي امپراتوري بنسټ چې د فارس او د هندوستان ډېرې برخې يې په قلمرو کې راتللې عمدتاً د سبکتگين د زوی محمود په وسيلې کېښېښودل سو. دغې امپراتوري تر ۲۰۷ کالو پورې دوام وکړ ترڅو چې افغان محـمد غوري [1] د سبکتگين د کورنۍ له وروستي سلطان خسرو څخه واخيستله. دغه پادشاه د اندس د لويديځ برخې خپل مايملک او مستملکات خپلې غوره ميرمن مريې يلدز ته ورکړل چې ډېر ژر د خوارزم د يوۀ پارسي پاچا له لوري قبضه سول. د هغه ځای ناستی طلال الدين مجبور سو چې د زينزي Zinzi له پرېـکنده توري څخه وتـښـتي [2].

له هغه انقلابه نيولې بيا د تيمور بيگ تر مهاله پورې افغانان عمدتاً نا پـېـژندل سوی پاتي سوي دي؛ موږ د هغوی د دولت په هکله د پام او قناعت وړ جزئـيات د فرشتې له تأريخ پرته بل څه په لاس کې نـۀ لرو. فرشته وايي چې په ۱۲۵۱ز کال کې د ډيلي پټان پادشاه محمود مغولي تاتاران له غزني وشړل او غزني يې د هندوستان له امپراتورۍ سره محلق کړ.[3] احتمالاً پر هندوستان باندې د تيمور تر لښکر لـېـږد پورې چې له هغه وروسته افغانستان په يوه تاتاري ايالت بدل سو، دغه سيمه د ډيلي تر کنترول لاندې پاتې سوې وي. [4]

له دې چې د تيمور له مرگه وروسته تاتاري امپراتوري په چټکۍ مخ په زوال لاړه او له دې چې په افغانستان کې د تاتاري حکومت په اړوند هـېـڅ ډول معلومات نـۀ سته نو کولای سو دا وانگيرو چې دا هـېـواد تر ۱۵۰۶ز کال پورې د سيمه ييزو مشرانو له لوري اداره کـېـدۀ. [5] دغه مهال بابر د هندوستان له سوبې مخکې د کابل او غزني کنترول په لاس کې اخيستی وو او د کندهار په گډون دا سيمه سيمه تر ۲۳۱ کالو پورې د دۀ د اعقابو په لاس کې وه چې ورپسې نادرشاه د فارس له قلمرو سره محلق کړ.

---

1 - غور يوه ولسوالۍ يا اصلي ښار د افغانستان په شمالي برخې کې واقع دئ (ليکوال)

2 - دا پېـښه په ۱۲۴۲ز کال کې رامنځته سوې ده. ليکوال

3 - **FROM the period of that revolution, till the invasion of Timur Beg, the history of the Afghans is immersed in general obscurity; and little satisfactory knowledge of their government has been communicated to us, except by Ferishta, who says that in the year 1251 , Mahmoud, a Patan , king of Dehli, drove the Moghul Tar- tars from Ghizni , and annexed it to the empire of Hindostan. { Volume II, page 75, combined volumes in PDF page 418}**

4 - **It is probable, that it continued subject to the dominion of Delhi, until the expedition of Timur's into India, when the northern quarter of Afghanistan became a Tartar province. { Volume II, page 76, combined volumes in PDF page 419}**

5 - **As the great empire of Tartary fell into rapid decay on the death of Timur, and no relation being given of the subsequent existence of a Tartar government in Afghanistan , we may infer that it was ruled by its national chiefs until the year 1506 , at which period , Baber, previously to his conquest of Hindostan, seized on Kabul and Ghizni, which occasionally with Kandahar, were held by his posterity for the space of two hundred and thirty one years, when Nadir Shah annexed them to the dominion of Persia. { Volume II, page 76, combined volumes in PDF page 419}**

د افغان تأریخ د کلیدي شخصیتونو په ترتیبولو کې دا ټکی د یادونې وړ دئ چې محمود غوري د اندس د سیند په ختیځ کې خپل قلمرو خپل یوه مریي  قطب الدین ته چې د زوی په توګه یې منلی وو وسپارۀ. قطب الدین د ډیلي لومړنی پټان [1] یا افغان پادشاه سو او ددوی د سلطنتي کورنۍ د حاکمانو لړۍ چې  له همدې قوم (افغانان- ژ) ول تر دریو سوو  ۳۰۰  کالو پورې دوام وکړ او په ابراهیم چې د لودي د سلطنتي کورنۍ یو غړی وو پای ته ورسېده؛ نوموړی په جګړه کې د بابر په وسیلې ووژل سو. [2]  ددې طرحې محتوی د شرف الدین د تیمور د خاطراتو له مخې چې ښاغلي (Dow) د هندوستان د تأریخ په نوم انګلیسي ته ژباړلی دئ او د یو شمیر شخصي سطحي نظریاتو له مخې اخیستل سوې او ښایي ډېر ارزښتمن معلومات موږ ته په لاس رانه کړي. [3] له دې چې هېڅ بومي سند شتون نـۀ لري او باندنیو لیکوالانو دا موضوع په سطحي ډول څېړلې ده نو د افغانانو د تأریخ په اړه کوم ډاډمن معلومات په لاس کې نـۀ سته. خو له دې سره سره کله چې دا ټکی په پام کې ولرو چې دداسې افرادو کړۀ وړۀ چې په وحشیانه جهل کې ډوب دي موږ ته لږه پوهېدنه په لاس راکوي او هغوی ان د وحشي تاتارانو په وسیله د هغوی د ظلم او لوټماریو په پار محکوم سوي دي نو د همداسې یو فقدان دلیل په آسانۍ سره منل کېدای سي.

افغانانو د محـمد دین د خپلو سوبمنو یا فاتحو تاتارانو په لاس منلی دئ، هغوی سني مذهبه دي او د علي له پیروانو شیعه ګانو سره په ځرګنده مخالفت کوي. سره له دې چې د افغان قبائیلو ډېری برخه د غیزني Ghizni (غزني- ژ) د سلسلې په ترځ کې دغه دین ته اوښتې ده خو دې ټکي ته هم نغوته سوې چې تیمور د خلکو له داسې ډلې سره مخامخ سو چې تیمور هغوی کافران وبلل. نن ورځ افغانان د هغو مسلمانانو په کتار کې راځي چې په خپلو دیني - مذهبي اعمالو کې له لږ دقت او ځیروالي څخه کار اخلي؛ ددوی ډېر شمېر په باندنیو ژبو باندې تسلط لري. ددوی جامې معمولاً یو کمیس دئ چې د نري او لوړ پرتوګ پر پاسنۍ برخې باندې لویدلی دئ؛ بل یې له بدن سره مناسب د وړیو واسکټ / کورتۍ ده چې ټینګ یې په ځان پورې نښتی دئ او د پنډۍ تر وسط پورې یې

---

[1] - سره له دې چې د پټان معنی او مشناء لا روښانه نـۀ ده خو په هندوستان کې افغانان اکثر وختونه د پټان په نامـۀ یادېږي - لیکوال

**The race of Afghans are commonly known in India by the name of Patans, the meaning or etymology of which designation does not seem to be ascertained { Volume II, page 76, combined volumes in PDF page 419 Footnote}**

[2] - **IN arranging those heads of Afghan history, it may not be superfluous to note, that Mahmoud Ghori, bequeathed his territory cast of the Indus to a slave, whom he had adopted , named Kultub Ul Dein, the first Afghan or Patan * king of Dehli , from whom a succession of princes of the same nation , continued to reign for near three hundred years , and ended in Ibraham, of the house of Lodi ; who was slain in battle by Baber. { Volume II, page 76, combined volumes in PDF page 419}**

[3] - **Dow Alexander** : په ۱۷٦۸ ز کال کې د محمـد بن قاسم کتاب تأریخ فرشته د هندوستان د تأریخ په نوم له پارسۍ ژبې څخه انګلیسي ته ژباړلی دئ. - ژباړونکی

رسېـږي او له کتان یا بل ټوکر جوړه یوه لوړه خولۍ لري چې شا ته تاو سوې ده او مخروطي بڼه لري او په خپلې پاسنۍ ژۍ کې دوه درزونه لري. د افغانانو غذايي رژیم له شیدو، کوچو او پوځي/ پنیر سره یو ځای غنمینه یا وربشینې ډوډۍ څخه جوړ دئ. په ژمي کې د سفر پر مهال هغوی یو ډول خواړهٔ چې د کورت/ قروت په نوم یادیږي خوري چې له ټینګو تومنه سویو شیدو څخه په وچ ډول په ګردي ډول جوړ سوي دي؛ دغه ګردي شیان تر لمر لاندې وچ او ټینګ کـېـږي او کله چې له تودو اوبو او وچې ډوډۍ سره ګډ سي نو ښـهٔ خوندور او مغذي خوراک ورڅخه جوړ سي. کوچ او پوځه تل د مېـږې له شیدو څخه جوړېـږي او په دې خبرې باور لري چې په دې سیمې کې دا کار د غوا تر شیدو ډېر مناسب دئ. ما ولیدل چې ددوی پوڅه عالي کیفیت لري خو ښايي زما دا خبره په دې هم اړه ولري چې زه له محدود غذايي رژیم سره عادت سوی یم.

زما د ډېرو لنډو مشاهداتو پر بنسټ داسې ښکاري چې د افغانانو دودونه او آداب تر ډېره حده د نورو مسلمانو ملتونو دودونو او آدابو ته ورته دي؛ البته یو شمېـر توپیرونه سته چې دلیل يې په اقلیم او د یوې بې تهذیبي او مهذبې ټولنې تر منځ توپیر دئ. د افغانانو په فرهنګ کې ښځې پټې دي خو سختګیري وربانديې نـهٔ سته؛ دا ښځې د هندي، فارسي او تورکي میرمنو په شان په حرامو خوندونو باندې تمرکز نـهٔ لري. هغوی له غیر طبیعي شهوت څخه چې ډیرۍ مسلمانې فرقې وربانديې ککړې او معتادې دي شدیداً کرکه لري؛ او هر هغه څوک چې دغسې اعمال تر سره کوي شدیداً مجازات کیږي.

د افغانانو حکومت باید همیشه د خپل مشر د شخصیت د اغیزې او د هغه د قدرت په هغې اندازې پورې تړلی اوسي چې په واک کې يې لري. [1] خو که د اوسني سلطنت د دوران په شان د پادشاه له پلوه د هـېـڅ یوهٔ قدرت او یا د غیر معمول ځواک په وسیلې محدود نـهٔ سي نو په کوچنیو ټولنو کې تیت کـېـږي او د فـئـوډالي جوړښت د مبتدي اصولو تر اغیزو لاندې راځي. ددغه سیستم تر سیوري لاندې عموماً بـېـلابـېـل سیمه ییز مشران په ټینګو او استحکامي کلاګانو کې ژوند کوي او پر خپلو رعایاو باندې یو پـېـژندل سوی اقتدار، که څه هم متوسط دئ لري او په بې پروایي سره د حکومت دساتیر پلي کوي. په ندرت پـېـښـېـږي چې څوک دې د حکومت مشر ته مراجعه وکړي مګر دا چې کوم باالقوه ګډ خطر شتون ولري؛ زه ددې شاهد وم چې د شاه اقتدار په بریالیتوب مداخله کړې ده.

---

[1] - THE **government of the Afghans**, must ever receive a weighty bias from the genius of their ruler, and the degree of authority he may possess . {Vol. II. P. 78. PDF format combined both volumes page 421}

د ځمکو د څښتنانو یا ځمکوالو مالیه د هغوی د توان پربنسټ ارزول کېږي او یوه ثابته مالیه ده چې عامه خزانې ته پرداخت کېږي؛ خو له دې چې لوړ مالیات له مخالفت سره مخامخ کېږي نو حکومت له بومي افغان رعایاو سره په معاملاتو کې له مهربانۍ او نرمښت څخه کار اخلي. [1]

د امپراتورۍ وسله وال ځواک له بېلابېلو ملتونو جوړ سوی دئ؛ خو تر ټولو ښهٔ سرتیري یې له افغان ولایتونو څخه راځي. [2] هره سیمه د سرتیرو یو مشخص شمېر چمتو کوي چې د خدمت د دورې لګښت یې په دې هیلې لږ دئ چې په جګړې کې به ډېر مکافات تر لاسه کړي. په ښارونو او ښارګوټو کې عمدتاً د پنجاب هندوان او مسلمانان اوسېږي چې د هندوستان د پخوانیو واکمنو له پلوه دغو سیمو کې میشت سوي دي چې خپلو لویدیځو سیمو ته سوداګري او فرهنګ راوړي؛ د فارس او تاتار له ملتونو متعددې کورنۍ د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې خورې ورې پرتې دي. [3] د فارس وګړي د فارسي وان په نامهٔ یادېږي حال دا چې تاتاریان [4] د مغولو [5] په نوم پېژندل کېږي؛ خو دواړو ډلو د فارسي ژبه منلې ده. دا ټکی د یادونې وړ ده چې د هند فاتح تاتارانو چې د هغوی یو له اعقابو لا تر اوسه د ډیلي پر تخت ناست دئ په خپلې ټولې امپراتورۍ کې د فارسي ژبه د اسنادو د ثبت او اړیکو لپاره د ستندرد ژبې په توګه ومنله او دود یې کړله. دا لړۍ لا تر نن پورې د هندوستان په ټولو مسلمان ایالتونو کې دوام لري.

د افغانستان په معاصر تأریخ باندې د رڼا اچولو لپاره د هغو یو شمېر پېښو شرحه اړینه ده چې د نادر شاه له برید مخکې په سیمې او پرسیا کې رامنځته سوې دي. [6]

---

1 - THE land -holders are assessed , according to their capacity, in a stipulated sum, which is paid into the public treasury ; but as it is known that the demand of a large tax would be resisted , the government is temperate and lenient in its treatment of the native Afghan subjects.. {Vol. II. P. 79. PDF format combined both volumes page 422}

2 - THE armies of the empire are composed of a diversity of nations; but the bedt troops are drawn from the Afghan diſtricts; each of which , on the event of service, furnish a stated quota at a low rate, and look for a greater reward in chance of war. Vol. II. P. 79. PDF format combined both volumes page 422}

3 - The cities and towns are mainly populated by Hindus and Muslims from Punjab, who were settled there by the earlier rulers of Hindustan to bring trade and culture to their western regions; numerous families of Tartar and Persian descent are also spread across various areas of Afghanistan. {Vol. II, page 80, combined volumes PDF page 423}

4 - تورکي ژبه د تاتارستان د سیمې مروجه ژبه ده چې تیمور همدلته زېږېدلی دي. لیکوال

5 - هغه سوداګر چې په کلني ډول هندوستان ته سفرونه کوي او د آسونو او میوه جاتو سوداګر دي عمدتاً له همدې طبقې دي. - لیکوال

6 - To throw some light on the modern history of Afghanistan , it is necessary to describe , some events which were produced in that quarter and in Persia, previously to the invasion of Nadir- Shah. {Vol.II, page 80, combined volumes PDF page 423}

د ۱۷۲۰ز کال په شاو خواوو کې د کندهار د یوهٔ مشر د میرویس د زوی محمود په مشري یو افغان لښکر په فارس برید وکړ. محمود له څو پرله پسې بریاوو وروسته اصفهان تصرف کړ او له طهماس میرزا پرته چې په تېښتې بریالی سو، سلطان حسین او ټول زامن یې محبوس کړل. محمود د خپل مرګ تر مهال پورې پلازمینه او سویلي ولایتونه تر هغو په خپل اختیار کې درلودل چې له همدې قبیلې څخه یو بل افغان، اشرف ته یې وسپارل او هغه هم تر ۱۷۳۰ز کال پورې ددې هېواد په داخلي سیمو کې خپل مطلقه قدرت ته دوام ورکړ. د همدغهٔ وخت په دوران کې ول چې طهماس میرزا چې د افغان څواکونو له لاسه تېښتېدلی وو د خپلو پوځي حامیانو له منځه یوه ډله راټوله کړه. طهماس میرزا د خپل اصلي افسر نادر په مرستې یو پیاوړی برید په افغان غاصبینو باندې وکړ. اشرف د فارس د لښکر پر وړاندې ټینګ مقاومت وکړ دا لښکر په ټوله کې د ختیځ د تر ټولو بریالي سرتیري نادر له لوري رهبري کېدهٔ؛ په دې کې دی (اشرف – ژ) مجبور سو چې د خپل دښمن مهارتونو ته غاړه کېښېږدي او په داسې حال کې چې سل تنه ور پاتې ول د کندهار خواته یې شا تګ وکړ او د خپلو هېوادوالو د یوې لوټماري ډله له پلوه غافلګیر او له نومیدانه مدافعې وروسته یې ماته وخوړله.

د افغانانو یوه پیاوړې او څواکمنه برخه چې په ابدالیانو شهرت لري د فارس د ګډوډ حالت تر اغیز لاندې په خراسان کې د لوی او مستحکم ښار، هرات [1] کنترول په لاس کې ونیوهٔ او دې ته یې چمتووالی درلود چې دا ولایت تر خپلې ولکې لاندې راولي. خو دوی له نادر شاه سره مخامخ سول او ددوی لښکر یې دړې وړې کړ. ویل کېږي چې پینځلس زره تنه ووژل سول او پینځه زره تنه نور یرغمل ونیول سول.

نادر شاه وروسته له دې چې هغه ځمکې چې تورکانو او روسانو د شاه حسین د ضعیف حکومت پر مهال له فارس څخه نیولې وې او افغانان یې وشړل، طهماس یې له قدرت څخه خلع کړ. په ۱۷۳۷ز کال کې نادر له خپل لوی لښکر سره افغانستان ته راغی او د کندهار ټینګه او پیاوړې کلا یې محاصره کړه چې دغه مهال د یوهٔ افغان مستقل مشر حسین خان له پلوه کنترول کېدله. [2] ددغه افسر هڅې او ورسره د کندهار د طبیعي حالت تفوق ددې لامل سو چې د کندهار په ورځېږمو سیمو کې فارسیان تر اتلسو میاشتو

---

1- هرات په لرغونو مهالونو کې د آریا Aria په نوم یاد سوی دئ. - لیکوال

2 - **Having recovered the territories, which the Turks and Ruffians had dismembered from Persia during the weak reign of Husseyn , and expelled the Afghans, Nadir Shah deposed Thamas, and entering Afghanistan in the year 1737 with a large army, laid siege to the strong fortress of Kandahar, which was at that time held by Husseyn Khan, an independent Afghan chief. {Volume II, page 81, combined both volumes in PDF format page 424}**

پورې بوخت وساتي . د کلا او د ورڅېرمو پياوړو مورچلونو له تسليم کيدلو وروسته په دومره هوښيارۍ يې له خپلې بريا گټه پورته کړه چې د حسين د دوه وو بولندويانو تر مشرۍ لاندې څلور زره تنه افغانان د (نادر) په لښکر کې ومنل سول؛ او ويل کېږي چې دغو سرتېرو پر هند باندې د لښکري بريد پرمهال د نادر حياتي ملاتړ وکړ. [1]

ددغه مهال په تأريخي اسنادو کې ما په ځير او دقت د معاصر افغانستان د امپراتورۍ د بنسټ اېښودونکي احمد خان ابدالي نوم ولټاوۀ. خو ومې نـهٔ سوای کولی چې د هغـهٔ د بنياد او يا د پوځي پرمختگونو په هکله مؤثق معلومات پيدا کړم تر هغو چې د نادر شاه له مړينې ورسته دهٔ په زښت ډېر برياليتوب ظهور وکړ. [2]په دې کې هېڅ شک نـهٔ سته چې دی (احمد شاه - ژ) يو افغان وو هماغسې چې زوی يې تيمورشاه د هغـهٔ ثبوت يا گواه دئ خو د (دوی Dowy) تأريخ، دی د پارسي (عبد علی Abdalli) په ډول يادوي. [3] د نادر شاه د ژوندانه په اړوند د اسنادونو او بېلابېلو شفاهي رواياتو پر بنسټ ويل کېږي چې دهٔ د افغانانو يوه ډله درلوده چې ده ته يې کار کاوهٔ. د نادر د سلطنت په پای کې کله چې نادر د خپلو فارسي افسرانو پلان سوي خياتونه او بې وفايي وليدله نو پرېکړه يې وکړه يا به دا بې لارې سم په لارې کوي او يا به يې د باندنيو ځواکونو په مرستې له منځه وړي؛ په دغو ځواکونو کې د احمد خان ځواکونو ته ځانگړې پاملرنه کيدله.

د نادر له وژل کېدلو وروسته په افغان ځواکونو باندې چې شمېر يې له څلورو تر پينځو زرو پورې رسېد شديداً قهرجن بريدونه وسول؛ د افغان ځواکونو مدبر او زړور مشر احمد خان، د فارس د ټول پياوړي لښکر بريد په لړ کې وکولی سول روغ رمټ خپل

---

[1] - The exertions of this officer, aided by the natural advantages of his situation, detained the Persian in the vicinity of Kandahar, for the space of eighteen months. The surrender of the fortress and other adjacent strong holds, Nadir made so temperate a use of his victory, that about four thousand Afghans, commanded by two of the officers of Husseyn, were induced to join his army; and it is mentioned that these troops, during the Indian expedition, rendered him essential service. {Volume II, page 81, combined both volumes in PDF format page 424}

[2] - In the annals of that period, I have made diligent search for the name of Abdali Ahmed Khan, the founder of the modern empire of Afghanistan; but I have not been able to procure any accurate information of his origin or military progress , until he started forth with so brilliant a success at the death of Nadir Shah . {Volume II, page 81, combined both volumes in PDF format page 424}

[3] - That he was an Afghan there is no doubt, as the fact is fully proved in the person of his son Timur Shah ; yet from Dowe's history, he has been brought into our notice by the name of the Persian Abdalli {Volume II, page 82, combined both volumes in PDF format page 425}

پلرني ټاټوبي ته شا تګ وکړي. په دې مهال کې د کابل والي چې د نادر له برخليک څخه لا خبر نـۀ وو يوه د پام وړ خزانه د فارس لښکر ته لـېږله او دا خزانه چې فارس ته پر لاره وه افغان ځواکونو تر لاسه کړه. احمد خان د يوۀ لوی ولسي لښکر له راټولولو وروسته د افغان خاورې د مستقل پادشاه په توګه اعلان سو او د احمد شاه لقب يې غوره کړ. [1] احمد شاه د خپلې سلطې له تثبيت وروسته د هند د شمالي سيمو پر لور پرمختګ وکړ، دا هغه سيمې وې چې ددۀ د قدرت اصلي پېټی يې پر اوږو وو او تر ډېرې مودې پورې د افغانانو له ورانيو وکړېـدلې. [2]

احمد شاه خپل اوږد نظامي او له چلنجونو ډک دوران پای ته ورساوۀ او د يوۀ عادل او منځلاري «ميانه رَو» پادشاه په نوم يې شهرت وموند. هغه په ۱۷۷۳ز کال کې د کندهار [3] د نوي ښار په نـېږدو شاوخوا کې چې د افغانستان د پلازمېنې له پاره په پام کې نيول سوی وو وفات سو. [4] د احمد شاه له وفات وروسته د هغـۀ زوی تيمور د پلار ځای ناستی سو چې خپل دربار د کابل په ښار کې اداره کوي؛ هغه د خپل پلار د قلمرو د باندنيو مستملکاتو لپاره د خپل سلطنت په لومړيو کې هند ته څو بې هدفه لښکر - لـېږدونه وکړل خو د سيکهانو پر ضد د يوۀ ناکام لښکر - لـېږد له کولو وروسته مجبور سو چې د پنجاب ټوله سيمه ور پرېـږدي. اوسمهال تيمور شاه د اندس په ختيځې برخې کې اټک چې د کشمير يوه «امير نشينه» سيمه ده او د ملتان ځينې برخې چې د سندهـ ښار او ټول سندهـ په کې رانغاړل کـېږي په خپل واک کې لري. خو بيا هم تيمور شاه له خپل هندي قلمرو څخه لږه ګټه تر لاسه کوي. زما د سفرونو پر مهال سندهـ تر يوۀ حده (د تيمور شاه- ژ) له امپراتورۍ څخه جلا سوی وو؛ دوه کاله سوي ول چې کابل ته يې هيڅ

1 - THE assassination of Nadir, was immediately followed by a furious attack on the Afghan troops, consisting of four or five thousand men ; but their intrepid chief, though assailed by the whole Persian army, effected a safe retreat into his own country, where, seizing on a large treasure which the governor of Kabul, not yet apprized of the fate of Nadir, had dispatched to the Persian camp, and raising a numerous force, he was acknowledged the sovereign of the Afghan territories , by the title of Ahmed Shah. {Volume II, page 82, combined both volumes in PDF format page 425}

2 - After establishing his authority at home, he penetrated into the northern quarters of India, which felt the force of his arm, and long groaned under the Afghan desolation. {Volume II, page 82, combined both volumes in PDF format page 425}

3 - نادر شاه د کندهار قديمي قلعه چې د يوې دنګې ډبرينې غونډۍ پر سر ولاړه وه ورانه کړله او په ورڅـېرمه دښته کې يـې د نادر آباد په نوم د يوۀ ښار بنسټ کښـېښود؛ دغه ښار د احمدشاه په وسيلې بشپړ سو او اوس د کندهار په نوم پـېژندل کـېږي. ليکوال

4 - AHMED SHAH having run through a long and arduous military carreer, and acquired even the character of a temperate and just prince, died in the year 1773 , in the vicinity of the new city of Kandahar,  which he had designed to be the capital of Afghanistan . {Volume 2, page 82-83, combined both volumes in PDF format page 425 - 426}

مالياتي عايد نـۀ وو لېږلې او له قوانينو څخه د رعاياوو د رعايت لپاره هېـڅ ګام نـۀ وو اوچت سوی. [1] د ملتان والي له دې چې له امپراتورۍ څخه په ليرې واټن کې وو او له بل لوري د تيمور شاه له کم کارۍ څخه په ګټه اخيستنې يوازې په سطحي ډول هغو دولتي دساتيرو ته پاملرنه کوله چې د هغـۀ له موخو سره همغږي ول. [2] دغـۀ عمومي منظر ته په کتلو کولی سو وګورو چې په هند کې د افغانانو حکومت پياوړی نـۀ دئ؛ د تيمور تر مشرۍ لاندې د هغـۀ د ودې نښې لږ لېـدل کـېږي؛ او همدا رنګه د هندوستان پر چارو باندې کومه د پام وړ اغيزه نـۀ لري. [3]

په ډيلي کې د هند ددبار يو شمېـر ګنګوسې خپرېـدې او کله نا کله په هند کې به يې زموږ سيمه کې شور او ګډوډې رامنځته کړه او موږ يې په دې فکر کولو چې تيمور له اندس څخه د يوۀ لوی لښکر په ملتيا راتير سوی او په چټکۍ د ډيلي پر لور پرمختګ کوي ترڅو د مغولو د امپراتورۍ ستر قدرت بېـرته راژوندی کړي. دا داستان يو پوچ او منځتشی داستان دئ چې د مخ په زوال دربار د روحيې د پياوړي کولو او يا په خيالونو او خوبونو کې د ډوبو سياستوالو د سرګرم ساتلو لپاره خپرېـږي. دا داستان دومره له واقعيت سره په تضاد کې دئ چې افغان پادشاه ددې پر ځای د باندني لښکر- لېـږد/ لشکر کشي پلوی اوسي، ان له خپلې پلازمينې [4] څخه وتلو ته چندان لېـوالتيا نـۀ لري. اوسمهال په دې دليل د شاه د سرتيرو په منځ کې پراخه نارضايتي سته چې د هغوی د معاشاتو په تادياتو کې ځنډ

---

[1] -At this day he retains , on the east side of the Indus, the principality of Kashmire, the district of Attock, with some scattered divisions of Moultan, including the city and the territory of Scind . Yet Timur Shah derives but few real advantages from his Indian domain . Scind at the period of my journey, was in a degree dismembered from his empire ; no revenue had been remitted to Kabul for the space of two years , or any measure adopted to enforce obedience. {Volume II, page -83, combined both volumes in PDF format page 426}

[2] - And the governor of Moultan , confiding on his remote distance from the empire and the inactive disposition, of the prince, shews only that attention to the orders of government, which is most accordant with his purposes . {Volume II, page -83, combined both volumes in PDF format page 426}

[3]- From this outline you will perceive, that the Afghan dominion in India , does not stand on a flourishing ground ; that under the auspices of Timur, few marks of its extension are evinced ; or that it imparts any leading influence in the affairs of Hindostan. {Volume II, page -83, combined both volumes in PDF format page 426}

[4] - له هغه وخته راوروسته چې تيمور شاه په سيمه کې راڅرګند سو نو د ملتان تر ولايت پورې يـې سفر وکړ؛ خو د تيمور شاه هڅې او کوښښونه چې بې هدفه ول له يو شمېـر خبرو اترو او بې شمېـرو ګواښونو وروسته پای ته ورسېـدل چې د يوۀ تش په نامـۀ باج ورکوونکي پر وړاندې د هغـۀ د ناتواني څرګندونه يې کوله. په دې سره په عمومي افکارو کې هغه طلسم چې ددۀ په نوم وو نور مات سو او پرته له کوم وياړه خپل پلرني ټاټوبي ته راستون سو. [ليکوال]

راپېښ سوی دئ؛ داسې ښکاري کله چې په ۱۷۸۰ز کال کې دی پېښور ته لاړ او د يو شمير ناراضي افغانانو په لومې کې ونښت له هغې نيتې وروسته له کابل [1] څخه وتلو ته يې لېوالتيا نـهٔ ده ښودلې.

تيمور شاه د خپل افغان او هند قلمرو ترڅنګ د خراسان يوه پام وړ برخه هم په اختيار کې لري چې د هرات ښار په کې رانغاړل کېږي او له شماله د نيشاپور او ترشيش [2] تر ګاونډ او په سويل کې تر صغير عراق پورې رسېږي.[3] ما چې له دغه پادشاه سره ليدلي دي د شپږ څلويښت ۴۶ په شاو خوا کې عمر لري. ونه يې له متوسط حده لوړه او تر يوې اندازې چاغ دئ؛ پوستکی يې د افغانستان د نورو بومي وګړو په څېر تيارهٔ دئ.[4] په تشريفاتي مراسمو کې دی له تور مخمل څخه جوړه يوه لوړه خولۍ چې د مربع ډول لري پر سر ږدي ترڅو ددهٔ د امپراتورۍ د وقار څرګندونه وکړي. [5]

په حکومت کې د توان د لړوالي، د لږ نفوس او په ملکي چارو کې د افغانانو بې علاقګي ددې لامل سوې چې د تيمور شاه عايد د هغه د قلمرو د پراخوالي په تناسب کافي نـهٔ وي. په داسې حال کې چې دغه پادشاه د پام وړ قدرت او سرچنې درلودې دغه سرچنې ددهٔ د ځايناستي پر مهال زښتې ډېرې لږ سوي دي. په هغه څه چې زه په دې هېـواد کې پوهېـدلی يم د ځای ناستي د څواکونو ټول شمېـر يې تر ديرش زرو تنو پورې محدود او عايد يې زموږ په پولي واحد (پوند سترلينګ – ژ) يو ميليون ته رسېږي.

---

1 -

## د مصحح يادونه

له هند څخه رارسېـدلي وروستي راپورونه څرګندوي چې د ۱۷۹۶ز کال په مني کې د تيمور شاه ځای ناستي زمان شاه په پنجاب بريد وکړ. زمان شاه سيکهانو ته پرېکنده ماته ورکړه او د لاهور کنترول يـې په لاس کې واخيست. خو په دې پسې ډېر ژر د زمان شاه په غياب کې د مراد خان په نوم د يوهٔ مشر د بغاوت د پارېـدنې له امله کندهار ته راوبلل سو. دغه راپورونه وايي چې زمان شاه ددې پاڅون په ځپلو باندې بريالی سوی او له لوی لښکر سره هند د ستنيدو لپاره چمتو دئ.

2 - د ژباړونکي يادونه : ما د ترشيش نوم د دهخدا په فرهنګ کې وليدل. دهخدا وايي : (ترشيش. [ تُ ] ( اخ ) ياقوت آرد: ناحيه ای از اعمال نيشابور است که اکنون در دست ملاحده قرار دارد، و آنرادر ماده طرثيث ياد کرده ام. ( معجم البلدان .(ترشيز.( قاموس الاعلام ترکی ). رجوع به طريثيث و ترشيز شود.)

3 - **EXCLUSIVE of his Afghan and Indian dominions, Timur Shah is possessed of a large division of Khorasan, which taking in the city of Herat, extends on the north to the vicinity of Nishabor and Turshish, and on the south to the lesser Irak. {Volume II, page -85, combined both volumes in PDF format page 428}**

4 -**This prince, whom I have seen, is about forty fix years of age, his person is above the middle size and rather corpulent ; and, for a native of Afghanistan, is complexion is dark. {Volume II , page -85, combined both volumes in PDF format page 428}**

5 - **In token of imperial dignity, he wears on days of ceremony, a high cap of black velvet, with a top of a quadrangular form. {Volume II, page -85, combined both volumes in PDF format page 428}**

سپارۀ ځواکونه د افغانستان د پوځ اصلي ځواک جوړوي چې تاتارانو او پرسیا ته د خپلو خاصو سیمو د نـږدې والي له کبله ښه آسونه [1] په مناسبو بیو تر لاسه کوي. [2] د افغانستان پلي ځواکونه په فتیله اي توپکو مجهز دي دا توپک د افغانستان د اردو یوه برخه جوړوي؛ خو د هغو هیوادونو په شان چې سپارۀ ځواکونه یې له نخبګانو جوړ سوي او د اعتبار او نظامي ځای او مقام ښکارندویې کوي د پوځونو دغه واحدونه ضعیف ګڼل کـېږي او یوازې د هند له ناروزل سویو سرتېـرو څخه لږ څخه ښـۀ دي؛ د افغانستان توپچي ځواکونه هم پرته له دې چې د هغوی ارزښت راتیټ کړو کولی سو د مقیاس په پورتني معایر یې وتلو.

د تیمورشاه یو شمـېـر ورونو په حکومت کې ګډوډي او اختلال رامنځته کړ او د هغوی له منځه یوۀ تن سکندر په برالا توګه شورش وکړ او پرته له کومو جدي عواقبو وځپل سو. دغه پادشاه چې مخکې د خپلې کورنۍ له اطاعت او درناوي څخه برخمن وو خپل دوه بالغ زامن په جلا جلا توګه د کندهار او هرات د چارو د مدیریت لپاره منصوب کړي دي؛ دوی دواړه له خپل پلار سره په همغږۍ کې ژوند کوي او ټولنه ورته درناوی لري.

د ارمنیانو د ټولنې بقایا چې نادر شاه له تورکانو سره په جګړه کې نیولي ول د پرسیا په شمال کې ځای پر ځای سول. وروسته احمد شاه دوی افغانستان ته راولـېږدول او اوسمهال په کابل کې استوګن دي. [3] هغوی په خپلو منځونو کې ودونه کوي او کولی سي په آزاد ډول خپل د مسیحیت دین دیني چارې ترسره کړي چې ددوی د یوۀ ملي کشیش په وسیلې څارل کـېږي. دغه ارمنیان د فقید پادشاه د محافظانو یا باډیګارډانو یوه برخه وه او بـېـلابـېـلو لښکرلـېږدونو [لشکر کشي] کې یې ورسره ګډون کاوۀ. تیمور شاه ددوی وارثین، د سلو تنو په حدودو کې، په ورته دندې وګومارل. خو له دې چې دغه پادشاه [تیمور شاه – ژ] له پوځي فعالیتونو لاس اخیستی دئ او د خپل لښکر په ساتلو باندې یې سترګه پټه کړې ده نو ارمنیان هم له شدید فقر سره مخامخ سوي دي. دوی له خپلو کورنیو سره د بالاحصار په ګاونډ کې ژوند کوي او کولی سي خاص کارونه په یوې مشخصې ټاکل سوې محدودې کې تر سره کړي.

---

[1] - په کابل کې یو د کار وړ خدماتي آس له پینځو تر شپږو پوند سترلینګ پورې تر لاسه کیدای سي.- لیکوال

[2] - CAVALRY Constitutes the chief military strength of Afghanistan , which as well from its own districts , as its contiguity to Tartary and Persia, procures good horses ,* at a moderate rate{Volume II, page -85, combined both volumes in PDF format page 428}

[3] - THE remains of a colony of Armenians , which Nadir Shah had captured in his Turkish war, and established in the northern parts of Persia, whence it was removed by Ahmed Shah into Afghanistan , are now residing at Kabul. {Volume II, page -86, combined both volumes in PDF format page 429}

سره له دې چې دا قبیله پریمانه صنعتي وړتیا لري خو بیا هم ډېر لږ عاید لري. سره له دې چې له فقر او د اسارت له وضعیت څخه راپورته سوی دروند پیټی ددوی پر اوږدو پروت دئ او ان ډېر هیله مند کسان یې د پای لپاره کوم څرک نـهٔ ویني بیا هم دوی د خپل نسل دوام ته هڅې کوي: او داسې ښکاري چې دوی ددې تکل لري هماغه بدمرغی چې دوی یې شدیداً تر اغیز لاندې راغلي دي خپلو راتلونکو نسلونو ته ولېـږدوي.

د هغه څه پر بنسټ چې لیدل سوي دي، تقریباً ددې ټکي یادولو ته کومه اړتیا نـهٔ سته چې تیمور شاه لږ د عمل نوښت یا ذهني انرژي لري. تیمور شاه په تیرو اوو کلونو کې نظامي اقدام او د خپلې امپراتورۍ پراخوالي ته لږه لیوالتیا ښودلې ده. دا واقعیت لري چې تیمور شاه د یوۀ ډېر ښه ښار د آسانه نیولو هوس درلود چې لا تر اوسه په پرسیا کې واقع دئ؛ هغه د خپلو سرتیرو یوه ډله د خراسان پلازمینې مشهد ته ولېـږله؛ ددغه ځواک د محاصرې سوکه او بد وضعیت چې پروسږ کال یې پیل کړی وو په څرګنده ښیي چې دا ځواک د تکل یا عزم او مهارت له فقدان سره مخامخ دئ.

سره له دې چې افغان حکومت ته د یوۀ استبدادي رژیم په توګه کتل کېـږي خو د نورو آسیایي هېـوادونو په پرتلې چندان ناعادلانه او یا ظالمانه نـهٔ دئ. [1] په دستورونو یا فرامینو کې یې په ندرت وینه بهونه، خشونت او تاوتریخوالی لیدل کېـږي او له هېـڅ پردۍ ډلې سره دښمني نـهٔ لري. په کابل کې باندني او سیمه ییز سوداګر له زښت ډېر پیاوړي ملاتړ څخه برخمن دي او په داسې یوې پیاوړې روحیې له خپلو حقوقو څخه دفاع کوي چې ساری یې په ندرت په بل مسلمان هېـواد کې موندل کېـږي. د اعدام سزا په ندرت تر سره کېـږي، سره له دې چې د پادشاه متعلقینو اغلب د دولت پر ضد توطیې کړې دي خو پادشاه د خپلې کورنۍ وینه نه ده بهولې. [2] په دومره موده کې چې زه په پلازمینې کې اوسېـدلی یم د تیمور شاه ځانګړتیاووې او فضایل راته له ډېریو اړخونو روښانه سوي دي. ددغه پادشاه اصلي عیب طمع ده؛ د افغانانو له وحشي او نه کنترول کېـدونکي طبیعت څخه د ویرې په دلیل د ځمکو د مالیاتو په راټولولو کې د پادشاه اغیز چندان محسوس نـهٔ دئ؛ او دا ددې لامل سوی چې د سرتېـرو او د دربار د کارمندانو او همداشان د

---

[1] - **THE Afghan government, when viewed as standing on a general basis of despotism, and compared with that of other Asiatic states, is not pregnant with injustice or cruelty. {Volume II, page -87, combined both volumes in PDF format page 430}**

[2] -**Its edicts are seldom accompanied with bloodshed, nor is it inimical to any sect of strangers. The foreign and native merchants, enjoy at Kabul an ample protection, and maintain their rights with a spirit, rarely seen in a Mahometan country.** Capital **punishments are seldom inflicted , and though the kinsmen of the Prince have formed frequent conspiracies against the state, his hands are not stained with the blood of his family. {Volume II, page -87, combined both volumes in PDF format page 430}**

هغو صنعتگرو او سوداگرو پر اوړو دروند پیټی بار سي چې په ساده توب سره خپله متاع په دربار باندې پرته له دې چې فوراً او ځای پرځای ورته پیسې ورکړل سي پلوري. پورته ویل سوي جزئیات سره له دې چې تر یوې کچې له بل سره بې ربطه دي بیا هم دا لیدلوری نهٔ تاییدوي چې ګنې تیمور شاه دې په ګاونډې هېواد کې ویره راوپاروي؛ او یا دا چې تیمور شاه دې د شرق د لکۍ لرونکي ستوري په توګه وانګېرل سي؛ موږ ته ویل سوي چې تیمورشاه هره شېبه به له اندس او ګنګا څخه راواوړي او ان د بنګال لیرې پروت ولایت به درې وړې کړي.

زه فکر کوم چې د افغان پادشاه ستر قدرت د هغه د ګاونډیو په ضعف او اختلافاتو کې پروت دئ. [1] که د سیکهانو مشرانو د خپل مخ په ودې کورني/ داخلي نفوذ په اړه ډېره پاملرنه او اندېښنه نه کوله او تر ډېره یې تکل پر دښمن باندې په لاسبري اوغلبې ولاړ وو نو احتمالاً په هند کې به یې د افغانانو پر حکومت باندې د پای ټکی ایښی وای. ددې تر څنګ که د پرسیا سرتیري د یوهٔ پیاوړي بولندوی تر مشري لاندې راټول سوی وای نو نه یوازې دا احتمال وو چې تجزیه سوی خراسان به بېرته خپلو تأریخي حاکمانو ته ورګرځېدلی وای، بلکه افغانانو به یو ځل بیا خارجي سلطه تجربه کړې وای. ددغه لیک له اوږدېدلو بخښنه غواړم. په درناوي. [2]

ستاسو ارادتمند

---

[1] - THE chief strength of the Afghan prince, I presume to say, is derived from the weakness and discord of his neighbours . {Volume II, page -88, combined both volumes in PDF format page 431}

[2] - Were the Sicque chiefs not more apprehensive of a domestic increasing influence, than desirous of subduing a constitutional enemy, they would , it may be fairly inferred , speedily extinguish the Afghan government in India ; and should the Persian force be thrown into a body, under the conduct of an able leader, it is not only probable, that the dismembered division of Khorasan would revert to its ancient possessors, but that the Afghans would again feel a foreign yoke.
With an earnest apology for this long letter,
I remain ,
Yours, & c. {Volume II, page -89, combined both volumes in PDF format page 432}

# د فوستر سفرونه

## ځوارلسم لیک

ما هڅه وکړه چې د خپل تاواني سوي حسابي صورت وجهه ومومو، خو زما هڅې ناکامې وختلې؛ له دغو ناکامو هڅو وروسته ما پرېکړه وکړه چې دا حسابي صورت به په نیمايي بیه پر خپل ګورجي کوربه بګدافیر وپلورم؛ هغه هم د بشپړ قیمت د خطر په منلو سره دا ریسک ومانـهٔ چې ټول مبلغ به ورکړي. هیله مند یم چې خدای دې ما د هغه شک له کبله چې ما د خپل عیسوي کوربه د صداقت په حق کې کړی دئ وبخښي؛ خو ورسره زموږ ځینې نامشخصې خبرې او ځینې شیان چې ما ورڅخه په لوړه بیه پیرودلي دي ددې لامل سوی چې احساس وکړم هغه صادق سړی نـهٔ دئ. په بیړه د یو چا تورنول چې له ماسره یې انساني همدردي او د پام وړ مرسته کړې او نـهٔ سي کولی د خپل ځان دفاع وکړي زموږ د ټولنې کلیدي پیوندونه له منځه وړي. سره له دې چې دا شک ورته مخامخ ونـهٔ ویل سو خو تر ډېره د هغـهٔ ټکي اړخ لا پیاوړې کوي چې اوس یې وړاندې کوم : داسی سړی چې خپل ځان یې د خپل دین او ایمان دقیقو کړو وړو ته وقف کړی او ظاهراً په هغـهٔ باور ایمان لري چې له مرګ وروسته ورسره څه کېـږي او لکه دغه ګورجي سړی چې هر سهار او ماسپښین په لوړ غږ دعا کوي او د خپلو تسبیح په شمارلو ګڼ شمېـر قدیسان یادوي او هر هغه امتیاز غواړي چې دنیا یې ورکوي او څو دانې روپۍ یا یوهٔ پیني مساکینو ته نـهٔ ورکوي. له نیکه مرغه له متعصبو کړیو پرته په متمدنې نړۍ کې دغه ډول پوښښ او تظاهر نور زوړ سوی دئ او په ندرت له چا څخه ښکاره کېـږي.

وروسته له دې چې د خپل سفر ترتیبات مې ونیول او د ځان د هوساینې لپاره مې د اوښ یوه ډډه چې کجاوه یې درلوده کرایه کړه له یوې ډلې سره یو ځای سوم چې د کندهار پر لور روانه وه.

د سپتمبر په لومړۍ نېـټه د کابل په درې فرسنګۍ [1] کې د «قلعـهٔ قاضي» پاتې شونو ته ورسېـدلو. دا د اوښانو هغه کاروان وو چې په افغانستان او پرسیا کې معمولاً د شپې له پلوه مزل کوي ترڅو د ورځې له پلوه د تندې او د تودخې اغیزې لږ کړي. د ۲۲ نـېټې

---

[1] - د افغانستان په دې برخې او په ټول فارس کې ځمکه د فرسنګ په واحد اندازه کېـږي چې تقریباً د انګلیس له څلورو مایلو سره معادل دئ. ځینې لرغون لیکوالان د اندازې دغه واحد د پاراسنګ په ډول یادوي چې د پاړسي د لرغوني الفبا پر بنسټ د F توری یې نه درلود. لیکوال

ماسپين مهال وخوځېدو او په بلې ورځې سهار وختي په يوې وچې دښتې کې چې پينځه فرسنګه واټن يې درلود ودرېدلو. لاره د ټيټو غرونو له منځه تيره سوې وه چې کرهڼه په کې لږ سوې وه. [1]

اړينه بولم چې تاسو ته خبر درکړم چې د بګدافير له توصيې وروسته چې ډاډ يې راکړ په دې کار کې به هېڅ خطر شتون ونـهٔ لري ما د يوهٔ عيسوي ونډه پر غاړه واخيسته؛ همدا شان نوموړي په ډېر تفصيل راته وويل چې که زه له ديني اړخه ځان تحريف کړم دا کار به جدي عواقب ولري. خو ډېر ژر څرګنده سوه چې دا بدلون له ځان سره ډېرې ستونزې هم لري. ښايي د عيسويت په لومړيو وختونو کې يوهٔ آرام او صبور عيسوي هيڅکله د غير يهودانو په منځ کې دومره سپکاوی يا سختې نيوکې نـهٔ وي ليدلي چې شهادت د هغوی د امان يوازينۍ لاره سي؛ زه تل د شهادت له دغه وروستي وياړ څخه بـېـرېـدلم خو ددې ډاډمنونکي باور يا له ولولو ډکې فداکارۍ له هوساينې څخه مې تجربه نـهٔ درلود چې ګڼې زما کړاو به کليسا ته درناوی يا قدرت راوړي.

د خپل سفر لپاره هغه ډول چې ما غوره کړی ښايي تاسو ته نوی او يا نا آشنا وي؛ له دې کبله غواړم په ساده ژبه يې توضيح کړم. هغه اوښ چې د مسافرانو د وړلو لپاره غوره کېـږي کولی سي دوه تنه وليږدوي چې مسافران په دوه وو کجاوو کې کښېـنول کېـږي او کجاوې په آزاد ډول د څاروي په شا ايښودل کېـږي. کجاوه يو پارسي لغت دئ؛ په خپله کجاوه يو لرګين جوړښت دئ چې بيخ او ديوالونه يې له مشبکې رسيو څخه جوړ چې تقريباً درې فيټه اوږدوالی او دوه فيټه پلنوالی او دوه فيټه ژوروالی لري. د مسافر ضروري وسايل ورسره په کجاوه کې لېـږدول کېـږي، له دې چې سفر معمولاً د شپې له پلوه تر سره کېـږي نو دا ځای د مسافر د استراحت يوازينی ځای دئ؛ په مجردې چې قافله خپل تمځای ته رسېـږي مسافر بايد په بـېـړه د څښاک د اوبو او خوراک لپاره بـېـړه وکړي او په عين حال کې بايد په خپلو وسايلو څارولري چې غلا نـهٔ سي. که ما له دې ډول سفر سره عادت درلود نو ښايي ډېر به ستومانه سوی وم؛ خو زما بشپړه بې تجربه ګي دا سفر راته له چلنجونو ډک کړ. ددې لپاره چې ثابته کړم زما شکايات پر ځای دي نو د حقايقو يو لنډيز به وړاندې کړم. په دغه بکس کې چې زه ناست وم دوه فيټه او اووه اينچه اوږدوالی او يو فوټ او شپږ انچه پلنوالی يې درلود. له دې چې زه پينځه فيټه او تقريبا لس انچه لوړه ونه لرم نو هرو مرو له ما سره به موافق اوسئ چې په داسې يوې تنګې او کوچنۍ فضا

---

[1] - ON the first September, at Killah Kazzee, the remains of a fort, three fursungs distant from Kabul . This being a kafilah of camels , which in Afghanistan and Persia, are usually driven in the night, that the heat of the day and the effects of thirst , may be less felt, we departed on the evening of the 22d , and early next morning halted on a barren plain, five fursungs. The road lay through scattered hills of a moderate height, and a country thinly cultivated. {Volume II, page -92, combined both volumes in PDF format page 435}

کې زما ځايېدل ځانګړې مهارت او هڅې ته اړتيا درلوده. کله چې د اوښ بلې ډډې ته مې پام سو په تعجب پوه سوم چې يوه زړه مېـرمن په کې ناسته ده او د غـېـږې يو ماشوم يې په غـېـږ کې دئ. زما ويره هغه مهال په يقين بدله سوه کله چې ماشوم ژړا پيل کړه او پرستاره ورباندې په قهرېـدله؛ دا ستونزه کرۍ شپه روانه وه. د قافلې د اوښانو په کتار کې زموږ اوښ هم له جسماني وضعيته په ټولو اوښانو کې تر ټولو ضعيف اوښ وو؛ همدا ضعف ددې لامل کـېـدۀ چې مات او ګوډ ګام اوچت کړي او ډېر ناآرامه وي. د اوښ بد صفات تر ډېرې پټ پاتې نـۀ سول؛ مخکې له دې چې قافله او ډله يې په خپل فعاليت پيل وکړي، اوښان معمولاً د بار د اخيستلو لپاره په زنګنونو کښيني او زموږ اوښ يو ناڅاپه ودرېـد او ددې لامل سو چې زه، پرستاره او ماشوم درېواړه له خپلو بيلابيلو وسايلو سره په ځمکه راپرېوځو. دغه مهال مې د لومړي ځل لپاره د سختيو هغو دروند پيټی حس کړ چې يو عيسوي يې په اسلامي هـېـوادونو کې زغمي.

زموږ د اوښ ساروان/ څاروان يو ډېر قهرجن افغان وو چې زه يې ددې پـېښې د عامل په توګه په زغرده ملامت وګڼلم؛ هغه وويل چې له يوۀ کافر سره په يوه لاره تلل چې د اوښ د ګڼ شمير خطاګانو مسؤول ګڼل کـېـږي نـۀ سي کولی د کوم بخت او اقبال هيله ولري. سپيده دم مهال وو چې په آرامۍ سره مې خپل د استراحت ځای وموند، دلته مې د سترو ستومانو عضلاتو کړسهار واورېد چې زما ټول بدن يې راته فلج کړی وو او خلاصی مې ورڅخه تر لاسه کړ.

په کابل کې ما هڅه وکړه چې يو خدمتګار پيدا کړم؛ زه پوهـېـدم چې پرته له مرستې به له ډېر سختو ستونزو سره مخامخ سم. هرګوره، بګدافير ددې خبرې مخالف وو او ويل يې چې هيڅ درونډ مسلمان به حاضر نـۀ سي چې راته کار وکړي او هغه کسان چې خپل عقايد له پامه غورځوي يوازې ددې لپاره راځي چې ما لوټ کړي. ما خپل سفر د همداسې خطرناکې پرېکړې پر بنسټ پيل کړ او تکل مې کړی وو چې پرېږده هر څه چې پېښېږي راپېښ دې سي؛ خو د ساروان / څاروان د پاملرنې د راخپلولو لپاره مې هغه ته له ستندرد کرايې لږ ډېرې پيسې ورکړې.

د څلورويشتمې نـېـټې په سهار مهال وو چې پينځه فرسنګه وړاندې (ازي آباد Azeeabad) [1] ته ورسـېـدلو. د سپيده دم پر مهال دغه سيمه چې ما وليدله ټيټ غرونه يې درلودل او کرهڼه په کې سوې وه. اوس مې د خپلې ډلې کسان په ځرګنده وليدل؛ دلته مې پام دې ټکي ته واوښت چې زموږ د قافلې مشر دوران خان چې د تيمور شاه په قبيلې پورې يې اړه درلوده او وياړ يې ورباندې کاوۀ يو کشری

[1]- کيدای سي عزيز آباد وي او دا د ميدان وردک په ولايت کې هغه ځای دئ چې پخوا عزيز آباد نوميدۀ او اوس د خواجه کلان په نوم يادېږي. ژباړونکی

ورور درلود چې په پينځو واړو اوښانو کې يې ورسره مرسته کوله؛ په دغو پينځو اوښانو کې درې اوښانو سوداګريز توکي لېږدول او دوه نورو مسافران. د يادونې وړ ده چې د بل اوښ د ډډې په يوې کجاوې کې يوه زړه او مهمه افغان مېرمن او په بله کجاوه کې د هغې زښته ډېره ښکلې لور او د زړې ښځې دوه کوچني لمسيان ناست ول. دغې مېرمنې له هماغو لومړيو څخه له دوران خان سره ستونزه درلوده او له څو زيرکانه شخړو او دعوګانو وروسته ښځه پر ساروان/ ځاروان به بشپړ ډول بريالۍ سوه. ساروان/ ځاروان پرته له څون اوځاره خپله ماته ومنله او ويې ويل چې دا ښځه له اشرافو څخه ده او د هغې لوړ او تيز غږ ورته سرخوږی پيدا کړی دئ.

په پينځه ويشتمې نېټې مو څلور فرسنګه ليرې د يوې کوچنۍ کلا څنګ ته دمه ونيوله. د شپې له پلوه هوا زښته ډېر سړه وه او د سيمې منظره د يوې مسطح او متروکې ځمکې په ډول وه چې شاو خوا يې د شګو او ډبرو غونډۍ ولاړې وې. دوران خان په دې دليل چې زه کافر او نجس وم له هر ډول مرستې څخه يې راسره ډډه کوله او دې کار مجبورولم چې هره ورځ په اوبو، اوښانو او په وچو خوشايو [1] پسې وګرځم ځکه په دغو سيمو کې دا د سونګ يوازيني مواد ول او په زړه کې يې راته اور بل کړی وو او ددې درد ښېې مې له ورايه په سترګو کې ښکارېدلې. له نيکه مرغه ما يو لږ څخه بيسکويت، چای او بوره زيرمه کړي ول؛ له همدې کبله مې وکولای سول په خپل ژوند کې د لومړي ځل لپاره د عام متل پر بنسټ پر ځان متکي سم؛ د خپل سفر په لومړيو کې مې له خپلو دوستانو څخه ښه ډوډۍ تر لاسه کوله. زه په خپل ځان ډاډه وم او زما ددسترخوان پر مخ پريمانه ډوډۍ وه او دې کار راته ډېر ليواله پيروان وموندل.خو اوس له بشپړ متضاد وضعيت سره مخامخ وم؛ د خپلو اطرافيانو له شديد سپکاوي سره مخ وم. د نه ملاتړ په دليل له ډېرو ستونزو سره مخامخ سوم او په دې سخت پښيمانه وم چې کاشکې مې خپل هماغه اسلامي پوښښ ساتلی وای؛ دا هغه پوښښ وو چې تکل مې کړی وو چې په لومړنی مناسب فرصت کې به يې بيرته پر مخ راکش کړم.

ارمنيان د خپلو سفرونو په اوږدو کې هغه کړاوونه نـهٔ ويني او نـهٔ زغمي چې زه يې پر خپلو اوږو وړم؛ همدا شان هغوی د مسلمانانو سپکې سپورې په ژوره توګه نـهٔ احساسوي. هغوی په سفرونو کې چې عمدتاً له خپلو ارمني هيواد والو سره يې په ګډه کوي د يو بل ملاتړ کوي. پر دغو امکاناتو برسيره هغوی انعطاف منونکی طبيعت لري چې که له هرې ډلې سره مخامخ سي د هغوی له دود دستور سره توافق کوي. ما په خپلو سترګو ليدلي دي چې دوی د هندوانو، مسلمانانو او ان يهودانو په ګډون له ګڼ شمير آدرسونو سره جوړ راځي؛ دوی ښايي ورڅخه د مذهبي اعتقاداتو په دليل کرکه ولري خو ددوی د کرکې اصلي دليل په سوداګرۍ کې شديده سيالي يا

---

[1] - قافلې ددغو سون توکو د راټولولو لپاره په ندرت خپل تمځايونه بدلوي. - ليکوال

رقابت دئ. یو ارمني کولی سي دغه ډول چلند په موسکا یا صبر او پریمانه حوصلې وزغمي خو ما به پر وړاندې یې شدید غبرګون ښود، دا غبرګون به یا کلامي وو یا فزیکي؛ سره له دې چې د ختیځ له دود دستور سره تر یوې کچې بلد یم خو ما هیڅکله د مسلمانانو په ځانګړې توګه د عادي مسلمانانو بې ادبانه تکبر نـۀ دئ زغملی چې د نورو ادیانو د پیروانو پر وړاندې یې ښکاره کوي.

په پخلي کې زما سستي او ناقابلیت او د اوښانو په بارولو کې زما د مرستې ناتواني ددې لامل سوه چې دوران خان زما پر وړاندې بد نظر ولري. هغه په دې باور وو چې ددې نظر د څرګندولو لپاره تر ټولو ښه لار دا ده چې په کاروان کې دا ګنګوسه خپره کې چې ګنې زه یهود یم. زه له داسې نوي برید سره مخامخ سوی وم چې زه یې په نښه کړی وم، خو د زړې میرمن له ماشومانو سره د لوبې، مهربانۍ او هغوی ته د خوږو او قند په ورکولو سره ما وکولی سول ددې میرمن پام ځانته واړوم او ومې کولی سول پر دوران باندې غلبه ومومم چې په بشپړ ډول د ښځو په مشرتابه حکومت ته تسلیم سوی وو.

[دلته کتاب کې چاپي تېـروتنه سوې ده. دوهم ټوک ۹۶ او ۹۷ پاڼې تکراراً چاپ سوي دي، پي. ډی ایف ۴۴۱ پاڼه. دا پاراګراف داسې پیل کیږي : په پینځه ویشتمې نـېټې څلور فرسنګه لیرې د یوې کوچنۍ کلا څنګ ته مو دمه ونیوله. چې په دې توګه یې زه دلته اړتیا نه وینم چې بیا یې راوړم.]

په شپږویشتمې نـېټې څلور فرسنګه وړاندې غزني ته ورسېـدلو. دا ښار د څلور سوه کالو لپاره د یوې سترې او پیاوړې امپراتورۍ پلازمینه وو. مؤرخ فرشته څرګندوي چې دا ښار د غزنوي سلاطینو په ځانګړې توګه د ستر محمود له پلوه چې له عظمت ډکې پریمانه پرتمینې او ښکلې ودانۍ یې درلودلې جوړ او ښایسته سوی دئ. خو افسوس! زړۀ مې ډېر خواشینی سو چې د غزني د وضعیت په لیدلو د انساني غرور آثار په څومره بیړه او چټکۍ تري تم سوي دي! په بې ګټې لالهاندۍ په هغو « ماڼیو او ښکلیو برجونو پسې یې» ګرځـېـدم «چې وریځې یې لمس کولې.» دا ماڼې له پخوا په خاورو بدلې سوې وې او د بد شکلو ورانیو له څو خورو ورو کواړیو پرته بله هیڅ یادګاري ودانۍ نه وه پاتې چې د غزني د تیرمهال جلال او عظمت راڅرګند کړي. ښار د یوې غونډۍ پر سر چې نسبتاً متوسط لوړوالی لري موقعیت لري او په لمنه کې یې یو کوچنی سیند [1] بهیږي چې شاو خوا یې د میوو څو بڼونه دي. کمرنګه حضور یې اوس د یو شمیر هندو کورنیو له پلوه ساتل سوی دئ؛ دا هندوان په کوچنیو سوداګریو بوخت دي چې د مسلمان استوګنو وګړو یو شمیر اړتیاوې پوره کوي.

---

1- د سیند اوبه مخ په لویدیځ یا سویل لور ته بهیږي خو د سیند له نوم سره بلد نه یم. - لیکوال

له غزني څخه په لږ واټن کې د محمـود مقبره واقع ده چې زايرين ورته له ډيرو ليرې ځايونو څخه راځي او هلته لمونځونه کوي. له دې چې دا زايرين خپل مذهبي فعاليتونه د خپلو هڅو په اندازې کوي او په هغه باندې خپل وخت تيروي او يا په خپلو سفرونو کې د لارو خطرونه په ځان مني بيا هم دا باور صحيح نـهٔ دی چې ګنې زيارت ددوی روح بډايه کوي؛ حال دا چې ممکن دا معتقد فرد به له خپلو سفرونو څخه اخلاقي لاس ته راوړنې تجربه کړي خو په ډاډ ويلی سم چې د پام وړ دنيوي ګټې هم ورسره تر لاسه کوي. هغه څوک د حاجي په نوم پېـژندل کـېږي چې د مکې زيارت يې کړی وي او د خپل پيغمبر له مقبرې څخه يې ليدنه کړې وي؛ د حاجي په نوم سړي ته په ټولنې کې ژور درناوی کـېږي ځکه چې مؤمن اوسـېدل د اسلامي سنتونو اوج دئ؛ ددې تر څنګ که دی ګدا هم اوسي بيا هم ګونې يا کڅوړه يې له آذوقې تشه نـهٔ ده.

د محمود او غزني په اړه که بحث کوو دا به لويه بې انصافي وي چې د پاړسي شاعر فردوسي، ياد نه کړو؛ فردوسي په خپلې شهنامې کې د حماسي شعر پرتمينه بيلګه او د خپل مورني ټاټوبي د ښايسته ژبې اثر موږ ته راکړی دئ. د مشهورو مشرانو دفاع اغلباً د شاعر پر اوږو نه ده؛ په همدې توګه د ټولنې عام سخاوت اغلب وختونه د خپلو هنري ليوالتياوو د پيروۍ اجازه ورته نه ورکوي. شکايت او سرټکول اغلب وختونه دی دې ته اړ باسي چې مخه کم عايد کار ته کړي او ان زموږ په پرمختللې ټولنې کې موږ ددې شاهد يو چې د فقر سختو او تينګو منګولو، داسې ژوند ته د پای ټکی ايښی دئ. فردوسي ښه چانس درلود؛ هغـهٔ د امپراتور محمود ملاتړ تر لاسه کړ او محمود ددهٔ ستاينه زښته ډيره او له حده وتلې کوله. کله چې پادشاه په خپلې وعدې وفا ونـهٔ کړه شاعر پرسيا ته ستون سو او هېـواد والو يې په ډيرې ليوالتيا خپل سخاوت او تحسين ورښکاره کړ.

د غزني اقليم په سوړوالي کې شهرت لري؛ سيمه ييزو خلکو راته ويل چې دا ښار څو څو ځله په واورو کې دفن سوی دئ. د غزني سړک د دوو مايلو په اوږدوالي په هر فرسنګ کې په ساعت کې څلور مايله مخ پر سويل لويديځ تللی دئ. هماغسې چې زموږ په نقشو کې ښودل سوي دي ما تر ډيره دا لېـوالتيا درلوده چې دغه واقعيت ته د شرايطو پر بنسټ پاملرنه وکړم. په نقشو کې د کابل او کندهار تر منځ لاره او لور دواړه اشتباهاً ثبت سوي دي؛ ځينو فرانسوي جغرافيه پوهانو ان د کندهار لويديځ کې يې واقع کړې ده.

د سپتمبر د مياشتې په ۲۷ نـېټې په سهار پينځه فرسنګه ليرې (هير غوټ/ هير ګټ Heer Ghut) [1] ته ورسـېدو. دا سيمه تيټ غرونه لري او عمدتاً اغزن بوټي په کې شنـهٔ کـېږي؛ په دې سيمې کې يوازې څو ځايونو کې کرهڼه سوې ده. اوښان ډېر لـېـواله دي

---

[1] -Heer Ghut ما ژباړونکي ونه سوکولی دا موقعيت وپيژنم.

چې دا ډول وابښه خوري؛ خلک دا وابښه د وربشو له خميرې سره يو ځای کوي او گردۍ بڼه ورځخه جوړوي؛ دا ددوی عام خوراک دئ. دا څاروي د افغانستان په شان هېـواد کې گټور دي چې لارې يې هموارې او وچه خاوره لري او معمولاً د نفوسو د لږوالي له کبله خوارک توکي په کې محدود دي. [1] اوښ نسبت وهغه څه ته چې دلته مو وربانديې خبرې وکړې کولی سي لا زيږۀ خوراک توکي وزغمي. اوښ کولی سي سترپا وزغمي او د ۸۰۰ انگليسي پونډو [۳۶۳ کيلوگرام - ژ] په درونداوالی پيتی ولېـږدوي. اوښ داسې آرام طبيعت لري چې دوه تنه سرپان کولی سي ۸ اوښان چې يو په بل پسې تړل سوي وي په يوۀ کتار کې بوزي. کله چې اوښ د لارې په اوږدو کې تږی سي له معدې څخه يې يو ډول ارغواني رنگه غوښنه ماده يا اوبلن توکی چې مخکې يې زيرمه کړي دي ترشح کېـږي؛ دغو موادو باندې په خوله کې شخوند وهي او لنده بل يا رطوبت رامنځته کوي چې د لنډ وخت لپاره ورته آرام ورکوي.

په ۲۸ نېـټې [2] د دوران خان په ټينگار مو دمه ونيوله؛ دا توقف داسې وسو چې له زړې مېـرمنې سره مخکې له مخکې توافق نـۀ وو سوی، دې ښځې دومره لوړې چيغې ووهلې او دوران خان يې شديداً محکوم کړ چې دوران خپل غوږونه ټينگ ونيول او له سيمې لاړ. د يادولو وړ ده چې د دمې نيولو لپاره ټاکل سوي ځايونه د کومې کلا او کلا ته نـېږدې ځايونو کې دي چې نومونه يې روښانه دي او يا په داسې سيمو کې دي چې د استوگنې سيمې نـۀ دي او دا داسې سيمې دي چې ځانته جلا ځانگړتياوې لري.

په ۲۹ نـېـټې شپږ فرسنگه ليرې ميرکوټ ته ورسـېـدلو. په ۳۴ يا ۳۵ جغرافيوي عرض البلد کې دلته د کال په دا وخت کې هوا دومره سړه کېږي چې زما مسين لوښی چې له اوښ څخه ځړېده کنگل سوی وو.

په ۳۰ نـېـټې شپږ فرسنگه لـېرې په يوې دښتې کې (مَـشيده Mushidah) ته ورسـېـدلو. له داسې سختې او شاړې سيمې څخه په تېـرېـدلو مسافر نه سي کولی کوم ښه مصروفيت ولري. که مسافر له داسې ځايونو څخه تيرېږي چې په ښکلو طبيعي مناظرو ډک او زما په شان د لارې ملگرې ورسره وي نو ددۀ د منظرو دا جنت به ورته په وچې دښتې بدل کاندي. د ژړاند ماشوم پالونکې مېـرمن کټ مټ د يوې جذابې مېـرمنې برعکس وه؛ د هغې گناه نه وه او که لږ څه پاکه او په خيرو کې ککړه نه وای نو ما به هم د شکايت لپاره کوم دليل نـۀ درلود. ان کولی مې سوای ووايم چې د هغې له خوندرو خبرو به مې خوند اخيستی وای. په هر حال هغې چې د ژوند

---

[1] - This animal is peculiarly useful in countries where, as in Afghanistan , the roads are level , the soil dry, and provender, from the thin population , generally scarce. {Volume II, page 100, combined both volumes in PDF format page 445}

[2] - په انگليسي متن کې ئـې ۲۷ نـېـټه ليکلې ده. دا بايد ۲۸ نيټه واي نو ځکه ما ۲۸ وليکله- ژ

تیرولو په دغسې ځانګړتیاوو باندې ډېره لګوله نو داسې ښکاري چې هغه له هر ډول اندیښنې او تشویش څخه هم بې غمه وه. ویښتان یې جړبنجړ او ډېر خیرن ول او زما په ګومان هیڅکله ږمنځ وربانديې نه وه لګېدلې او هغې ته نېږدې والی راته یوه دردناکه تجربه وه؛ همدا شان په دغومره موده کې چې زه ورسره آشنا سوی وم هغې هېڅکله خپل مخ نـۀ وو پریوللی.

د نوامبر په لومړۍ نېټې پینځه فرسنګه لېرې (تازي Tazee) ته ورسېدلو. دا یوه شاړه سیمه ده. دلته هوا د ورځې له لوري توده او د شپې له خوا سړه وي.

په دوهمې نېټې شپږ فرسنګه لیرې قلات ته ورسېدلو. د افغانستان دا برخه تر ډېره یوې وچې بیدیا ته ورته ده؛ دلته له څو کوچنیو ځایونو پرته چې کرهڼه په کې سوې ده په نېږدو شاو خواو کې یې هیڅ آبادي او کرهڼه نه په سترګو کېږي. [1]

په دریمه نېټه شپږ فرسنګه لېرې (تیر اندازي Teer Andazee) ته ورسېدلو. د شپې له پلوه هوا چې مخکې ډېره سړه وه دلته معتدله سوه خو د ورځې تودوخه له طاقت وتلې وه.

په څلورمې نېټې (پوتي – Potee) ته ورسېدلو؛ دا یو کوچنی کلی دئ چې په یوې ګڼ میشتې او حاصلخیزې سیمې کې واقع دئ. پوتي د کندهار د سړک په ښي لاس کې پروت دئ؛ له دې چې زموږ د ډلې افغان مېرمن د همدغه کلي وه نو هغه دوه اوښان چې زه او دا کوږنۍ یې لېږدول ددې مېرمن د هوساینې لپاره دغه کلي ته ولېږل سول او دلته ورته په ډېر درښنت ښه راغلاست وویل سول. زه نـۀ پوهېږم چې دغې زړې مېرمنې دا فکر کاوۀ چې زما تواضع ددې خنډ ګرځي چې ددې کوږنۍ ته درناوی وکړم او یا دا چې ددې په کورنیو چارو کې زما بشپړه بې تفاوتي یې لیدلې وه. واقعیت دا دئ چې هغې داسې زما سترګو ته کتل چې ګنې زه دومره ناتوانه یم چې ان کوږنۍ ته یې درناوی نـۀ سم کولی. له دې چې زه په نورو شیانو بوخت سوی وم نو له خپل چلند څخه مې هېڅ د حقارت احساس نـۀ درلود ځکه زما وضعیت ثبات موندلی وو.

په پینځمې نېټې یوې سیمې ته ورسېدلو چې مخ خلاصې، آباده او ډېرې ښې کروندې په کې سوې وې؛ مخکې له دې چې د کندهار پر لور وخوځېږو زموږ قافلې د دوه نیم فرسنګي په واټن کې دمه ونیوله. دا ښار چې د دریو مایلو په اوږدوالي معمول

---

[1] - ON the 2d, at Killaut, a fort on an eminence, six fursungs. This quarter of Afghanistan has the general aspect of a desert; and except some small portions of arable land contiguous to the places of habitation no other cultivation is seen. {Volume II, page 101, combined both volumes in PDF format page 446}

استحکامات لري او د مربع په ډول جوړ سوی دئ یو ګڼ وګړی او مخ په ودې ښار دئ. دا ښار د هغـهٔ اصلي سړک په لاره کې پروت دئ چې هند له پرسیا او تاتارستان سره نښلوي او له ډېره پخوا وختونو یو د پام وړ مارکیټ دئ.

په کندهار کې ګڼ شمېـر هندو کورنۍ ژوند کوي چې عمدتاً د ملتان او راجپوت له سیمو څخه دي؛ دوی د خپلو سختو کارونو او سوداګریزو مهارتونو پر مټ ددې سیمې په سوداګرۍ او پانګه کې د پام وړ زیاتوالی راوړی دئ. د بخارا او سمرقند سوداګر اغلب له دغه مارکیټ څخه لیدنه کوي او له همدغـهٔ ځایه ګڼ شمیر نیل خپل پلرني ټاټوبي ته وړي. دغه نیل هر کال له علیا هند څخه کندهار ته راوړل کـېږي. په دې ښار کې د اندس د لویدیځ د نورو ټولو ښارونو په پرتله چې ما لیدلي دي پریمانه خوراک توکي په ارزانه بیه تر لاسه کـېږي. د کندهار انګور او خربوزې ځانته منحصر په فرد او پیاوړی خوند لري او کولی سو د اروپا له بهترینو میوه جاتو سره یې پرتله کړو. د هندو سوداګرو د مغازو او هټیو پراخه تنوع او ورسره د هغوی آرام چلند چې په کې خپل رضایت څرګندوي ددې ټکي ټینګه شاهدي ورکوي چې هغوی په کندهار کې له بشپړې ازادي او امن څخه برخمن دي.

د تیمور شاه یو زوی پر دې ښار او ورڅېـرمو سیمو باندې د والي په توګه حکومت کوي؛راپورونه وایي چې څه دباندې اتلس لکه روپۍ مالیاتي عاید رامنځته کوي. ددې ځای د ټولنې د ټولو طبقاتو له منځه کولی سو په منصفانه ډول دې نتیجې ته ورسېږو چې دغه مالیاتي عاید پرته له کومې شدیدې سخت ګیرۍ او تاوتریخوالي راټولیږي. د کندهار تر شاو خوا پراخې او لویې دښتې پرتې دي چې په باغونو او د کروندو په پټیو ښایسته سوي او په منځ کې یې پریمانه نهرونه خوارهٔ وارهٔ بهیږي چې د خپل کیفیت په دلیل استثنایي نهرونه دي او دا ځای یې د مرجع په ټکي بدل کړی دئ؛ ددې ترڅنګ د کندهار اقلیم په زړه راښکونې ډول نرم او معتدل دئ چې دلته د هند تودوخه او د غزني سړه هوا متعادله کوي.

د اروپا خلک عموماً فکر کوي چې کندهار په یوې غرنۍ سیمې کې پروت دئ او موږ د کندهار د دنګو غاړو او غاښو په اړوند خبرې کوو چې په باالقطع ډول د آلپ په نوم پېـژندل کـېږي. اجازه راکړئ دغه عامه تېـروتنه اصلاح کړم چې اکثراً دې ته ورته کوچنې مسایل یې له حده وتلي غټ کړي دي. د نوي کندهار شاو خوا سیمو ته یو دښته پرته ده خو زړې کلا / قلعه ته په نـېږدې کـېدلو سره یو شمیر غرونه راځي. دا غرونه ډېر لوړ نـهٔ دي او هـېـڅ د پام وړ ستونزه یا ژورې سیمې نـهٔ رامنځته کوي.

کله چې له کابله راوتلم زما ګورجي کوربه بګدافیر یو معرفت لیک دوه تنو کندهار میشتو تورکانو ته راکړ؛ یو تن یې په بازار کې کوچنۍ هټۍ درلوده او بل یې آغا احمد په کاروانسرای کې مشهور زیرمه تون درلود. دغه سړي په ډېر درناوي راته ښه راغلاست وویل

او سره له دې چې زه د يوې عيسوي په نقش کې وم ما له دۀ څخه هېڅ د تکبر کومه نښه ونـۀ ليدله چې مسلمانان يې معمولاً زموږ د دين د پيروانو پر وړاندې څرګندوي. هغه خپل هېوادوال، هټي وال، ته دستور ورکړ چې زما د سفر ضروري لوازم برابر کړي او پام دې وکړي چې څوک ورسره چل او نيرنګ ونـۀ کړي.

له يوې خوا د قافلې چټک خوځېدل او له بلې خوا ژمی رارسېدونکی وو او فارس ته تللی سړک يې بنداوۀ؛ دغو دواړو اړ کړم چې د هرات پر لور وخوځېږم؛ خو که رښتيا ووايم زړه مې غوښتل چې څو موده نور هم په کندهار پاتې سم. اقا احمد زما د سفر لپاره له قافله باشي [1] سره وليدل او زما د سفر مرتبات يې ورسره سمبال کړل او ډاډ من سو چې زه بايد يو ملازم ولرم. دغه سخاوتمند تورک زه رسماً ساروان / ځاروان ته معرفي نـۀ کړم خو له هغه يې وغوښتل چې له ما سره په ډېرې مهربانۍ چلند وکړي او مجبور سوم چې دا خبره کتباً تاييد کړم. که ما کولی سوای چې د خپلو شخصي چارو د مرستې لپاره کوم مساعد نفر کړم نو غوره مې بلله چې ټول ژمی په کندهار کې تېر کړم، لا تر دې دمه زما د وروستۍ ناروغۍ نښې زما په ځان کې پاتې وې او په دې ډارېدم چې د سفر د فشار له کبله دا ناروغي راباندې بېرته راونـۀ ګرځي. په خواشينۍ چې زما شرايطو له مسلمانانو سره زما کورنۍ اړيکي ناشونې کولې او هغه بدلاري ارمنيان مې چې هلته وليدل ما ته کوم مناسب انتخاب نه وو.

زما د تقريبي مشاهداتو پر بنسټ له غزني تر کندهاره سړک د سويل لويديځ پر لور تللی دئ؛ دا سيمه معمولاً وچه بيديا ده چې لږ لرګي او سون توکي او محدودې اوبـۀ په کې موندل کېږي. د لرګيو د کمښت له کبله د کندهار کورونه د کابل د سيمو د کورونو په شان جوړ سوي دي چې تر لمر لاندې له پخو سويو خښتو جوړ او له عين موادو څخه د بامونو چتونه يې په قوسي ډول جوړ سوي دي.

د نوامبر په اتمې نېټې له کندهار څخه وخوځېدم او درې فرسنګه لېرې د (کوبي Koby) په نوم يوۀ کوچني کلي ته ورسېدم چې ګردچاپيره يې يوه يبره وره/ حاصلخيزه دښته راتاو وه. درې مايله ليرې د کندهار شمال ته تاسو په کيڼ لاس کې د يوې کنډواله سوې کلا نښې ګورئ. دا کلا د يوې غونډۍ پر سر ولاړه ده چې متوسط لوړوالی لري خو ډېره ستوغه غونډۍ ده. په دې سيمه کې لاره مخ پورته ستوغه کېږي چې ختل ورباندې آسانه دي او شاو خوا يې لويې مسطح ځمکې واقع دي. زه فکر کوم چې د افغانستان ددې برخې دغه ډول جوړښت د کندهار له غرونو او کنډوونو / معابرو څخه د اروپايانو په انګيرنې کې ونډه لوبولې ده.

---

[1] - باشي يو تورکي لغت دئ چې د سر يا مشر په معنی ده او په فارس کې اکثراً د ټولنې يا د ډلې مشر ته اطلاق کېږي. ليکوال

په نهمې نـېـټې (آسکوکانا/ Auskuckana) ته ورسـېـدو چې يو کوچنی کلی دئ او په دښتې کې پروت دئ، په دې دښتې کې زموږ خوځښت ورو او سوکه وو. ددې څنډ دليل دا وو چې زموږ قافله باشي د ځينو چارو د سرته رسولو لپاره په ښار کې پاتې سوی وو. کله چې قافله باشي زما په دين خبر سو نو زما ټولې اړتياوې يې په پام کې ونـهٔ ونيولې، ان ما ته نـهٔ رانـېـږدې کـېـدهٔ.

زما بدمرغي د لارې په يوهٔ ملګري کې وه چې ظاهراً په مداوم شدت او سختي يې ځورولم چې د يوې ښکنځلمارې او توبيخي پرستارې او د هغې د ژړاند ماشوم پر ځای دهٔ راته زښتې ډېرې خبرې کولې او کوښښ يې کاوهٔ چې د جدل اهل اوسي. دغه ګنګس سړی چې د خپل خان او د ګاونډيو لپاره يې د تأسف وړ وو د صوري قياس يو شمير منحصر په فرد کتابونه لوستي ول چې د نن ورځې د مسلمانانو د پام وړ کتابونه دي او په دوی کې يې تحريف سوي سلايق رامنځته کړي ول. حتی د حافظ اشعار چې په شوخ طبعۍ او دنيوي التذاذ ته په بلنو ډک دي د هغوی له لوري د محـمد او د ايمان په ستايلو تبديل سوي دي. دغه له ولولو ډک منطق پوه نورو مسافرينو لا سم نـهٔ وو پـېـژندلی؛ دهٔ د وخت له ضياع کولو پرته خپلې وړتياوې مسافرينو ته ښودلې؛ ددې ټکي په پام کې لرلو سره چې زه ورته يوه مناسبه سوژه وم نو خپلې ټولې هڅې يې پر ما متمرکزه کړلې.

ما ځانته يو مسافر عرب استخدام کړی وو او هيله مې درلوده چې له هغو رفاهي امکاناتو به برخمن سم چې دهٔ راسره ژمنه کړې وه، خو ددغه منطق - پوه ګواښونو دا عرب له آسانو فرصتونو څخه محروم کړ. منطق - پوه ورته ګواښ کړی وو چې که د کافر له لاسه يوه مړۍ ډوډۍ هم ومني نو د محـمد تر قهر او غضب لاندې به راسي. دغه غريب، وږی او تقريباً لوڅ لغړ سړی له دغسې ګواښ سره مخامخ سو او دداسې ستر غضب د پارېـدنې له ويرې يې خپل نوی موقعيت خوشې کړ او پريکړه يې وکړه چې هماغسې به ژوند وکړي چې تقدير يا برخليک ورته مقدر ګرځولی دئ. ما هيله نه درلوده چې شل ورځې به دغه مسلمان په بې شرمۍ سره زما د سرخوږۍ او مزاحمت لامل وګرځي. دی داسې يو مسلمان وو چې پرته له دې چې خپلې خطا ته پام وکړي په دې فکر کې وو چې کوم ښه کار يې سر ته رسولی دئ.

د لسمې نـېـټې ماسپـښـين مهال قافله وخوځـېـدله او په سبا سهار يې شپږ فرسنګه لـېـرې د (هواره مودت خان Howarah Muddit khan) [1] [ په لمنلی کې د ليکوال د شرحې پر بنسټ دا بايد فوارهٔ مدد خان وي – ژ] ته ورسـېـده. دا يوه مخ خلاصې پراخه سيمه ده

---

[1] - هوره د اوبو د زيرمې مصنوعي مخزن يا فوارې ته وايي چې يو له دغو څخه مدد خان په دغه ځای کې د مسافرانو ددمې د نيولو لپاره جوړ کړی وو. - ليکوال

چې خاوره يې له شګو او سپکې خاورې جوړه وه او د معمول په شان هماغه بيکاره بوټي په کې شنــهٔ سوي ول چې د کابل - کندهار د لارې په اوږدو کې شنــهٔ کېــږي.

په ديارلسمې نــېټې شپږ فرسنګه ليرې (خاک چمپاره Khackchampara) ته ورسېــدو. ددغو دوه وو ورځو د سفر په لاره کې مو د استوګنې د سيمې کومه نښه ونــهٔ ليدله.

په څوارلسمې نــېټې په ګرشک کې د يوهٔ لوی کلي څنګ ته مو د دوه وو ورځو لپاره دمه وکړه چې اړخ ته يې يوه کوچنۍ وياله بهيدله او ښې اوبــهٔ يې درلودلې. دلته د مسافرانو له متاعو څخه ګمرکي محصول اخيستل کېــږي؛ موږ د لويديځ پر لور له يوې دښتې څخه د تېــرېــدلو لپاره خوراک توکي زيرمه کړل. زما آزارګر ګاونډي لا مخکې زما دوه تنه خدمتکاران راڅخه بيولي ول. هغه ته مې زښتې ډېــرې زارۍ او عذرونه وکړل او ورسره مې د هغه د سترو ورتياوو صفات او ستاينې وکړې تر څو چې ما وکولی سول قانع يې کړم چې زما پر وړاندې دې خپل خښم يو څه لږ کړي او د هغو کسانو له سپکولو او لعنت کولو دې لاس واخلي چې ښايي د کومې اړتيا له مخې له کافر سره مرسته وکړي. دا خو لا پرېــږده چې هغه دا هم وويل چې دم يا نايي ته له ورتګ څخه منع يې؛ يوهٔ نايي چې زما پر سر باندې کار کاوهٔ هغه يې مجبور کړ  چې لاس واخلي ځکه چې تيغ يې ککړ سوی دئ؛ او ورته يې وويل چې تيغ دې بايد د عيسوي په پيسو بيرته پاک کړې؛ دا کار نايي ته ګران وو.  کله چې ما پيسې ورکولې نو منطق پوه سره مې په لږ درناوي خبرې وکړې او ورته مې وويل چې دی دې هم د نايي پيسې په همدې ډول پاکې کړي ترڅو دغو پيسو ته په لاس وروړلو کې يې لاس ککړ نــهٔ سي؛ دا مې هم ورزياته کړه چې دا يو احتياطي ګام دئ او داسې نــهٔ سي چې د مسلمانانو پيسې زما په پيسو ککړې سي چې نيم ارزښت به له لاسه ورکړي او يا مو مسکوکات فاسد نه کړي. هغه راته وويل : ته داسې يو کافر يې چې هېــڅ نــهٔ بدلــېــږې؛ بدمرغۍ زه په هماغه اوښ سپور کړی يم چې ته هم ورباندې سپور يې. هغه په دې انديــښــنې کې وو چې د ګناه دومره درونډ پيټی يې پر اوږو پروت دئ چې هېــڅکله به برياليی نــهٔ سي.

شديدې لوږې دريم خدمتکار هم راکړ چې له ملتان څخه د مشهد د زيارت پر لور روان وو. تاسې تصور وکړئ چې دا کومه سرښنندنه او تلوسناکه مينه ده چې دا زائــر يې هڅولې چې د ژمي په دې سړه هوا کې، د زيږې ټولنې په نامهربانۍ کې، لوڅ لپړ چې جامې يې په تن کې نه سته، لوڅې پښې او پرته له دې چې يوه ټنګه يې په جيب کې وي ددومره اوږد سفر سختي يې پر ځان منلې ده. سره له دې چې ما ورته تودې جامې او په کافي اندازې ډوډۍ ورکړه خو بيا هم زما له ډلې سره يو ځای نــهٔ سو.

هغه سړي چې دی یې تعقیب کاوهٔ یو کشمیری وو چې له ګیل بلاس څخه د امبروز لاملا [Gil Blas's Ambrose Lamela] په شان متواضع څېره یې درلوده خو هر څومره چې ګومان کولی سئ هماغومره هتاک او بې رحمه هم وو. هغه داسې چل وکړ چې ګنې د خپل خدمت د ارزښت د لوړولو لپاره زه باید ورته د پام وړ روپۍ ورکړم او ویې ویل چې که د کافر مالګه وڅېم نو باید ډېرې پیسې واخلم. خو وروسته پوه سوم چې دی په خوراک کې هېڅ محدودیت نهٔ پېژني. ډېري آسیایي هېوادونه مالګه د یوهٔ مقدس توکي په توګه پېژني خو په ټوله کې مسلمانان مالګې ته ډېر درناوی لري او یا هماغسې چې اروپاییان وچه ډوډۍ په درنښت یادوي دوی هم مالګه هماغسې په درنښت یادوي. ویل کېږي کله چې یو خدمتکار د خپل ارباب مالګه خوري او که په ناسپاسي پر وګټل سي نو هغه ته نمک حرام ویل کېږي. زما په ګومان دا یوازینۍ اصطلاح ده چې مسلمان ملتونه یې دغسې متخلف ته په کار وړي.

غواړم هغه ناوړه او شوم خصوصیات چې زموږ په هېواد کې په مالګې پورې اړوند دي دلته یاد کړم؛ د بېلګې په توګه کله چې په تصادفي ډول مالګه توی سي نو ژر لږ مالګه په خپلې کیڼې اوږې واچوي ترڅو د محتملې فاجعې مخه یې نیولې وي؛ ما دا عمل ان په هغو کسانو کې هم لیدلی دئ چې د ټولنې له ټیټو طبقاتو څخه لیرې دي او په همدې ټوټکې باور لري. ددې ترڅنګ د لومړنیو برداشتونو پاکول او هېرول ګران کار دئ او اغلب وختونه مفاهیمو ته دائمي رنګ او بوی ورکوي؛ په ځانګړې توګه هغه کسان چې د نړۍ له ډیرو آشنا دودونو او تګلارو سره یې پرېکون کړې وي.

په اولسمې نېټې اووهٔ فرسنګه لیرې د شاه نادر په نوم ددښتې په منځ کې یوهٔ  تمځای ته ورسېدو. د اوبو دغه زیرمه د نادر شاه له پلوه جوړه سوې وه چې د شلو فیټو په لویوالي یوه څلورڅنډېزه زیرمه ده. له پاسه یې یو تراس جوړ کړی چې پرستنو باندې درول سوی دئ او د زیرمې له ژیو هاخوا وړاندې تللی دئ چې د مسافرانو د هوساینې او راحت لپاره یو ځای دئ.

په اتلسمې نېټې پینځه فرسنګه لیرې شور آب Shorab [1] ته ورسېدو. دې تمځای ته نېږدې د کروندې څو سیمې سته او تر څو چې سترګې کار کوي کوم کلی نه په سترګو کېږي.

په نولسمې نېټې لنغره  Lungherah ته د دمې نیولو لپاره ورسېدلو؛ دا یوه بیاباني سیمه ده او دلته د یوې ضعیفې چینې اوبهٔ وي چې هغه هم د سترګو په رپ کې وچې سوې.

---

[1] - شور آب د مالګینو اوبو په معنی ده خو دلته په دې تمځای کې اوبه تاندې او تازه دي. لیکوال

په شلمې نېټې شپږ فرسنگه لېږې دلارام Dilaram ته ورسېدلو، دا یوه کنډواله کلا ده چې د یوهٔ کوچني نهر پر غاړه ولاړه ده او شا و خوا ته یې څو خورې ورې ونې لیدل کېږې؛ په داسې ځای کې دا یوه نادره منظره ده، ددې ځای نورې ټولې شاو خوا سیمې وچې او له استوګنو وګړو تشه ده.

په یوویشتمې نېټې اووهٔ فرسنګه لېږې بکوا Backwau ته ورسیدلو؛ دا ددښتې په منځ کې یو تمځای دئ.

په ددوه ویشتمې نېټې شپږ فرسنګه لېږې (دراوزی Drauze) [1] ته ورسېدو. نن ډېر شدید او تود لمر وو؛ نګه شګې وې، خاورې نهٔ وې؛ موږ د همدغو شګو پر سر ولاړ وو او شګو لا نوره تودوخه خپروله. ما نازک کمیس درلود او خولې مې کړې وې. په همدې حال کې وینم چې زما ګاونډی چې یو تورکمن سید وو او د لمر د ځلا د پټولو لپاره یې هېڅ نهٔ درلودل، او د لمر د تودوخې تر اغیز لاندې راغلی د شدید درد له لاسه کړېږې.

مسلمانانو فکر کاوهٔ چې دا سړی پیریانو نیولی دئ او ددې پر ځای چې په ربښتونې توګه ورسره مرسته وکړي له فرضي شیطان سره په خبرو سول؛ په ځانګړې توګه له داسې چارو زما خبر همکار په آمرانه لحن پیري/ جن ته امر وکړ چې د یوهٔ ربښتوني مؤمن او د مقدسې کورنۍ د لمسیانو له بدن څخه دې ووځي؛ دا دستورونه په عربي او په ډېر شدت ویل کېدل خو ومې لیدل چې دا دساتیر هېڅ اغېزه نهٔ کوي نو ما مداخله وکړه چې که ما ته یې پرېږدئ؛ دا سړې مې له څمکې راپورته کړ او لږ اوبهٔ مې پر مخ وشیندلي او ډېرې اوبهٔ مې ددهٔ په ستوني کې په فشار واچولې.

ډیر ژر د سید پام ددغه کار طبیعي ګټو ته وواښت، خو رامنځته سوی شوک دومره شدید وو چې هغه یې د لنډ وخت لپاره بانګساره او ګنګس کړ. په دې حالت کې دهٔ داسې ګډوډې خبرې کولې چې د چا په ذهن کې یې دا تصور پیاوړی کاوهٔ چې یو پیری/ جن د تاتار پر ځای خبرې کوي.

زموږ منطق پوه اهریمني پیریانو ته په خطاب کې وویل چې تاسو څنګه د پیغمبر د اولادې په بدن کې ننوتلي یاست او ورته یې وویل چې راووځئ او د قرآن آیات یې ورباندې ولوستل. تر دې دمه د سید وضعیت لا متعادل سوی نه وو؛ وروسته یې د چلم څو دودونه کش کړل او بیا یې د خلکو په هڅونې له فرضي شیطان او پیري څخه لاس واخیست.

---

[1]- د ژباړونکي یادونه : که دا تلفظي بڼه درواز وانګیرو دا په هیڅ وجهې درواز نه سي کیدای ځکه درواز په بدخشان کې دئ او زموږ لالهانده جورج فوستر خو اوس مهال په بکوا کې دئ.

په ۲۳ نېټې پينځه فرسنګه ليرې په دښتې کې (غمو Ghumow) ته ورسېدلو. نن ماسپښين زما جنجالي هملارې ملګرې زموږ له ډلې جلا سو او له څو تنو هندو سوداګرو سره فراه ته لاړ، فراه يو د پام وړ افغان ښار دئ چې د (دراوز Drauze) د سويل لويديځ په تقريباً څلويښت يا پينځوس مايلې کې موقعيت لري. خو له دې جلاتوب څخه زما خوښي ددې نږې د نورو لنډمهال خوښيو په شان لنډه وه؛ ځکه چې د هغه ځای داسې يو بل چا ونيو چې تر هغه لا ډېر ځوروونکې وو.

اوس راته د شرم احساس پيدا کېږي چې د خپل شخصي داستان يوه لويه برخه مې له تاسو سره دلته شريکه کړه؛ خو پوهېږم چې که دا مې نه وه شريکه کړې نو د ليکنې موضوع به د همدې ټاټوبي په اندازې تشه وه چې د تشو او وچو دښتو له منځه تېرېږم، دا هغه ټاټوبی دئ چې په سترو ستومانو سترګو پراخې او ناپايه دښتې يې وينم، نه کوم سيند سته نه کومه ونه او تقريباً د ژوند هيڅ نښه په کې نـهٔ سته.

په څلورويشتمې نېټې شپږ فرسنګه ليرې (غيراوني Ghiraunee) ته ورسېدو. دا په ديوالونو کې راتاو يو له ګڼه ګوڼې ډک کلی دئ چې د يوهٔ کوچني نهر پر غاړه واقع دئ. په دا بله ورځ يې هم همدلته پاتې سو ترڅو ګمرګي کارونه خلاص او د خپل درې ورځني سفر لپاره په کافي اندازه خوراک او څښاک چمتو کړو. زموږ مخې ته يوه لويه ارته دښته پرته ده چې له دې ځايه د خراسان تر پولې پورې غځېدلې ده. زما کشميري خدمتکار نـهٔ کومه ديني ليوالتيا او نه ديني جامې درلودې. هغه لمونځ اودس نـهٔ کاوهٔ او نـهٔ يې ځان پاکاوهٔ؛ د هغو پر ځای لوټمارۍ او غلا ته يې ليوالتيا ډېره وه. که له يوې خوا خياط زما جامې راڅخه اخيستلې له بلې خوا دی زما د خوراکي توکو په غلا بوخت وو. خو ددهٔ په دغو کړو وړو کې به هغه مهال کمی راغی کله چې ما ته د اوبو او د سون توکو په برابرولو، په پخلي او د قهوې په جوړولو به بوخت سو.

په اووهٔ ويشتمې نېټې پينځه فرسنګه ليرې (خوس Khoos) ورسېدو. خياط ته د حمل و نقل په بدل کې په ټاکل سوي پرداخت کې ګډوډې رامنځته سوه او دا ددې لامل سوه چې ددهٔ دا شاهکار خرڅلاو ته وړاندې سي او هاغه مهال يو هندي مسلمان چې د بنارس د سيمې له خوانپور څخه له خپلې مېرمن او کورنۍ څخه راغلی وو او د مشهد زيارت ته روان وو وپيرودول سو. ددغـهٔ عابد (خياط – ژ) له خولې چې مخکې يو لوټماری سرتير وو په مسلسل ډول دعاګانې راوتلې. په حقيقت کې کولی سو ووايو چې دی د الهي مينې په شور او شوق کې ډوب وو ځکه دهٔ به پرله پسې ډول دعاګانې کولې او ورسره ژړل به يې؛ عجيب استثنايي شخصيت وو چې د کوم هېواد او د کوم ځای استوګن به وي چې د پانګې او لذت د ترلاسه کولو لپاره په هڅې کې د هيڅ خطر له منلو ډډه نـهٔ کوي خو دا

ورته سخته ښکاري یو ګام اوچت کړي او په جومات ننوځي.  د ښوونې او مذهب بېلابېـل اصول چې په ټوله نړۍ کې ټینګ سوي او ورسره بېـلابېـلو دولتي جوړښتونو د انسانانو په کړوړو کې دومره بدلون رامنځته کړی چې د هغو کړو وړو شننه او تحلیل چې متضاد ماهیت لري څرګندوي چې له بشپړو بیلو ډولونو څخه یې سرچینه اخیستې ده.

په اته ویشتې نـېـټې اووۀ فرسنګه لیرې (ګیمک **Gimmuch**) ته چې ددښتې په منځ کې یو تم ځای دئ ورسـېـدو.

په نهه ویشتمې نـېـټې (اوکال **Ouckal**) ته ورسـېـدو؛ دا د خراسان د ولایت په سرحدونو کې چې ټول استوګن وګړي یې فارسیان دي یو ټینګ او په دیوالونو کې محصور لوی کلی دئ.  د یادونې وړ ده چې د لویې پرسیا بومي خلک په ځانګړې توګه پوځیان یې په هـېـواد کې دننه او دباندې د قزل باش په نوم یادېـږي؛ زه چې خبر سوی یم، قزل باش یوه تورکي اصطلاح یا نوم دئ چې د سور سري په معنی ده او سرچینه یې د پرسیا له خولۍ څخه راغلې چې پورته څوکه یې په سرۀ ټوکر کې پوښل کـېـدله.

په یو دېرشمې نـېـټې شپږ فرسنګه لیرې د شیربخش په نوم دښـتـني تمځای ته ورسـېـدلو. د نوامبر په لومړۍ نـېـته اووۀ فرسنګه لیرې زیارتګاه ته ورسـېـدلو. دا یو کوچنی کلی دئ چې په لمن کې یې یو شمیر مقبرې او یا مذهبي ودانۍ ښکاري.

په یو دېرشمې نـېـټې شپږ فرسنګه لیرې د شیربخش په نوم دښـتـني تمځای ته ورسـېـدلو. د نوامبر په لومړۍ نـېـته اووۀ فرسنګه لیرې زیارتګاه ته ورسـېـدلو. دا یو کوچنی کلی دئ چې په لمن کې یې یو شمیر مقبرې او یا مذهبي ودانۍ ښکاري.

د نوامبر په دوهمه نـېـټه درې فرسنګه لیرې د هرات ښار ته ورسـېـدو. (ګیمک **Gimmuch**) ته د کندهار سړک لویدیځ یا له لویدیځ مخ پر شمال ځي؛ له هغه ځایه تر هرات پورې تقریباً شمالي تګلوری ساتي خو زه نـۀ سم کولی دغه یو ناځاپي بدلون توضیح کړم. هرات په عام ډول یو مخ خلاصی ځای دئ او وچ غرونه لري چې لوړوالی یې متوسط دئ او هر لور ته خوارۀ وارۀ دي. خاوره یې سپکه او شګلنه ده او په طبیعي ډول هغه معطره بوټي نه لري چې مخکې مې یادونه وکړه.

د هرات ښار د یوې پراخې دښتې پرمخ جوړ سوی چې د بهاندو اوبو ګڼ شمیر نهرونه ورڅخه تېـرېـږي او یو شمـېر یې پلونه هم لري. ګڼ شمیر کلي لري چې شاو خوا یې کروندې راتاو دي او دا هغو مسافرانو ته یوه ښکلې منظره وړاندې کوي چې ستړې ستومانه د افغانستان له دښتو څخه راتـېـر سوی دئ. [[1]]

---

[1] **THE city of Herat stands on a spacious plain , which is intersected with many springs of running water, some of which are supplied with bridges ; and the numerous villages surrounded with plantations, must afford a pleasant view to the traveller, whose eye has been wearied with the deserts of Afghanistan .{Volume II, page 115, combined both volumes PDF format page 460}**

قافله باشي موږ داسې کاروانسرا ته بوتلو چې يوازې د مسافرينو لپاره وو؛ کاروان سرا ته نور ورته ځايونه د استوګنو سوداګرو له پلوه نيول سوي ول. د کاروانسرا په انګړ کې مې يو ارمني وليد. په ډېرو لږو تشريفاتو په دې ډول چې ډېرې منفي خبرې وانـۀ وري ما ورته وويل چې زه يو اروپايي يم چې له هند څخه راغلم يم او خپل هېـواد ته روان يم. ما د خپل ځان د امنيت په پار دۀ ته  وويل چې زه هم يو ارمنی يم. د خپل داستان د شک او ترديد د له منځه وړلو لپاره دۀ ته مې هغه ليک وښود چې ګورجي بګدافير زما لپاره يوۀ ارمني ته ليکلی وو چې د هرات په څلويښت مايلۍ کې يې ژوند کاوۀ. زه پوهـېـدم چې نوره لاره راباندې بنده ده. سره له دې چې د پيسو کمښت مې نـۀ درلود خو د هغـۀ مرستې ته مې زښته ډېره اړتيا لرله. هغه حتماً له هغو ستونزو خبرو وو چې موږ ورسره مخامخ وو په ځانګړې توګه د خراسان په شان سيمې کې له شته وو تعصباتو څخه خبر وو. دغه ارمني په آرامي او ځير زما لنډو خبرو ته چې دۀ ته مې وکړې غوږ نيولی وو. زه ګومان کوم چې دۀ فکر کاوۀ که زموږ کتنه دۀ ته کومه ګټه نـۀ رسوي نو پرته له دې چې معمولي مؤدب کلمات په خولې راوړي، په سادګۍ راڅخه لاړ. دغه ارمني سړی چې ما نور څو ځله وليد؛ ددۀ په شخصيت پوه سوم؛ دی هم پوه سو چې زه خپل خپګان او قهر لږ کړم؛ دغه کار له ما سره مرسته وکړه چې خپل کړه وړه ددغه ارمني د کړو وړو په شان کړم چې له خپلې ډلې سره يې په احتياط او بې علاقګۍ چلند وکړم.

د ارمنيانو اوسنۍ ټولنه د يهودو د ټولنې په شان عمدتاً په سوداګرۍ په ځانګړې توګه په کوچنيو سوداګريو کې بوخته ده. هغوی د خپل هېـواد د له لاسه ورکولو تر څنګ خپل د هېـوادپالنې احساس هم له لاسه ورکړی دئ او د پام وړ پوهه هم نه لري چې پايله يې ددوی د شخصيت په ضعف اوړي. دوی معمولاً زيارګالي مطيع او غير صادق خلک دي. دوی د تورکيې، هند، پرسيا او هند په بيلابيلو برخو کې  مونډل کېږي. په هند کې په داسې ځايونو کې مونډل کـېـږي چې د انګليس له مستعمراتو جلا دي او په نامساعدو شرايطو کې ژوند ژواک کوي او اغلب وختونه د ډېرو کوچنيو دلايلو له مخې له سپکاوي، ظلم او لوټمارۍ سره مخامخ کـېـږي. دوی د خپل موقعيت د ستونزو د آسانولو لپاره او د ځواک، وياړ او ملي اهميت د بديل لپاره په نـۀ ستړي کـېـدونکې توګه سوداګري کوي او خپله خوښي د خپلې پانګې په اندازې سنجوي. ارمنيان په آسانه له چا سره دوستي نـۀ کوي او په ندرت له يو بل سره مرسته کوي او يا د يو بل په منځ کې ټولنيزې ګټې هڅوي. اوسمهال ارمنيان په دوه وو ډلو ويشل سوي دي : لومړۍ ډله يې لويه ډله ده چې په تورکيې کې ژوند کوي او بله کوچنۍ ډله يې په پرسيا کې استوګنه ده.

د اصفهان ښار ته نـېـږدې د جولسا Jolsa ښار د شاه عباس له لوري په ځانګړې توګه ارمنيانو ته جوړ سو. شاه عباس د خپل سلطنت لپاره هغه ګټې تشخيص کړې چې يوه سوداګره او اعتدال خوښوونکې ټولنه يې ورکولی سي، له دې کبله ده چې شاه عباس هغوی ته د پام وړ ملاتړ ورکړل او بـېـلابـېـل امتيازات يې ورته مساعد کړل. ويل سوي چې شاه عباس دوی ته اجازه ورکړه چې په باندنيو هـېـوادونو کې په تشبثاتو کې شريک سي او هغو کسانو ته يې بوديجه برابروله چې له مخکې شتمن او پانګوال نـهٔ ول خو د هغوی کورنۍ يې د تل لپاره په جلسا کې د هغوی د کړو وړو د کنترول لپاره وساتلې. په هند کې استوګن ارمنيان د جلسا د ښار ارمنيان دي دوی ټول چې که په جلسا او يا په هندي کې دي په پاړسي ژبې مسلطې خبرې کوي. د فارس د خليج ورځـېـرمه سيمه له تأريخي اړخه هغه سيمه ده چې له هند سره يې د پام وړ سوداګري درلوده او همدا سيمه د ارمنيانو لپاره د راښکون او جذب سيمه ګرځـېـدلې چې د چټکې شتمنې او پانګې او د ثابت حکومت زيری ورسره نغښتی دئ. پرسيا ته بـېـرته ستـنـېـدل هـېـڅکله د هغوی په ذهن کې نه ول، هغوی د پانګې په راټولولو باندې تمرکز وکړ ترڅو د ډېرو پيسو په ورکړې سره خپلې کورنۍ آزاده کړي.

تاسو به په هرات کې داسې يو عيسوي ومومئ چې ما د ارمني د شخصيت په اړه وويل او زه بشپړ ډاډ لرم چې ما په کې اغراق نـهٔ دئ کړی. اوس مې پرېکړه کړې چې په لومړني مناسب فرصت کې به د مسلمانانو له ډلې سره يو ځای سم، احساس کوم چې پرته له هـېـڅ مرستې به زه د خپل ايمان په لاره کې شهيد سم. د ښار هرې برخې ته چې تللی يم خلکو ما ته د يوهٔ مسلمان په سترګو کتلي دي خو کاروانسرا په کې استثناء ده، دلته ما د خلکو سپکې سپورې او ناپايه ملنډې ليدلي دي او ټول مې زغملي دي؛ فارسي ژبې د مسلمانانو د هرې بلې فرقې په پرتلې د بل دين د پيروانو پر وړاندې زښت ډېر محتاط دي. ما حتی اجازه نـهٔ درلوده چې له عامه څاه څخه اوبـهٔ راپورته کړم، ماته ويل سوي ول چې خپل لوښی يوهٔ بل سړي ته چې ددې کار لپاره استخدام سوی وو ورکړم چې زما لوښي په دې ترتيب سره ډک کړي چې لوښی به يې دډکولو پرمهال لوړ نيولی وو چې د څاه د شاو خوا پر ځمکې ونـهٔ لګـېـږي. هغه مهال به چې دغو اوبو ته منتظر وم د سيمې هلکان به د خپلې ساعت تيرۍ پرمهال زموږ کاروانسرا هم راتلل. هغوی اوريدلي ول چې زه نجس يم نو زما پر شاو خوا به راټول سول او غوښتل يې زما د ځان نجس ځای وويني. کله چې هغوی ته مې ويل چې زما ټول ځان نجس دئ نو دوی به نا اميده سول. تر دې ځايه زما سفر که له نورو اړخونو ګټور نـهٔ وو خو لږ تر لږه د مسلمانانو د فرهنګ او ادب په اړه زما تـېـرو باورونو ته يې بدلون ورکړ. همدا شان ډاډمن يم چې دغه سفر له ما سره دا مرسته کړې چې د بې احترامۍ هغه چلند نور مهار کړم چې اغلب وختونه مې د ختيځ د وګړو پر وړاندې ښودل.

تاسو د هندي اشرافو یو تن په پام کې ونیسئ چې د خپل ځواک او قدرت په اوج کې پر تخت روان یا پر یوهٔ فیل سپور او شاو خوا ته یې سوتې والا او نیزه لرونکي روان چې ورته لاره خلاصه کړي او هیڅ څوک ورته د نــېږدې کــېـدلو جرئـت ونـهٔ کړي. که دغه شخصیت تاسو یو ناڅاپه هرات ته راوړئ نو یو ناڅاپه به خپل عظمت او ابهت له لاسه ورکړي او خپل اصلي ارزښت ته به یې تنزل وکړي. هر ځل چې په هرات کې له خپل تمځای څخه دباندې راوتلم نو دداسې یوهٔ ریاکاره مسلمان په جامه کې به راووتلم چې له ټولو امتیازاتو څخه برخمن وو؛ دې ټکي ته په پاملرنې سره چې د ښار نفوس یو متنوع نفوس وو نو ما ته د چا د پام کـېـدلو خطر لږ وو. زه به تل د ښار خوړن ځایونو ته تللم؛ دلته به ورځنۍ خبرې او اخبارونه تبادله کـېـدل، عمدتاً دا خبرونه مصنوعي خبرونه ول، ددې تر څنګ د سلماني هټۍ ته به هم تللم چې په هرات کې منظمه سلماني وه. د سلماني په مرکز کې یوه ډبرینه ستنه ولاړه او پر سر یې د اوبو یوه پیاله ایښې وه چې د ګټې اخیستنې لپاره چمتو سوې ده، له بل لوري د سلماني شا وخوا څنډې په هیندارو، تیغ او د ږیرو په ږمنځو پسولل سوې وه. له دې چې په کاروانسرا کې دننه مې کومه ښه شیبه نه درلوده نو دلته په دې خوشحاله سوم چې که دلته د خوشحالۍ کومه شیبه ومومم او هم به له ساعت تیریو او د معلوماتو له ترلاسه کولو بې برخې نه سم. نـهٔ افغانستان او نـهٔ هم د پرسیا شمالي ولایتونه بدلمنو ښځو ته د استوګنې اجازه ورکوي او نـهٔ هم هغو ښځو ته د استوګنې اجازه ورکوي چې د عمومي سرګرمیو لپاره یا ګډېږي او یا سندرې وایي. [1] د پرسیا د شمال وګړي وایي چې د هند له مسلمانانو بیزاره دي او هغوی په عام اخلاقي فساد او مذهبي ژمنو ته په نـهٔ پاملرنې تورنوي. هر ګوره دغه آرامه او متواضعه ډله تر ډېرو تورونو لاندې راغلې ده ځکه دا ډله د خپل مرموز چارچلند ترڅنګ په خپلو اړوندو حرفوي چارو کې د بـېـلابـېـلو چل او فریب په ډولونو تورنه ده. په هند کې د باندنیو مسلمانانو په هکله یوه عامه خبره منل سوې چې مغولو خپل شمالي هویت لیرې غورځولی او د خپل بې باکو کړو وړو په پار بدنامه سول او د خپلو مذهبي مشرانو تعلیمات او لارښوونو باندې یې ملنډې ووهلې.

هرات تر کندهار کوچنی ښار دئ خو ښه سوداګري لري؛ بازار یې د اوږدهٔ سړک پر غاړو چې مقوس چت لري دوام موندلی دئ او په هټۍ ګانو کې یې ډول ډول شیان پلورل کـېـږي. وچه ډوډۍ، وریجې او غوښه او ورسره ګڼ شمیر میوې او ترکاري باب او سابه پریمانه او ارزانه دي؛ لوی بازار چې په اونۍ کې یو ځل پرانیستل کـېـږي د شاو خوا کلیو له شیانو او متاعو څخه ډک سي چې تـېـرېـدل ورڅخه ګران کار کـېـږي. له وړیو څخه جوړ پربـړ ټوکرونه په همدغو نـېـږدو سیمو کې تولیدېږي چې ستره برخه یې په

---

[1] -. Neither Afghanistan or the northern provinces of Persia , permit the residence of courtezans , or any women that dance or sing for the public entertainment. {Volume II, page, 119, combined volumes PDF format page 464}

جامو بدلېږي او د شمالي فارس بېلابېلو سيمو ته لېږدول کېږي. د پسونو له پوستکو جوړ کوټونه چې دننه يې وړۍ لري په هر پلورنځي کې موندل کېږي او د ژمي په مياشتو کې د ټولو ټولنيزو پاړکو يا طبقو خلک يې اغوندي. د فارس د خليج له لارې يو محدود شمېر اروپايي توکي دغه ښار ته راوړل کېږي له هغې ډلې فرانسوي ماهوت / وړۍ، چړې، قاچوغې او کوچنۍ هينداراې او چاپي عکسونه. ددغو شيانو ټيټه بيه ددې څرګندونه کوي چې دغو شيانو ته اړتيا لږه ده. د هرات پوليس په ځير او دقت مديريت کېږي او عدالت په ټول قدرت سره پلی کېږي. دوه تنه نارينه چې د ټولنې له عامې طبقې څخه په پورته طبقې پورې يې اړه درلوده د غلا په تور محکوم سوي ول او د بازار په مرکز کې له يوې ګنبدې څخه له پښو ځړول سوي ول. دوی همدلته تر يوۀ ساعت پورې هماغسې ځړول سوي پاتې سول او وحشت ځپلو ننداړچيانو يې ننداره کوله. ددې پېښې د يوې برخې له کتلو وروسته خپل د استوګنې ځای ته راستون سوم، ډاډمن وم چې زما نقده شتمني چې راسره زما په جامو کې پټه وه راسره سته خو ددې پېښې په ليدلو مې زړۀ نور هم ډاډه سو.

کله چې دلته مې خپل لږ سرۀ زر/ طلا تبادله کړل ګورم چې قيمت يې تر کابل او کندهار ښـۀ دئ؛ او ورسره پوه سوم چې ارزښت يې له هندي قيمت څخه يو په شپاړلسو ټيټ دئ. سره له دې چې ما د خپلو پيسو په پټولو کې ډېر احتياط کاوۀ او پوهېدم چې که څوک خبر سي نو ګڼ شمېر دښمنان به ځانته ومومم خو زما له هملارو ملګرو څخه يو تن په هرات کې يو ناځاپه زما د کوټې دروازه خلاصه کړله، دا کار په آسيايانو کې کاملاً يو غير معمول کار دئ، او زه يې د خپل دار و ندار د ليدلو پرمهال غافلګيره کړم. کله يې چې وليدل چې سرۀ زر د غولي پر مخ پراته ول نو په متعجبې لېوالتيا يې وغوښتل پوه سي چې زه څه ډول دنده لرم چې دومره سرۀ زر مې په کې ټول کړي دي. هرګوره له هرات څخه زما چټک وتل او يا ددغه فارسي سړي غيرمعمول صداقت ددې غير منتظره ليدنې د بدو پايلو د رامنځته کېدلو مخه ونيوله.

خراسان د پرسيا د ختيځ ډېر لوی ولايت دئ؛ دغه ولايت د يونانيانو د لړۍ له ړنګېدلو بيا د نهمې پېړۍ تر پای پورې چې د سامان د کورنۍ د تاتاري حکومت يوه برخه وه، (د پرسيا – ژ) پر پادشاهي دولت باندې د خپلې اغيزې په پرېښودلو باندې ونډه لوبولې ده. خراسان د شپاړلسمې پېړۍ په پيل کې د تاتار او اعرابو د سلسلو له واکمنۍ وروسته د اسماعيل مشهور په (صوفي **Sofi**) [دا شاه

اسماعيل صفوي دئ – شرحه يې لمنليک کې وګورئ – ژ] [1] له لوري د پرسيا له خاورې سره محلق سو، له همدې نېټې وروسته د صوفي اصطلاح په اروپا کې د پرسيا پادشاهانو ته نسبت ورکړل سوې ده.

هرات د اسماعيل تر ظهور پورې د خراسان اصلي ښار پاتې وو. اسماعيل له دې چې د دهٔ د ادعايي نيکه موسى رضا مقبره په مشهد کې وه نو مشهد ته يې زښت ډېر اهميت ورکړ؛ موسى رضا د فارسيانو د دولسو امامانو له منځه يو امام دئ. له هغه وخته وروسته چې مشهد د خراسان د پلازمينې په توګه وپېـژندل سو له هماغه مهاله وروسته د علي په فرقې پورې د اړوندو مسلمانانو له لوري ورته د پام وړ مرستې رسېـدلې دي؛ د علي د فرقې پيروان معمولاً د شيعه په نوم پـېـژندل کـېـږي. حتى نادرشاه چې د فارسي سلاطينو په منځ کې مذهبي موقوفاتو ته چنداني لېـوالتيا نـهٔ درلوده د موسى رضاء د مقبرې پر سر يې يو جومات ودان کړ او د سپينو زرو يوه محفظه او د سپينو زرو يو لوى څراغ يې هم ورسره جوړ کړ.

قراني دين پرته له دې چې کوم بدلون ووينې تر نهو سوو کالو پورې د مسلمانانو په ټولې سترې او پراخې امپراتورۍ کې تر هغو ثابت او ځاى پر ځاى پاتې سو، چې د اسماعيل له زړورتيا او د هغو د چټکو پوځي لښکر - لـېـږدونو او د برياوو له چلنجونو سره مخامخ سو. د اسلام په لومړيو کې د اسلام څلورو عرب عالمانو مالک، حنبل، حنيفه او شافعى- د قرآن پر اصلي متن تفاسير وليکل. دغه تفاسير تر اوسه د بـېـلابـېـلو فرقو له لوري چې د همدغو امامانو په نومونو يادېـږي منل سوي دي. داسې نـهٔ ښکاري چې دا تفاسير دي له اصلي سيستم سره کوم شديد مخالفت يا تضاد ولري او يا دې ددغو ډلو تر منځ ننښتې رامنځته کړي.

دې ټکي ته په پاملرنې چې د محـمدي دين د پرمختګ ډېرۍ برخه په فارس کې سوې ده او دا دين تر ډېره حده په دې لويې سيمې کې وو زه ځان مکلف بولم چې د اسلام له تأريخه مخکې د پام وړ تأريخي پړاوونه دلته په لنډيز ياد کړم. تاتاري ارساک هغه سلاطين چې د سکندر له فتحې وروسته راغلي ول وشړل او داسې يوه سلطنتي لړۍ يې پيل کړه چې تر څلور سوه او پينځوس کالو يې دوام وکړ.

[1]- اسماعيل صفوي : په ۱۴۸۷ ز کې زېـږېـدلى او په ۱۵۲۴ کې مړ سوى دئ. په ۱۵۰۱ز کال کې چې لا ۱۴ کلن وو چې د پرسيا پاچا سو او په ۱۵۲۴ز کې چې ۳۷ کلن وو تبريز ته د ښکار لپاره له تګ وروسته په ناروغۍ اخته او مړ سو. د اسماعيل صفوي کورنۍ د صفي الدين اردبيلي له وخته نيولې د صوفي په نوم شهرت درلود. نو ځکه دلته زموږ ليکوال د صوفي په نوم ياد کړى دئ. له ۱۵۰۱ز کال مخکې ټول فارس سني مذهبه وو خو کله چې اسماعيل واک ته ورسيد نو د فارس مذهب يې شيعه کړ. دى د فارس په تأريخ کې يو ظالم، قهار او جابر پادشاه تير سوى دئ. تر ډېره يې د فارسيانو وينه وبهوله تر څو چې په زور او جبر يې شيعه ګان کړل. د خلکو په نواميسو يـې تيري وکړل او خلک له ډاره شيعه ګان سول. د حضرت علي له کورنۍ پرته د پيغمبر نورو نيږدې يارانو ته سپکې او سپورې د همدغه اسماعيل پر مهال جبرې سوې. په آذانونو کې د (اشهدو ان علي ولي الله) ويل حتمي سول. –ژ

ددې کورنۍ واکمني د عیسوي پیړۍ په دوه سوه او شپږ ویشتم کال د ارتابانز په مړنیې پاتې ته ورسېدله؛ ارتابانز ته اردشیر [1] چې په یوناني ارتاکسرس مشهور وو ماته ورکړه، گومان کېږي ارتاکسرس د فارس د لرغونو سلاطینو له لړۍ څخه وو.

هماغسې چې زه فکر کوم که دا خبره ومونڊل سي چې پارسیان او پارتیان دوه جلا جلا ډلې دي، نو شوني ښکاري چې په لرغوني تأریخ کې د پارتیانو په نوم کوم ملت چې یاد سوی هغه د اشکانیانو د تاتارانو له لړۍ څخه جوړ سوی وي او تر ډېرې مودې پورې یې په پرسیا حکومت کړی او د روم له امپراتورۍ سره یې شدیدې جگړې کړې دي. د اشکانیانو د سپارۀ ځواک پوځي ورهنه د هغوی د غیشو ویشتونکو مهارت وو او ورسره ددوی ډېر چټک جگړه ییز ډول ډېر ډاروونکی وو یعنی (جنگ و گریز) یې درلود او داسې ښکاریدل چې د چټک یرغل په کولو سره به یې ژر شا تگ وکړ. دغه پوځي تکتیک د آسیا د نورو ملتونو برخلاف هغو پوځي تکتیکونو ته ورته وو چې معاصر تاتاران یې لري.

اعرابو په ٦٥١ز کال کې خپل دین او سوبې یا فتوحات پرسیا ته راوړل او د یولسمې زیږدیزې پېړۍ تر نیماییو پورې د خلافت تر حاکمیت لاندې پاتې سو او د سلجوقي کورني تورکمن طغرل بیگ پرسیا فتح کړه. د طغرل ځایناستو تر ۱۱۸۷ز کال پورې چې ددې کورنۍ وروستی پادشاه (عمالیق دینار **Amalek Dinar**) ماتې وخوړله د فارس پر یو شمېر برخو باندې حکومت کاوۀ او (دینار) هم په خپل وار د خراسان د تورکمن پادشاه (جکش **Jakash** ) تر حاکمیت لاندې راغی. [د ژباړونکي یادونه : د عمالیق دینار او د جکش د نومونو په اړوند زه شکمن یم چې دا به لیکوال سم لیکلي وي که نه.] د ختیځې نړۍ ډېری برخه د خوارزمشاهیانو او د عربو د خلافت له لوري اداره کیدله خو په ۱۲۱۸ز کال کې ول چې ختیځه نړۍ د چنگیز خان تر واکمنۍ لاندې راغله. د چنگیز لمسیانو تر ۱۷۴ کلونو پورې پر فارس حکومت وکړ خو په پای کې د کورنیو نښتو له کبله ول چې فارس په ډېرو کوچنیو امیرنشینیو وویشل سو. له دې وروسته دا سیمه د «گوډ – ژ» تیمور د حکومت یوه برخه سوه؛ داسې ښکاري چې د تیمور د کورنۍ یو شمیر ځانگې د جلاجلا حکومتونو له لارې تر هغو د تیمور تر واکمنۍ لاندې وې چې په ۱۴۹۹ز کال کې اسماعیل صفوي د تاتار د پادشاهانو پر ضد وسله راپورته کړه او په چټکۍ سره بریالی او د فارس د تاج او تخت مدعي سو.

د تورکانو په اړوند د (نول **Knoll**) ارزښتمن تأریخ څرگندوي چې اسماعیل د حیدر زوی وو او نوم یې له اردبیل سره چې ددۀ د زېږنې یا د ماشومتوب د دور کور دئ تړلی او له پښت څخه اشرافی وو. وروسته له دې چې حیدر دنیوي کارونه شا ته پرېښودل د (تاوریس

---

[1] - ددغه پادشاه ځایناستي ساسانیان نومېدل چې د اردشیر د پلار ساسان له نسله ول. لیکوال

Tauris) [تاوريس د تبريز لرغونی نوم دئ - ژ] په ښار کې میشت سو او ساده او متفکرانه ژوند يې پيل کړ چې د سيمې د ډېرو خلکو درناوی يې ځانته راخپل کړ. د حيدر شخصيت ددې لامل سو چې په چټکۍ د پيغمبر د مقام لقب تر لاسه او د ټولې پرسيا او ارمنيا له شاو خوا سيمو څخه خلک يې ځانته جذب کړل. حيدر د خپلې ډلې د جذب لپاره چې تل نويو شيانو ته لېـوال ول د مسلمانانو په باورونو باندې يې ګوتنيونې پيل کړې په دغو ګونتيونو کې د پيمغبر د دريو لومړيو يارانو [1] باندنې تنقيد وو. همدا شان حيدر د (ګينی Guini) په نوم د يوۀ پخواني درويش د افکارو د بيا احيا کولو په لټه کې سو، دغه ګيني د صوفي په نوم هم شهرت درلود. حيدر چې ګومان کاوۀ د آسمان له لارې ورته هدايت ورکول کېږي ادعا وکړه چې يوازې د علي پيروان جنت ته ننوځي ځکه چې علي د محـمد يوازينی حقيقي وارث دئ او فرمان يې ورکړ چې د ابوبکر، عمر او عثمان نومونه بايد نفرين، سپک او رټل سوي وګڼل سي. (نول Knoll) د پرسيا پادشاه د (اسيمبويس اوسان کاسانيس Assybieus Usan Cassanes ) [2] په نوم يادوي او وايي چې نوموړي پادشاه د خپل حکومت د پياوړي کولو لپاره حيدر خپلې سلطنتي مانۍ ته وغوښت او خپل لور يې ورته ورکړه، له همدې لور څخه اسماعيل وزيږېـد. د حيدر په برجسته کېـدلو سره د خلکو عامه پاملرنه ورته واوښته. دا خبره ددې باعث سوه چې د حسن زوی، يعقوب چې د پادشاهي واګې يې په لاس کې اخيستې وې وارخطا کړي نو له همدې کبله يې حيدر په پټ ډول په قتل ورساوۀ.

اسماعيل چې د يعقوب له واکمنۍ څخه تښتـېـدلی وو د کسپين د سمندرګي په سويلي سرحد کې د يوې کوچنۍ سيمې مشر ته چې (پيرچالس Pyrchales) [3] نومـېـدۀ پناه يوړه. په همدې مهال کې د حيدر يو شمير دوستان صغير ارمنستان ته چې هغه وخت د تورکانو له توابعو څخه وو پناه يووړه او همالته يې خپل فکري اصول په بريالیتوب خپارۀ کړل. ددوی د شاګردانو مشخصه دا وه چې ددوی د پګړيو پر مخ به يوه تکه سره فيته تړل کېـدله او ويل کېږي له همدغـۀ ځايه دوی د لومړي ځل لپاره د قزلباش لقب تر لاسه کړ چې په تورکي ژبه کې هماغسې چې مخکې مو ورته نغوته وکړه د (سور سر) معنی لري. اسماعيل په دغه مهال کې د خپل پلار

---

[1] - ابوبکر، عمر او عثمان - ليکوال

[2] - د ډېرې خواشينۍ ځای دئ چې رومي او يوناني ليکوالانو او همدا شان ګڼ شمېر معاصر ليکوالانو د اشخاصو او ځايونو تحت اللفظي نومونه چې د پرديو ملتونو په تواريخو کې راغلي دي موږ ته په صحيح توګه نـۀ دي راوړي. او يا که په بل او ښه ډول يې ووايم دا د اروپايي ليکوالانو د ځان خوښونو (خود پسندۍ) پوچه انګيزه وه چې د اروپا او آسيا تواريخ يې د ابهام په موږ او خم او پيچ کې راګير کړي دي؛ په ځانګړې توګه هغه نومونه چې د هغو جنګ جګړو د لړيو يادونه کوي چې د يوناني دولتونو له لورې د پرسيا پر ضد سوي او په پای کې مقدوني الکسندر فتح کړل.هغه نوم چې نول Knoll د پرسيا پادشاه ته ورکړی دئ او د يو شمېر لاتين اسنادو له مخې اخيستل سوی په ډېره څرګنده توګه يو نا صحيح نوم دئ ځکه مسلمانان هيڅ داسې نوم نـۀ لري او پوهـېږو چې د لومړي خلافت له رامنځته کېـدو راهيسې د هغوی په نومونو کې بدلون کومه اغيزه نه ده لرلې. هغه سلطنتي لقب چې تاتار ۀ ښايي عظيم بيګ وي چې د لوی ارباب يا شهزاده په معنی ده او کورنی لقب يې حسن قاسم وو. - ليکوال

[3] - نول Knoll دا خبره په همدې ډول کوي. ليکوال

اصول په شوق او لېوالتيا خپرول. هغه ذاتاً يو ښه وياند، هوښيار او منظم ژوندون درلود، ښکلی وو او زښت ډېر زړور وو او عادي خلکو گومان کاوۀ چې دی له انسان څخه پورته بل شی دئ. د گاونډي هېواد اشراف چې د اسماعيل لارښونو او د هغه تازه افکارو جذب کړي ول ددۀ کور ته راغلل او د مرستې وړانديز يې ورته وکړ؛ سره له دې چې داسې ښکاري چې دی له هغوی څخه ځان ليرې ساتي خو قدرت، درناوی او پانگه يې تر لاسه کړه.  له دې چې اسماعيل استثنايي وړتيا درلوده نو د صوفي لقب ورته ورکړل سو چې د نول **Knoll** په وينا د پوه انسان او يا د خدايانو [1] د مفسر په معنی ده.

داسې ښکاري چې يعقوب دې د خپل سلطنت په هماغو لومړيو کې وفات سوی وي؛ واکمني له هغه وروسته الوان بيگ ته په لاس ورځي چې هغه هم له خپل ورور سره لاس او گريوان وو؛ په فارس کې ددغه مهال گډوډي اسماعيل ته موقع په لاس ورکړه چې له دغـۀ حالت څخه گټه پورته کړي. اسماعيل له خپل لومړني حامي پيرچالس **Pyrechales** څخه يو شمير پوځي مرستې تر لاسه او په ارمينيا يا ارمنستان کې يې نفوذ وکړ، همدلته يې د خپلې کورنۍ ميراث بيرته تر لاسه کړ او هغو کسانو ورته ښـۀ راغلاست وويل چې ددۀ پر پلار باندې يې پـېـرزوينې کړې وې. اسماعيل د خپلو برياوو په دوام په شيروان کې نفوذ وکړ او ددغه ولايت مرکز شاه ماچې يې ونيوه او هغه يې لوټ کړ؛ د شاه ماچې په لوټ کولو سره يې د خپل لښکر شمير ډېر او هم يې د خپل لښکر هيلې لوړې کړلې. دا مهال الوان بيگ، مراد شړلی وو او په دې دليل د پادشاهي د پلازمينې د تاوريس د ښار ښاريانو ته په جزا ورکولو بوخت وو چې د دۀ د ورور په گټه يې وسله پورته کړې وه، په همدې مهال اسماعيل يو ناڅاپه ښار ته نـېـږدې سو او ښار يې پرته له کوم مقاومته ونيوۀ. الوان چې د نورو له ملاتړ څخه بې برخې سوی وو، له خپل ورور سره متحد سو خو د لارې په اوږدو کې چې له مراد سره د اردو د جوړولو لپاره روان وو د اسماعيل تر شديد بريد لاندې راغی او الوان په ښته کې ووژل سو؛ سوبمن اسماعيل له ځنډ پرته د بابيلون پر لور چې هلته مراد ځای پر ځای وو خپل لښکر وخوځاوۀ او مراد يې اړ ايست چې د عربستان دښتې ته وتښـتي [2] په دې توگه اسماعيل د پرسيا پر تخت د يوۀ بې سياله سلطان په توگه ډېه ولگوله.[3]

کيدای سي اسماعيل هغه لومړنی سلطان وبولو چې په يوۀ وخت کې يې د يوې سترې پادشاهۍ پر تخت ډېه ولگوله او له بل لوري ددغه هېـواد د وگړو پر مذهبي تعصباتو يې غلبه ومونده. په دې کار کې د هېـڅ ډول زور زياتي او د خونړيو ښتو ښې چې معمولاً

---

[1] - زما په گومان ددې کلمې جرړه خالصه يوناني ده؛ ددې دورې مسلمانان له يوناني تورو سره آشنا ول. ليکوال

[2]- کورني خيانت ددۀ مخه ونيوله. - ليکوال

[3] - پر سلطنتي تخت باندې د اسماعيل کښـېـناستل د ۱۵۰۸ز کال په شاوخوا کې وسول. - ليکوال

د مذهبي غورځنگونو څرگندويه دي نـﺔ دي ليدل سوي. د حيدر او اسماعيل فکري بنسټ په دې باور ولاړ وو چې محـمد د هغې مينې له مخې چې له علي سره يې لرله خپله لور فاطمه يې ورته په نکاح کړه او د خلافت مشري يې علي ته وسپارله. خو ابوبکر د محـمد يو له نـږدو يارانو څخه ددغه سپيڅلي وصيت په نـﺔ پام کې نيولو سره د علي ادعاگانې ناديده وگڼلې او د حکومت واگې يې په لاس کې واخيستې. د هغه له مړينې وروسته په راتلونکو دولتونو کې دغه قدرت په زور او جبر سره د عمر او عثمان له لوري وساتل سو. على النهايه هغه ظلمونه چې پر علي وسول ددې لامل سول چې خدايتعالى مداخله وکړي او علي د مسلمانانو مشر سو. [1] دغه ډول باور د پارس د ډيريو خلکو لپاره د منلو وړ وگرځـېـد. اسماعيل وويل له دې چې لومړي درې خليفه گان غاصبين ول او د خپل پيغمبر وروستنى دستور يې نقض کړی دئ نو بايد په پينځه وخت لمونځونو کې په ډېرو ترخو کلماتو محکوم سي او له خداې دې وغوښتل سي چې هغوی ته دې د خدای تعالى له لوري تر ټولو شديدې سزاگانې ورکړل سي. اسماعيل د مسلمانانو پر اعتقاداتو باندې دا هم ورزياته کړه چې علي د خدای حبيب دئ او امر يې وکړ چې هغه او اولاده يې بايد د امامانو يا مقدسو کسانو په توگه وپـېـژندل سي. سنيان د لمانځه پر مهال خپل لاسونه پر يوبل باندې تير سوي تر سينو لاندې ږدي برعکس شيعه گان د لمانځه پر مهال خپل لاسونه ځوړند نيسي، سنيان خپله سجده پر ځمکه يا د فرش پر مخ کوي حال دا چې شيعه گان خپله د رس له خاورو جوړ يوه کاشي باندې چې دعلي په سمبول په نښه سوی دئ کوي.

د شيعه گانو يو شمـېـر ډلې په دې باور دي چې علي يو الهي مظهر وو. هغوی معتقد دي چې محـمد ته ورکړل سوی مأموريت نابشپړ وو له دې امله ده چې هغه د ايمان او د مسلمانانو د اقتدار د پياوړتيا لپاره د خليفه ونډه پر غاړه واخيستله. شيعه گان شديدترين مذهبي تعصبات لري، په خپلو عباداتو کې له احساساتو ډک دي له دې کبله له سنيانو سره په پرتلې نورې فرقې لږ مني. په فارس کې يوﺔ سني ته اجازه نـﺔ ورکوي چې د يوﺔ دسترخوان پر سر ورسره ډوډۍ وخوري او په عاميانه ژبه کې پرته له کومې پارونې يا تاو تريخوالي هغه د کافر په نوم يادوي. خو ښاغليه! تاسو داسې يوه ستره او بافرهنگه ټولنه له کوم منظر څخه گورئ چې د متمدن ملت په توگه يې ښکلي ادبيات او آثار پنځولي دي او له بلې خوا د دريو کسانو او د هغوی د بقاياو د ارواحو پر ضد په پنځه وخته لمانځه

---

[1] - د محـمد د څلورو ځايناستو په درناوي چې د هغه له نـږدې يارانو څخه ول او په خپلو زړورو هڅو يې ددين په خپرولو کې بنستيزه ونډه درلودله له فارسيانو پرته نور اکثريت مسلمانان هغوی د (چهار ياري) يعنې د څلورو واړو دوستانو د پيروانو په نوم پـېـژندل کـېـږي؛ همدا شان دوی د سُني په نوم هم يادېـږي چې د سمې يا مسقتيمې لارې د پيروانو په معنى ده. - ليکوال

کې د خدایتعالی قهر راپاروئ چې هېڅ تاوان یې ورته نـهٔ دئ رسولی او په خپل وخت کې یې د محـمد امپراتوري د خپل قدرت اوج او جلال ته ورسوله.

هغوی ددغو خلفاوو په یادونو او خاطراتو باندې په شدید انتقاد بسنه نـهٔ کوي، دوی د خلفاوو د کورنیو په هرې برخې باندې که نر وي که ښځه د سپکاویو او ښکنځلو سیلابونه ان د هغوی تر اووم نسل پورې جاري کوي. زه د سپکو او ښکنځلو په خلاقیت کې د هغوی د نوښتونو شاهد وم چې خلفاوو او د هغوی اولادونو ته یې جوړولې او هغوی یې په دې هم تورنول چې گنې له خپلو لوڼو، ښځو او نورو اولادونو سره یې غیر اخلاقي روابط درلودل. سنیان په دې خبر دي چې ددوی د درناوي وړ شخصیتونو ته سپکې سپورې ویل کېږي او پوهېږي چې دوی باندې د کافر تور لگول کېږي. خو سنیان ان کله چې برلاسي او واکمن هم وي د فارسیانو پر ضد له آزاره ډک غبرگون نـهٔ ښیي.

د خراسان په ولسوالۍ کې چې د افغان امپراتورۍ یوه برخه ده پارسیان له مذهبي او مدني آزادیو څخه برخمن دي او په ندرت سره له سپک چلند سره مخامخ کېږي. [1]

په خپلو دیني مناسکو کې د سنیانو لیبرال لیدلوري ته په کتلو زه د یوې پیښې په یاد ولویدم چې دغه واقعیت په روښانه څرگندوي. د اصفهان یو ارمني سوداگر کابل ته د خپل مهم سفر په ترځ کې په کابل کې هغه کاروانسرای ته راغی چیرې چې ما اقامت درلود. سره له دې چې پینځه تنه نور ارمنیان هم په دې کاروانسرای کې ول خو په کاروانسرای کې نور کسان لکه یهودان، مسلمانان او هندوان هم ول. هیڅ یوهٔ له دغو څخه ورته نـهٔ ښـهٔ راغلاست وویل او نـهٔ یې ورته د مرستې وړاندیز وکړ. تر ټولو بدتره خبره لا دا وه چې د کاروانسرای یوه کوټه هم تشه نـهٔ وه او ټولې کوټې ډکې وې. دا ارمنی په همداسې یوهٔ حالت کې ولاړ او که یوهٔ عیسوي تورک ورته لاس نـهٔ وو ورکړی نو ښایي دا بدمرغه ارمنی به د سړک پر غاړه ولاړ پاتې وای؛ تورک عیسوي خپلې کوټې ته بوت او ډوډۍ یې هم ورته برابره کړه. له څو ورځو وروسته یوهٔ ارمني چې ښایي د مسلمانانو د خپل منځي همکارۍ تر اغیز لاندې یې د شرم احساس کړی وو او یا هم د خپل هېـواد د سوداگرۍ له بار څخه د کومې طمعې په موخې د خپلې کوټې یوه برخه دغه ارمني سوداگر ته وړاندیز

---

[1] - In the division of Khorasan, subject to the Afghan empire, the Persians enjoy a fair portion of civil and religious liberty, and are rarely treated with insults. {Volume II page 131, combined volume 1 and 2 PDF format page 478}

کړه. سوداګر دا وړاندیز رد کړ؛ سوداګر هغه مهال ددغه وړاندیز منلو ته غاړه کېښوده کله چې ورته وویل سول چې ته ولی له کافر سره رابطه لرې.

اوس نو مناسبه بولم چې خپل شخصي روایت ته راوګرځم او تاسو ته خبر درکړم چې زما لومړنی موخه له هرات څخه د رشد **Reshd** ښار ته ده، رشد د ګیلان د ولایت یو لوی ښار دئ چې د کسپین د سمندرګي **Caspian Sea** په سرحد کې په وچه کې د اینزلي **Inzellee** په نوم د یوې روسی کارخانې په څو مایلی کې واقع دئ. د رشد[1] له ښار څخه تر هغه ځایه اوۀ ورځې لاره ده چې هره ورځ باید شل مایله مزل ووهل سي. خو د صغیر عراق [2] له منځه کومه مستقیمه لاره نۀ ده تللې.

ما د هرات د ارمنیانو له خولې واورېدل چې د مازندران د سیند د غاړو په اوږدو کې چې روسي کښتی تګ راتګ کوي له دې ځایه مستقیمه لاره لري، که څه هم د تورکمن تاتارو د بریدونو په دلیل خلک ورڅخه ګټه نۀ پورته کوي بیا هم ما پریکړه وکړه چې همدا مستقیمه لاره ونیسم او له بل لوري د اروپایي مسافرینو لپاره بشپړه نا آشنا لاره ده.

له دې ځایه ترشیش **Turshish** ته یوه قافله د چمتو کېدلو په حال کې وه؛ ترشیش مازندران ته نېږدې یو ښار دئ؛ ما له قافله باشي سره د خپل تګ اړین ترتیبات ونیول خو یو شرط مې ورته کېښښود او هغه دا چې زه باید ددۀ په قافلې کې د یوۀ مسلمان په توګه ومنل سم. د خپل هویت د ساتنې او محافظت په پار مې ځانته یو عرب نوم غوره کړ؛ د فارس په دې برخه کې عرب لږ پېژندل سوي دي او په ژبه یې ډېر لږ تحصیلکرده روحانیون پوهېږي.

له هراته له خوځېدلو څو ورځې مخکې یو افغان سید زما کوټې ته راغی. د خبرو په ترڅ کې یې پام سو چې زه یو عیسوی یم او په دې خبرې یې خپله خوشحالي څرګنده کړه او ویې ویل اوس ورته ښه موقع په لاس ورغلی ترڅو د کفارو د هغو ظلمونو غچ درڅخه واخلم چې ددۀ په مقدسو نیکونو یې کړي دي؛ هغه ټینګار وکړ چې که د پینځو سوو روپیو جریمه [3] او جزیه ورنه کړم نو پر ځای باید د اسلامي شهادت کلمه ولولم او هم دې سنت/ ختنه سم. دداسې غوښتنې د دلیل پر وړاندې ما د بې خبری تظاهر وکړ او په شوخی مې دا سید بل ځای ته بوت چې هلته څلور تنه ارمني آس سپارۀ ول. ما ددغو څلورو واړو له مشر څخه چې په روانې پاړسی یې خبرې کولې وغوښتل چې د سید د غوښتنې دلیل ته راته واضح کړي. دا دقیقاً هماغه شی وو چې ما غوښتل پیل یې کړم. کله چې

---

[1] - له هرات تر جبس **Jubbus** پورې پینځلس ورځ لار ده، بیا تر یرد **Yerd** پورې پینځه ویشت ورځې، تا کاشان **Cashan** پورې لس ورځې او تر رشد پورې پینځلس ورځې لاره ده. لیکوال

[2] - د عراق دوه ولایته دي عراق عظیم او عراق صغیر چې د اول الذکره پلازمینه بغداد ده او عمدتاً د عرب او تورک په امیرانو پورې تړلي دي.لیکوال

[3]- دغه ډول جزایي جریمو ته دوی جزیه وایي او اکثر وختونه په اسلامي هېوادونو کې په غیر مسلمان وګړو باندې تحمیل کېږي. لیکوال

دغه وړي افغان ولیدل چې اوس یې د یوۀ عیسوي پر ځای پینځه تنه پیدا کړي له خوښۍ څخه په جامو کې نـۀ ځاییدۀ. هغه په خپله ډیره سوګند وخوړ چې یا به موږ جزیه ورکوئ او یا به سنت کیږئ. هغه په لوړ غږ چیغه کړه! آه څه مقدس جهاد دئ دا!

زموږ پیغمبر ته به وښودل سي چې دا سرټمبه کفار دې نور خپل کفر او مرداری پرېږدي او له مؤمنانو سره دې یو ځای سي! دا به زموږ دین ته لویه بریا وي! هغه لاره چې ما غوره کړې وه که څه هم ایده آله نه وه خو زما لپاره ګټوره وختله؛ هغه بحث چې شدت اخسیتی وو اوس ډیر متعادل سوی وو. سید د خپلې توقع برخلاف د عیسویانو له سرسخت مقاومت سره مخامخ سو. څرګنده وه چې که څه هم هغه د خپل دین خپرولو ته اشتها ډېره درلوده خو تر ډېره د خپلې هوساینې په فکر هم وو. په دې سپیڅلې جګړې کې سید ځانته اجازه ورکړه چې ګدایګر کفار دی آرام کړي او خپل ګواښونه دې د ډېرو لږو روپیو په بدل کې چې د لومړیو غوښتل سویو روپیو له اندازې زښتې ډېرې لږ وې بیرته واخلي. باید دا ټکی روښانه کړم کله چې ما ولیدل چې د ارمنیانو د ډلې مشر په څه ډول سره دا نښته په خپلې پوهې او خبرتیا سمبال کړه او هغه مې په یوۀ سخت موقعیت کې برابر کړ پښېمانه وم.

ما په هرات کې په دوه وو کاروانسرایونو کې د سلو په شاو خوا کې هندو سوداګر وموندل چې عمدتاً د ملتان اوسېدونکي ول. هغوی د خپلې فعالې سوداګرۍ او د پراخې اعتباري ځالګۍ یا شبکې له لارې ددولت لپاره په مهمو مرستندویانو بدل سوي دي. خو د فارسیانو د بې ادبانه او اغلباً له تاوتریخوالي ډک چارچلند له کبله په ندرت خپلې مېرمنې دغې سیمې ته راولي. کله چې هندوان له اټک څخه را اوړي هغوی معمولاً د آسیا د شمال جامې په ځان کوي؛ هغوی په ندرت په لنګ او لوړو خولیو کې لیدل کېږي. په هرات کې یو شمېر یهود سوداګر هم موندل کېږي؛ دلته دوی هماغه چل او دوکې کاروي چې په لویدیځې نړۍ کې د دوی ډلې وربانديې شهرت لري. یهودیان او ارمنیان چې د علیا آسیا له دودونو سره عادت او له ژبو سره یې بلدیت لري په آسانۍ سره په مسلمانو ټولنو کې ادغام کېږي.

د بېلابېلو آسیایي هېوادونو دودونه او آداب له کوچنیو توپیرونو پرته له یو بل سره ډېر ورته والی لري. خلک د کښېناستلو پر مهال خپله یوه پښه پر بلې باندې په متقاطع ډول ږدي او یا یې تر زنګونونو لاندې ږدي او پلتۍ وهي. هغوی د ډوډۍ له خوړلو مخکې اودس کوي؛ د ډوډۍ د خوړلو پر مهال له چړې یا کاچوغې کار نـۀ اخلي مګر دا چې خوراک په بشپړ ډول اوبلن یا مایع وي. هغوی یو بل ته ورته د طبیعي تخلیې یا بیت الخلا ډول لري. ددې ترڅنګ نارینه له خپلې ږیرې پرته د بدن د پاتې برخو ویښتان خریي.

خو دا ډول دودونه د عليا آسيا د هغو خلکو دي چې هلته د ټولنې ټولې پاړکې يا طبقات خپل سرونه پټوي او لوڅ سر د بې احترامۍ د نښې په توګه ګڼي. پر دې برسيره هغوی هيڅکله فرش سويو کوټو ته له بوټانو سره نه ننوځي.

کله چې ما له ارمنيانو سره خدای په اماني کوله ما ونه سو ای کولی د خپلې نارضايتۍ مخه ونيسم؛ ښايي په همدې يو ناڅاپي شيبې کې دا ټکی ياد کړم چې موږ په داسې سيمې کې وو چې زموږ په شان ډلې له کړاوونو سره مخامخ وې او ددې پر ځای چې له ماسره مرسته وکړي د کوچني انساني کار پر ځای يې زما ستونزې راپېړې کړې. خو دوی ما د زړه له تله وبخښل. زه پوهېدم چې ارمنيان له حد وتلي احتياط ته لېواله دي. د ارمنيانو مشر په ربښتيا توګه تر فشار لاندې ونيولم ترڅو خپل اصلي هويت او خپله اصلي څېره ورښکاره کړم او ګڼې هغه معما ورته روښانه کړم چې زما د اصلي شخصيت څرګندونه وکړي. هغه وويل دا منطقي نه ده چې فرض وکړم او يوازې کنجکاوي يا تجسس وکړم، دا کوم شی دئ چې تاسو يې ددغه سخت کار زغملو ته اړ کړي ياست چې هم خطر لري او هم مالي لګښت او پايله يې يا مالي ګټه ده او يا د اورشليم زيارت ته د تګ ارزښت لري. ارمني وويل چې ارمنيان د مقدسې مقبرې زايرين او يوازيني ربښتوني عيسويان دي. لنډه دا چې هغه په دې باور وو چې زما داستان جعلي دئ او په پای کې يې ادعا وکړه چې يا زه د ګاڼو او جواهراتو سوداګر يم او يا جاسوس. ما کوښښ وکړ ورته توضيح کړم چې د اروپا خلک نورو هېوادونو ته سفر کول يوه عادي خبره ګڼي. د بېلابېلا فرهنګونو له مهارتونو ځان خبرول او د دودونو او رواجونو تجربه د هغوی پوهه د بشريت په اړه زياتوي. له نورو ملتونو سره تعامل چې بېل باورونه او دودونه لري ورسره مرسته کوي چې په خپلو سيمه ييزو تعصباتو غلبه او برلاسي ترلاسه او ټولو ته د مهربانۍ د ګډ حس په سترګه وګوري. هغه زما خبرې پرته له دې چې ددۀ د تجسس حس وپاروي په بې تفاوتۍ واورېدې، ښايي داسې خبرې يې هېڅکله په ژوند کې نـۀ وي اورېدلي؛ له دې چې زما خبرې ددۀ له افکارو او ليدلوري سره همرنګي نـۀ درلوده نو هغه يې رد کړې. خو ما ته يې د ښـۀ سفر غوښتنه وکړه چې ما پلان کړی وو.

د نوامبر د مياشتې د ۲۲ نېټې په شپې مو له هرات څخه سفر پيل او درې فرسنګه وړاندې د (عالم ګسور چشمه Alum Gusour Chashma) کې مو دمه ونيوله. له تاسو ډېره بخښنه غواړم چې دومره اوږدۀ جزئيات مې درسره شريک کړل؛تاسو د زغم غوښتنه کوم. پرته له دې بل څه کولی سم؟ د نن ورځې د فارس شمال د سپين کاغذ په شان له پېښنو او حوادثو پاک دئ يوازې څو تأريخي مجللې ودانۍ لري. له دې کبله تاسو بايد په دې اړه ډېر صبر ولرئ. ما ته ددې اجازې په راکولو سره چې د ځان په هکله خبرې وکړم

او دا د ګڼو مسافرانو د علاقې وړ خبره هم ده تاسو ما په کافي اندازه وستاییئ چې د خپل یوازیتوب په ساعاتونو کې او له جزئـیي ستونزو سره د مخامخ کیدلو شرحې مې د خپل سفر په لړ کې ورکړې دي

زموږ قافله باشي آقا علي نومېـدهٔ، له هغه سره ددهٔ کورنۍ وه چې ددهٔ مور، مېـرمن او خدمتکار یې ول. دوی ټولو موافقه وکړه چې زه به د یوهٔ عرب په نوم چې د مشهد زیارت ته روان یم له دوی سره یو ځای اوسم. زه د لیدلو ټاکلي ځای ته ورسېـدم، دلته د کورنۍ له مېـرمنو پرته چې ډېرې سپکې سپورې ورته ویل سوې وې، نور ټولو حضور درلود. دغو مېـرمنو د هر درد او کړاو لیاقت درلود؛ خو کله چې د ښځو په اړوند د کارونو خبره کېـدله خښمناکو او قهرېـدلو مسلمانانو به دا پوښتنه راپورته کړه چې له دغو کارونو څخه به څه ګټه تر لاسه سي. د شپې په رارسېـدلو سره قافلې خپل سفر پیل کړ او علي پرېښودل سو چې له مېـرمنو سره بدرګه وي، دا چاره ما ته هم راوسپارل سوه. د هغوی په رارسېـدلوسره هغه په عصبانیت خبرې پیل کړې؛ خو ډېر ژر روښانه سوه چې موږ «ددولت» هغه برخه یو چې اداره یې د ښځو په لاس کې ده او مشري یې د علي مور کوي. د علي د مور آمرانه چلند زه د افغان مېـرمنې په یاد وغورځولم چې مخکې مې هڅه وکړه د هغې تعریف وکړم خو لا دومره تونده خویه او قاطع نـهٔ وه. دغه د شدت نـشتوالی د افغانانو او فارسیانو له طبیعي خلق او خوی څخه سرچینه اخلي. زموږ نوي آمرې هم قدرت ته خپله لېـوالتیا ښودله خو دغه لېـوالتیا یې په نرم ډول ننداري ته وړاندې کوله. علي د ښار په دروازې کې د ګمرکاتو د تحویلۍ لپاره پاتې سو او زه او مېـرمنې یې له څو تنو نورو همکارانو سره ولېـږلم. علي ولیدل چې موږ سوکه سوکه پر مخ ځو او شپه هم رانـېـږدې سوې ده نو یو ناڅاپه له موږ لېـرې سو. د علي آبرو دومره درنده وه چې د نرۍ په ډېرو افراطي ځایونو کې چای لاس نه سوای وروړی. د یوهٔ درانده توپک د وړلو پیتی زما پر غاړه وو نو له دې کبله که د علي مېـرمن یوه الهه هم وه او ما ورته نه سوای کتلی. د یوهٔ غړمبیدونکي پرستار، او د کوم ژړاند ماشوم یا د کومې لفظې شخړې تشویش راسره نـهٔ وو، هیڅ شی نه ول چې ما وځوروي. زما نـېـږدې ترینه هملارې د وریجو یوه کڅوړه وه او خوشحاله وم چې راسره وه.

د څلورویشتمې نـېـټې ماسپښین مهال له (چشمې **Chushmah**) څخه وخوځـېـدلو او د بلې ورځې په سهار یې څلور فرسنګه لیرې (ده سرخ **Dhey Soorch**) ته ورسـېـدلو. دلته ډېر لږ کرهڼه لیدل کـېـدله خو د سیمې عمومي څـېـرې هماغه نامساعد او وحشي اړخ درلود چې د ختیځ خراسان خوا یې لرې. د نوي راکړل سوي نوم او شخصیت ګټې چې حاجي یې بللم راڅرګندې سوې. او ټول مسافران مخصوصاً کله چې زما د سفر په موخې (د مشهد زیارت- ژ) پوه سول په ما پسې راتلل. هـېـڅ څوک چې د عیسوي په نامـهٔ

پېـژندل کېـږي باید دا کوښښ ونـهٔ کړي چې د پرسیا له دې برخې څخه لیدنه وکړي. او که په دې بریالی سي چې له دې سیمې لیدنه هم وکړي هرو مرو د دین په نوم ځورول او کړول کـېـږي او خلک به ورسره چل او دوکې وکړي او له توپیر پرته به سپک سپور سي. زه دغسې یوه هڅه غیر عملي گڼم او په احتمالي ډول هر ماجرا پال تر هرو مرو خطر لاندې راځي.

په شپږ ویشتمې نـېـټې د (سکبو پل Skebo bridge) ته له درې نیم فرسنگ مزل وروسته ورسـېـدو، دا تش ډاگ دئ چې استوگنه سیمه په کې نه سته. دا پل له خښتو او د چونې  او سمنټو له گډولې څخه جوړ سوی دئ او د یوهٔ کوچني نهر له پاسه چې په نوم یې نـهٔ پوهـېـږم تـېـر سوی دئ، دا سیند مخ پر سویل یا کیڼ لور ته بهـېـږي او د کال په ډېریو فصلونو کې د تـېـرېـدلو وړ دئ.

په اووه ویشتمې نـېـټې له څلورنیم فرسنگ مزل وروسته د (کوریان Corian) په نوم یوهٔ لوی کلي ته ورسـېـدلو. په دې سیمې کې زما پام ځو بادي ژرندو ته واوښت چې جوار په کې ژرنده کـېـدل؛ دا ژرندې په هماغو اصولو جوړې سوې وې چې اروپایي ژرندې جوړې سوې دي خو دلته د کرباسي وزرونو پر ځای له پلن بیرغ څخه کار اخلي. دلته په کوریان کې داسې ښکاري چې د گمرک مأمورین خپلې دندې په ډېر ځیر تر سره کوي، هغه ځیرتوب چې زما په هکله یې هم باید وکاروي.

هغه مسافران چې لویدیځ لور ته سفر کوي معمولاً په هرات کې خپل پاسپورت جوړوي؛ خو ما دې لارې ته لـېـوالتیا نـهٔ درلوده او په دې دلیل مې ددې سند د ترلاسه کولو لپاره اقدام ونـهٔ کړ چې پایله به یې ممکن په نورو ضرري پایلو واوړي. سره له دې چې افسر د پاسپورت د نـهٔ اخیستلو په هکله خوشحاله وو خو ټینگار یې وکړ چې د دولت له لاسلیک پرته ددې کار دوام په بشپړ ډول ناشونی دئ او په ډېر ځـیر یې د نافرمانۍ د جرم په هکله استدلال وکړ. خو کله چې زما پیسې یې په خپل موټي کې احساس کړې دې ټکي ته یې پام وواښت چې کیدای سي زما حالت ته په مثبت ډول وگوري؛ یو دا چې زه یو عرب وم او بل دا چې د مقدس مشهد زائـر وم. هغـهٔ وویل چې داسې ده نو زه به هم د خیر په دې کار کې تا باندې سختي رانـهٔ ولم. په خراسان کې د (ایتالیا – ژ) د وینس په شان د پیسو په بکسک کې د پیسو ایښودل ضروري دي خو توپیر یې په دې کې دئ چې په وینس کې هرڅومره چې جامې دې فاخرې وي په هماغه اندازه دې درناوی کـېـږي خو په آسیا کې اغلب وختونه امنیت او د ژوندون هوساینه د پانگې او ثروت او د اړوندو شیانو په پټ ساتلو پورې اړه لري.

له اوښبانو او قافله باشیانو څخه د آسیایي مسافرانو شکایت کټ مټ هماغه ډول دئ لکه چې زموږ په هـېـواد کې سمندري مسافران یې د کښتیو له قوماندانانو څخه کوي او اغلب وختونه دا شکایتونه له دلیل پرته وي. نارینه چې محدود او له معمولو لذتونو بې برخې

سي دې ته لېوالتيا لري چې په خپلو هوسونو کې غيرمنطقي کارونه وکړي او هغه مهال ناکراره کېږي چې خپلو طبيعي هيلو ته ونـهٔ سي رسېدای. ددوی له وضعيت سره سم کومې پېښې چې رامنځته کېږي کېدای سي په لږ مهارت سره کنترول سي خو پړه يې په ناحقه په اوښبانه او يا د کښتې د بولندوی پر غاړه اچوي. سره له دې چې همدا تصور زما د ګټې خلاف وو خو د قافله باشي پر ضد د اړول سويو تورونو په حق کې صادقه انګيرنه ده. له دغـهٔ مسلمان سره په توافق کې موږ سلا سوي وو چې ما به د مشخص مبلغ په بدل کې ترشيش ته رسوي؛ زموږ ددمې په لومړي ځای کې يې زما پر اوږو پيټی کښېښود او ويې ويل چې زما کڅوړه درنده ده؛ دی پوهېدهٔ چې ان د يوهٔ ګدايګر بار به هم زما تر بار سپک نـهٔ وي. په مجردې چې دا حساب پاک سو هغه بل بريد پيل کړ، دا ځل بريد يې زما پر پيسو نـهٔ بلکه زما په آبرو چې هر چيرې ضعيفه سوې وه.

کله چې علي وليدل چې خلک ما ته حاجي وايي او په ځانګړې ادب او نزاکت راسره چلند کېږي ډېر وشرمېد او بيا يې زما د لاس ته راوړلي اهميت په تضعيف پيل وکړ. له يو شمېر کسانو سره چې ما معاشرت درلود علي ورته په غوږ وهنو وويل چې زه حاجي نـهٔ يم او نـهٔ هم د دين له ربښتونو پيروانو څخه. هغوی په دغو خبرو تعجب وکړ خو علي يې ددغه راز په افشا کولو ملامت کړ. هغوی دا خبرې له نورو مسافرانو سره هېڅکله شريکې نـهٔ کړې او نـهٔ يې ما ته په پاملرنې کې کوم کمی راوست.

په نهه ويشتمې نېټې اووهٔ فرسنګه ليرې چار سورخ (Charsoorch) ته ورسېدلو. دا يو تمځای دئ چې هيڅ څوک په کې استوګن نـهٔ دي؛ دا ځای يوازې يوه څاه لري چې اوبـو يې په ډېرې سختۍ زموږ د ډلې اړتيا پوره کړله.

په دېرشمې نېټې ترسالې (Tursala) ته ورسېدو؛ دا په دښتې کې يو تمځای دئ چې د تروو اوبو د څاه څنګ ته واقع ده.

د ډسمبر په لومړۍ نېټې اووهٔ فرسنګه ليرې (کاوس Kauss ) ورسېدلو؛ دا له ګڼه ګوڼې ډکه سيمه ده؛ دا يو لوی کلی دئ چې له هرات، مشهد او ترشيش سره ښه سوداګري لري. له دې چې بازارونه او لويې عمومي هټۍ معمولاً يوازې د افغانستان [1] او فارس په اصلي ښارونو کې موندل کېږي مسافران دلته د خپل مايحتاج د ترلاسه کولو لپاره بايد ددې ځای په استوګنو وګرو ډېره ولګوي او اغلب وختونه يې نه سي ترلاسه کولی. سره له دې چې کاوس يو لوی کلی دئ خو ددې کلي په هېڅ ځای کې ډوډۍ په عام ډول نـهٔ پلورل کېږي. درې ورځې سوې وې چې ما وچه ډوډۍ نه وه خوړلې، يوه فارسي ته مې پيسې ورکړې چې ډوډۍ راته راوړي خو هغه

---

[1] - On the 1st of December, at Kauss, seven fursungs , a populous ," and in this country a large village , which maintains a moderate traffick with Herat, Muschid , and Turshish . Markets and public shops being only seen in the cities and principal towns of Persia and Afghanistan , travellers are obliged to apply for provisions to the housekeepers , who are often unable to provide the required quantity.{Volume II page 142, combined both volumes PDF format page, 489}

زه د شپې تر نيمايېو پورې منتظر وساتلم او ورپسې ترې تم سو. د امکان په حالت کې وچه ډوډۍ او د ميږې د شيدو پوڅه زما معمولي خوراک وو؛ اوبو به ورسره ماته دا توان راکړ چې خپله د ورځې ستړيا ورباندې هوسا کړم. تاسو بده هوا په پام کې ونيسئ او ورسره د خوب کولو امکان او يا دا چې داسې د يوۀ قهريدلې ځاروي په اوږو ناست ياست او د اوښ پر شا په يوې تنګې کجاوې کې تخته سوي ياست او ورپسې د اوښبانو لوړ غږونه اورئ نو څرګنده ده چې يوازې يوه پياوړې بُنيه او بدن کولی سي چې د فارس په شمال کې سفر وکړي.

ددې سيمې او د افغانستان [1] د وګړو د بې شمېرو هڅو د شاهد په توګه دې باور ته رسېدلی يم چې د انسان بدن کولی سي تر ټولو سخت کارونه وزغمي او حيواني خوراک ته کومه اړتيا ونه لري. يو افغان چې خوراک يې کورت او اوبـۀ او وچه ډوډۍ ده په داسې اقليم کې ژوند کوي چې کيدای سي هوا په يوه شپه او ورځ کې له شديدې ګرمۍ څخه سړې هوا ته بدلون ومومي. دا انسان په هماغه اندازه کوښښ او هڅه کوي چې يو لندنی پنډي يا جوالي يې کوي چې ښه او غني خوراکي رژيم لري، غوښه خوري او بير څښي؛ برسيره پر دې دغه افغان د لندن د پنډي په اندازې سختو او مزمنو ناروغيو ته معروض نه دئ. دا يو عام منل سوی حقيقت دئ چې د سرۀ سمندر پر غاړو استوګن اعراب عمدتاً په خرما او ليمو ډډه لګوي او دوی دومره درانده پيټي لېږدوي چې که يوۀ اروپايي ته ووايي ښايي هغه ته د يوۀ داستان او قصې په ډول ښکاره سي.

د ډسمبر په دريمې نېټې څلور نيم فرسنګه ليرې (رويي Ruee) ته ورسېدو؛ دا له ګڼه ګوڼې او شور او زوږ ډک کلی دئ؛ د ځمکې مخ واورو پوښلی وو؛ ډېره موده سوې وه چې واوره مې نه وه ليدلې. د ډسمبر په څلورمه مو دمه نيوله ځکه ما بايد خپلې کڅوړې پلټلې وای چې د هوا د بدلون له کبله يې تاوان ليدلی وو. زه له دريو تنو فارسيانو سره د بادي ژرندې په کوزې برخې کې وم او هڅه مو کوله چې ځانونه تاوده وساتو؛ زموږ هڅې بې ګټې وې؛ خو داسې ښکاري چې زما دوستانو له دې خبرې کومه اندېښنه نـۀ درلودله. دا درې تنه فارسيان آس سپارۀ ول؛ دوی کوم بل څوک د مرستې لپاره نـۀ درلودل له دې کبله مجبور ول چې د خپلو آسونو پالنه وکړي او په خپله په خوراک توکو، سون توکو او آذوقې پسې وګرځي؛ دوی دا کار په لېوالتيا سره کاوۀ او هيڅکله د واورو له

---

[1] - **HAVING witnessed the robust activity of the people of this country and Afghanistan, I am induced to think, that the human body may sustain the most laborious services, without the aid of animal food. The Afghan whose sole aliment is bread , curdled milk and water, inhabiting a climate which often produces in one day, extreme heat and cold , shall undergo as much fatigue, and exert as much strength, as the porter of London, who copiously feeds on flesh meat and ale ; nor , is he subject to the like acute and obstinate disorders. .{Volume II page 142 - 143, combined both volumes PDF format page, 489 - 490}**

توفان او له شمالي باد څخه یې ویره نـهٔ درلوده او نـهٔ شاته کـېـدل؛ زه ګومان کوم چې دا باد د تارتار د غرونو پر څوکو غرمـبـېـدهٔ. زما وجود د کلونو لپاره د هند له اقلیم سره بلد سوی وو او له دې کبله مې ځان سست سوی وو او همدا شان وروستۍ ناروغۍ ضعیف کړی وم نو ځکه مې له هر ډول باد سره حساسیت موندلی وو. زه شرمـېـدم چې څنګه د برتانیې د شمال یو څوک ځان د آسیایي هوا له ځواک څخه ساتي. زما د لارې هملارې ملګري هغه آس سپارهٔ سرتـېـري ول چې د تیمور شاه د پوځ په چوپړ کې ول. دوی له خپلې لږې تنخواه څخه نور ناامیده سوي ول له همدې کبله دوی بـېـرته راستانه او په نیشاپور کې خپلو کورونو ته روان ول.

په پینځمې نـېـټې پینځه نیم فرسنګه لیرې (سه ده Say Day) ته ورسـېـدو چې یو کوچنی او ټینګ استحکامي کلی وو او ورځـېـرمه ځمکو یې د یوې درې په اوږدو کې غځون موندلی وو او داسې ښکارېـدل چې ښه کرهڼه په کې سوې وه.

په شپږمه نـېـټه پینځه فرسنګه لیرې (اَشکـَـرَه/ آشکاره Ashkara) ته چې یو کوچنی استحکامي کلی وو ورسـېـدو. کله چې هلته ورسـېـدو زښته ډېره واوره ووَرېـدله او هوا داسې توفاني سوه چې قافلې نور نـهٔ سوای کولی پرمخ لاړه سي. زموږ ډله د سرپناه د موندلو لپاره کلا ته ننوتله او له ډېرو زاریو وروسته یې موږ ته په یوې تیارې او کوچنۍ کوټې کې ځای راکړ چې په سختۍ یې موږ له پیل سوي توفان څخه ساتلو. د کلا استوګن وګړي چې زموږ له ستونزې خبر ول نو پریمانه سون توکي یې موږ ته راوړل او دا زموږ د ژوندي پاتې کیدلو لپاره د ډوډۍ په شان ضرور ول. کله چې هوا لږه سمه سوه موږ د آذوقې موادو له شدید کمښت سره مخامخ سوو چې په (اَشکـَـرَه/ آشکاره) کې هیڅ شی نـه موندل کـېـدل.

دې ستونزې زموږ د ډلې تر ټولو قوي کسان هم وسواسي کړل او د هوا د ثابت سرښت له کبله دا تشویش لا ډېر سو. خو که څه هم موږ په یوې تیارې کوټې کې راګیر پاتې وو او د واورو د کواړیو پر وړاندې یې موږ ته یو ضعیف تحفظ راپه برخه کاوه بیا هم زموږ زړونه ورته خوشحاله ول او موږ ښه روحیه درلوده چې دغسې یوې فضا او ورسره پریمانه سون توکو موږ ته د رضایت خوښي راکوله.

زموږ د ډلې یو تن چې له معمولو زده کړو یې زده کړې ډېرې وې او له شاعرانه ادبیاتو سره یې مینه درلوده د جامي د یوسف او ذلیخا [1] د داستان په ویلو یې موږ بوخت وساتلو چې د یوې ژمنۍ ورځې د سختۍ لپاره د هوساینې یوه پلمه وه.

---

[1] - د مصر سالاره، اعرابو د ذلیخا نوم د پوټي فر **Potipher** مـېـرمنې ته ورکړی دئ. - لیکوال

په دغو شپو ورځو کې د (اشکره/ آشکاره) خلک د علي ددوهم زوی حسين د مرگ په یاد چې کربلا ته نـېږدې ووژل سو بوخت دي. د هغه په یاد یې یوه ودانۍ جوړه کړې او ګڼ شمیر شیعه گان د محرم د میاشتې په لومړیو لسو ورځو کې د دعا لپاره دغه ځای ته راځي.

مشر ورور حسين د يو شمير ښځينه توطئـو له کبله مسموم سو. ددې پېښې عزا په بل کال کې په بل وخت کې تر سره کـېږي.

څوک چې په کربلا کې د حسين د قبر زیارت ته ځي هغه ته کربلايي وايي چې له حاجي وروسته يو لقب دئ او هغوی چې د مشهد زيارت ته ځي هغه ته مشهدي وايي. د کربلا زائـران د تورکانو له سپکو سپورو او ظلمونو څخه شکايت کوي. داسې ښکاري چې که شيعه گان هرڅومره ځور او کړاو ويني په هماغه اندازه ددوی د مذهبي ژمنې احساس شدید او پیاوړی کـېږي، او دا احساس د خطر او چلنج د اندازې په بنسټ سنجول کـېږي. زه د گنگ له روډ څخه د يوهٔ شيعه د سفر شاهد وم چې د حسين د مقبرې د زيارت او درنښت لپاره روان وو او تورکانو وربانديې ډېرې ملنډې ووهلې او تاوتريخوالی يې ورسره وکړ خو دغه سړی له سفر څخه لاس پر سر نـهٔ سو. په اشکره/ آشکاره کې زموږ د حضور پر مهال د محرم مراسم تر سره کـېدل او ددې لپاره چې افغانان د محرم په مراسمو پورې ونـهٔ خاندي فارسیانو د کلا دروازه وتړله او د حسين د ستاينې په غمجنو غږونو يې دغه ورځ د خپلو سينو په وهلو ولمانځله.

په هندوستان کې د علي د پيروانو شمير لږ دئ او حسين يوازې په نوم پـېـژندل کـېږي، د حسين وير معمولاً د شديد غم په ښودلو سره احساسات راپاروي او ځيني وختونه داسې پـېښـېږي چې نقاب لرونکي حسيني ويرجن د مستۍ او د خپلو شديدو احساساتو تر اغیزو لاندې په بې پروا کړو وړو لاس پورې کوي. واقعيت دا دئ چې د هند ټول بومي وگړي که هندو دئ که مسلمان په نه باور کـېدونکي توگه عمومي لمانځنو او عمومي ټولنو ته په ځانگړې توگه هغه چې له زرق و برق ډکې وي جذب کـېږي. سره له دې چې د حسين د مرگ لپاره هر ډول تظاهر د سنيانو له عقايدو سره په ټکر کې ده بیا هم د هند وگړي نه سي کولی د خپلې خوښې او لـېـوالتيا د اقناع کولو لپاره له داسې له زرق و برق ډکو ننداړو څخه ډډه وکړي. گڼ شمـېـر هندوان د خپلو مسلمانو واکمنو له دغو دودونو او ليوالتيا وو سره په سمون کې د محرم د ويرجنو ډلو په پياوړې کولو کې ستره ونډه لري. ما اوربـېدلي دي چې د کوروماندل **Coromandel** په سمندري غاړه کې عيسوي مبلغ ښاغلی شوارتز **Mr. Schwartz** د يو متدين عيسوي ديني لارښود په توگه انجيل تدريس کوي او په ټولنه کې د يوهٔ ښـهٔ سړي په توگه پـېـژندل کـېږي. ښاغلی شوارتز دا شکايت لري چې د عيسويت دين ته ډېري اوښتي هنديان ددهٔ په کليسا کې د زرق و برق او د فعاليت د کمښت له کبله نور نا اميده سوي او په چټکۍ سره د کاتوليک مذهب ته مخه کوي ځکه هلته رنگارنگ ننداړې، دودونه او اور- لوبې دي. زه به څه د سني او شيعه او پروتستانت او رومي کاتوليک

په اړه دومره وغږېږم، هغوی به پر خپل ځای پرېږدم او را به سم خپلو خبرو ته. که تاسو په فارس کې په اوښ سفر کوئ نو هېڅکله په اوښ والا او اوښبانه ډاډ مه کوئ. علي ما ته په جدیت وویل چې تکل یې کړی چې په بله ورځ نیشاپور ته لاړ سي خو زما لپاره به داسې ترتیب جوړ کړي چې زه به د خره په وسیلې ترشیش ته لاړ سم. دا خبرې نورې بې ګټې وې چې ورته ووایم تا خو راسره ژمنه کړې وه او یا مې تر تاکلي ځای پورې د رسېدو لپاره تا ته مخکې له مخکې پیسې درکړې وې، که زما د هملارو ملګرو له منځه یوه تن زما په ملاتړ د علي روحیه نه وه ماته کړې نو علي به زما په زاریو پورې خندلې.

په لسمې نېټې زموږ قافله د توفان له آرام کېدلو وروسته او له لمر ختنې مخکې وخوځېده او ماسپښین مهال هوند آباد Hoondeabad ته ورسېده؛ دا یو کوچنی کلی وو چې شپږنیم فرسنګه لیرې په یوې حاصلخیزې دښتې کې چې ګڼ شمیر ویالې یې خړوبوي واقع وو. علي په تریو تندي د اوښ یوه خوا راته راکړه او بلې ډډې ته یې د وریجو یوه کڅوړه کښېښودله او د ترشیش بازار ته یې ولیږلو؛ زما هملارو ملګرو چې له ما سره یې په مهربانۍ چلند کاوه له همدې تم ځای څخه خپله د سفر مخه د نیشاپور لور ته تاو کړه او وخوځېدل؛ نیشاپور د هوند آباد د شمال لویدیځ په اویا مایلۍ کې موقعیت لری.

د خراسان ولسوالي چې له افغان امپراتورۍ سره ضمیمه سوې داسې ښکاري چې په بشپړ ډول د فارسیانو له پلوه اداره کېږي، سره له دې چې دوی مغلوبه دي خو له هر ډول مدني، مذهبي حقوقو برخمن دي چې کیدلی سوای د هغوی د بومي پادشاهانو له لوري ورکړل سوي وای. [1] نن موږ د سرتېرو له یوې ډلې سره مخامخ سوو چې د تیمورشاه د لښکر ول او د مشهد له محاصرې راستانه سوي ول. دا ښار چې ددې سیمې یوه کوچنۍ برخه جوړوي د نادرشاه د لمسي شاهرخ په واک کې ده او د هغه له لوري اداره کېږي او زه په دې باور یم چې دی د نادر د کورنۍ له یوازینۍ موجوده څانګې څخه دئ. [2]

شاهرخ د میرزا قلی زوی دئ، میرزا قلی د نادر (افشار - ژ) زوی وو؛ شاهرخ د نادر لمسی کېږي، د میراز قلي مېرمن د سلطان حسین صفوي لور وو؛ دا هماغه سلطان حسین دئ چې د فارس سلطنت یې د محمود افغان په لاس ړنګ سو. د نادر له مړینې

---

[1] - THE division of Khorasan, which has been annexed to the Afghan empire, seems to be wholly entrusted to the management of Persians, who though a conquered people, live in the enjoyment of every right, civil or religious, which could have been granted to them under their own princes. {Volume II page 149, Combined 2 volumes PDF format page, 495}

[2] - We met a party this day, returning from the army which Timur Shah had sent to besiege Muschid. This city, on which depends a small tract of territory, is governed by Shah Rock, a grandson of Nadir Shah, and I believe, the only branch of that prince's family now in existence. {Volume II page 149, Combined 2 volumes PDF format page, 495}

وروسته امپراتوري يې ددهٔ د ورارهٔ علي، لاس ته ولوېدله؛ علي له شاهرخ پرته د نادر ټول لمسيان له منځه يوړل؛ نادر په پام کې درلودل چې که فارسيان ددهٔ د حکومت پر وړاندې کوم د پام وړ مقاومت وکړي نو شاهرخ به اسماً پر تخت کښېنوي. کله چې علي د سلطنت پر تخت کښېناست لږ موده وروسته د خپل ورور له مخالفت سره مخامخ سو؛ ورور يې پياوړی ځواک راټول کړی وو؛ په نښته کې علي له ماتې وروسته يرغمل ونيول سو. سره له دې چې ابراهيم د لښکر د پام وړ برخه په لاس کې لرله او د سويلي ولايتونو کنټرول او اداره يې په لاس کې وه خو د ټول فارس د سوبې پر ستونزو باندې ښـهٔ پوهــېـدهٔ په ځانګړې توګه دا چې شاهرخ په خراسان کې محبوبيت او رسوخ درلود اومشهد يې په واک کې وو او د نادر د پانګې ډېره برخه په مشهد کې وه.

هغه د خپل يوازيني سيال، شاهرخ د نيولو د چانس د ډېرولو لپاره چې د نادر مستقيم لمسی او د صوفي (صفوي - ژ) له کورنۍ څخه وو اعلان وکړ چې شاهرخ د تاج او تخت قانوني وارث دئ. همدا شان هغـهٔ شاهرخ ته بلنه ورکړه چې اصفهان ته ورسي او د خپلو نيکونو تاج دې پر سر کړي. د شاهرخ پيروانو چې دداسې د پوښتـنې وړ او پياوړي مسؤوليت منلو ته چندانې لـېـوالتيا نـهٔ درلودله د ابراهيم له وړانديز سوې ادعا څخه په ګټې اخيستنې ځوان شهزادګی يـې په مشهد کې د پادشاه په توګه نصب کړ. ابراهيم چې اصفهان ته د شاهرخ د ښېې په راکاږلو کې ګنګس او ناکامه سوی وو نو ځان يې پادشاه اعلان کړ او د خراسان د امير فتح کولو ته يې دوام ورکړ. خو ابراهيم خپلې مالي سرچينې په ناپامۍ ولګولې، او د نادرستو او نا صحيحو افسرانو په ټاکلو يې خپل سرتيري خوابدي کړل نو له همدې امله ددوی له خيانت سره مخامخ سو. ابراهيم له خپل ورور علي سره چې دغه مهال ورسره بندي وو، ونيول سو او د شاهرخ وزيرانو ته وسپارل سو او دواړه وروڼه اعدام سول.

ويل کـېـږي چې په دې مودې کې د صوفي (صفوي - ژ) د کورنۍ يوهٔ لمسي چې د هغه وخت له عام وژنې څخه روغ رمټ پاتې سوی وو ظهور وکړ. نوموړي د شاهرخ اقليت او په پادشاهۍ کې له رامنځته سوي حالت څخه په ګته اخيستنې بډې/ رشوه ورکړل او ژمنه يې وکړه چې د مشهد له دربار څخه به ملاتړ تر لاسه کړي. په پای کې يې د مشهد مانۍ ته په پټه لاسرسی وموند شاهرخ يې اسير او په سترګو ړوند کړ. په پای کې مهاجم په چټکۍ سره ونيول سو او اعدام سو؛ خو شاهرخ ددې فاجعې تر اغـېـز لاندې راغی او نور يې چې د قدرت د ترلاسه کولو لپاره هيلې له لاسه ورکړې وې راضي سو چې په مشهد کې به پاتې کـېـږي او په يوه کوچني عايد به قناعت کوي.

دی دوه زامن لرل نادر میرزا او ولي نعمت Wulli Neamut؛ دوی دواړه له اوږدې مودې راهیسې د یو بل پر ضد په جګړو او لوټماریو کې ښکېل دي. ولي نعمت چې له ښاره شړل سوی، یو سپور ځواک یې راټول کړی او تل په خراسان کې لوټماریو او شوکو ته چمتو دئ؛ نوموړی له هر کلي او کاروان او مسافر څخه چې ددهٔ د قدرت له سیمې څخه تېرېږي عمومي مالیات اخلي؛ ان د مشهد زائـران هم ورڅخه په امن کې نـهٔ دي. ښار ته د ننوتلو له ناکامې هڅې وروسته هغه له تیمورشاه څخه د مرستې غوښتنه وکړه چې د مشهد د محاصرې لپاره ورته مرستندوی ځواک ولیږي. خو له توپخانې څخه ددوی پوهه دومره محدوده ده چې له پوره یو کال لښکر- لیږد وروسته افغانان ایله په دې توانېـدلي دي چې تر محاصرې لاندې د افرادو تدارکات او لوژیستیک محدود کړي.

کله چې په فارس کې د افغانانو د پام وړ سوبې په پام کې ونیول سي او د خپلو پوځي وړتیاوو پر بنسټ یې لویه امپراتوری جوړه کړې وه او له بلې خوا که ددوی د لښکرو بې نظمي ته وګورو چې د لښکري جوړښت له فقدان سره مخامخ دي نو سړی شدیداً نا امیده سي. مګر همدغه سرتیري د احمد شاه پر مهال چې په خپله د لوړې پوځي وړتیاو خاوند وو او پوهه، د رهبری وړتیا او لیاقت یې درلود خپلو سرتیرو ته هغه قدرت او توان ورکړی وو چې فطرتاً یې درلود. [1] سره له دې چې افغانان اوس هم خپل مشهور رهبر لري خو بیا هم په بیـړه او عجلې شهرت لري او ددوی د حکومت له بنې څخه د راپورته سوي تکبر له کبله هېـڅکله په دې نـهٔ دي توانېـدلي چې یو منضبط پوځي ځواک واوسي؛ احمد شاه له سیکهانو سره سختې ښنتې وکړې چې اړ سو له پنجاب څخه شاتګ وکړي؛ ددغه شاتګ دلیل ددهٔ سرتیرو ته نسبت ورکول کېـږي چې له لښکر څخه ووتل او ګڼ شمیر یې د هند د غنایمو له راټولولو وروسته خپل ټاټوبي ته ستانـهٔ سول.

سره له دې چې دا خبره زما توقعات نه سي پوره کولی خو اوسمهال د افغانستان وسله وال ځواک د فارس تر وسله وال ځواک زښت ډېـر پیاوړی ځواک دئ. ډېره موده کېـږي چې فارسیان پادشاه نـهٔ لري چې د باندنیو ځواکونو او یا د کوچنیو مشرانو د بې ثباتو حکومتونو تر کنترول لاندې دي او په دې سره یې د هـېـواد پالنې او نوښت او ابتکار حس له لاسه ورکړی دئ. [2] داسې ښکاري چې

---

[1] - It is seen, however, that they were good soldiers under Ahmed Shah, who himself, a prince of conspicuous military talent and a discerning patron of merit, was empowered to give his troops that force which they constitutionally possess. {Volume II page 151, combined volumes 1-2 PDF format page : Page 498}

[2] - THOUGH far short of the opinion I had formed of it, the Afghan army is much superior to that of Persia at the present day, who long deprived of a monarch, and subjected either to a foreign yoke or the precarious authority of petty chieftains, have loft with their patriotism the spirit of enterprize. {Volume II page 151, combined volumes 1-2 PDF format page : Page 498}

فارسیان دې د تودې وسلې له کارولو سره نا آشنا وي او ددوی سترې برياوې ددوی د سپارهٔ ځواک د پیاوړو بریدونو له لارې ترلاسه سوې دي. د نادر په وسیلې د بغداد اوږد مهالې محاصره په خپله ددوی د مهارت پر فقدان باندې روښانه ثبوت دئ، ځکه دغې کلا سره له دې چې ضعیفه دفاع یې درلوده بیا یې هم د نادر د ټولوهڅو پر وړاندې مقاومت وکړ. [1] د فارس د پلیو سرتیرو معیاري توپک فتیله یي توپک دي؛ په دې کې د آذربایجان او د شیروان او داغستان یو شمیر سیمې استثناء دي چې هلته یې د چقماقي توپوکو کارول له تورکانو زده کړي دي. خو له دې چې عوام خلک ورباندې ملنډې وهي نو ددې توپوکو د پراخو کارولو مخه یې ډب کړې ده. سختو ژمنیو حالاتو افغان وسله وال ځواک دې ته اړ کړ چې خپلو قرارگاوو ته شا تگ وکړي او د مشهد استوگنو وگړو ته یې چې د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ سوي ول د نفس ایستلو لنډ مهالی مهلت ورکړ. [2]

ددې ښار ځوان لارښود/ رهبر د خپلو روحانیونو د توصیو په نـهٔ پام کې نیولو سره یو شمیر گانې او سره زر چې شیعه گانو د دوه وو پـېـړیو په اوږدو کې د (موزه بیزه Mooza Beza) [لیکوال د اشخاصو د نومونو په لیکلو کې ښه حافظه نه لري او هر هغه څه یې چې په غوږ ورغلي هغه یې لیکلي دي دلته ښايي د لیکوال موخه د امام رضا مرقد وي - چې بشپړ نوم یې علي بن موسی رضا دئ چې په ٧٦٥ز کال کې زېـږېـدلی او په ٨١٨ز کال کې وفات سوی دئ- ژ] د مقبرې د پسولنې لپاره کارولي ول او له مځکنیو لوټماریو خوندي پاتې سوي ول په دودیزو پیسو بدل کړل. حتی نادر چې ددغه روحاني له مقام سره په برالاتوگه مخالف وو خپل نذر د مشهد زیارت ته ورکړ. خو لمسیانو یې له دې ویرې چې دا بنسټ د نامقدسو دښمنانو لاسونو ته ونه لویږي په هوښیارۍ یې یوه برخه قرباني کړه ترڅو له بشپړې نابودۍ څخه وژغورل سي. خو دا هڅې به هله بې پایلې وي چې که افغانان بـېـرته د محاصرې لپاره راوگرځي او د مشهد له خزانو څخه د پام وړ مرستې تر لاسه کړي، خو ما اوریدلي دي چې دا خزانې تشې سوي دي. روحانیون د نادر میرزا په

---

[1] - It appears that the Persians have been ever ill acquainted with the use of fire arms, and that their grand successes were obtained by the formidable onset of their cavalry. Little other proof indeed is required of their want of skill, than a review of Nadir's long siege of Bagdad, which, though a fortification of mean tenability, baffled all his efforts. {Volume II page 152, combined volumes 1-2 PDF format page : Page 499}

[2] - The severity of the winter season, has now obliged the Afghan army to retire into quarters, and afforded a temporary relief to the inhabitants of Muschid, who began to feel a want of provisions. {Volume II page 152, combined volumes 1-2 PDF format page : Page 499}

لاس د ښار له سپکاوي ډک تصرف پر وړاندې خپل خښم او قهر څرګندوي خو ددوی د توندو خبرو تیغه ددۀ ورور ته اړمه ده. هغوی دی ځکه محکوموي چې د علي د پیروانو د وروستـني مقدس ښار د نړولو لپاره یې ددوی د دین پخواني دښمنان رابللي دي.

په یولسمې نـېـټې درې نیم فرسنګه لیرې د (فیجروت Fidgroot) کوچنۍ استحکامي کلا ته ورسـېـدو چې د هوارې کرنیزې ځمکې پر مخ ولاړه ده او شا و خوا ته یې په دیوالونو کې محصور کلي هم له لیرې ښکاري.

په دولسمې نـېـټې څلورنیم فرسنګه لیرې د دوچ آباد Dochabad/ دوغ آباد له ګڼه ګونې ډک کلي ته ورسـېـدو؛ کلي ته نـېـږدې یوه کلا ده چې دا ټول کلی ساتي او د (خامو وریښمو) [1] په تولید کې شهرت لري. د دوچ آباد / دوغ آباد سیمې د تیمور شاه د قلمرو لویدیځه ژۍ جوړوي چې له کمشیر څخه تر دې ځای [2] پورې غـځـیدلی قلمرو دئ او شاو خوا ـــــــــــ برتانوي مایله واټن دئ. (د ژباړونکي یادونه : دغه واټن نه دئ ښودل سوی او ځای یې هماغسې تش پرېښودل سوی لکه چې ما تش پرېښود. - ژ) که دومره لویه او پراخه سیمه په همدومره اندازې پیاوړې او د هڅاند پادشاه په وسیلې اداره کـېـدله او هماغسې چې په منځ کې یې مقاوم او زړور ولسونه ژوند کوي نو د فارس بشپړه سوبه ورته چنداني سخت کار نـۀ وو. [3]خو تیمور شاه د خپلو ذکاوتونو هیڅ یوه برخه په ارث نـۀ ده وړې او نفوذ یې په ندرت د پام وړ ګرځـي مګر دا چې داسې ثروت یا لاس ته راوړنه ولري چې ددۀ حرص او طمع پوره کړای سي. په دغسې حالت کې د امپراتورۍ حضور د ستاینې وړ او په هماغه ورځ ورڅخه ویره کـېـږي. [4] زه ویرېږم چې زما افکار متکبرانه او جزمي وانګـېـرل سي او زما د محدودې تجربې په دلیل ښایي د یوۀ پادشاه د شخصیت په اړوند خپل عجولانه نظر ورکړم

---

[1]- په دغه ځای کې زما په باور یوه تایپي یا چاپي تیروتنه سوې ده او ما د انګیرنې او حدس له مخې خام وریښم ولیکل ځکه په چاپ Raw Fik لیکل سوي دي. له دې چې دا د ۱۷۹۸ز کال چاپ دئ او د (S) او د (F) د (e)، (o) توپیر په کې ګران دئ. ښایي اصل کې silk وي چې په چاپ کې fik راغلی دئ. - ژ

[2]- د یادونې وړ ده چې د کشمیر او اندس تر منځ یو شمیر کوچنۍ خان نشین سیمې د مستقلو افغانانو له لوري اداره کـېـږي. لیکوال

**It is to be noted, that some petty chiefships lying between Kashmire and the Indus, are held by independent Afghans {Volume II page 153 footnote, combined both volumes PDF format page 500}**

[3] **- The districts of Dochabad form the the western boundary of the dominion of Timur Shah, which in a direction from Kashmire to this place, occupy by a gross computation, a space of British miles. Were this spacious extent of territory, governed by as vigorous and enterprizing a prince, as it is peopled by a brave and hardy race of men , the entire conquest of Persia would not be of difficult attainment . {Volume II page 153 footnote, combined both volumes PDF format page 500}**

[4] **- But Timur Shah inherits no portion of his father's genius, and his power is seldom seen or felt, except some object of wealth, and of safe accomplishment be held out to his avarice. The existence of the emperor is then felt, and for the day, dreaded. {Volume II page 153 footnote, combined both volumes PDF format page 500}**

چې يوازې يوه لنډه موده هلته وم. [1] يوازې غواړم په دې ټکي ټينگار وکړم چې هغه کلمات او ژبه چې په دې اړوند ما کارولې ده کټ مټ په دې هـېـواد کې په همدې ډول چلـېـږي او حقيقت يې په ټولو دولتي اقداماتو کې څرگند دئ چې د عامو وگړو لپاره د ليدلو وړ دئ.

په ديارلسمې نـېـټې شپږ فرسنگه ليرې د کوټ Koot کلي ته ورسـېـدلو او دا د ترشيش د رئـيس اړوند کلی دئ. دوچ آباد ته نـېـږدې يوه وچه بيديا ده؛ دلته د کوم استوگن او يا کوم بوټی چې د ژوند نښه يې وگڼو نـهٔ ليدل کـېـږي؛ داسې برېښي لکه چې طبيعت دې دغه وچه شگلنه سيمه د جگړو د ورانيو د مخنيوی او له هر ډول ټولنيزو تعاملاتو څخه د انصراف لپاره جوړه کړې وي. شمال ته يې د دنگو غرونو يوه لړۍ ده چې څوکې يې په واورو[2] پوښلې دي او نورو ځايونو کې د شگلنې دښتې پسور وينو چې ټکی ټکی ناهموارې غونډۍ په کې له ورايه ښکاري.

پر هغـهٔ اوښ باندې چې زه سپور وم څښتـن يې خپل کلي کوټ ته بوتلم ځکه هغه د خپلو اجناسو خصوصاً وريجو په اړه انديښنه لرله چې که ترشيش ته يې يوسي نو ښايي د ترشيش رئـيس به وريجې ورڅخه په غير عادلانه قيمت واخلي. هغه دا هم وويل چې ددهٔ ځاروي د ليرد راليږد لپاره په پام کې نـهٔ دي نيول سوي او زه کولی سم په هر ډول چې وغواړم خپل سفر ته دوام ورکولی سم خو يوازې زما په اوښ. د ترشيش کلا يوازې دوه مايله ليرې ده؛ که ما کولی سوای چې خپلې کڅوړې واخلم نو له ځنډ پرته به مې مزل کړی وای، سره له دې چې زما کڅوړه دومره ارزښتناکه نـهٔ وه خو ورل يې را ته ډېر درانده ول. له ډېرو عذر او زاريو وروسته په دې وتوانيدم چې په خپل لگښت ځان د خره په وسيلې د ترشيش کاروان سرای ته ورسوم. کله چې هلته ورسـېـدم ټولې کوټې ډکې وې. خو د کاروان سرای د دروازې ساتونکي ته چې مسافرينو ته د کوټو د ورکولو او ځارلو دنده پر غاړه لرله د يوې کوچنې بډې يا رشوت په ورکولو داسې يوه کوټه زما په نصيب سوه چې يو بل تن هم مخکې په کې وو او له هغه سره کوټه- شريک سوم. د کوټې دغـهٔ ناپـېـژندلي مسافر زما په ليدلو خوښي څرگنده کړه اوويې ويل چې په ترشيش کې له يوازې اوسـېـدلو ستړی سوی دئ او هيله مند وو

---

[1] - **Here I am checked by a fear that these opinions may be thought presumptuous and dogmatical, and that from slender opportunities of acquiring information, I have decided with an unwarrantable preremptoriness on the character of a prince, in whose country I have been but a mere sojourner. {Volume II page 154 footnote, combined both volumes PDF format page 501}**

[2] - له دغو غرونو څخه يو سړک تـېـر سوی په مشهد کې پای ته رسـېـږي؛ ويل کـېـږي چې دا سړک د ترشيش د شمال لويديځ په سل مايلۍ او د نيشاپور په ديرش مايلۍ کې موقعيت لري. – ليکوال

چې زما تر څنګ به آرامي ترلاسه کړي. دغه ډول ښه راغلاست زما له اړتیاوو سره سمون درلود او زما مسلمان شخصیت یې په ښـهٔ ډول معرفي کړ. موږ دواړو پرېکړه وکړه چې د کوټې چارې به په ګډه پر مخ وړو، زما د کوټې ملګری له خپلې وروستۍ ناروغۍ څخه د ښه والي پر لور وو او دده دنده دا سوه چې دی به ډوډۍ پخوي او زه به اوبـهٔ راوړم؛ د اوبو راوړل جنجالي او له چلنج ډک کار وو ځکه د څښناک د اوبو تر ټولو نـېـږدې ځای زموږ له ځایه شاو خوا یو مایل لـېـرې وو.

باید تاسو ته ووایم چې دا کار ما ته په هـېـڅ ډول د سپکاوي کوم کار نـهٔ وو. دا کار نور هغه مسافران هم کوي چې ټولنیز موقعیت یې لا ان زما تر موقعیت لوړ دئ، برسیره پر دې په دې هـېـواد کې ډېـر لږ کسان لیدل کـېـږي چې د شتمن توب نښې په کې وې ځکه دوی ټول د حکومت له ظلم او ستم او د مالیاتو د راټولولو د محصلینو له حریصانه او سولندو غوښتنو څخه ویره لري. ان شتمن کسان له ځان سره خدمتکار هم نه لري.

د سفر له پیل کـېـدلو مخکې سفري ډلې د لیدنې په ټاکل سوي ځای کې سره راټولـېـږي؛ همدلته د ډلو تر منځ اړوند کارونه ویشل کـېـږي؛ په تن غښتلي معمولاً د اوبو د کنټرول او رسولو چارې پر غاړه اخلي؛ یو شمیر یې د پخلي چارې پر غاړه اخلي او نور یې په خوراک او د څارویو لپاره په وښو پسې د ګرځـېـدلو چارې پر غاړه اخلي. که ددې طرحې د اصلاح لپاره وخت ونـهٔ لري نو د سفر د دمې نیولو او استراحت په لومړۍ ورځ اصلاح کـېـږي او د ټول سفر په اوږدو کې همکار او دوست پاتې کـېـږي. نه باید دا تصور وکړو چې د مقام او منصب څښتـنانو ته چې له دغو ډلو سره مل روان وي ادب او درناوی نـهٔ کـېـږي. هرڅومره ژر چې داسې کسان وپـېـژندل سي نو په عام ډول سره له سختو کارونو څخه معاف کـېـږي او همدا شان له ټولو سپین ږیرو او سپین سرو سره په مهربانۍ او درناوي چلند کـېـږي. زما د کوټې اوسنی ملګری چې هـېـڅکله یې په نوم پوه نه سوم او یا مې ورڅخه ونـهٔ پوښتل مدام غمجن مخ لري؛ ما ونـهٔ سو کولی نور جزئـیات ورڅخه ترلاسه کړم، یوازې دومره پوه سوم چې له استرآباد څخه راغلی دئ. هغـهٔ به په ډېـر ځیر کوښښ کاوهٔ چې ددې ولایت په اړه د استخباراتي معلوماتو له ورکولو څخه ډډه وکړي په ځانګړې توګه له روسیې سره د سوداګرۍ په اړوند معلومات چې ما ورته ډېره لـېـوالتیا درلوده او دهٔ په دې اړوند هرو مرو معلومات درلودل؛ ښایي هغه به له دې خوند اخیست چې زه ورسره په کوټه کې ملګری وم او زما له مرستې څخه یې ګټه اخیستله خو دا سړی ما ته په چټکۍ په داسې یو څوک بدلیده چې زما ورڅخه خوښ نـهٔ راتلل. څو ورځې وروسته دی د هرات پر لور وخوځـېـد؛ زه د کرایي کوټې په خلوت تیارې کې

یوازې پاتې سوم؛ او دې کار ما ته دا امتیاز او حق راکړ چې په آزاد ډول سره د یوۀ رښتـني مسلمان په توگه د کاروانسرا له ډلې سره یو ځای سم.

د یوې تشې کوټې د لټون په ترڅ کې له یوې لویې کوټې سره مخامخ سوم؛ ددې کوټې په یوۀ گوټ کې یو دروند سپین ږیری ناست وو او د خپل چلم له وهلو څخه یې خوندونه اخیستل. کله مې چې ورڅخه پوښتنې گروېږنې وکړې پوه سوم چې دی په بشپړ ډول آزاد سړی دئ؛ ددۀ د عاید اصلي سرچینه د ځانگړو کوډو او طلسماتو پلورل ول چې چا ته یې نیکمرغي راوړله او له شر او شرارت څخه په لیرې ساتلو کې اغیزمن وو. هغه وویل چې که ما ته د چا د مرستې فرصت په لاس راسي نو زه به خپل کتاب بند کړم. دی هماغسې یو څوک وو چې زه ورپسې گرځېـدم، نو په مهربانۍ مې ورته د مرستې وړاندیز وکړ او له هغه څخه مې وغوښتل چې ډوډۍ دې له ما سره وخوري. دغه بدمرغه سړي ته دغه وړاندیز په مناسب وخت کې وسو. د ژمي سختې شپې وې او ما ته یې وویل چې په ترشیش کې دومره بدچانسي وه چې د یوۀ وخت یو مختصر خوراک ورته په سختۍ لاس ته ورتـۀ.

دۀ د خپلو ځانگړو وړتیاوو له مخې د ملا لقب گټلی وو؛ هغه ذاتاً ښه چلند درلود او انعطاف منونکی طبعیت یې درلود؛ هغـۀ د هر چا له غوښتنو سره سمون درلود او ددومره مودې په اوږدو کې چې له یو بل سره وو نوموړي له همدغو ځانگړتیاوو څخه په بشپړ ډول کار اخیست. دې خبرې ته زما پام سو چې زموږ کوټه معمولاً د ډوډۍ خوړلو پرمهال ډېره نامنظمه وي. ملا هم مکرراً له دې موضوع څخه شکایت درلود او دی د پخلنځي په کار کې ماهر وو او ډېره هڅه یې کوله. سانچو **Sancho** هم په خوراک توکو مین وو او هغه خوراک توکي یې یادول چې ددۀ ډېر خوښـېـدل خو زما بیا نـۀ خوښـېـدل. اغلب وختونه د هغه مخالفت په دې کې وو چې دی به په حیرت کې وو چې د بشریت لپاره حیاتي موضوعاتو ته څوک پاملرنه نه کوي او یا زما بې سلیقه گۍ ته به حیران وو او دۀ به ویل له دې چې زه د خپل سفر په اوږدو کې له وحشي سیمو څخه تیر سوی یم نو سلایق مې ککړ سوي دي.

ددغې مودې په ترڅ کې چې له دغـۀ ملا سره وم ما ته د زړه سکون او آرامي راپه برخه سوه. اغلب وختونه د هغو شیبو په اړه په فکر کې وم چې رښتوني خوشحالي راپه برخه سوې وه. د اوږدو سفرونو او بـېـلابـېـلو لالهاندیو له کبله زما روحي انرژي او سیک چې زما په شان له هر مسافر سره مل ده مخ په خلاصیدو وه. په ترشیش کې سون توکي ډېر گران دي، د ژمي د شدیدو سړو او په واورو د پوښلې ځمکې له کبله موږ اړ وو چې د خپل ځان د تودولو لپاره سون توکي راټول کړو؛ اعتقادات مو ددې مانَع گرځـېـدل چې داخلې تودوخه ولرو او حتی دا جرئـت مو نـۀ درلود چې نوم یې واخلو. د یوۀ سالم غذایي رژیم، غټ اور، یو پاک نغري او د فارس په ډیرو

او اعلی تنباکو باندې تر یوۀ حده راحت سوو.[1] کله نا کله به په پخلي کې د خپلې کوټې د ملګري په اړه فکر کوم؛ هغه به داسې شیان له یو بل ګډول چې نه باید ګډ سوي وای، هغه به دا مواد د یوې لوېې لرګینې کاشوغې په مرستې ګډول او اور به یې تر هغو پو کاوۀ چې ددۀ سترګې به ورسره سرې واوښتې؛ دغه کار زه د یوۀ پروسي ډلګي مشر په یاد وغورځولم چې په خپل شور او ږوږ سره د نویو سرتیرو په روزنې بوخت وو او د هغوی ټول ذهني مهارتونه یې د هغوی په فزیکي قالب کې القاء کول. زموږ له ارباب العلومو څخه هیـڅ یو د غوابیژي/ حلزون د نوي ډول له کشف څخه د دومره د تعارف او غرور احساس نـۀ کاوۀ لکه چې دغه ملا د خپلې خوښې خوراک په اړه یې کاوۀ.

زما د کوټې د ملګري خدماتو دا امکان په لاس راکړ چې په ټول ښار کې وګرځم، معلومات راټول کړم او له عمومي حمامونو څخه لیدنه وکړم. ماسپښین مهال به موږ د تل په شان په کوټه کې وو، هغه به له ډوډۍ وروسته یا به یې د یوسف - ذلیخا د داستان یادونه کوله خو دی په دې داستان ویلو کې چندان ښه هم نـۀ وو، او یا به یې د خپلو کوډو / طلسماتو کتاب پرانیست او د خپلو درملنو ګټې به یې راته توضیح کولې؛ ددۀ درملنې دومره ډېرې پراخې وې چې ډېرو لړو روحي او جسمي ناروغانو د هغه پر وړاندې مقاومت کولی سوای. په دغو درملنو کې دا ټکي یادیدل چې د نیکۍ پر لاره تګ، د پیاوړي پر وړاندې د ضعیف او بې سیکه کړه وړه؛ د یوۀ غالمغالي سړي آرامول، د والګي او سړو وهلي درملنه، د کولمو د چینجیو له شر څخه د خلاصون لاره. هغه به ویل چې ددۀ د طبابت لمنه ډېره پراخه ده او تر ډېره یې د ټولنې ټیټې پاړکې/ طبقې ته چوپړ کړی دئ؛ شتمنو خلکو ورځخه په ندرت د مرستې غوښتنه کړې ده؛ هغه به ویل چې دۀ د مشهد د سفر په اړه فکر کړی دئ او زه د هغه د سفر خنډ ګرځېـدلی یم؛ په دغه سفر سره دۀ کولی سوای ژمی هلته په آرامۍ تیر کړي؛ دۀ به په ژمي کې هلته د سفر په اړه فکر کاوۀ خو په دوبي کې یې هیڅ په فکر کې نـۀ ګرځېـدل چې هلته دې لاړ سي.

ملا په دیني وظایفو کې چندان جدي نـۀ وو؛ ځکه نوموړي به د ورځې د پینځو وختو لمونځو په منځ کې اغلب وختونه څلور لمونځونه نـۀ کول او کله نا کله به یې هیڅ یو هم نـۀ کاوۀ.کله چې پوه سو چې ددۀ په دې کار سره لا آرامه سوی یم نو زما پر بې احتیاطۍ باندې یې په شدت ګوتنیونه وکړه؛ هغه په دې باور وو چې د مناسب چلند مراعاتول مهم دي ترڅو د کاروانسرای خلک منفي خبرې ونـۀ کړي. که په منصفانه ډول ورته وګورو نو په اوسمهال کې د دغـۀ ملا کړۀ وړۀ د محـمدي دین د ساتلو جوهر

---

[1]- دا تنباکو په طبس کې تولیدیږي. طبس د ترشیش د سویل لویدیځ په ۱۰۰ مایلۍ کې موقعیت لري او په فارس کې ارزښتناک ګڼل کـېږي. لیکوال

ځرګندوي. پينځه وخته ورځنی لمونځ، مکرر پرېمينځل او له يو شمير خوراکونو پرهيز کول هغه لارې دي چې يو مسلمان هيله لري چې په دغو باندې به جنت ته لاړ سي. په فارس کې ددغسې سړي شهرت زموږ د انساندوستو، له فضيلت او شرف ډکو کسانو سره د پرتلې وړ دئ. ان زموږ له هغو کسانو سره د پرتلې وړ دئ چې شيک جامې اغوندي.

له بل لوري هر هغه ځوک چې دغه واجبات له پامه غورځوي ان که د يوۀ ښـۀ هيوادوال په توګه خپل مسؤوليتونه سره ته ورسوي بيا هم د ټولنې له تهمتونو او بې احترامۍ سره مخامخ کـېږي؛ که د هغـۀ ټولنيز مقام دومره د پام وړ لوړوالی ونـۀ لري چې د خلکو درناوی ترلاسه کړي نو ګڼ شمير ټولنيز امتيازات به له لاسه ورکړي. د ديني مناسکو د اهميت په اړه د يوۀ مسلمان د ليد لوري د لا ځرګندولو لپاره غواړم د يوۀ ملا نظر تاسو ته ووايم. دغه ملا د يوۀ افغان نوم اخلي چې ډير دوستانه او له صميميت ډک چلند يې درلود او کاروانسرای ته يې تګ راتګ درلود. ملا ويل چې زه ددغه افغان د اخلاقي ځانګړتياوو ستاينه کوم خو د خواشينۍ ځای دا دئ چې دغه ځانګړتياوې په دې ککړې او فاسدې سوي دي چې دی په تړلو لاسونو لمونځ کوي. آيا دا د تعجب ځای نـۀ دئ چې د طبيعت ښتن تعالی داسې پيچلی موجود خلق کړی او هغه دې د تعصب او بنديزونو بندي او اسير وي؟ همدغه تعصب ددۀ په ذهن که هغه تصورات رامنځته کړي چې د الهي موهبت دغه عطيه سپکه کړي او يوازې د خپل بدن په حالاتو او ځانګړو حرکاتو سره الهي محراب ته ځان نيږدې کړي.

يوه ورځ هوا ډېره توده وه او يوې وچې بيديا ته تللي وو، زه له څو تنو فارسيانو سره وم، په دې وچې بيديا کې زموږ د هيلو برخلاف يوه وياله مو وموندله. د ويالې په ليدلو سره چټک د خپل آس له سره کوز سوم او په تلوار او اشتها مې يو ګيلاس اوبـۀ وڅښلې. کله چې د اوبو ښلو خلاصيدو ته نـېږدې سوم يو فارسي راته نيږدې سو او په ډېر جديت يې راته وويل چې د ګيلاس په پای کې بايد لږ اوبـۀ پريږدم او پر ځمکې يې وشيندم او په عين حالت کې بايد پر يزيد لعنت هم ووايم. (يزيد هغه مشر وو چې د علي زوی حسين يې وژلی وو.) کله يې چې وليدل د ګيلاس په بيخ کې يو ځاځکی اوبـۀ نـۀ دي پاتې نو ما ته يې په کرکې وکتل او ما ته يې وويل چې ته کافر يې.

ډېره اوږده موده تيره سوې چې پرسيا له خپلو سترو متفکرانو او نيک صالحو شخصيتونو څخه بې برخې سوې ده. د فردوسي، سعدي او حافظ وختونه اوس د تير مهال په تور تم کې پټ سوي دي؛ اوسمهال يا ډېر لږ ليکل کـېږي او يا د اولياوو او د امامانو د فوق العاده کړو وړو له يادونو پرته بل څه نـۀ اوربـدل کـېږي او دا ټول زموږ د لويديځوالو د ماشومانو د داستانونو په شان دي لکه د تم ثم

فارسي متون د هغو کسانو پر وړاندې ثابته او ټينګه دښمني لري چې ډېر Tom Thumb or Jack د جک په نوم د يوۀ قاتل ديو داستان. خو تر ټولو مضر چې مضره اغيزې يې ډېرې دي دا دي چې اوسني فارسي متون د هغو کسانو پر وړاندې ثابته او ټينګه دښمني لري چې بـېـلې مخالف نظريات وړاندې کوي.

ويل کېـږي چې د حافظ هم - عصره کسان د قرآن او دين او د روحانيونو د غير اخلاقي کړو وړو په هکله د هغـۀ له شديدو او عاقلانه انتقاداتو څخه سخت نا آرامه ول؛ ان خبره دې ځای ته ورسـېـدله چې د هغه په جنازې کې يې د ګډون کولو په هکله شک درلود. خو متأخرو فارسيانو حافظ د بې ديني له هر ډول تور څخه پاک او خلاص ګڼلی دۍ؛ سره له دې چې د حافظ د آثارو هره کرښه دا نظر ردوي خو بيا هم دوی په دې باور دي چې د حافظ له خوښيو ډکو خوندورو پيامونو کې د هغوی ايمان او د مسلمانانو راتلونکې انځور سوې ده. په داسې حال کې چې ما او ملا د کاروانسرای د يوې لويې کوټې له هوساينې او د غوايي، پسه او اوښ د غوښو له پخو کړو خوراکونو څخه مو خوندونه اخيستل يو ناڅاپه غږ وسو چې کاروان سرای په هغو زائـرانو [1] ډک سوی دۍ چې مشهد ته د زيارت لپاره ځي. دا کوم شور او شوق دۍ چې دا مؤمنان يې ځانته راکاږلي دي! چې د اوږدو او خطرناکو لارو سفر يې پر ځان منلی او دغو خطرونو ونه سو کولی ددوی مخه ونيسي او نه د ژمي سـاړۀ موسم ونـۀ سو کولی ددوی شور او اشتياق لږ کړي. خلک وايي چې د سږ کال ژمی د نورو کلونو د ژميو په پرتلې ډېر سخت دۍ په ځانګړې توګه په مشهد او نيشاپور کې ډېر سخت دۍ چې دوه وو تنو زائـرانو په واورو کې خپل ځانونه له لاسه ورکړل او نورو د شديدو سړو له کبله د خپل بدن غړي له لاسه ورکړل.

د يوې ډلې په منځ کې چې زموږ په کوټې کې يې ټيل ماټيل جوړ کړی وو يو څوک وو چې ظاهراً د ټولو مسؤوليت ور په غاړه وو؛ دی له نورو ټولو چمتو وو او د حاجي نښه [2] يې پر سر درلوده. خدمتکار ته وَرته يو بل افسقال (صحيح بڼه يې آق سقال ده) زائـر راغی او زموږ کوټه يې وپلټله، او زموږ د کاليو او اسبابونو له کتلو وروسته يې په چټکې سره پرته له دې چې کومه پوښتنه وکړي په سپين سترګې سره يې د بدمرغه ملا د لېـږدېـدو وږ کخوړې د کوټې له يوه ګوټ څخه ليرې کړې. او په آمرانه ژبه يې وويل چې دا ځای د حاجي لپاره په پام کې نيول سوی دۍ او ددۀ د ادعا پر بنسټ د حاجي ځای له ډېر اهميت څخه برخمن دۍ.

حاجي په جدي مخ پر خپل ځای کښېـناست. په تکبر سره يې د کوټې شاو خوا ته وکتل او بيا يې سترګې پر ما نيغې کړې او له ځنډ پرته يې زما نوم او زما د کاروبار په اړوند پوښتنه وکړه، په بله وينا ټينګار يې درلود. دۀ دا پوښتـنه په داسې آمرانه لحن وکړه چې په غږ کې يې د يوۀ مستنطق قدرت پروت وو؛ زما پام ډېر ژر دې ټکي ته واوښت چې ددۀ ډلې ورته درناوی درلود نو له دې کبله مې له ځان

---

[1] - دغه زائـران عمدتاً له تبريز او تاوروس Taurus څخه وو چې زما په باور د آذربائـيجان د ولايت يو ښار دۍ. - ليکوال

[2] - دا نښه په فارس کې معمولاً د يوۀ ټوکر پراڼه ده او اغلباً زرغون رنګ لري او د خولۍ پر ژۍ باندې ايښودل کـېـږي. - ليکوال

سره وويل چې له دغه زورور مسلمان سره باید خپل چلند ته پام ولرم. هغـهٔ ته مې وويل چې زه يو عرب يم او مشهد ته پر لاره يم؛ خو تاسې دا تصور وکړي چې (په ما به څه تير سوي وي- ژ)؛ حاجي فکر کاوهٔ زما ژبه عربي ده او په عربي يې خبرې پيل کړې او زه يې هک پک کړم. (يو ناڅاپه گير سوم – ژ). ما له څو اړخونو هڅه وکړه چې په دې اړوند پر خپلې راپورته سوې ناآرامۍ باندې خاورې واچوم او پټه يې کړم او هغه ته مې وويل ددې لپاره چې زما سفر له امن څخه ډک وي نو ځکه مې ځانته د عرب هويت غوره کړ که نه زه خو په خپله کشميری يم او د سوداگرۍ لپاره مازندران ته روان يم. په ختيځ کې دا ډول داستانونه د شباهت جوړولو په نوم يادېږي او اغلب وختونه يې آسيايي مسافران کاروي؛ او پرته له دې چې د خپلې ادعا د اثبات لپاره کوم شی ولري نور خلک ورباندې لږ ډاډ کوي او کومه ډيره هيله مندي هم ورته نه سته. همدا چې ددوی اصلي داستان پټ پاتې سي همدا ورته کافي ده.

زما دداستان دغې اصلاح هيڅ عيني تعجب او يا اضافي پوښتنې رامنځته نـهٔ کړې؛ د حاجي له چار چلند څخه ښکارېـدل چې ما تر اوسه لا سم کړاو او رنځ نه دئ گاللی. پروسږکال زما ژوندون په بدلې څيرې او په يوې بشپړې مصنوعي (ساختگي) ژبې تير سو؛ له دې کبله خدای دې راته عفو وکړي، زه که په هر حالت او موقعيت کې وم ما ورته چټک يو داستان جوړولی سو. يوازې دومره هيله کوم چې کله چې د يوهٔ کار تر سره کول عملي نـهٔ وي نو غواړم چې چپن او نور اړوند تزئـينای يې د تل لپاره يوې خوا ته وغورځوم. حاجي د مازندران د بلفروش Balfrosh د ښار استوگن وو؛ هلته يې کارو بار وو؛ هغه په مشهد کې له تبريزي زائـرانو سره ليدلي ول او اوس بيرته خپل ولايت ته روان وو. له دې ډلې سره د هغه د يو ځای کيدلو دليل نه بايد ساده و انگـېـرل سي؛ د کسپين د سمندرگي ته د ترشيش له لارې مسير د نورو لارو په پرتلې لږ خطر ناک دئ.  ما له حاجي وغوښتل چې ما دې بلفروش ته ورسوي، حاجي وويل چې څو خنډونه به درته پيدا سي. خو کله چې ويې ليدل چې دې لارې ته ليوالتيا لرم نو خپل شرايط يې بدل کړل او دوه چنده کرايه يې راڅخه وغوښتله.

د ترشيش سيمه ـــــــــ مايله ارتوالی لري (په انگليسي متن کې د مايل اندازه نه ده ويل سوې او همداسې سپين پرېښودل سوی دئ – ژ)  چې له ختيځه مخ پر لويديځ پرته ده او په همدومره واټن نيمايي يې د سويل خواته غـځـېـدلې ده.  دا سيمه د عبدالله په نوم د يوهٔ مستقل فارس توکمي له لوري اداره کـېـږي. دی شاو خوا څلوېښت کلن دئ درنده او  موقره بڼه لري او هغه ډول چار چلند لري چې د لوړې پاړکې په مسلمانانو کې معمول دئ. ددهٔ اداره د سيمه ييزو خلکو په منځ کې محبوبيت لري او په دې توگه په خپلو راکړو ورکړو او تعاملاتو کې آرام ښکاري. له مسافرانو څخه پوښـتـنې گروېـږنې نـهٔ کـېـږي او پاسپورت ته اړتيا نـهٔ سته.

عبدالله د پخواني ترشيش ښار تر څنگ يو بل کوچنی او په ديوالونو کې محصور ښارگوټی جوړ کړی دئ ؛ دا ښارگوټی د سلطان آباد په نوم هم شهرت لري. د همدې ښار په يوه گوټ کې يو کاروان سرای هم سته، په ټول فارس کې ما دا يوازينی کاروان سرای ليدلی دئ چې په کې دننه اوبه او د اوبو سرچينه نه لري. ددې ځای رئـيس او افسران يې په نوي ښار کې ژوند کوي او همدلته بازار هم سته. سيمه ييز خلک ادعا کوي چې له هغې مودې راوروسته چې افغان سرتيرو د مشهد سيمې ورانې کړلې او د خراسان په دې برخې کې سوداگري مختله کړله، نو بازار په ښه ډول نـهٔ دئ ډک سوی.

د ترشيش سوداگري عمدتاً نيل او له لويديځ څخه نور رنگونه دي چې د وړيو له ټوکرانو او وريجو سره يو ځای واردېږي؛ وريجې په لږه اندازه د هرات په شاو خوا وو کې توليدېږي. داسې ښکاري چې د ترشيش اصلي صادرات اوسپنه ده چې د پرېړو پاڼو/ صفحاتو په ښه ورته شکل ورکول کـېـږي. د ترشيش د اړتيا وړ کمه اندازه اروپايي ټوکر د شاهردو له لارې له مازندران څخه راوړل کـېـږي او يا له گيلان څخه يزد ته د اصلي لارې په اوږدو کې ليږدول کـېـږي. په دې ښار کې تقريباً سل هندو کورنۍ استوگنې دي چې له ملتان او جسلمير څخه دلته راغلي دي او د فارس دې خوا ته ددوی د کډوالۍ ډېر ليرې ځای دئ؛ دا هندوان په داسې يوهٔ ځای کې استوگن دي چې هلته هـېـڅ مسلمان ژوند نـهٔ کوي او د چا له ځور، کړاو او سپکاوي پرته په آزاده توگه خپل کسب و کار او ژوند ته دوام ورکوي؛ ما ته تر ټولو په زړه پورې خبره دا وه چې د پيرزاده په نوم مې د برهمن د فرقې غړي وليدل، پيرزاده معمولاً هغه لقب دئ چې مسلمانان يې د پيغمبر لمسيانو ته ورکوي. په مشهد، يزد، کاشان، کازبين او د کسپين د سمندرگي په يو شمير غاړو کې د هندوانو کوچنۍ کمپنۍ موندل کـېـږي؛ ددوی لويې ډلې د فارس د خليج په بـېـلابـېـلو ښارونو کې هم سته چې له هماغه ځايه د هند له لويديځو سمندري غاړو سره سوداگري لري.

کله چې زموږ د قافلې د خوځـېـدو وخت رانيږدې سو نو ما حاجي ته يو شمير پيسې ورکړې چې يو آس راته وپيري. ډغه آس ډېر غښتلی آس نه وو خو حاجي فکر کاوه ددغه آس لپاره زما وزن او بار کافي نـهٔ دئ نو د رنگريزۍ د رنگونو دوه کڅوړې يې ورزياتې کړې چې زه به ورباندې کښـېـنم. ما په ژوند کې داسې حريص مسلمان نـهٔ وو ليدلی؛ هغه په خپلې لومړۍ غلا بسنه نـهٔ کوله او تل به يې زه د پور د اخيستلو حتی که لږ پيسې هم وې تر فشار لاندې نيولم؛ هغه هڅه کوله چې ما وغولوي.

فکر کوم زموږ په منځ کې به د حاجي په شان لږ کسان وي. هغه د يوهٔ بډای سوداگر په توگه پـېـژندل کـېـدهٔ او د خپل هـېـواد له لوړ پوړو کسانو سره په اړيکه کې وو. د هغـهٔ کرهٔ وړهٔ او چار چلند جدي او له وقاره ډک وو. په ورځينو راکړو ورکړو کې ددهٔ چلند دومره

د قناعت ور وو چې هېڅکله يې د هيڅ چا، د هغو کسانو په گډون چې ددۀ په عيبونو باندې خبر ول، د راضي کولو هڅه نـۀ کوله. حاجي ادعا کوله چې دی صادق دئ او عربستان، توركيې او فارس ته يې د زيارتونو لپاره سفرونه کړي دي. حاجي د اضافي اوږودو دعاگانو د فهرست ترڅنگ  په ورځ کې پينځه ځله له ځنډ پرته لمونځونه کول. خو همدغۀ بډای او لوړ پوړي سړي چې د خپل ادب او نزاکت لپاره يې شهرت درلود او د تقوی ادعا يې هم کوله وروسته له دې چې ويې نه سوای کولی چې ډېرې پيسې تر لاسه کړي نو په ډېرې ماتې غاړې يې د ناچارۍ له مخې راڅخه وغوښتل چې ورته پور ورکړم او يا نيم کرَون (پخوانۍ انگليسي تاج داره سکه – ژ) ورته ورکړم. خو له دې چې زه له نيازمنو خلکو سره د اوږد معاشرت له کبله نور بې تفاوته سوی وم ومې کولی سول په زړورتيا او آرامۍ د حاجي د غوښتنو پر وړاندې مقاومت وکړم. داسې ښکاري چې حاجي زما دغه امتناع په آسانۍ ومنله؛ په حقيقت کې زه په دې باور يم چې حاجي زه د صحيح قضاوت او په ديني چارو کې د ماهر په توگه پيژندلم.

ددې لپاره چې خپل ځان مې له هر ډول شک څخه ځان خلاص کړی وي او په امن کې اوسم په ځانگړې توگه د حاجي پر وړاندې چې په خپلو بې حد او حصرو پوښتنو او گړوېږنو يې شهرت درلود نو حاجي ته مې وويل چې زه يو سني يم. ما فکر کاوۀ له دې چې سنيان په فارس کې له ډېر سپکاوي سره مخامخ دي نو ښايي دا خبره به وکولی سي د حاجي د ډېرو پوښتنو مخه ونيسي.  حاجي د سني له هويت سره چې په دې سيمې کې په ندرت ليدل کيږي او د کرکې ور دئ مخالفت وکړ. هغه اخطار راکړ دا خبره يوه سني ته ښه او خوندي نه ده چې له شيعه زائـرانو سره سفر وکړي ځکه هغو کسانو چې په دې وروستيو کې ځانونه په مشهد کې مطهره کړي دي ښايي ځانونو ته دا حق ورکړي چې له تا سره بد او سپک چلند وکړي.

د حاجي محـمد په مشورې زه شيعه سوم او پرته له کوم شک څخه د زائـرانو په ډله کې ومنل سوم. باور وکړئ چې په ډېرې سختۍ مې له هغه ملا سره خدای په اماني وکړه، دی ما ته د لارې يو گټور ملگری وو او ښې شيبې مې ورسره تيرې کړې وې؛ د څو تيرو ورځو آزادو خبرو په لړ کې ما يو ډول خوښي احساس کړه، زما پخوانۍ موقعيت په يوازيتوب کې وو او ستومانه سوی وم. په خپل منځي راکړو ورکړو کې صادق انسان وو. دغه بې خطره کوډگر ته مې علاقه موندلې وه؛ د هغو ځايونو په هکله مې ورڅخه پوښتـنې کولې چې دۀ به ما ته کوم شی پيرودل، او هېـڅکله مې په دۀ کې د بې صداقتۍ کومه نښه ونـۀ موندله.

د ډسمبر د مياشتې په ۲۸ نېـټې له ترشيش څخه وخوځېـدو او ماسپښين مهال د دوه نيمو فرسنگو مزل په وهلو سره د خليل آباد کلي ته ورسېـدو. زموږ ډله چې له شپږو يا اوو تنو جوړه وه او د تبريز ډله لا ورسره نه وه يوځای سوې په يوۀ کوچني کاروانسرای کې

واړول؛ ددې کلي يوۀ کليوال زموږ له حاجي سره پېـژندګلوي درلوده او په ډېر خلاص لاس او سخاوت يې موږ ته سون توکي برابر کړل، شپه ډېره سړه وه او واوره ورېـدله او موږ ښه توده شپه تېـره کړه.

په ۲۹ نېـټه درې فرسنګه ليرې په حاجي آباد کې يوې کوچنۍ کلا ته ورسېـدلو. کله چې ددې سيمې ملک پوه سو چې حاجي محـمد زموږ د ډلې مشر دئ او سره له دې چې له ليرې ولايت څخه وو خو په ټول خراسان کې يې شهرت درلود. نوموړي موږ ته بلنه راکړه چې کلا ته دننه ورسو او د تاودۀ ښـۀ راغلاست په ويلو يې زموږ ډېره مېـلمه پالنه وکړه.

نن زما آس د بار په وړلو کې چې ددۀ پر شا بار وو له ځانه د ناتوانۍ نښې ښکاره کړلې. لږ خوراک يې کاوۀ او ډېرې خولې يې کولې او په پرله پسې ډول کوږوږ روان وو او تيندکې يې وهلې. ددۀ په همدغو حرکاتو کې د هغه د يوې شديدې ضربې په ترڅ کې زه د زين له پاسه لاندې وغورځـېـدم لاس مې تک شين سو او ډېر درد يې پيل کړ. ددې پر ځای چې حاجي ددې پېـښې په اړه راسره خپله همدردي څرګنده کړي په ترخه ژبه يې زما په عدم مهارت انتقاد وکړ او ويې ويل که همداسې روان اوسې نو هڅې به دې بدې پايلې ولري.

د حاجي آباد انار بل ډول خوند لري او همدا د فارس د نورو سيمو په پرتلې ددې سيمې ځانګړتيا ده. دا انار نرم پوستکی او پريمانه اوبـۀ لري چې په تودې هوا کې او يا له جسمي فعاليتونو وروسته چا ته هوسايي ورکوي. دا ډول انار په افغانستان او فارس کې موندل کيږي چې د «بې دانه» په نوم شهرت لري. دا ډول انار لوړ کيفيت لري او معمولاً کم پيدا انار دي. [1]

په ديرشمې نېـټې درې فرسنګه لـېـرې د (نو بلهوکم **Nowblehuckum**) [زما ژباړونکي په باور دا نوم ليکوال سم نـۀ دئ ليکلی – ژ] کلي ته چې لوی او له ګڼه ګوڼې ډک کلی وو ورسېـدلو او همدلته تبريزي زائـرين هم زموږ له ډلې سره يو ځای سول. له ترشيش څخه تر دې ځايه لار عموماً د لويديځ پر لور ده؛ دا سيمه مخ خلاصې، پراخه او يبره وره يا حاصلخيزه ده، خو د خراسان د ختيځ په شان محدود څنګلونه او رواني اوبـۀ لري. زما مخې ته په دښتې کې دننه درې ورځنی سفر پروت وو او د خپل نس د موږ ساتلو لپاره د غنميني ډوډۍ لپاره زما هڅې په دې ځای کې ناکامې وختلې. ډېر خلک د غنميني ډوډۍ په لټه کې ول او ددوی د وروستنيو د ستاينې

---

**[1] - At Hadjiabad the pomegranates are of a delicious flavor, a property indeed of this fruit in most parts of Persia. It has a thin soft skin, and contains a large quantity of juice, than which nothing in hot weather or after fatigue can be more grateful. There is a species of the pomegranate, in Persia and also in Afghanistan, whose granules are without seed, called the Redana ; it is of a superior kind, and generally scarce. {Volume II page 169, combined two volumes PDF format page, 516}**

وړ خدماتو پر بنسټ ددوی دلایل زما د دلایلو په پرتلې د قناعت وړ ول او دې کار اړ ایستم چې یوازې د وربشو په څو ټیکلیو بسنه وکړم.

اتفاقاً تیرې دوه ورځې مې د ګیلان له یوۀ سید سره چې د مشهد زیارت ته روان وو تیرې کړلې. موږ دواړه ډېر ژر په دې سلا سوو چې خپل وسایل او توکي به سره ګډ کړو او د یو بل ملاتړ به کوو. تاسو پوهېږئ چې انسانان د یوازیتوب ژوند کولو لپاره نامناسب دي او لیوال نـۀ دي چې یوازې اوسي. زه ددې اړتیا نـۀ وینم چې د یوې ټولنې د خوښیو او ټولنیزو امتیازاتو په اړوند خبرې وکړم، ځکه کلونه کېږي چې دا موضوع د عالمانو د بحث موضوع ده؛ د یوۀ ورځپانه لیکونکي قلم د هغـۀ ارزښت نـۀ زیاتوي. یوازې دلته یوه اشاره کوم چې وروسته له یوۀ ډېر ستومانه کوونکي او اوږدۀ سفره ما له یو سید سره د یوۀ وخت د دوړې له خوړلو څخه زښت ډېر خوند واخیست او د دین په هکله ددۀ شخصي او منحصر په فرد نظریات راته سرګرمي پیدا کوله او په عین حال کې مې ورځخه یو څه زده کول.

په یو دېرشمې نېټې اووۀ فرسنګه لیرې د درونا **Durroona** کلي ته ورسیدو. دا یو کوچنی کلی دئ چې د عبدالله د قلمرو په لویدیځې ژۍ کې واقع دئ، زموږ د تګ لاره، د یوې متروکې سیمې له منځه د لویدیځ پر لور غځېدلې وه. د همدې سفر په اوږدو کې زما آس د یوۀ مایل په واټن د نهر له منځه د تیریدلو پر مهال زه او د حاجي د رنګونو کڅوړې اوبو ته غوزار کړم او یوۀ خښمېدلي او په قهر مسلمان (حاجي – ژ) په پراته حالت کې وموندلم. حاجي خپله ږیره تر هغو په څپېړو ووهله تر څو قهر یې کیناست، وروسته د ښکنځلو او سپکو سیلاب یې راخوشې کړ. حاجي خپله بد چانسي پر ما واچوله ځکه چې ما پر مسلمان باندې واجب لمونځونه نـۀ ول اداء کړي او تینګار یې کاوۀ چې د ټولو رنګونو تاوان یې باید ورکړم.

د ۱۷۸۴ز کال د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ نېټې د اتو فرسنګو د مزل له وهلو وروسته یوې دښتې ته ورسېدو چې ټیټې غونډۍ او لږ ونې یې درلودې. موږ په یوۀ لوړ ځای کې دمه وکړه او هماغلته مو واړول. دلته واوره ورېدلې وه او همدې واورې زموږ د څښاک اوبـۀ برابرې کړلې. زما آس دومره ناتوانه او بې سیکه سو چې نور یې ونـۀ سو کولی زما بار یوسي. که یو شمیر مسافران په دې خبر نـۀ وای چې ما د همدې سفر لپاره ډېرې پیسې ورکړې دي نو هرو مرو زه یې همدلته پرېښودلم. هغوی په توندو او شدیدو الفاظو پر حاجي د هغـۀ پر غیر عادلانه چلند اعتراض وکړ. حاجي چې تر یوه حده له خپلو شکایتونو څخه شرمیدلی وو او ښایي دا ویره

ورسره وه چې ددهٔ نورې نیمګړتیاوې او نواقص به رابرسیره سي؛ حاجي یو بل آس له یو چا څخه چمتو کړ چې دوه فرسنګه مخکې روان وو؛ دغه سړي موافقت کړی وو چې پلی به لاړ سي او د ښې ګټې لپاره به ستړیا پر ځان ومني.

د حاجي محمد نیږدې همکار متوجه سو چې څرنګه ددهٔ ارباب زما پر وړاندې په بې ادبۍ او بې اعتنایۍ چلند کوي. حاجي فکر کاوهٔ چې دی کولی سي همدغسې چلند ته پرته له کومو عواقبو دوام ورکړي. ما په دې کې کوم دلیل نـهٔ لیدهٔ چې زه هغه درناوی حاجي ته ورښکاره کړم چې زه ورته قائـل وم خو نن شپه مې زړه نور تنګ سو او دې ته یې وهڅولم چې په دې ډول به یې جداً تنبیه کړم چې په انګلیسانو کې دود ده. حاجي ته دا ډول برید نوی خو اغیزمن وو، هغه زائـران هم هک پک سول چې زه یې تل هڅولم. په داسې حالت کې به تاسو زما د مسلمان شخصیت کلیدي ګټې ووینۍ؛ زما په باطن کې هیڅ سپکاوی هرڅومره چې بې ادبانه یا شرمناکه ښه وي نه سي کولی یو فعال قهر او خښم توجیه کړي. یوازینی غوراوی دا وو چې صبور او آرام پاتې سم؛ اغلب وختونه دا خبره مهمه کیږي چې د یوهٔ خطار کار سړي خښم او قهر ددې لپاره آرام کړو چې د نورو تاوانونو مخه ورباندې ونیسو. د فارس په دې برخې کې که یو مسیحي جرئـت وکړي چې یو مسلمان ووهي احتمالاً له درندې جریمې یا شدید بدني مجازات سره مخامخ کـېږي.

هغه ارمنیان چې د آسیا د لویدیځ له سیمو څخه تیریږي په ندرت په دې لاره کې لیدل کیږي ځکه دوی هم د سیمې د خلکو له ژورو تعصباتو څخه ویره لري چې د نورو ادیانو د پیروانو پر وړاندې یې لري او هم د تاتارانو او تورکمنانو له بریدونو څخه ویره لري.

په دوهمه نـېته پینځه فرسنګه لیرې د (تاورون Towrone ) کلي ته ورسـېدلو؛ دا یو کوچني متحصن کلی دئ چې د اسماعیل خان په سیمې کې پروت دئ؛ اسماعیل خان یو مستقل خان دئ او له (دیروبن Derobnne ) څخه تر دې ځایه پورې د راغځـېدلې سیمې د ملکیت ادعا کوي؛ لیرې ښکاري چې ددهٔ د ملکیت دغه ادعا دې کله هم تر مناقشې لاندې راسي. ویل کـېږي چې په دې لاره تللي یا راغلي ګڼ شمیر مسافرین د شدیدې تودوخې او د اوبو د نشتوالي له کبله مړه او تري تم سوي دي، ددې لارې په لومړي منزل کې اوبـهٔ یوازې په یوهٔ ټکي کې د کوچنیو ځاګانو د کیندلو له لارې ترلاسه کیږي.

موږ ته خبر راغی چې پرون د آس سپرو یوه پینځوس کسیزه ډله د تاورون د دیوالونو له ژیو تیر او د خپل پلرني ټاټوبي پر لور لاړل. دغه خښـمېدلي مهاجمین چې د فارسیانو پر وړاندې ګډه جګړه لري مسافران نیسي او هم یې په مرییتوب له ځان سره بیایي او هم یې لوټ کوي. د نیول سویو کسانو د تیښتې د مخنیوي لپاره یرغمل سوي کسان د خپل هیواد منځنیو سیمو ته بیایي؛ دلته دوی د تاتارانو د

غوايانو او پريمانو آسونو د څارنې لپاره کار کوي. يرغمل سوي کسان کله ناکله په (کلموکانو Kalmucks ) باندې پلورل کېږي چې دا د تاتارانو تر ټول شډل، وحشي او بې ادبه نسل دي. [1]

ويل سوي چې د همدې ډول مريټوبونو د ډولونو په منځ کې دا ډول يې ډېر وحشي او له مرگ څخه بد تره دئ. اوسمهال توركمنان يوه كم اهميته قبيله ده؛ د هغوی يوځي اقدامات عمدتاً په کاروانونو او کليو باندې په بريدونو متمرکز دي. نور دوی پياوړي او ځواکمن کسان نـۀ دي چې بيا دې تيمور او زينجي Zinjis رامنځته کړي؛ د آسيا د سوبمنو لمسيان چې په دې سيمې کې ليدل سوي دي د نړۍ تر ټولو مجلل تختونه يې اشغال کړي دي. اوس په تأريخي مباحثو کې دا خبره منل سوي چې هغو سترو لښکرونو چې د روم امپراتورۍ ته يې پراختيا ورکړه او په پای کې يې سوبې وکړې او د گوټ Goth او وندال Vandals په نومونو ياديدل په حقيقت کې د بخارا، خيوې او د کسپين د سمندرگي د غاړو تاتاران ول. د توركمنانو اوسنی مشر په بخارا کې ژوند کوي او دلته يو کوچنی دربار لري او ډير لږ واک او ځواک لري.د ختيځو سيمو تاتاران يعنی د چين اوسني سوبمن چې په عام ډول د کلموکانو Kalmucks او مغولو په نومونو يادېږي په بـېـلابـېـلو لالهاندو ډلو ويشل سوي دي او داسې نـۀ ښکاري چې د آسيا د سويلي هـېـوادونو لپاره دې کوم گواښ رامنځته کړي.

نن سهار کله چې د تگ لپاره چمتو سوم نه هاغه آس وو چې پرونورباندې سپور سوی وم او نـۀ يې څښتن؛ داسې برېـښـېـدل لکه چې د آس څښتن د ډلې له خوځښت يو ساعت مخکې له خپل آس سره وتلی وو. لاره په واورو پوښلې وه او ډېر وخت يې ونيو چې ځان آس او د آس څښتن ته ورسوم. نوموړي اعتراف وکړ چې زه په دې اندېښنه کې وم چې ښايي حاجي زما پيسې رانـۀ کړي، او ويې ويل چې که زه د سفر لگښت ورکړم نو کولی سي چې خپل آس راته فوراً راکړي. ما په چټکۍ سره د چارو ترتيب ونيو او د تاورون پر لور وخوځـېـدم؛ ما هماغه سړی وليږه چې د پيسو د انگيزو تر اغيز لاندې راغلی وو تر څو د حاجي سترې ستومانه آس راته راولي، ما

---

[1] - د بومي تاتارانو د نومونو په منځ کې د هغوی په ژبه کې د تاتر او تاتار نوم دئ. زه اغلب وختونه د آسيايي نومونو د جرړو او تسميوي وجهو په لټه کې يم؛ سره له دې چې دوی کوم واقعيت نـۀ رابرسيره کوي مگر کيدای سي يو شمير نظريات رامنځته کړي. له دې کبله ما پريکړه کړې چې يو شمير يې دلته شرحه کړم. د فرنگ يا فرنگي اصطلاح نن په اکثريتو آسيايي هـېـوادونو کې دود ده دا اصطلاح د صغيرې آسيا خلک د صيليبي مسيحيانو لپاره کاروي؛ دا اصطلاح ظاهراً د فرانک له نامـۀ څخه راغلې ده.

صاراسن Saracen هغه نوم دئ چې د عربيا/ عربستان لپاره کارول کـېـدۀ او په منطقي ډول بايد صحرا ته په خطاب کې وي چې په عربي کې د بيديا يا دښتې په معنی ده. همدا شان دغه اصطلاح کيدای سي هغه چا ته اطلاق سي چې په وچې سيمې کې ژوند کوي، دې ته ورته موږ په غرونو کې استوگنو خلکو ته غرني خلک وايو. زما په باور همدا توضيح هماغسې ستر محقق د يورک اوسني لوی اسقف زما په هـېـواد کې تصديق کړې ده. ليکوال

له څو تنو مسافرینو څخه اورېدلي ول چې دا آس په سختۍ سره تگ کولی سي.  ما اندیښنه درلوده چې حاجي محمد مې په بشپړ ډول خوشې نـهٔ کړي نو اړینه مې وبلله چې ورسره خبرې وکړم؛ دا راته یوهٔ فارسي سوداگر وویل چې ما د هغه پاملرنه ځانته اړولې وه؛ له گڼ شمیر مخالفتونو وروسته مې بریا تر لاسه کړه.

په دریمې نـېټې زموږ قافلې اته فرسنگه لیرې په یوې دښتې کې د یوې کوچنۍ ویالې تر څنگ دمه وکړه. دا یوازینۍ اوبـهٔ وې چې د یوهٔ ورځني سفر په اوږدو کې ورسره مخامخ سوو. ما او د گیلان سید خپل لوښي په اوبو ډک کړل چې دواړه ورڅخه کار واخیستلی سو. وچې ډوډۍ او پیازو چې زموږ د ماسپښین مهال خوراک یې جوړاوه په شدت تږی کړم نو له همدې کبله به مې اغلباً ډېرې اوبـهٔ څښلې. د سید پام راته واوښت او ویې لیدل چې ما له خپلې عادلانه ونډې څخه ډېرې اوبـهٔ څښلي دي؛ هغه وویل چې پاتې اوبـهٔ دې د هغـهٔ د لامبلو او اودس لپاره زیرمه سي.

کله چې سید لمانځـهٔ ته لاړ زه هم د سون په لرگیو پسې ووتم. ډېر ژر بیرته خپلې سیمې ته راوگرځېـدم او په چټکۍ مې پاتې زیرمه سوې اوبـهٔ وڅښـلې او بیرته په لرگیو پسې لاړم تر څو سید ما د تش لوښي ترڅنگ ونـهٔ ویني ځکه چې ډېر ژر خپه کیدهٔ. ما فکر وکړ چې سید به له لمانځه بیرته راغلی وي نو د لرگیو او سون توکو غاړ پیټی مې په شا کړ او خپل ځای ته چې راورسیدم باز مې کوز کړ او سید ته مې داسې وښودل چې گڼې ډیر ستړی سوی یم او گڼې د ستاینې وړ کار مې تر سره کړی دئ. هغه وویل «هی هی، ما د یوهٔ ریښتوني مؤمن په توگه د خپل خدای پر وړاندې مې خپله دنده تر سره کوله او تاسو ددې سرې شپې لپاره وتلې واست چې سون توکي او لرگي برابر کړئ، خو کوم کافر راغلی وو او هغه لږ اوبـهٔ چې ما د خپل اوداسه لپاره ساتلې وې څښلي او غلا کړي یې دي، دعا کوم چې دی دې هېڅکله ددنیا د اوبو یو څاڅکی هم ونـهٔ څښي.»هغه زموږ د گاونډیانو په بشپړې پلټلو بوخت سو ترڅو ددهٔ په وینا د غلا سړی پیدا کړی. وروسته له دې چې کومه گټوره پایله یې تر لاسه نه کړه په عصبانیت یې ټول هغه کسان چې په خولې یې راتلل وښکنځل او په غړمبیدو غړمبیدو د خپل خوب په ځای ننوت.

په څلورمه نیټه اته فرسنگه لیرې (خان آهودي/ خان آبادي -Khanahoody) ته ورسـېـدو؛ دا له گڼه گوښې ډک یو کلک استحکامي کلی دئ او د اسماعیل خان د استوگنې ځای دئ چې په دې سیمه کې یو مستقل ځای دئ. د لویدیځ پر لور له تاورون Tawron څخه سړک له وچ او لم یزرع سیمې څخه تیر سوی چې لوڅې او ټیټې غونډۍ لري او لاره یې په منځ کې تیره سوې ده.

د خان آهودي د ختيځ په تقريباً درې مايلۍ کې د غرونو يوه لړۍ غځېدلې ده چې منځمهالی/ متوسط لوړوالی لري او پراتـهٔ يې له شماله مخ پر سويل دي، ددې غرنۍ لړۍ لويديځه ضلعه د ختيځې ضلعې په پرتلې د پام وړ لوړوالی لري. داسې ښکاري چې ددې غرونو لړۍ تر ډيرو ليرې ځايونو پورې دوام موندلی دئ او ددې لامل سوی چې د سيندونو د تګلوري مخه بدله کړي. د لويديځ د لور نهرونه د سويل پر لور بهيږي او احتمالاً د کسپين سمندرګي ته لويږي حال دا چې د ختيځ لور نهرونه احتمالاً د فارس د خليج سويلي سواحلو ته ځان رسوي.

که تاسو د خان اهودي د غونډيو سر ته وخېږئ هرڅومره چې ستاسو سترګې کار کوي تاسو يوه پلنه ورشو وينئ چې لويديځ او شمال لويديځ خوا ته غځېدلې او په کليو او کرنيزو ځمکو ډکه ده؛ دلته ستاسو د سترګو ليد ته هيڅ داسې لوړه غونډۍ يا غر نه راځي چې ستاسو د سترګو د ليد مخه ډب کړي. همدلته بايد دا خبره ياده کړم چې د فارس دا برخه اوس ډيره تيارهٔ په نظر راځي؛ اوس د ژمي د منځ شپې ورځې دي، ونې پاڼې نه لري او تاسو په سختۍ کوم بوټی وينئ. نن زموږ په ډلې کې يو سپين ږيری چې له ډيرو پخوا وختونو ناروغ وو مړ سو؛ په زړه پورې دا ده چې دی په داسې حال کې مړ سو چې پر اس سپور وو.

په پينځمې نيټې درې فرسنګه ليرې بيرجند ته ورسيدو؛ بيرجند د اسماعيل خان سيمه ده او داسې يو کلی دئ چې ډېر تګ راتګ ورباندې کېږي. په شپږمې نېټې د قافله باشي د ناروغۍ له کبله همدلته پاتې سوو. دوه تنه زائرين چې ترکاڼان ول هغه ته يو «تختِ روان» جوړ کړ. دغه تختِ روان د يوهٔ زنبيل په شان دوه لوی لاستي درلودل چې د دوه وو کچرو په وسيلې يوه مخته بله شاته وړل کېدهٔ.

په اوومې نېټې نهه فرسنګه ليرې نصير آباد/ ناصر آباد ورسيدو؛ دا يوه کوچنۍ کنډواله کلا ده چې د يوې غونډۍ پرمخ جوړه سوې وه. موږ له دوه وو نورو کليو څخه تير سوو چې څوک په کې استوګن نـهٔ ول دا کلي د کو او قاف **Kow and Kauff** په نومونو ياديدل. دا کلي د لوټمارو تورکمنانو د يو ځای کيدلو ځای دئ او له فارس څخه تر تاتارستان پورې د اصلي لارې په اوږدو کې واقع ول.

کله چې نصير آباد / ناصر آباد ته نيږدې سوو، پام مو لويو لويو هډوکو ته واوښت چې د ځمکې پر مخ خوارهٔ وارهٔ پراتـهٔ ول. پوه سوم چې دا هډوکي په نادر شاه پورې اړوند د څو فيلانو هډوکي دي؛ نادر فرمان ورکړی وو چې دا فيلان دې سويلي ولايتونو ته چې هلته هوا توده او ددوی د روغتيا لپاره مناسبه ده يوسي. په خواشينۍ چې ددغو فيلانو ډيری برخه د سفر په لړ کې تلف سول.

د پرسیا د امپراتورۍ له ړنګېدلو وروسته پرسیا له زښتو ډېرو ورانیو سره مخامخ سوې او خپل ډېر وګړي یې له لاسه ورکړي دي. کوچني سیمه ییز مشران چې ځانونه لنډمهالي حاکمان بولي اغلب وختونه پر خلکو ظلمونه کوي او په سوداګرو باندې درندې او لوېي مالیې وضع کوي. خو که دغه حاکمان د خپلو سیمو د ساتنې لپاره د تاتارانو د بریدونو پر وړاندې چې له مشهد څخه د کسپین تر سمندرګي پورې په تګ راتګ کي دي ربښتونې هلې ځلې وکړي کیدای سي دغه فشارونه لږ سي. پروسرکال له زرو تنو لږ یوه ډله ان تر اصفهان پورې ورسېدله. له تاوتریخوالي او له کنټروله وتلي کړۀ وړۀ چې ظلم او ستم یې لومړنۍ نښې دي هغه مسائل دي چې نن ورځ په ټول فارس کې خپارۀ دي. دا مسایل باید تر هغو په شرمناکې پټپټانې کې پټ پاتې سي ترڅو یو اتل راپورته سي او اوسني ضعیف مشران له منځه یوسي او نوې امپراتوري جوړه کړي او ددې امپراتورۍ قدرت تثبیت او انرژي وروبخښي.

د فارس په شمال کې هر ښار، هر کلی او ان کوچنی کلی چې له یو بل څخه یوازې نیم مایل واټن لري محافظتي دیوالونه لري. داسې ښکاري چې دغه دیوالونه تر ډېره د دښمن پر وړاندې د دفاع په پرتلې د سیمه ییزو غلاګانو او خپل منځي نښتو پر وړاندې جوړ سوي دي. کله چې د هغو ویرو او توطئو په اړه فکر کوو چې ددې سیمې استوګن وګړي ځوروي، زه ډاډه نۀ یم چې هغوی د خپلو بدو کړو وړو په پار ددې لایق وبولم چې همداسې سزا دې ووینې او یا د هغوی د ملي انحطاط او د ملت د زوال په خاطر ورته خواشینی سم.

په اتمې نېټې څلور فرسنګه لیرې شاهرود Sharoot [1] ته چې په بوستان هم شهرت لري ورسېدو؛ دا یو کوچنی خو له ګڼه ګونې ډک کلی دئ. لاره له نوبلهوکم Nowblehuckum څخه تقریباً لویدیځ ته تر تاورون Towrone پورې تللې او له هغه ځایه زما په ګومان له لویدیځ څخه شمال ته د شاهرود پر لور ځي. نن هغه آس مړ سو چې له حاجي څخه مې کرایه کړی وو تر څو ما مازندران ته ورسوي، له دې کبله مجبور سوم چې که زما د قافلې یو شمیر دوستانو د خپلې ستړیا په لړلو سره سره زما وسایل نه وای اخیستی او د هغو په لیږد کې یې راسره مرسته نۀ وای کړې نو هغه ټول له منځه تلل.

له یوې دښتې څخه تیر سوم چې ښه حاصلخیزه او په اوبو ډکه وه؛ دا دښته د شاهروډ تر ښار راتاو وه؛ ماسپښین ناوخته وه چې کاروانسرای ته ورسېدم او ومې لیدل چې د ګیلان سید زموږ دواړو د اوسیدو لپاره یوه کوټه کرایه کړې ده. ددې ځای سرښت تر دې

---

[1] - تبریزي زائـران ښي لاس ته یا لویدیځ لور شاوخوا پینځه میله له شاهرود څخه ووتل او د سیمنا Simna او کاسبین Casbin له لارو خپلو سیمو ته ستانه سول. لیکوال

سطحې رسېـږي چې فارسیان ورته ځانګړې اصطلاح کاروي «ضربِ زمستان» یعنې د ژمي ډېر شدید سارۀ. زموږ شاوخوا ته درنده واوره وربـدله او شدید باد ددې لامل کـېـدۀ چې هر ژوندی موجود د سړو له لاسه تېښته وکړي؛ ددغسې سختو شرایطو د لږ کولو لپاره د څښناک تاودۀ شیان هم پریمانه نـۀ ول.

د خراسان د نورو سیمو په پرتلې دلته اور لګول لږ دود دئ او د سون لرګیو کیفیت هم ډېر ټیټ دئ او اکثریت یې لامدۀ لرګي دي. زموږ د اوسیدو ځای له دروازې پرته بل هیڅ ځي داسې سوری یا منفذ نـۀ درلود چې دود ورڅخه ووځي او سید به دا دروازه د سړې هوا د مخنیوي لپاره تل بنده ساتله؛ ما ورڅخه ډېر وغوښتل چې قناعت ورکړم چې د دود د ایستلو لپاره دې دروازه خلاصه کړي خو ما ونه سوای کولی چې قناعت ورکړم. زموږ تر منځ د پام وړ اختلاف همدا او بله استبدادي پریکړه وه چې سید به پریکړه کوله او اغلب وختونه به زموږ تر منځ د لفظي شخړو لامل سوه.

د خپلې ډلې د فعال غړي په توګه زما دنده د سون توکو پیرودل او راوړل او مخکې له دې چې د ورځې د روښنایي څرک ولګـېږي د سید لپاره د څراغ روښانول او د تودو اوبو برابرول ول چې سید ورباندې د لمانځه لپاره اودس وکړي؛ سید وحشت درلود چې که دغه پړاو له پامه وغورځوي نو ښایي ورته بدې پایلې به ولري. سید موافقت وکړچې اور به دی روښانه کوي، دا هغه کار وو چې ما د سترګو د شدید درد له کبله نه سوای کولی تر سره کړم ځکه دود زما سترګې په دردولي. زموږ کارونه د خپل منځي اصولو پر بنسټ په منصفانه ډول ویشل سوي ول خو کله چې د کار له پایلو د خوند اخیستلو شیبه راورسېـدله د پیغمبر د کورنۍ دغه سید چې د پسه له پوستکي جوړه لویه چپنه یې پر ځان اچوله زموږ کوچنی بل سوی اور یې ټول احاطه کاوۀ او د چپنې ژیو یې ټول ځای نیوۀ او ما ته هیڅ د اور تودوخه نـۀ راتلله، که غلیظ لوګی نه وو نو زما پام په کوټه کې اور ته نـۀ اوښت. په یاد مې نـۀ رازي چې له دومره سړښت څخه به کرېـدلی وم، ما ټول کالي پر ځان اچولي ول خو بیا مې هم ونـۀ سوای کولی له سړو څخه د ریږدیدلو مخه ورباندې ونیسم. زما ډیری قهر به په دې وو چې سید به ټول نغری په خپلې ولکې او کنترول کې درلود او دا به ددې لامل سو چې زموږ تر منځ ترخه ژبه وکارول سي او دې کار ډیر قهرولم؛ خو هغه به تل ویل چې سپین ږیری او ضعیف دئ؛ هغه د خپل کور ټول هوساینه شا ته پرې ایښې وه او په دې سخت ژمي کې د زیارت لپاره ډېر لیرې مزل وهي او ددۀ ددې شریف عمل او ددۀ د مقدس میراث لپاره زه مقرر سوی وم چې ددۀ غوښتنې ورته برابرې کړم او همدې خبرې به لږ د زړه تسل راکاوۀ.

د سید پر وړاندې زما نظر او ورسره کله چې د خبرو اترو اترو په لړ کې مې یو شمیر حقایق موندل نو ما ته داسې ښه نه پاتې کېدل چې د هغو د رد کولو لپاره ورسره استدلال وکړم؛ دا راته ویل چې اوس له کوره وتلی یې زه تا ته بلنه درکوم چې ګیلان ته راسه او په ګیلان کې درته ضمانت کوم چې د خپلې کورنۍ له منځه به یوه میرمن درته وکړم او د ژوند ژواک لپاره به دې کافي وسایل او امکانات درته برابر کړم. زموږ د معمولو اختلافاتو پایله زموږ د اړیکو په ټینګیدلو واوښتله. د لارې په اوږدو کې به زما او د سید تر منځ کوچنۍ لفظي شخړې راپورته سوې؛ سید به تل زما خوا نیوله او که چا پوښتنه کوله نو سید به فوراً ځواب ورکړ چې دی له ما سره دئ. هغو کسانو چې زه او سید د لنډ وخت لپاره پېژندلو ګومان کاوۀ چې زه د سید زوی یم؛ دې خبرې ظاهراً دا باور تأیید کاوۀ ځکه زموږ دواړو د ځیرو رنګ روښانه، یو اندازه ونې او خړ بخونې سترګې مو درلودې.

شاهروت **Shahroot** ته به اغلب وختونه یو مازندراني بوټ جوړونکی یا کفاش راتـۀ [1]؛ دی له شور او ولولو ډک سړی وو، تل به یې تسبیح اړولې او یا به جومات ته روان وو. دا د خپل کار ټول وسایل شا ته پرېښودل او خپله هټۍ یې خپلې مېرمنې ته پرېښودله او خپله ټوله شتمني یې د یوه آس او یو لوی قرآن په پیرودلو باندې ولګوله او د فارس په ټولو مشهورو زیارتونو باندې وګرځېد. دی ځکه زښت ډېر غمجن وو چې محدود مالي وضعیت یې ورته اجازه نـۀ ورکوله چې د خپل پیغمبر له مقدسې مقبرې څخه لیدنه وکړي؛ هغه په دې باور وو چې دا کار به ددۀ مرګ ورته آسانه کړي او په جنت کې به ورته ځای تضمین کړي. نوموړي به د فرض او واجب لمونځونو ترڅنګ نور اضافي نوافل هم کول. هغه دغه لمونځونه په دماغونو کې په ژورو ساندو تر سره کول او داسې حالت به هم ورباندې راغی چې په لوړ غږ به یې چیغې کړې او ته به وایې چې غواړي په وچ زور د جنت دروازې پر خپل مخ خلاصې کړي. دغه بوټ جوړونکی بدخویه سړی هم وو، ډیر ژر خپه کېـدۀ سره له دې چې یو فدا کاره سړی وو خو ددنیوي چارو په اداره کې یې هیڅ ډول نرمښت نـۀ درلود. له سید سره د یوۀ حساب پر سر ددۀ اختلاف راپورته سو؛ دا پیسې دومره ډېرې نه وې یوازې درې پنې وې؛ د دواړو تر منځ توده لفظي شخړه راپورته سوه او پایله یې د بوټ جوړونکي په ګټه واوښتله. د هغه خبرې په دومره لوړ غږ وې چې ان زه یې وډار کړم؛ زما ملګري هم دی په یوار هم مسیحي کړ، هم یهود او هم کافر او هغه هم په چټکۍ تېښته وکړه.

---

[1] - فارسي بوټ جوړونکی د هندوي بوټ جوړونکي برخلاف د وګړو له ټیټې پاړکې یا طبقې څخه نـۀ دئ دی د خپل هېـواد د معتبرو سوداګرو په منځ کې یو سوداګر دئ. - لیکوال

دغه بوټ جوړونکي سید زه په یوې بدې موقع کې ولیدلم چې ما له خپل بکسګي څخه پیسې راایستلې؛ کله چې نوموړی ووت په ټول کاروانسرای کې یې آوازه خپره کړه چې دغه کشمیری (هغه مهال زه یې په همدې نوم یادولم) ډیرې طلاوې او الماس لري او ویې ویل چې ددې شاهد وو او په خپلو سترګو یې لیدلي دي.

دغسې یوې خبرې ان که په یوهٔ هیواد کې چې که تر ټولو ښه قوانین یې هم درلودای کولی سوای زما مال او زما ځان دواړه له ګواښ سره مخامخ کړي، خو د نړۍ په دې برخې کې خلک په ډیرو کم اهمیتو شیانو خپل ژوند له لاسه ورکوي او زه هم له جدي خطر سره مخامخ سوم. خو له دې سره سره زما ښه چانس او طالع وې چې ان زما خپلو هڅو هم په کې کومه ونډه نـهٔ درلوده؛ همدا طالع وې چې زه یې د ګنګا د سیند د څنډو له ډیرو سختو لارو تر دې ځایه راوستم او خوندي او محفوظ یې وساتلم.

له دې چې د بحث لپاره کومه مهمه موضوع نوره نـهٔ سته نو زه باید خپل افکار له تاسو سره شریک کړم او تاسو ته باید خبر درکړم چې اوس موږ او حاجي محـمد د مازندران د رئـیس ټاټوبي ته رسـېـدلي یو او نوموړی د حاجي ملاتړی دئ. حاجي خپله ټوله ریا کاري نوره شا ته وغورځوله او نیغ په نیغه یې راته وویل چې ددې پر ځای چې د پاتې لارې لپاره پر دهٔ ډډه ولګوو زه باید نیکمرغه اوسم چې د آس مصرف او وسایلو ته د اړول سوي تاوان په اړه نور کومه اندیښنه ونه لرم. زه پوهیدم چې دی ددې توان او لیوالتیا لري چې ماته تاوان راورسوي نو په ډېرې خوښۍ مې خپل ټول توافقات ورسره فسخ کړل خو شرط مو دا وو چې مازندران ته به زما د سفر امنیت تضمینوي.

شاهروت **Shahroot** سره له دې چې اوسمهال د استراآباد تر کنترول او اداري لاندې دئ خو په حقیقت کې له خپلو مستقلو خانګو لکه نصیر آباد، په خراسان پورې اړه لري. دغه سیمه له مازندران او هزار تیریب **Hazaar Tireeb** سره یو ځای په آقا محـمد خان پورې اړه لري او د هغه له لورې اداره کېږي؛ نوموړی یو له مهمو رئـیسانو څخه دئ چې په فارس کې حضور لري. د شاهرود ښار کوچنی دئ او تر یو شمیر برخو یې ختین دیوالونه راتاوی دي. د لرګیو د کمښت له وجهې کورونه له خامو خښتو جوړ سوي دي او مسطح کوتې هم په همدغو مصالحو پوښل سوي دي.

په دې سیمې کې ګڼ شمېـر کسان لیدل کـېـږي چې پوزې یې، د لاس او پښو ګوتې او پښې یې د سړو له کبله تاواني سوي دي، ویل کـېـږي چې د فارس د بل هر ټکي په پرتلې د شاهروت هوا ژښته ډېـره سړه ده. ددې سیمې اصلي سوداګري د مالوچو صادرات دي چې په خام او د نخ په ډول په مازندران کې تولیدیږي؛ د هغو په بدل کې د روس د اوسپنو او فولادو سیخان، یوه اندازه ټوکران چې په

هلمند کې تولیدیږي او همدا شان مس، چړې او قاشق پنجې راوړل کېږي. له دې چې بوره ډېر لوړه بیعه لري نو د فارس ټیټه پاړکه یا طبقه ډیره لږه بوره کاروي. دا خلک د بورې پر ځای د شربت په نوم یو جوس جوړوي چې د انګورو له غلیظو اوبو څخه جوړیږي. خو داسې ښکاري چې دا شربت دې د اور بلوونکې مادې خاصیت هم ولري، دوی اکثراً دا شربت په خپل خوراک کې د تروو/ ترشو انارو له اوبو سره ګډوي او یو ډول خوندور او سالم اسید ورڅخه جوړوي.

د جنورۍ د میاشتې په ۱۷ نېټې د مالوچو له یوې قافلې سره یو ځای سوم او د (دهٔ ملا) د کلي پر لور چې څلور فرسخه لیرې وه وخوځېدم، دا په دیوالونو کې محصور یو کوچنی کلی دئ. هغه آس چې ما په شاهروت کې کرایه کړی وو قوی او چټک ځغاستی آس وو او داسې ښکاریده لکه چې د سفر لپاره ګټوره وسیله وي، ځکه د مازندان د لارې ډیری برخه له غرنیو سیمو تیریږي چې ځنګلونه او د اوبو نهرونه ډیر لري.

زه او سید په «دهٔ ملا **Dhey Mollah**» کې له تاودهٔ ښـهٔ راغلاست او ښې مېـلمه پالنې سره مخامخ سوو؛ دوه قوي دلیلونه ول چې یو یې زما د لارې د ملګري یا سید ذاتي لیاقت او بل د «سید» ټولنیز موقعیت وو چې د زیارت ډیر سخت او اوږد سفر یې کړی وو نو له دې کبله د خپلو هیوادوالو تر ځانګړې پاملرنې لاندې راغلی وو. ما به د سید په قدر پیژندنه کې کمی کړی وي چې که د هغې مرستې یادونه ونـهٔ کړم چې زما له مخې یې ډېرې خندونه لیرې کړل او هغه هوساینه یې راپه برخه کړه چې عادي مسافرینو ته نه تر لاسه کیږي. ددې کلي میوې چې یو شمیر یې لا تر دې دمه تازه وې د ډېر ارزښت وړ دي په ځانګړې توګه ددې ځای انار چې د حاجي آباد له انارو سره برابري کوي. د فارس په دې برخه کې ترکاري لکه کرم، ګازرې ، مشنګ او شلغم ځانګړی ښه والی لري او د کال د فصل په اوږدو کې د سیمه ییزو خلکو خوراک توکي جوړوي.

موږ په اتلسمې نېټې پینځه نیم فرسنګه لیرې تاک **Tauck** ته ورسېدلو؛ دا یوه کوچنۍ کلا ده. هماغه ورځ هوا دومره سړه وه چې د ویالو اوبه کنګل سوې وې او د سفر په لومړیو کې د سړښت له لاسه راته لړزه پیدا سوه. د تاک د سویل په تقریباً اتـهٔ مایلۍ کې د دمګام **Dumgam** ښار دئ چې په یوې پراخې دښتې کې ودان سوی او دنګې مُنارې یې له لیرې ښکاري. دا دښته د فارس په راوروسته تأریخ کې په دې شهرت لري چې نادر شاه، سلطنت ته له رسیدلو مخکې په اشرف افغان باندې بریا ترلاسه کړه؛ شاه اشرف افغان هغه مهال اصفهان په واک کې درلود. ډېره پربکنده جګړه وسوه؛ راپورونه وایي چې د دېرش زرو افغانانو له منځه دولس زره افغانان یا ووژل سول او یا یرغمل ونیول سول. د نادر دغې بریا د نادر ځای او منزلت د شاه طهماس په نظر کې چې د جګړې شاهد

وو ډېر لوړ کړ. شاه طهماس د خپل تأييد د لوړې نښې په توګه د فارس د شهزادګانو تر ټولو لوړ وياړمن نوم چې د فارس په شهزادګانو کې معمول وو نادر ته ورکړ او نادر ته يې اجازه ورکړه چې د سلطنتي مربي په توګه دې د طهماس قلي [1] په نوم ونومول سي.

خوښ به سم که وکولی سم د فارس د امپراتورۍ د ستروالي او پرتم پاتې شونې چې د جلال او عظمت پخوانۍ مخينه لري او د روم غونډونو او قطعاتو ته يې ماتې ورکړې وه تاسو ته در وښييم؛ خو څه سول هغه رومي ګوربتان/ عقابان چې برياوو يې يو وخت د نړۍ په هر ګوټ کې ازانګې خپرې کړې وې؟ څه سول هغه رومي سرتيري چې د زغره والو جامو فارسي سرتيرو يوۀ رومي سردار ته سپکاوی وکړ او يو يرغمل قيصر يې د ننداري لپاره وحشي ملتونو ته ننداری ته وړاندې کړ؟ هغوی د عصر او زمان د ورانکار ځواک تر اغيز لاندې راغلي دي، چې ددوی پر کوچنی نژاد او د انساني ځواک په بې ثباتۍ ملنډې وهي. موږ کولی سو د فارس په سويلي برخې کې د هغوی لرغونې پاتې شونې ومومو او ان هماغلته د بابل او د تخت جمشيد ول په ول پيچلې ورانۍ ومومو چې يوازې په کمرنګه ډول سره د هغه وخت د پادشاهانو لومړنۍ ښکلا او سبک ننداري ته وړاندې کوي.

سره له دې چې په شمالي ولايتونو کې ګڼ شمير زړورو او پياوړو سرتيرو ژوند کاوۀ خو دغو ولايتونو ته په ندرت د فارس د شتمنو پام اړول سوی دئ. هغوی ظاهراً د شمال له متروک حالت او سړې هوا څخه ډاربـدل، له دې کبله يې غوره بلله چې په تودو سيمو کې ژوند وکړي او همدلته يې په پوهنه او هنر کې پرمختګونه رامنځته کړل. که د فارس امپراتورۍ منفرده واکمني درلودای نو ورته عاقلانه خبره دا وه چې خپله پلازمينه يې خراسان ته لېـږدولې وای؛ خراسان داسې ځای دئ چې سالمه هوا لري او خلک يې په پوځي مهارتونو سمبال دي. له بل لوري خراسان داسې موقعيت دئ چې د افغان او تاتار د قومونو د بريدونو د څارنې لپاره مناسب دئ او بل داسې ښار [2] هم لري چې فارسيان ورته درناوی لري او ډېر تعريف او ستاينه يې کوي.

اصفهان او شيراز چې د هېـواد په زړۀ کې موقعيت لري او ډول ډول ويالې او ښکلي ځايونه لري داسې بريښي چې اداري يې خپل استوګن وګړي ضعيف کړي او فساد هڅوي. فارسيان ادعا کوي چې د سويلي ولايتونو پخوانی مشر کريم خان اغلب وختونه هڅول کېـدۀ چې په خراسان بريد وکړي، په خراسان باندی بري کولی سوای پر ټول فارس باندې بشپړ کنترول په لاس ورکړی وای. خو سره له دې چې نوموړی زړور او جاۀ طلب سړی وو مګر تر ډېره د شيراز په خوندونو کې ډوب سوی وو او د لښکر- ليږد د پيل په اړه يې خپله اکراه ددې ټکي په ويلو توجيه کوله چې د يوې کوچنۍ کلا له اوږدې او خطرناکې محاصرې وروسته به ورته ددۀ آس ته له څو

[1] - دغه پېـښـه چې د نادر شاه په هکله د فريزر Fraser په شرحه کې ياده سوې په ۱۷۲۹ز کال کې پېـښه سوې ده. - ليکوال

[2] - مشهد : ليکوال

گونیو وښو پرته بل څه په لاس ور نـهٔ سي. دی باالضرور په دې پوهیده هماغسې چې د خراسان سرتیرو د نادر د لښکر ملا وتړله او هغه ته یې دا توان ورکړ چې تورکان او افغانان له فارس څخه وباسي او د هند امپراتوري ړنگه کړي هغوی به هم ددهٔ د لښکر ملا پیاوړې کړې وای. له وختونو وختونو را په دېخوا د فارس شمالي سیمې د سرسختو نیمه پوځي او مهاجمو سرتیرو استوگنځای وو او اغلب وختونه یې خپل بریدونه له غرونو او دښتو څخه مخ په سویل تر هغو پر مخ وړل چې مداومو مهاجرتونو د هغوی شمیر راټیټ کړ او د باندنیو سیمو په سوبو کې یې د هغوی وړتیا محدوده کړه.

په نولسمې نـېټې له پینځه نیمو فرسنگو مزل وروسته قلعـهٔ اوتاو **Killautau** ته چې د یوهٔ غرهٔ په لمنې کې واقع وه ورسـېـدو. د هغې ورځې د سفر په ترڅ کې مو په یوې نسبتاً نرمې ستوغې لارې مزل وکړ چې کوچنی ځنگلونه او دېخوا ایخوا یې کرنیزې ځمکې وې. له دې چې دا زموږ د لارې په اوږدو کې وروستنی تم ځای وو چې کولی مې سول د مازندران په ختیځې ژۍ کې ځانته ډوډۍ راټوله کړم، نو خپله د اړتیا وړ آذوقه مې همدلته راټوله کړه.

په شلمې نـېټې له پینځه نیمو فرسنگو مزل وروسته قلعـهٔ او سر **Killausir** ته ورسـېـدو؛ دا د کنډواله سویو ودانیو یوه ټولگه ده چې د هیروس **Hirroos** د کوچني کلي د شمال د یو مایلۍ په واټن کې د یوې غونډۍ پر مخ پراتـهٔ دي. زما د آس ښتن له همدې ځایه خپله لاره بیله کړه ترڅو یو ځل له خپل کور څخه لیدنه وکړي؛ دهٔ چې د بارونو د لیږد رالیږد دنده درلوده په زغرده راڅخه وغوښتل چې ورسره یو ځای لاړ سم. له دې چې زموږ د مزل له لارې څخه دغه انحراف لږ لنډ وو نو ما ورسره موافقه وکړه خو کله چې ما غوښتل کښته ددهٔ د کلي پر لور وخوځـېـږم حاجي محـمد مې مخې ته راغی او زه یې منع کړم.

دا خبرې چې اوس کوم یو له هغو معدودو ښیگڼو څخه دي چې حاجي ما له سره کړي دي له دې کبله منصفانه ده چې هغه تصدیق کړم. ښایی تاسو د حاجي د شخصیت په اړه منفي نظر ولرئ. حاجي زه گوښې ته کړم او خپله اندیښنه یې څرگنده کړه او راته یې توصیه وکړه چې ددغه سړي کلي ته ورسره ولاړ نه سم. هغه وویل چې ښایي تا ته به د بوټ جوړوونکي داستان په یاد وي چې د خلکو په منځ کې یې گنگوسه خپره کړه چې له تاسو سره ډیرې پیسې او سره زر دي. او اوس ښایي دوی د غلا او احتمالاً تا ته د تاوان رسولو نقشه په سر کې ولري. حاجي وویل چې که دا ددوی نقشه وي نو دوی به د غلا لپاره له هیڅ امکان څخه ډډه ونه کړي. همدا شان هغه وویل دا یو ډېر لیرې پروت کلی دئ او دلته یوازې ددوی کورنۍ ژوند کوي او پرته له دې چې څوک وربانديې خبر سي خپله نقشه په آسانۍ سره تر سره کولی سي.

دغـهٔ وضعیت مجبور کړم چې له خپلې ډلې جلا نه سم؛ خو له دې چې مخکې مې د آس له څښتن سره موافقه کړې وه چې ورسره به لاړ سم او د هغـهٔ د امتناع دلایل هم مشخص نه ول نو دا مسؤولیت مې حاجي ته وسپارهٔ. حاجي هم په چټکۍ دا مسؤولیت پر غاړه واخیست او په تونده ژبه یې د آس څښتن ته وویل چې له دې چې دی زما تر سیوري او امنیت لاندې دئ نو زه اجازه نـهٔ ورکوم چې راځخه جلا سي. سره له دې چې د آس څښتن ډیرې خبرې وکړې او ټینگار یې وکړ او په لړ فشار سره یې زما آس بل چا ته ورکړ. کله چې په آس سپور سوم نو حاجي راته مبارکي راکړه او ویې ویل چې که تللی وای نو یا به وژل سوی وای او یا به دې مال لوټ سوی وای، دلته اکثریت غلاوې له قتل سره ملگرې دي.

بیگاه شپه مې د یوهٔ حمام په کنډوالو کې تیره کړه؛ داسې ښکاري چې دا حمام دې په داسې یوهٔ ځای پورې اړه ولري چې د شا و خوا له کنډوالو څخه دې مهم ځای وي. د سفر په وروستۍ برخې کې د گیلان سید له معمول سره سم زموږ د ماښام ډوډۍ ته رانغی او پر ځای یې هیروس ته لاړ او هلته ورته تود ښه راغلاست وویل سول. ما له سید سره عادت نیولی وو چې هم خبرې او مزل ورسره هوسا کیده او هم مې ساعت ورسره تیر وو ان زموږ کوچني بحثونه له ټوکو ټکالو ډک ول او په دې سره مې اوس په رښتیا د هغـهٔ نشتوالی او غیابت حس کړ. ما دی د خپل ډاډمن دوست په توگه پېـژنداهٔ؛ طبیعي خبره ده چې هغه څه یا هغه شی چې موږ ته هوساینه او آرامي راکوي او زموږ اندیښنې لږ کوي موږ په همغه پورې نښلو؛ د لارې له ښه ملگري پرته بل هیڅ ښه شی نه سته.

د سفر په اوږدو کې له صمیمت ډکې اړیکې او د نیکو کړو وړو تبادله په چټکۍ وده کوي. مسافران پوهیږي چې ډیر ژر له یو بله جلا کـېږي له دې کبله له خپلو تعاملاتو څخه اعظمي گټه پورته کوي. له دې چې د ځان غوښتنې د انگیزو د ودې لپاره لږه موده موجوده ده نو دغسې لنډ مهالي تواقفات اغلب له صداقت او خوښ چلندۍ څخه ډک وي. په هند کې یو ضرب المثل دئ چې دیدن د خوښۍ او له یو بل سره د اوسیدلو انځور وړاندې کوي او وایي چې « له دغه دیدن څخه د یوې تحفې په توگه گټه واخله ځکه چې د تگ وخت لنډ دئ.» اوس داسې سیمې ته د ننوتلو په حال کې یم چې له ظاهري اړخه او هم د سرچینو له اړخه له خراسان سره توپیر لري، دلته به ددې ځای او د قلعه اسر **Killausir** ترمنځ د توپیر یوه کرښه وباسم چې د هزار جریب **Hazar Jireeb** ختیځه کرښه جوړوي او د مازندران تر ولکې لاندې یوه کوچنۍ سیمه ښیي.

له شاهروت **Shahroot** / شاهرود څخه لاره تقریباً د لویدیځ لور ته تللې او عمدتاً د مخ خلاصو ځمکو له منځه تیره سوې ده. ټیټې غونډۍ په اوږدو واټنونو کې یو ناڅاپه راڅرگندې سي. خاوره یې د خاورې او شگې له گډولې څخه جوړه سوې ده او تر قلعه ناتو

Killantau پورې دَرې vallies نرۍ کیږي او د کښت او د کرکیلې لپاره لږه ځمکه پربږدي او ښه کرهڼه په کې کېږي. د غونډیو لمنې عمدتاً د پسونو څړځایونه دي چې لوړ کیفیت لري.

په یو ویشتمې نېټې له څلور فرسنګه مزل وروسته د چلو Challoo کوچني کلي ته ورسیدو چې د یوې ستوغې غونډۍ په ختیځې ژۍ کې او یوۀ بهانده خوړ ته نیږدې یې موقعیت درلود، د خوړ په بستر کې خورې ورې ډېرې پرتې وې او اوبو ته یې ځانګړې ښکلا ورکوله. اوس نو موږ یوې غرنۍ سیمې ته ننوتي وو چې پریمانه ځنګلونه یې درلودل، د ځنګلونو ونې د نښتر ونې وې خو د ونو کوچني والي دې ته نغوته کوله چې دا ونې لا نورې ښې خاورې ته اړتیا لري. په چالو کې سید د خپل سید توب او زائـرتوب په پار ګټه ترلاسه کړه، زه چې د سید ملګری وم نو برکت یې ما ته هم راغی او زما طالع او بخت راسره ملګری وو او دۀ هم زما په طالعو باور درلود؛ موږ ته خلکو په جومات کې ځای راکړ او د سیمې خلکو له سید سره ډېر ښه چلند وکړ، لومړی یې موږ ته پریمانه سون توکي راکړل او دې کار موږ ته دا توان راکړ چې د واورو او واورین توفان پر وړاندې مقاومت وکړو؛ له دغو سون توکو پرته د جومات دا لویه کوټه او پراخ ځای د پاتې کیدلو وړ نه وو.

د یوه پراخ او مخ خلاصي کلي په لیدلو خوشحاله سوم؛ دغـۀ کلي راته ساده کلیوالي راښکون/ جذابیت، آرمتیا او د زړۀ ډاډیینه راکړه؛ که د کلي د خلکو مهرباني پر موږ زښته ډېره اغیزه نه وه کړې نو دغې خوشحالۍ نور نه سوای کولی د دیوالونو تر شا بنده پاتې سي او یا دوام ومومي خو ما ته داسې ښکاري چې دا خلک د خراسان د وګړو په پرتلې ډېر زړه سواندې او د هغوی په پرتلې د لوړ فرهنګ خاوندان دي. ددې ځای کورونه مسطح چتونه لري چې اوږده دستک یې ایښي او چت ساتي. دا لرګي د شاو خوا په ځنګلونو کې پریمانه دي. موږ د توفان له کبله په ۲۲ نـېټې په چلو Challoo کې ایسار پاتې سوو؛ د سیمه ییزو خلکو مېلمه پالنې په بې وقفې ډول دوام درلود او زموږ د هوساینې لپاره یې هر څه چمتو کول.

د درویشتمې نـېټې په سهار زموږ ډله له داسې سیمې واوښتله چې غونډۍ ګانې یې هر لور ته خورې ورې وې، ویالې په کې بهیدلې او دنګو ګڼو ونو سیمه پوښلې وه. له دې چې د ونو پاڼې رژېدلې وې ما و نه سو کولی چې د ونو بیلابیل ډولونو تشخیص کړم او بار وړونکو هم نه سوای کولی تشخیص یې کړي دوی یوازې دومره بلد ول چې څنګه خپل بار څاروي وڅاري او خپلو آسونو ته لارښوونه وکړي. موږ له چلو Challoo څخه پینځه فرسنګه لیرې او له لارې څخه نیږدې سل یارده لیرې تر څو ونو لاندې دمه وکړه.

کرې. شپه مو لوی اور بل ساتلی وو، دا بل ساتل مو د وحشي ژویو د ویرولو لپاره نه چې شمیر یې په دغو ځنګلونو کې لږ دئ بلکه د سړې هوا د شدت له کبله مو اور بل ساتلی وو.

په څلور ویشتمې نېټې مې په ځنګل کې پینځه فرسنګه سفر وکړ. ماسپښین مهال په داسې حال کې چې یوازې په آس سپور وم زموږ ډله چې له ما څخه مخکې په لنډه لار تللې وه په چټکۍ سره ځنګل ته راننوتله او د خپل کمپ سیمې ته یې ځان ورساوۀ. ما بې ګټې هڅه وکړه چې د انسان یا د آس کومه نښه پیدا کړم، خو له دې چې ځمکه په پاڼو پټه سوې وه څرک راته پیدا نه سو. څه موده وروسته نور له خپلې ډلې لیرې سوم، آس مې ناآرامه سوی وو اوښکاریدۀ چې ډار سوی دئ. شیبه په شیبه به یې شیشنهاری ایست؛ سره له دې چې آس مې فعال وو خو هرې خوا ته له تللو څخه یې ډډه کوله. ما ته هم اندېښنه او واهمه پیدا سوه؛ هوا مخ په تیاره کیدو وه او پام مې سو چې په پراخ ځنګل کې ورک سوی یم او په دې لوی ځنګل او تیارې شپې کې د مرستې لپاره کومه هیله هم راته نـۀ ده پاتې.

د استراحت او د آس د تړلو لپاره د یوۀ ځای د موندلو په لټه کې وم چې له نیکه مرغه له دوه وو تنو سره مخامخ سوم؛ دوی په دوه وو غوایانو او یوۀ خرۀ باندې بارونه بار کړي ول. داسې ښکاري چې د هغوی پام زما بې احتیاطۍ ته اوښتی وو او کولی یې سول چې له همدې حالت څخه ناوړه ګټه واخلي، دوی کومه پوښتنه راڅخه ونه کړه. وروسته مې پام سو چې زموږ د قافلې یوه برخه په هماغه لاره تللې چې دغه دوه تنه ورباندې روان دي. زه هم په دوی پسې وخوځېـدم او له دوه وو مایلو مزل وروسته له حاجي محـمد او څو تنو نورو مسافرانو سره مخامخ سوم چې په یوې کوچنۍ دښتې کې یې د یوې ویالې تر غاړې اړولي ول. د آس څښتن چې په ما پسې ګرځېـد حیران وو او له هغې شیبې چې زه ورڅخه لیرې سوی وم ناراحته وو. د آس څښتن ددې کار نسبت د حاجي په لار ښوونې پورې وتاړۀ چې ملنډې یې ورباندې ووهلې او د هغه ډول محافظت په بنې پورې یې خندل چې ما غوره کړی وو.

په همدې شپې ډېریو مسافرینو یو ستوری ولید چې روښانه لکۍ یې درلوده. زه په دې باور یم د ستوري بڼې او چټک خوځښت ته په کتنې دا باید یو لکۍ لرونکی ستوری یا comet وي. حاجي محـمد د خپلو مرستو په وړاندیزونو کې د تل په شان سخي وو؛ هغه ما ته ډاډ راکړ چې په مازندران کې به د جامو په ګډون (ما مناسبې جامې نـۀ درلودې)، د اوسیدنې ټول امکانات، د اوسیدلو ځای او زما تر مقصد پورې د امن سفر ترتیبات راته چمتو کړي. سره له دې چې دی په خپلې ډلې کې تر ټولو پوه او خبر سړی وو خو داسې ښکاریده چې دۀ لا تر اوسه هم فکر نه کاوۀ چې زه یو مسیحي یم. خو زما په داستان یې شک درلود په بله وینا زما په داستان یې اصلاً باور نـۀ کاوۀ. حاجي فکر کاوۀ چې زه د ګاڼو او جواهراتو سوداګر یم او قیمتي شان پټ ساتم.

ډېر لیواله وم پوه سم چې د کسپین په سمندرګي کې روسان په څه ډول کښتۍ چلوي او په جدیت د خپلو معلوماتو د ډېرولو په لټه کې وم. په شاهروډ کې همدا خبره وسوه چې په ماباندې خلک د روس ګومان کوي او د تاتارانو له یرغمل څخه تښتېدلی یم او خپل کور ته روان یم. خو دا ګومانونه نور پای ته ورسیدل او ورته څرګنده سوه چې زه د فارس د ختیځ له لوري راغلی یم.

په څلور ویشتمې نېټې موږ په ځنګل کې پینځه فرسنګه مزل وکړ. ددې ورځې د سفر ډېری برخه د ستوغو غونډیو له منځه تیره سوې وه چې د رس لنده او مرطوبه خاوره یې درلوده او زموږ غوایانو ته یې د تګ لاره ګرانوله. معمولاً بار وړونکي ددې لارې په اوږدو کې د بارونو د لیږد لپاره ځکه له اسپې یا مادیان څخه کار اخلي چې د مذکرو آسونو په پرتلې د کنترول وړ دي او لږې ځارنې ته اړتیا لري. دوی کورني او آرام ځاروي دي او که د شپې له پلوه وځري بیا هم ددمې کیدلو له ځایه لیرې نـۀ ځي.

له یوۀ لنډ سفر وروسته ځنګل ته په راګرځیدلو سره زما خپل ملګری ګیلان سید خپل د اوسېدو له ځایه وتلی او له بل سړي سره چې مخکې د حاجي محـمد د مرستیال په توګه یاد سوی وو یو ځای سوی دئ. دا سړی هم د ګیلان وو او سید ورسره پیژندګلوي درلوده، له دې چې په تن غښتلی وو نو د سید له خوځېدو مخکې یې موافقه کړې وه چې د زیارت د لارې په اوږدو کې به ورسره مرسته کوي. دغسې یوۀ ضیعف او سپین ږیري سړي ته دداسې یوۀ پیاوړي هملاري ملګرتوب مهم وو ځکه د سفر لاره سخته او درنده وه او ډېر توان او قدرت یې غوښت. ګیلاني د خپلې ژمنې د صداقت د ښودلو لپاره رسماً په قرآن سوګند کړی وو. د سید ددې توافق په اړه ډېر دلایل ول؛ سید له حقیقت سره همګامه وو؛ زه شخصاً د هغه یو شمیر بد چلندیو شاهد وم چې دۀ له خپلو هیوادوالو سره کړي ول. خو اوس چې خپل منزل ته نیږدې سوي دئ نو د غچ اندیښنه ورسره وه خو هغه په ربښتیا خپله پښېماني ښودله او زما د لنډ مهالي غیبت پر مهال سید ورته بشپړه بخښنه کړې وه او د راتلونکو همکاریو ژمنه یې ورسره کړې وه. کله چې ما ته یې ډوډۍ راکړه سړی زښت ډېر شرمیدلی وو خو هیڅ یې ونه ویل. ما چې د ماښام سپک خوراک درلود واوریدل چې د ګیلان له ځایه د لفظي شخړې د خبرو لړۍ راتلله او دې خبرې زما اندیښنه ډېره کړله. پوه سوم چې د نوي ائـتلاف تر منځ لفظي شخړه راپورته سوې ده. زوړ زائـر ډېر ژر او په چټکۍ زما خواته راستون سو او په ډېرو عذر او زاریو یې د خپل ساده توب اشتباهات ومنل چې بیرته خپل ځای ته راسي.

په پینځه ویشتمې نـېټې مو خپل پینځه فرسنګي مزل پای ته ورساوۀ او په لویدیځ کې د ځنګل ژۍ ته ورسیدو. موږ د ورځې په اوږدو کې د مازندران له سیند څخه تیر سوو. دا سیند مخکې له دې چې د مازندران له مسطح برخې او له شمال لویدیځې سیمې څخه تیر سي په ځوځو ځایونو کې تاو راتاو کیږي او په پای کې په مسجد سیر **Muschid Sir** کې د کسپین سمندرګي ته لویږي. دغه سیند د

غونډیو او غرونو په منځ کې په چټکۍ ځغلي خو بیا هم دغه چټک بهیر د بار وړونکو آسونو لپاره د تیریدلو وړ دئ. کله چې دښتې ته راورسېـدو سیند نرم بهیر درلود. سوداګرو ځنګل ته نیږدې په یوهٔ حق العبور کې لږ پیسې ورکړې او له دې چې زه هم پردی/ بیګانه وم له ما یې هم څو پیني Pences واخیستلې.

هرڅومره مې چې په دې پراخ او پلن ځنګل کې سفر وکړ بیا مې هم د انساني استوګنې او فرهنګ کومه نښه په کې ونـهٔ لیدله، یوازې د غونډیو په لمنو کې ایخوا دیخوا د وچو ځمکو نرۍ پراډې په سترګو کیدلې، موږ همداسې پر مخ تللو چې د پراخ لمنو درو مخه زموږ پر مخ خلاصه سوه او د کلیوالي هوساینې او پریمانۍ ښکلی منظر یې زموږ مخې ته کښېـښود. ټول کلي مخ خلاصي او په ښکلې بڼې جوړ سوي ول؛ غونډې ګانې او درې تکې شنې وې او د خوږو اوبو نهرونه ترې راتاو ول؛ دغو ټولو صحنو داسې یو ښکلی انځور جوړاوهٔ چې د انسان ذهن ته یې ستره خوشحالي ډالۍ کوله. سره له دې چې ژمی وو خو هوا معتدله وه او د انګلستان د اپریل د میاشتې د تودوخې په شان وه. د اقلیم ددغه یو ناڅاپي بدلون دلیل چې په څو لنډو مودو کې موږ ولید د دې ولایت په کم ارتفاعي کې، د کسپین سمندرګي ته د هغه نـېـږدې والی او د شاو خوا غرونو په محافظتي دیوال کې دئ. په شاو خوا کې د پسونو رمې څرېـدلې خو دا رمې د خراسان د رمو په پرتلې کوچنۍ دي او هغه لوی او درانده لمونه نـهٔ لري چې نژاد یې د اندس د سیند او د مازندران د ختیځ تر منځ سیمو کې موندل کیږي. د هغوی غوښه د خراسان د پسونو د غوښې په پرتله خوږه یا غوړه نه ده.

په شپږویشتمې نـېـټې له درې فرسنګو مزل وروسته سري Sari ته ورسیدو؛ سري یو استحکامي ښار دئ؛ سري د مازندران د حاکم آقا محـمد خان استوګنځی دئ نوموړی د استراباد او د خراسان د یو شمیر سیمو حاکم هم دئ. زموږ لاره همواره او ځنګلي وه او ډیرې کوچنې ویالې د لارې په اوږدو کې وې او هم مو ټیټ غرونه مخې ته راغلل چې له شمال ختیځ مخ پر سویل لویدیځ غځیدلي ول. زموږ قافلې د سري Sari د سویل په تقریباً دوه مایلۍ کې دمه وکړه؛ زه او (سید) ښار ته لاړو او مو ولیدل چې د وروستۍ اورلګیدنې له کبله یې شدید تاوان لیدلی دئ. یو حبشي مریی [1] چې د دروازې ساتندوی وو موږ د دروازې په خوله کې ودرولو. وروسته له دې

---

[1] - مسلمانان د افریقا ددې سیمې خلکو ته حبشي وایي او په آسیا کې په دې دلیل د دروناي وړ دي چې په هغه کار کې چې تر سره کویي یې ظاهراً ډیر وفادار دي. حبشیان اغلب د شهزادګانو په منځ کې لیدل کـېـږي او هلته د اعتماد وړ منصبونه لري. په دربار کې ورته د خواجه د نوم په ورکولو د امپراتورۍ د حرمسرای ټولې داخلي چارې ددوی په اداره کې دي. سره له دې چې ددې قبیلې ښځې د مسلمانانو په نظر چندان ظاهري ښکلا نه لري، یعنې هغه ښکلا چې هر نارینه ورڅخه خوند اخلي، خو دا ښځې ځانګړې کورنۍ ځانګړتیاوې لري په ځانګړې توګه دوی ډېرې پاک لمنې ښځې دي او دې خبرې ددوی ارزښت لوړ کړی دئ. لیکوال

چې خپلې معمولې پوښتنې یې وکړې موږ ته یې د ننوتلو اجازه راکړه. د سري Sari بازار په خوراکي توکو ډک وو چې له هغې ډلې څخه د خوړو اوبو خړ کب وو دا هغه کب دئ چې د سویلي کسپین سمندرګي ته په غورځېدونکي سیند کې ډېر موندل کېږي.

سري Sari یو نسبتاً کوچنی ښار دئ خو اکثریت استوګن وګړي یې هغه اعتباري سوداګر دي چې د رئیس او افسرانو لپاره یې باندنۍ امتعې تدارک کوي. ښار ته نېږدې د ارمنیانو یوه ټولنه سته چې د بیلابیلو شیانو په سوداګرۍ بوخت دي او هم له انګورو څخه جوړ د الکهولي څښاک سوداګري کوي. آقا محمد اغلب وختونه دغه الکهولي څښاک څښي خو داسې نۀ ښکاري چې چا ته دې تاوان ورسوي. آقا محمد په دې شهرت لري چې په خپل کار کې ډېره هڅه کوي او د مشرتابۀ لپاره لوړ ظرفیت لري او دا ددۀ په حکومتولۍ کې ټولو ته څرګنده ده. د ښار له دیوالونو څخه په ښه ډول څارنه کیږي که څه هم د ښار تر دیوال لاندې خندق نری دئ خو په کافي اندازې ژور دي او کولی سي په اوسمهال کې په سیمې کې د هر ډول ګواښ پر وړاندې دفاع وکړي.

په دې وروستیو کې په سري Sari کې یوه ماڼۍ ودانه سوې چې پراخ جوړښت لري او د هرې بلې ودانۍ په پرتلې چې ما په فارس کې لیدلي، دا ماڼۍ منظمه بڼه لري.د ماڼۍ مخې ته د قدم وهلو لپاره کوچنی ځای ځانګړی سوی دئ او همدلته درې توپونه ځای پر ځای سوي دي او د درې عرابو بګۍ سره په مهارت ټینګ سوي دي. آقا محمد د فارس د قاجار [1] له قبیلې څخه دئ چې تقریباً پینځوس کاله عمر لري او د ممتاز خان [2] زوی دئ، دی هماغه ممتاز خان دئ چې د نادر شاه له مرګ وروسته یې فارس په اله ګوله کې راګیر کړ او د تاج او تخت د نیولو لپاره د خپلو سیالانو په منځ کې مخکښ وو؛ هغه د یوۀ لنډ وخت لپاره د خلکو د یوې لویې ډلې له پلوه د امپراتورۍ د مشر په توګه اعلان سو. خو په پای کې مجبور سو چې د کریم خان پیاوړو ځواکونو ته تسلیم سي او له تسلیم کیدلو وروسته یې وواژۀ. د ممتاز خان کورنۍ هم د سوبمن کریم خان لاس ته ولویدله او د هغه مشر زوی آقا محمد یې د نارینتوب له قدرت څخه محروم کړ. زه نۀ سم کولی تاسو ته د هغو پیښو په اړوند د قناعت وړ معلومات درکړم چې څنګه دغه آقا محمد وده وکړه او په چټکۍ سره یې یوه پراخه سیمه تر خپلې ولکې لاندې راوستله.

---

[1]- قاجار د مازندران په ولایتي لهجه کې د یاغي او فراري په معنی ده او مشخصاً د یوې قبیلې نوم دئ چې عمدتاً په مازندران او استراباد کې ژوند کوي. قاجاریان د هندوستان د راجپوت په شان معمولاً د وسلو په جوړولو کې بوخت دي او ددې ولایت د سرتیرو غټه شمیره جوړوي. ښاغلی هانوی په استراباد کې د خپلو معاملاتو د شرحې په لړ کې د هغوی نوم یادوي. – لیکوال

[2] - د فتح علیخان په نوم یې هم شهرت درلود- لیکوال

په داسې يوۀ ملت کې چې د برخليک بدلونونه او هوسونه په کې په ناپايه ډول څرګند دي او د ژوند څرخ دومره په چټکۍ تاوېږي چې سترګې مبهوتوي، داسې ځای چې د سهار مهال مريي ماسپښين مهال د خپل ارباب د ورانيو پر سر سوبمن ولاړ وي نو د هغو لارو څارل او د تيرو پيښو د پلونو د خاپونو موندل چې پايله يې په وياړ او قدرت اوړي آسانه کار نـۀ دئ او سړی له لالهانده سره مخامخ کوي او عقلاً دغسې پوښتنو ته ځواب نه سي ترلاسه کولی. دغسې بدلونونه کولی سو په ټولنې کې حاکم فساد پورې وتړو چې قوانينو ته تابعيت نه لري او ان د عدالت له آدابو او رسومونو څخه ليرې دئ او هرې انګيزې ته اجازت ورکوي چې د جاه طلبۍ، حرص او د غچ د ارضا شوم زيری په کې وي.

د کريم خان له مړينې وروسته آقا محـمد د فارس تر ټولو ځواکمن مشر سو. هغه ډېر ورونه لري، يو يې جعفر قلي نوميږي د مازندران په اصلي ښار بالفروش Balfrosh باندې حکومت کوي؛ خو کړۀ وړۀ يې شديداً تر نظارت لاندې دي او اختيارات يې دومره محـدود دي چې د آقا محـمد له رضايت پرته اجازه نـۀ لري چې يوې روسي سوداګرۍ کمپنۍ ته د تيريدلو اجازت ليک صادر کړي. ددې مشر ځواکونه د خدمت پر مهال ممکن تر پينځلس زرو سپرو پورې ورسـېږي؛ د تير کال په اوړدو کې کله چې ګيلان يې ونيو د ګيلان د حاکم حيدر خان د استوګنې ولسوالي (رشد Reshd) يې چور او لوټ کړه. حيدر خان له خپلې کورنۍ او خزانې سره تر هغو پورې يوې روسۍ فابريکې اينزيلي Enzillee [1] پناه يوړه چې مازندراني ځواکونه له دې ځايه ووتل.

داسې ښکاري چې اوسمهال آقا محـمد يو بل بريد ته د چمتو والي په حال کې دئ او ګومان کـېږي چې دا کار به ډېر ژر پلی سي مګر دا چې د روسانو ځواک دی له دې کار څخه منصرف کړي. روسانو له کلونو را په دېخوا د ګيلان له سوداګرۍ څخه لويې لويې ګټې تر لاسه کړي دي نو داسې برېښي چې د همدغو هيلو او ارمانونو ملاتړ کوي. اوسمهال آقا محـمد يوازينی فارسي سردار دئ چې د کسپين له سمندرګي سره ګډ سرحد لري او د روسيې امپراتوري دی تر اوسه پورې خپل ځان ته مطيع او باج ورکوونکی ګرځولی دئ.

يوه کوچنۍ روسي سمندري رساله تقريباً يو کال مخکې د استراباد په ساحل کې واقع، د اشرف Ashroff لوی خليج ته راورسـېدله. ددې ډلې بولندوی ساحل ته نيږدې د خپلې خدماتي ډلې د استوګنې لپاره او احتمالاً د خپلو راتلونکو پلانونو لپاره د يوې لويې ودانۍ د جوړولو دستور ورکړ. کله چې د ودانۍ - جوړلو چارې خپل پای ته نيږدې سوې آقا محـمد چې د روسانو له دې کار

[1] - د کسپين د سمندرګي سرحد ته نـېږدې د (رشد) د شمال په شپږ مايلۍ کې موقعيت لري. - ليکوال

څخه په اندیښنې کې لویدلې وو روسي بولندوی ته چې یو بې تجربې ځوان وو، د روسي بولندوی له افسرانو سره یې یو ځای د فارس د مسلمانانو په یوه جشن کې د ګډون بلنه ورکړه. ډیري روسان چې له خپلو افسرانو سره یې د فارس په دې جشن کې ګډون کړی وو په غیر منتظره ډول سره ونیول سول او زندان ته واچول سول. وروسته آقا محمد څرګنده کړه چې دداسې لویې ودانۍ په جوړولو کې د روسانو له دې اقدام څخه ډېر ناراحته دئ. روسانو کوښښ وکړ چې ددې خیانت او د مېـلمه پالنې ددې کړنې څرګند نقض توضیح کړي خو آقا محمد روسانو ته وویل چې که خپلو افرادو ته ددې ودانۍ د تخریب په اړه دستور ورنـهٔ کړئ نو دا کسان به زندان کې پاتې سي او ممکن له ډېر بد برخلیک سره به مخامخ سي.

روسي بولندوی ددې ګواښ د عواقبو له ویرې خپلې رسالې ته اړین دساتیر ورکړل او د کار له بشپړېدو وروسته زندانیان خوشې سول. له څو مودې وروسته د کسپین د سمندري رسالې دغه افسر له کاره وشړل سو او له دربار څخه تبعید سو. روسی ملکې ددغه افسر له سرغړونې او د هغه په پوځي چلند باندې سخته ګوت نیونه وکړه او څرګنده یې کړه چې دا افسر یې په دوه وو دلیلونو شدیداً مجازات نه کړ یو دا چې دی ځوان وو او بل دا چې کورنۍ یې په اړوند تشویش درلود. آقا محمد په دې وروستیو کې د روسیې له دولت څخه یو پیام تر لاسه کړی چې د راپورونو له مخې نورموړی ځکه په شدید غچ ګواښل سوی چې د روسانو بیرغ ته یې سپکاوی کړی دئ مګر دا چې خپله دا کړنه ډېر ژر جبران کړي. داسې ښکاري چې آقا محمد د روسانو دغسې غوښتنې ته کوم درناوی نـهٔ دئ کړی. که د عوامو خلکو ګنګوسې دقیقې وي ښایي په ډېر نیږدې وخت کې به په ګیلان باندې برید وسي، داسې احتمال چې ددې ولایت له استوګنو وګړو سره د هر ډول تعامل په ممنوعیت پیاوړی کېږي.

په ۲۷ نېـټې له «سري Sari » څخه وخوځېـدو او د پینځو فرسنګو په اوږدو د یوې دښتې او ځنګل له منځه تیر سوو او د اصلي لارې ترڅنګ د یوې ځنګل په ژۍ کې مو دمه وکړه. زموږ د سفر په نیمایي لاره کې مخې ته مو یو نهر راغی چې تیریدل ورڅخه آسانه ول، دغه نهر کیڼ لور یا شمال لویدیځ لور ته بهېـدهٔ او په پای کې د مازندران له سیند سره یو ځای کېـدهٔ. بار وړونکي په حق العبور کې ودرېـدل؛ هغوی ته لارښوونه وسوه چې د ډبرو او کاڼو یو شمیر بارونه له ځان سره یوسي او دا کاڼي دې د اصلي لارې په اوږدو کې د «سري Sari» او بلفروش تر منځ لارې کې په هغو ځایونو کې واچوي چې ختې او لوخړې لري. ویل کېـږي چې دغه لار لومړی شاه عباس جوړه کړې وه؛ داسې ښکاري چې نوموړي دا لاره د یوهٔ ځنګل له منځه تیره کړې وه.

زموږ د پرون شپې د دمې نیولو د سویل په درې مایلۍ کې د الا آباد Alhabad په نوم یو کوچنی کلی دئ او موږ له همدې کلي تیر سوو، دا کلی ورځنی بازار لري چې وچه ډوډۍ، خیدک او د مسافرانو د سترِیا د لیرې کولو لپاره اړین خوراک - څښاک توکي په ښه توګه پلوري او ظاهراً د مسافرانو لپاره جوړ سوی دئ.

د جنورۍ د میاشتې په ۲۹ نېټې زموږ ډله درې نیم فرسنګه لیرې بلفروش Balfrosh ته ورسېدله. دغه ورځ زموږ لاره د سفر د لارې تر ټولو بده لاره وه او تر دې دمه مو چې دومره اوږد مزل کړی هیڅکله په دومره خرابې لارې نه وو راغلي؛ له بل لوري ژمی وو چې ډیره هڅه مو باید کړې وای. سره له دې چې د لارې په اوږدو کې هر چیرې غوچ غوچوړي ول بل لور ته د اضافي لنده بل د ساتلو لپاره خاورین جرونه یا ترناونه جوړل سوي ول او همدې کار موږ له چلنجونو او خطرونو سره مخامخ کولو. بار وړونکي په ځانګړو ځایونو کې مجبور ول چې خپلې راوړل سوې ډبرې د لارې په اوږدو کې کښینول سویو دولتي کسانو ته وسپاري او زما په ګډون که چا له دې کار څخه سرغړونه کوله دولتي کسانو درول او نه یې پرېښودل چې لاړ سي. که د یوهٔ زائـر او دوست په توګه د ګیلان سید مرسته له ما سره نـهٔ وای نو ښایي تر ډېرې مودې پورې به یې کښینولی وای.

ډېر ژر څرګنده سوه چې موږ ته څومره پاملرنه سوې ده، هغوی د درنښت په پار زموږ لاسونه ښکل کړل، زما د آس څښتن چې کومه مذهبي پلمه نه درلوده او د ډېرو اندازه یې هم لږ وه ونه سو کولی چې تیر سي. هغه او څو تنو نورو هڅه وکړه چې لاړ سي او ډېرې راوړي، ما او سید دواړو پرېکړه وکړه چې د شدیدې سړې هوا له څور څخه به بلفروش ته لاړ سو چې هلته هوا معتدله او نرۍ باران لري.

زموږ په زړونو کې تاویدل چې د پلازمینې خوندورې ډوډۍ به وخورو، په همدې چرتونو کې وو چې د آس څښتن له موږ مخکې سو، دا زما دوهم ځل وو چې ورڅخه جلا سوی وم، هغه ډېر خښمېدلی وو او په دې یې تورن کړم چې ددهٔ اسپه مې تښتولې ده، ددهٔ قهر تر هغو دوام درلود تر څو چې ما ورته وویل چې په مجردې چې بلفروش ته ورسیږم نو تا ته به یو غاب پلو درکړم.

د ښار د سویل په دوه مایلۍ کې د سیند په منځ کې یو ټاپو په سترګو کېږي چې شاه عباس په کې مانۍ جوړه کړې ده. ددې مانۍ بام له یوه پله سره نښلول سوی دئ؛ دا مانۍ په دې وروستیو کې د بلفروش د بولندوی له پلوه د سیمه ییزو موخو لپاره کارول کیږي. کله چې له توافق وروسته ما د آس د څښتن لګښت دوه چنده سره له جریمې ورکړ نور مې د آس څښتن خوشې کړ؛ دی لکه نورو ټولو کسانو غوندې خطا کار او یاغی سړی وخوت. عدم صداقت ددهٔ اصلي مسلک دئ. که څوک وغواړي چې په آرامه سفر وکړي او نوم

يې په درنښت ياد سي نو بايد په سخاوت او لوی لاس د آس له څښتن سره چلند وکړي؛ له دې چې انساني طبيعت اغلب وختونه گذشت او مدارا ته اړتيا لري نو ښه به دا وي چې د هغه له يو شمير چلوټو څخه سترگې پټې کړم. د ملتونو په حکوماتو کې يو پخوانی اصل دا دئ چې له حده وتلي کنترول څخه بايد ډډه وسي او دا کار د وگړو د هوساينې او د کورني اقتصاد امن او آرامۍ د مديريت لپاره اړين دئ.

په بلفروش کې پوه سوم چې درې روسي کښتيو د مسچيد سر **Muschid Sir** د لارې په اوږدو کې لنگر اچولی دئ او ډېر ژر به د باکو [1] پر لور وخوځېږي. زه بايد په احتياط پر مخ تللی وای، دا ماجرا چې ما پيل کړې وه تر دې دمه په ښه ډول پر مخ تللې وه او زه د ماجرا د پای په ټکي کې وم چې کيدای سوای مثبتې پايلي او يا خطرناک عواقب يې لرلي وای. تر دې دمه مې په بريالیتوب سره اسلامي هويت منلی وو او په اسلامي هويت گرځيدم او زما په نظر تر دې دمه ددې سفر لپاره په ځانگړې توگه له ترشيش **Turshish** څخه د کسپين تر سمندرگي پورې ډېر ضرور وو. زه په بشپړ ډول په اسلامي ټولنې کې منل سوی وم او له فداکارو او ډيرو دقيقو اسلامي کسانو سره مې ډوډۍ په گډه خوړلې وه. ددوی يو شمير د سفر تر دې دمه راسره حضور لري، که دوی زما په اصلي هويت خبر سي نو له دې غدر او چلوټې څخه به ډير سخت خوابدي سي.

په لومړي سر کې ما ته د سيد د ذهن آرامول ول چې په هماغه کوټې کې راسره وو او پوهـېـدم چې زما په ټگ به خبر سي. هغه ته مې وويل چې په پام کې لرم مسچيد سر **Mushchid Sir** ته نيږدې يوه زيارت [2] ته لاړ سم چې ډيري فارسيان ورځي. يو څو گټور شيان مې ورته پرېښودل او خدای په اماني مې ورسره وکړه او په زړه کې مې دا هيله وکړه چې دا سپين ږيری دې د الهي له ټولو نعماتو څخه برخمن وگرځي.

وروستيو پېـښو ته په کتنې چې په دومره چټکو بدلونونو رامنځته سوې وې ما د خپل سفر په لړ کې په زړه پورې اړيکې ټينگې کړلې او په همدې فکرونو کې مې خپل سفر ته د مسچيد سر پر لور دوام ورکړ؛ دا د مازندران د سيند په ختيځې غاړې کې له بلفروش څخه تقريباً لس مايله او د کسپين له سمندرگي څخه دوه مايله ليرې يو گډوډ او خوروور کوچنی کلی دئ. کله چې د روسانو محلت ته ورسـېـدم هلته مې خپل کرايه کړی آس وسپاره او يوه سړي ته ورنـېږدې سوم چې خلکو راته د يوې روسي کښتۍ د کپيتان په توگه ښودلی وو. په خواشينۍ چې دی په هيڅ يو له هغو ژبو نـهٔ پوهـېـدهٔ چې زه پوهـېـدم. ددې وضعيت لپاره يو ژباړونکی راوغوښتل سو

[1] - د کسپين د سمندرگي په لويديځې غاړې کې يو بندر دئ. - ليکوال

[2] - دا د فارسيانو د دولسو امامانو له منځه د يوهٔ امام موسی کاظم د دفن کيدلو ځای دئ - ليکوال

او کله چې یوه سوم چې ژباړونکی روس دئ نو ما د خپل داستان ټولې برخې ورته په صداقت تشریح کړلې. په دې شرحې چې زه یو انګلیس جنټلمن یم چې له بنګال څخه د هند د شمال او فارس له لارو مې سفر کړی او اوس تکل لرم چې د روسیې له لارې انګلستان ته لاړ سم.

ژباړونکي له دې اړیکې څخه چې ظاهراً ورباندې شکمن وو خپل تعجب څرګند کړ؛ ما چې د حقیقت پر بنسټ په خپل نفس اعتماد درلود ورته ویل سوي معلومات تکرار کړل او ورته مې وویل چې زه کولی سم هر ښه عمل که اړین سي د اعتبار د ترلاسه کولو لپاره تر سره کړم، زما دې خبرې لږ تر لږه د روسانو په نظر کې اعتبار رامنځته کړ. کپیتان موافقه وکړه چې ما به باکو ته بوځي ځکه دا کښتۍ هماغه خوا ته روانه ده؛ کپیتان وویل چې هلته په باکو کې یوه بادبان داره لویه کښتۍ ولاړه ده او په بندر کې به د نورو پړاونو لپاره ما ته لازمې لارښوونې وسي. وروسته له دې چې هر څه سم اوچمتو سول ما ته وویل سول چې د کب له غوښې جوړه ښوروا چې په یوه لرګین لوښي کې اچول سوې وه وخورم. ما او کپیتان او پینځه یا شپږو تنو ماڼوګانو / کښتۍ والانو یوه په زړه پورې ډوډۍ وخوړله. دا ماته په دې دلیل یوه خوندوره ډوډۍ وه چې ډیر وختونه مې داسې ډوډۍ نه وه خوړلې او بله یې لا دا چې په څه ډول دا ډوډۍ راسره شریکه سوه.

په مسچید سر کې د روسانو کورونه په ضعیف ډول جوړ سوي دي او ډېر پاک نـهٔ دي. دیوالونه یې د یو نیم متر په شاو خوا کې لوړوالی لري او د ونو د څانګو تر منځ چې د دستکونو په وسیلې له یو بل څخه لږ واټن لري د ځمکې پر مخ څنګ پر څنګ جوړ سوي دي.؛ بام یې له کاه ګل څخه جوړ سوی دئ. په کوټې کې دننه اېښودل سوې څوکۍ یې ساده او شډل جوړښت لري؛ د کوټې د غولي پر مخ تختې اېښودل سوي او په منځ کې یې یو لوړ تخت د ډوډۍ خوړلو لپاره اېښودل سوی دئ او شا و خوا یې څو دانې چهارپایه یا سطلونه د کښېناستلو لپاره سرچپه اېښودل سوي دي. ما هر ډول سختې شپې ورځې تجربه کړې وې، خرابه سوې وربشینه ډوډۍ مې خوړلې وه، د واورو پرمخ بیده سوی وم دغو ټولو زه په یوهٔ متجرب سرتیري بدل کړی وم. له دې کبله ما ته د روسانو دا جونګړه چې د ساده وسایلو یوه ټولګه یې درلودله ما ته د یوهٔ مجلل هوټل په ډول ښکاریدله. لرګینې کاچوغې او لرګین بشقابونه راته د لوړې سطحې تجملات ښکارېـدل.

دلته زما د اوسـېـدو په لومړیو ورځو کې ځان هم له ذهني او هم له جسمي اړخه تاند او تازه احساس کړ. ما عادت درلود چې له لمر خاتـهٔ مخکې له خوبه راپاڅم خو لاسونه او پښې مې معمولاً د سړو د شدت له کبله بې حسه کـېـدلې. د خپلو وسایلو له ټولولو

وروسته مجبور وم چې  له بار وړونکي سره مرسته وکړم. ورځ مو په دې پای ته رسېدله چې د هوساینې له ابتدایي امکاناتو او فکري رضایت پرته بل مو څه نـۀ درلودل. خو ښه خبره دا وه چې دا ټولې ستونزې پای ته رسېدلې وې او د ښې او سالمې ډوډۍ شتون وو چې په خپلو ټاکلو وختونو راته رسېدله او خوب مې نظم ونیوۀ. نوره هغه اندېښنه نه وه چې سخت کارونه وکړم او یا چا ته د مداوم تظاهر په لټه کې اوسم، زه له دغو قیوداتو نور آزاد وم او ځان مې نیکمرغه احساس کاوۀ. له دې چې نیکمرغي اغلب وختونه د خیال له وزرونو سرچینه اخلي نو اوس مې ځان ته اجازه ورکوله چې ځان په آزاد ډول ومومم، ښایي دا زما د ژوندون تر ټولو خوندوره برخه وه.

د کسپین سمندرگي زموږ مخې ته یوه پرتمینه منظره ایښودله، د اوبو سترې څپې د سمندر پر غاړو یرغل ووړ او ډېر خوندور غږ یې پورته کاوۀ او زما په ذهن کې یې هغه خطرونه راژوندوي کول چې ما ورباندې غلبه او لاسبری موندلی وو. انسان ته غرور ښـۀ نـۀ دئ، ما له ځان سره فکر کاوۀ چې زما د سفر په لړ کې څومره پیښې رامنځته سوې او څرنگه زما هڅو په پیښو کې کوچنۍ ونډه درلوده، کله به د غرور احساس راته پیدا سو خو د سمندر مغرورو څپو ته په کتلو ما هڅه کوله چې دغه غرور سرکوب کړم. خلک گڼ شمیر باورونه او نظریات لري، ما هم تصور کاوۀ چې یو روس به دنگه ونه او پیاوړی هډو ور جسم ولري، په ظاهر به خښمناک وي او وحشیانه چارچلند به ولري. که رښتیا ووایم پخوا مې په ذهن کې گرځېدل او منلي مې ول چې یو لوی ییږ / خرس او یو بومي روس له یو بل سره مرتبط وگڼم، له خپل ذهن څخه د همدغه تصور لیرې کول راته هماغومره گران ول لکه چې یو فرانسوی ډنگر او هالندی پنډ وگڼم.  خو له دغو ټولو سره سره زه باید د روسیې له ټولو وگړو څخه د خپلې دغې ذهني تیروتنې په پار بخښنه وغواړم.

په هماغو لومړیو کې زما پام دې ټکي ته واوښت چې روسان په ونه کې د شمالي اروپا د استوگنو وگړو د ونو په پرتلې ټیټ دي او معمولاً په خپلو پلنو مخونو له تاتارانو سره ورته والی لري. هغه کسان چې ددولت لپاره کار نـۀ کوي ډېره پرېږدي؛ د خپلو جامو پر سر بالاپوش اغوندي او تر خپلې ملا پورې کمر بند تړي. کمیسونه یې د مسلمانانو کمیسونو ته ورته دي چې د لنډو پرتوگونو له پاسه یې اغوندي او اغلب وختونه موزې/ چکمې اغوندي. ویښتان یې په آزاد ډول تر غاړو ځړېږي او کله چې دباندې وي نو خپل سر په خولۍ یا شال پټوي چې د خبرو اترو پر مهال یا کور کې دننه یې په ادب له خپل سر څخه لیرې کوي. هغوی په خپلو کړو وړو کې ان په ورځینو چارو کې له ځانه وقار او راښکون/ جذابیت څرگندوي او دا د متمدنو ملتونو په منځ کې د هغو کسانو لیاقت لري چې لوړ ټولنیز دریځ ولري.

په لومړیو کې کله به چې یو روس زما کوټې ته رانٺوت نو هک پک به سوم؛ مخکې له دې چې پام یې په کوټه کې ناستو خلکو ته واوړي ژر به یې خپله خولۍ له سره لیرې کړه او د مقدسې مریم او د ماشوم عیسی عکس ته به یې دعاګانې پیل کړې چې په هرې کوټې کې ځړول سوی وو. له دعا وروسته به یې ټولو ته سلام واچاوۀ او د وتلو په وخت کې به یې همدا دعا بیا تکرار کړله. زه نه سم کولی د روسانو واقعي باورونه د خپل ملي دین په اړوند په قاطع ډول وښیم او یا ددوی پر اخلاقو باندې ددغو باورونو اغیره څرګنده کړم. خو په ډاډ سره دا خبره کولی سم چې ددغو مذهبي وظایفو ظاهري ترسره کول چې په ژور درناوي ترسره کېږي له هغو دودونو او عجیبو غریبو تشریفات څخه پاک دي چې د رومن کاتولیک په عباداتو کې ځینې برخې یې په ملنډو اوښتي دي.

د روسانو په ټولنې کې زما ډېر وخت لا تیر سوی نه وو چې حاجي محمد مسچید سر ته ورسېد. د هغه په لیدلو راته یو غیر ارادي احساس پیدا سو. که زما باورونو راته اجازه راکولای چې دا تصور وکړم نو هرو مرو حاجي محمد مې د یوۀ شیطاني نابغه په توګه پیژاندۀ. کور ته له راستنیدلو وروسته دده د کړو وړو پایلو ته مې سترګې په تلوسې رغړیدلې، هغه کړۀ وړۀ چې زما د پیش بینۍ پر بنسټ زما روغتیا ته مضر ول. له څو مودې وروسته د کښتۍ بولندوی کښتۍ ته راغی او ویې ویل چې حاجي محمد زما په اړوند خپلې پلټنې کړې دي او زما په هکله یې په درناوي خبرې کړي دي خو ما خپل تأسف څرګند کړ. دغه شریر سړی زما په تأسف هک پک سو او ویل یې چې ښایي دغو خبرو تاسو خوښ کړي واست، زه پوهیدم چې حاجي محمد په مازندران کې یو مشهور سړی وو او په باالقوه ډول یې کولی سول له ما سره د پاسپورت په اخیستلو کې مرسته وکړي، ددغه پاسپورت له لرلو پرته هیڅ چا نه سوای کولی چې له ولایت څخه دباندې ووځي.

له هر لوري راباندې د واورو توفان پیل سو، هغۀ سړي چې په لومړیو کې یې زما د ژباړونکي په توګه کار کړی وو ادعا کړې وه روسي وو حال دا چې هغه روسی نه بلکه ارمنی وو. ددوی په منځ کې خیانت کوم غیر معمول کار نه دئ، دۀ ته چې کوم معلومات ورکړل سوي ول هغه یې د مسچید سر د فارسیانو په منځ کې خپاره کړل او خپل جعلیات یې ورباندې اضافه کړل. هغه ادعا کړې وه چې زه ډېره پانګه لرم، ډېرې پیسې او جواهرات لرم او جاسوس یم. د مسلمانانو په منځ کې دغه خپره سوې ګنګوسه په ځانګړې توګه د حاجي محمد له پلوه ددې لامل سوه چې خلک او حاجي محمد زما له دې بدمرغۍ څخه ناوره ګټه پورته کړي او راته نقشې جوړې کړي؛ د کښتۍ بولندوی چې د خلکو شدید احساسات ولیدل په دې اندیښنه کې سو چې ولې ما ته یې پناه راکړې ده. د یادولو وړ ده چې روسي سوداګر چې عمدتاً بد ډوله جامې اغوندي د آقا محمد د حکومت په اوږدو کې تر شدید ظلم لاندې راغلي دي.

ګټوره سوداګري ددې لامل سوې چې هغوی د اقا محـمد دغه ډول چارچلند وزغمي. او آقا محـمد چې ددوی د زغم له دلايلو ښه خبر دئ په خپل چلند کې هيڅ ډول نجابت له ځانه نه ښکاره کړي.

روسانو د تشويش په څرګندو ښو خبر راکړ چې که ما پرته له پاسپورته ومني او کښتۍ ته مې وخـېږوي نو ټولې محمولې او کښتۍ به يې توقيف سي. عباس علي يو لوی سودا ګر وو، د هغه سوداګري د ونو هغه پوستکي ول چې د رنګريزۍ او د څرمن د رنګونو د جوړولو لپاره کارول کـېږي، مسجيد سر ته زما د رسېـدلو په هماغو لومړی کې يې پر ما پيرزوينه او پاملرنه کوله او هڅه يې کوله چې زما ستونزې راته حل کاندي، نوموړی له ټولو هغو سختيو او ستونزو چې زه ورسره مخامخ وم خبر وو او خپله خواشيني يې راته څرګنده کړه هغه وويل چې د کښتۍ بولندوی چې يو مشکوک شخصيت لري په خپلې بدنيتۍ دا موضوع لا پيچلې کړې ده. او د خبرو په دوام يې وويل : «تشويش مه کوه، زه به درسره اوسم او تر هيڅ شرايطو لاندې خپل مالونه روسانو ته ونـهٔ سپارې. » دغه مشاور راته خدای په مناسب وخت کې په لاس راکړ او څرګنده يې کړه چې عباس علي له دغه سړي سره اشنا دئ؛ نوموړي په بله ورځ له ما سره مفصلې خبرې وکړې او څرګنده يې کړه چې فارسيان ستاسو له پانګې، پيسو او ګاڼو او جواهراتو څخه خبر سوي دي. هغه ادعا وکړه چې دغه کسان زه پېژنم او طبيعتاً زما ټوله شتمني له ګواښ سره مخامخ ده او ويې ويل چې ستاسو د هوسايني او امنيت په فکر کې يم او وړانديز يې وکړ چې د کښتۍ د خوځېـدو تر مودې پورې دې خپله ټوله شتمني دهٔ ته وسپارم، د عباس علي دغه توصيه او مخکينی وړانديز ټول ددې لامل سول چې خپله شتمني په خپله وساتم.

د روسانو په تشويش کې دوه لامل‌ونه ول يا دا چې پر هغه باندې د څرګندې بې اعتمادۍ د تريخوالي له کبله او يا د بد نيتۍ له کبله؛ په پای کې هغه زما پر وړاندې بې ادبانه چلند پيل او بې تفاوتي يې وښودله. په مسجيد سر کې د هغو کسانو د ارزونې د مخنيوۍ لپاره چې زما په هکله يې منفي فرضيات کړي ول ما غوښتنه وکړه چې زه به تر هغو پورې په کښتۍ کې پاتې سم چې له دې هيواد څخه د وتلو اجازت ترلاسه سي او هماغلته به په کښتۍ کې اوسم. د کښتۍ کپيتان په ډېرې اکراه سره زما وړانديز ته همغږي وښودله چې کښتۍ ته وخـېږم او په احتياط پرته له کوم خنډ ورڅخه ووتم. د روسانو له محلت څخه د سيند تر غاړې پورې لاره تقريباً يو نيم مايل ده؛ همدلته سيند په خپل قدرت سره يو اوږد او کم عمقه ديوال جوړ کړی اويوازې په کوچنيو قايقونو او کښتيو د تګ راتګ وړ دئ. خو که له شمال څخه شديد باد وچليږي نو تيريدل ورڅخه ناشوني دي.

بادبان لرونکې کښتۍ د سمندر له غاړې یو لیګ (یو لیګ ۲,۲ کیلومتره کېږي. - ژ) او د اوبو په شپږ او اوو فاتوم ( Fathoms : یو فاتوم شپږ فیټه کېږي - ژ) ژوروالي کې ولاړه وه او تقریباً سل ټنه یې دروندوالی یا وزن وو. دې کښتۍ د بادبان دوه ستنې یا خادې درلودلې چې د کښتۍ په مرکز کې دریدلې وې چې یوه ستنه یې د یو ټوکر او بله یې اصلي د بادبان ستنه وه چې ښې ټینګې سوې وې. اصلي بادبان پورته یوه تیغه درلوده. ... (دلته د څو جملو د ژباړې اړتیا نه ویم ځکه د کښتۍ بڼه او خصوصیات کې شرحه کړې دي. - ژ) هغه کښتۍ چې په خپل شډل او بد جوړښت د کسپین په سمندرګې سفر کوي ددې څرګندونه کوي چې د ستر پیتر له وخته نیولې تر اوسه څه ناڅه پرمختګ سوی دئ، ستر پیتر لومړی سړ ی وو چې روسیې ته یې د کښتۍ جوړولو صنعت راوړ. دا کښتۍ صاف اړخونه او د خپلې عرشې پر مخ یو لوی او دروند پخلنځی لري؛ دا کښتۍ په آرامۍ او یوازې د باد په وسیلې چټک خوځښت کوي. له دې چې دا کښتۍ اغلب وختونه په آزادو اوبو کې پاتې کیږي ځکه د کسپین سمندرګی لږ بندرونه لري، نو دا کښتۍ پیاوړي لنګرونه او پیاوړي کیبلونه لري او داسې ښکاري چې له خپل لازم حد څخه لوېې کښتۍ دي. داسې درانده وسایل د شدیدو بادونو پر وړاندې د مقاومت او د لوړو څپو پر وړاندې د مقاومت لپاره اړینې دي.

زه اوس یوه سوم هغه روس چې مخکې ما د کښتۍ د بولندوی په نوم یاد کړ په حقیقت کې د کښتۍ بولندوی نه بلکه د کښتۍ پر سوداګریزو چارو باندې د څارنې لپاره او هم د کښتۍ چلولو لګښتونو ته د ځواب ویلو لپاره د استازي په توګه وو. د کښتۍ عمله او فعله او یو د کښتۍ بولندوی وو چې په ماڼو (boatman) یې شهرت درلود، د بولندوی مرستیال، شپږ ماڼو ګان او یو آشپز وو.؛ دوی خپل خوراک له خپلو محدودو سوداګریزو حقوقو څخه چمتو کاوۀ. دوی په خپلو منځو کې زه په دې دلیل د ګریګوري په نوم یادولم چې زما څیره جورج ته ورته وه او په ډېرې ښې تودې مینې یې راته میلمه پالنه څرګنده کړه او تود ښه راغلاست یې راته وویل. تاسو نباید دا فکر وکړئ چې په ما کې دې داسې فکر پیدا سوی وي چې ددوی د ژوند ژواک ښې ته په کتلو ځان ورڅخه لوړ وګنم. زه پرته له کوم شک ددوی میز ته ورغلم او په حقیقت کې زه په زړه کې له هغوی څخه منندوی وم. دوی به هغه مهال ډېر خوشحاله او قانع سول کله چې ما ته یې تر ټولو ښه څوکې، بهترینه کاچوغه اوسپینه ډوډۍ راکوله حال دا چې دوی په خپله توره ډوډۍ خوړله.

ما له یوۀ ارمني څخه لږ بوره او چای پیرودلی وو چې په دې سره ما وکولی سول خپل سبناری په یوازې سر په کابین کې وکړم؛ دا کابین د کښتۍ له یوې عملې سره په ګډه وو. هغه زما ټولو لومړنیو اړتیاوو ته پاملرنه کوله، سره له چې موږ د ژبې ستونزې درلودلې بیا هم یو بل ته د لارې ډېر ښه ملګري سوو. کله چې موږ په کښتۍ کې په ګډه ډوډۍ خوړله نو زموږ ډوډۍ به د یوۀ لوی کب غوښه وه

چې په روسیې کې د بلوکا **Blucka** په نوم یادیږي او یا به یې له هغه څخه ښوروا جوړه کړه او یا به یې په پریمانه مالګې او مرچو سره توتې کړ او بیا به یې د رُب په پوښ کې وخوتول. ما اغلب وختونه فکر کاوهٔ چې یوهٔ انګیس بیړی چلوونکي دا د شارک د غوښې د کوفتې په نوم یاداوهٔ او توصیف یې کاوهٔ. دا خوراک د کوفتې د منتو په اندازې ښه وو او تش نس ښه مړَوي. وریسې به مو په پریمانو کوچو کې پخې سوې پراټې وخوړلې. ما د سپین کب لږ غوښه له ځان سره راوړې وه چې د بلوکا تر غوښې سالمه غوښه ده، خو نورو کسانو په دې خاطر ورڅخه ډډه کوله چې پر ما فشار رانهٔ سي نو ځکه مې دا غوښه له نورو خاصو اقلامو سره ګوښې کښېښودله او هماغه څه مې خوړل چې هغوی خوړل.

اوس راته روښانه سوه چې په مسچید سر کې د ګمرک مدیر راته ستر خنډونه جوړول، هغه خپل موقعیت په هوښیارۍ او طمعې کنترول کاوهٔ. زما سخت وضعیت ته په کتلو سره چې هغه ځان ته یو غنیمت فرصت ګاڼه، امر وکړ چې ما دې فوراً د سمندر غاړې ته واستوي او د رئیس تر پریکړې پورې دې ما هلته ایسار وساتي. دا سړی یوازې په پیسو پسې وو خو له دې هیواد څخه زما په رسمي وتلو نور ناهیلی سو. له دې کبله ما د باکو د یوهٔ سوداګر عباس علي له لارې ورته یو وړاندیز ولیږه چې د پرداخت موده چې زما د خوځیدو تر مودې پورې وه باید شاته وغورځول سي او موخه مې دا وه چې د بلې هر ډول مطالبې مخه ورباندې ونیسم.

زموږ د خوځېدلو له چمتو والي دوه ورځې مخکې علي عباس کښتۍ ته راننوت او ویې ویل چې د ګمرک مأمور هیڅ غوښتنې ته غاړه نهٔ ږدي. هغه ټینګار وکړ چې اوسمهال آقا محمد دې ته لېوال نهٔ دئ چې چا ته له دې ولایت څخه د وتلو اجازه ورکړي او که ورباندې پوه سي چې ما ته یې د تېښتې لاره برابره کړې ده نو له سختو عواقبو سره به مخامخ سي. زه پوهیدم چې د ټولو کورنیو مسافرینو لپاره ممنوعیت پلی سوی او د روسانو لیږل تر شلو نورو ورځو لپاره شا ته غورځول سوي دي ترڅو د دولتي کارونو پاتې برخې تر سره کړی. زما پام دې ټکي ته واوښت چې هغه په قوم فارسي چې ما یې د خساراتو د جبران تکل درلود ډېر ریسک او یا خطر پر ځان منلی دئ. همدا شان زما پام سو چې که دی له ما سره له خبرو کولو ډډه وکړي نو زه به خپله (سري) ته لاړ سم او خپله ستونزه به د هغهٔ ځای مشر ته ووایم. هغه ډېر ښه پوهېدهٔ چې ددهٔ د ارباب پریکړه به ددهٔ په ګټه وي. همدا استدلال اغیزمن وو او کله چې له هندوستان څخه زما د سرو زرو د اندازې تأیید وسو نو وروروسته راته اجازه راکړل سوه چې د (سري) له مسیر پرته له بلې هرې لارې چې لاړ سم راته اجازه سته.

مخکې له دې چې د فارس له دې برخې ووځم غواړم د فارس د جغرافيې او له روسيې سره د فارس د تير مهال او اوسمهال د سوداګرۍ په اړه لنډ توضيحات ورکړم. مازندران په حقيقت کې د کسپين د سمندرګي د سويلي څنډې په مرکز کې واقع دئ، له ختيځ لوري له استراباد، له لويديځ له ګيلان او د شمال له لوري له غرنۍ ځنګلي سيمې سره نښتی دئ چې مخکې مو ورته نغوته وکړه. د (سري) کلا سره له دې چې د خپل استحکامي دليل او مرکزي موقعيت پر بنسټ د مازندران د والي په استوګنځي بدل سوی خو بالفروش د مازندران د مرکز په توګه په پام کې نيول سوی دئ.

دا ښار د يوۀ نامنظم مستطيل په بڼه جوړ سوی چې محيط يې تقريباً يو نيم مايل دئ. دا ښار د ټيټې ځمکې او نمجنې خاورې پر مخ واقع دئ او همدا لامل دئ چې ددې ښار لارې او کوڅې د ټول کال په اوږدو کې له ختو او چکړو ډکې وې. کورونه يې ساده او له خامو خښتو جوړ سوی دي او مسطح چتونه لري او د کورونو کوچنۍ اندازه ده چې هغوی ته يې ساده بڼه ورکړې ده. دلته څلور کاروانسرايونه دي او هغه نظم او هوساينه نه لري چې د فارس د شمال کاروان سرايونه يې لري او زښت ډېر کوچني دي. بازارونه يې چې د معمولو آسيايي ښارونو بڼه لري څرګندوي چې دلته سوداګري مخ په ودې ده او له ګڼه ګوڼې ډک دي.

د مازندران وريجي عالي کيفيت لري او د سيمې د خلکو اصلي خوراکي توکی دئ. له دې چې دلته پلنډۍ/ باتلاقونه ډېر دي نو د سيمې خلک د خپلو ورځينو مصارفو لپاره د غنمو د کرکيلې په برخه کې له ستونزو سره مخامخ دي او هغه غنم چې دلته توليديږي ټيټ کيفيت لري. ددې ځای شتمن او بډای خلک خپله وچه ډوډۍ د شيروان له اوړو څخه پخوي چې غټه برخه يې د مسچيد سير له سيمې څخه دلته واردوي. دغه کمښت تر يوې کچې د بورې په توليد سره جبران کيږي، سره له دې چې ددې ځای بوره چندان عالي کيفيت نه لري خو بيا هم تر يوې کچې د ورځنيو مصارفو لپاره کافي ده. په فارس کې بورې ته د عامې تقاضا په کتنې او دا چې د سندهـ په دې لور کې په ندرت توليد کيږي هيله کيږي له دې چې مازندران به د بورې له توليد څخه چې د روسيې سويل ته نيږدې واقع دئ ډېره ګټه وکړي ځکه چې په مازندران کې ډېره توليد کيږي. خو ستونزه دا ده چې دلته د بورې د جوړولو او تصفيې پوهه څوک نه لري ترڅو له دې ارزښتناکې سرچينې څخه ډېره ګټه تر لاسه کړي.

خبر سوم چې د استراخان يو استوګن دې سيمې ته د قند د يوې فابريکې د جوړولو لپاره راغلی وو خو دده د هڅو له ناکامېدلو وروسته بل هيڅ چا داسې هڅه نـۀ ده کړې. که روسانو په دې برخه کې مهارت درلود نو کولی يې سوای چې د خامو شکرو په وارد کولو سره يوه ګټوره سوداګري ورڅخه جوړه کړي. همدا شان مازندران يوه لږه اندازه وړۍ هم توليدوي چې توليد کوونکي يې يهودان

دي. ددې سيمې اصلي سوداګري د باکو د بندر په منظمو مبادلاتو پورې تړلې ده چې سپين او رنګه چيت ټوکر، مالوچ، او وريجې دي چې دوی يې وارد کوي او روسي اوسپينيې ميلې، زعفران، اوړه او ماهوت ټوکر استراخان ته صادروي. اوسمهال په دې سيمې کې سوداګر له څلورو يا پينځو کښتيو څخه ګټه اخلي او د آقا محمد او د روسانو تر منځ د اړيکو د ښه کيدلو په صورت کې او په ځانګړې توګه که د بورې توليد ډير سي نو کيدای سي دا سوداګري ډيره وده وکړې.

فارسيانو له مودو راهيسې هڅه کړې چې د کسپين په سمندرګي کې بيړۍ وچلوي خو چندان بريا يې نه ده تر لاسه کړې؛ ددوی بيړۍ مخ خلاصې، په بد ډول جوړې سوې او بد مديريته بيړۍ دي او په ندرت د سمندر له غاړو ليرې کيږي خو که هوا لږ ښه وي بيا د سمندر له غاړو ليرې ځي. ددغو بيړيو ډېرۍ برخه په فرآباد Farabad کې جوړيږي؛ فر آباد د مسجيد سر د ختيځ په ديرش مايلۍ کې د سيند د غاړې يو ساده ښارګوټی دئ او اوسمهال د وريجو، مالګې، کبانو او کلالي لوښو سوداګري لري. اروپايي جغرافيه پوهانو دې ته د مازندران په نوم نغوته کړې او ويلي يې دي چې د اهميت وړ ښار دئ او خپل نوم يې يوه ولايت ته ورکړی دئ. د فرآباد پخوانی اهميت د فارس په تأريخ کې په درناوي ياد سوی دئ خو نن د هغـۀ ښار ډير لږ شواهد پاتې دي.

د استراباد Astrabad ولايت چې د کسپين د سمندرګي په ختيځې ضلعې کې واقع دئ د باندنۍ سوداګرۍ لپاره لږ محصول لري؛ هوا يې ډېره ښه ده، ښکلې يو په بل پسې غونډۍ او خوړې خوندروې اوبه لري.

د صفوي د سلسلې تر ټولو ځواکمن پادشاه شاه عباس ددې ولايت له ښکلې هوا څخه دومره اغيزمن سو چې د اشرف[1] د خليج څنګ ته يې يوه ماڼۍ ودانه کړله؛ دی به اغلب وختونه د اصفهان [2] له تودوخې په تښتيدو دلته راغی. ددې ځای د سمندري صادراتو په اقلامو کې يوازې خړ وچ سوی کب دئ چې په لوګي/ دود باندې پخيږي او روسان يې دومره خوښوي چې هر کال له استراخان څخه دوه محمولې واردوي.

د کسپين له سمندر سره ژۍ په ژۍ بډای ولايت ګيلان دئ چې د مازندران په لويديځې لمن کې پروت دئ؛ ګيلان له لويديځ لوري د تالش او آسترا Talish and Astra په ځمکو کې رالنډيږي؛ له سويل لوري له لوړو غرونو سره نښتی دئ چې دا غرونه دا ولايت د کشان او کسبين Canashan and Casbin له توابعو څخه جلا کوي.

---

[1] -دا د کسپين د سمندرګي په سويل کې يوازينی لنګر ځای دئ. - ليکوال

[2]- همدغه پادشاه د فارس پلازمينه له قزوين څخه اصفهان ته راوړه. - ليکوال

د ګیلان والي هدایت خان د خپلې استوګنې له پخواني ځای رشد Reshd څخه لاس اخیستی او د مازندران د بریدونو له ویرې یې د خپلې شتمنۍ او کورنۍ د امنیت په پار د انزیل شاوخوا وو ته پناه وړې ده، روسان په انزیل کې یوه ټینګه استحکامي فابریکه لري او هلته ددوی سرتیري سته چې ځو قبضې توپونه هم [1] لري.

په پام کې ده چې هدایت خان دوه لکه پونډه عاید ولري او ددې عاید لویه برخه د ورېښمو له تولید څخه تر لاسه کېږي؛ ویل کیږي چې نوموړي له دې عاید څخه پریمانه پانګه ټوله کړې ده. دلته باید تاسو ته خبر در کړم چې تاسو د فارس پیسې په خپل معیار مه محاسبه کوي ځکه په دې هیواد کې هر تولیدي محصول په ارزانه قیمت تولید کیږي نو ځکه کولی سئ د مسکوکاتو ارزښت یې په دې ډول محاسبه کړئ چې په انګلستان کې دوه چنده ارزښت ولري.

هدایت خان د شپیتو کالو په شاو خوا کې عمر لري؛ د ګیلان د سید د معلوماتو له مخې چې څوځو ځله مو یاد کړ، ویل کیږي چې هدایت خان ظالم، مستبد او ډارن سړی دئ. هغه پوهیږي چې د آقا محـمد خان پر وړاندې ناتوانه دئ نو ځکه یې ځان په بشپړ ډول د پیترزبورګ دربار ته سپارلی دئ او ویلای سو چې ددهٔ ځواک او شخصي امنیت له هماغه ځایه سرچینه اخلي. روسان هم له دې چې له ګیلان څخه ګټې تر لاسه کوي نو د هغه په ملاتړ کې به کوم کمی ونـهٔ کړي.

د ګیلان د ورېښمو سوداګري عمدتاً د ارمني سوداګرو او د روسي رعایا په لاس کې ده، چې د کسپین د سمندرګي د سوداګرۍ ډیرۍ برخه په واک کې لري او ددوی له لارې استراخان ته صادریږي. پخوا وختونو کې به خلکو په دې خبرې باور درلود چې هغه ورېښم چې له تورکیې څخه اروپا ته راوړل کیږي ټول یې د عثماني په امپراتورۍ کې تولید کیږي؛ خو له دې چې اوس مو له فارس څخه ډیر دقیق معلومات تر لاسه کړي دي داسې ښکاري چې تورکي سوداګر تر ډیره د ګیلان او شیروان [2] په ولایتونو پورې نښلي او له همدغو ځایونوڅخه په لویه اندازه ورېښم په لونت Lavent/ شام – ژ / سوریې – ژ کې اروپايي کارخانو ته لیږدوي.

---

[1] - د ګیلان په اړه ډېر دقیق روایت د جونس هانوی Jonas Hanway په یون لیک کې ورکړل سوی دئ او دا نوم تر ډیره په بشریت کې پیژندل سوی دئ او ددې ځای د تأریخي آبداتو پر مخ کیندل سوی دئ. تاسو کولی سئ د ګیلان په اړوند نور ګټور معلومات د طبي ډاکټر ویلیم کوک په لیکنو کې تر لاسه کړئ چې د «روسیې په امپراتورۍ او ایران کې سفرونه» نومېږي. - لیکوال

[2] - د کسپین د سمندرګي په لویدیځه ضلع کې واقع دئ؛ دلته پریمانه ورېښم تولیدیږي خو د ګیلان د ورېښمو په پرتله لواړ دي او د ګیلان ورېښم په ټول فارس کې ښایسته او د لوړ کیفیت ورېښم دي. لیکوال

د فارس د وربښمو سوداګرۍ له دې لارې تر ۱۷۳۹ ز کال پورې دوام وکړ، دا هغه وخت وو چې د انګلستان روسۍ کمپنۍ د پارلمان [1] تأیید تر لاسه کړ. هغوی خپل استازي ګیلان ته واستول ترڅو هلته د شیدو د پیرودلو او د انګلیسي توکو د پلورلو په محوریت یوه سوداګري رامنځته کړي. رضاقلي چې پر هند باندې د خپل پلار د لښکر - لیږد پرمهال پر فارس حکومت کاوۀ هغوی ته په ورین تندي ښه راغلاست وویل. هغوی تر ۱۷۴۸ ز کال پورې په ګیلان کې پاتې سول خو د نادر له مړینې وروسته په فارس کې د راپارېدلې اله ګولې له کبله اړ سول چې له دې ځایه ووځي او پایله دا سوه چې دوی خپل پریمانه مال او سوداګري توکي له لاسه ورکړي.

په ګیلان کې د فابریکې له بندیدلو مخکې د پیترزبورګ دربار په فارس کې د انګلیسانو د حضور په اړه شکمن سوی وو.  په سمندر کې د بېړۍ چلونې او په سوداګرۍ کې د تجربو او پوهې په ډیریدلو سره هغوی دې ته لیواله سول چې دا سوداګري چې حقاً ددوی خپل وو کنترول کړي. د فارس حکومت له روسيې څخه جلا انګلیسي ماجرجوایانو ته ډیره پاملرنه وکړه، دوی د روسانو سیالان ول، همدا شان انګلیسانو کولی سول چې د خپلو پرمختللو مهارتونو له لارې او هم د جنګي کښتۍ جوړولو په مسلک کې ددوی د لیوالتیا له لارې د پادشاهي په پانګې کې ډیروالی راولي او د انګلیس موخه د کسپین په سمندرګي باندې برلاسی وو، همدا لامل وو چې د روسانو حسادت یې راوپاراوۀ.

د مارچ په ۱۴ نېټې زموږ کښتۍ چې تر کرکیو پورې په مالونو ډکه او عرشه یې په مسافرینو ډکه وه وخوځېده خو شدید باد کښتۍ مجبوره کړه چې بیرته لنګر واچوي. ما ته د کښتۍ بارول چې کابینونه یې په بکسونو او کڅوړو ډک ول د حیرانتیا ول ول چې څنګه به دا کښتۍ نه دوبیږي، مسافرین که وینښ ول که بیده اړ ول چې پریوځي تر څو د نورو لپاره ځای پیدا سي. زه پوه سوم چې ټول مسافرین کوچني سوداګر ول چې په خپله یې خپل سوداګري توکي کښتۍ ته راوړي ول، سوداګر په فارسیانو باندې اعتماد او اعتبار نه لري چې خپل اقلام د خپلو استازو له لارې ولیږي.

باندني سوداګر مؤظف ول چې د لوی باروړونکي ونډه ولوبوي. ددوی شمیر له اویا پورته نه وو چې د کښتۍ په عرشې کې یو بل ته جوخت پریوتي ول؛ ډیر ژر پوه سوم چې د کښتۍ کپیتان او عملې دواړو په کښتۍ چلولو کې سمه روزنه نه وه لیدلې، کپیتان په سختۍ سره کولی سول چې د قطب نما ټکي ومومي او یا له لارښود لیک څخه کار واخلي؛ همداسې د کښتۍ عمله درواخله.

---

[1] - په انګلستان کې د لوانت شرکت ددوی پر وړاندې شدید مخالفت وکړ، دوی له هغه تاوان او ضرر څخه خبر ول چې د کسپین د سمندرګي سوداګرۍ ته یې رامنځته کول او پارلمان ته یې وویل روسي سوداګرو ته دداسې اجازې ورکول به ددوی انحصار ته شدیداً  تاوان ورسوي.- لیکوال

کله چې ما دا په بد ډول جوړه سوې کښتۍ او عرشه ولیدله او له بلې خوا مې ولیدل چې ډېره بار سوې او ډېر مسافر لري او بیا مې د کښتۍ بې مهارته عملې ته ولیدل نور مې نه سوای کولی چې د خپل امنیت په اړه بې فکره پاتې سم په ځانګړې توګه د کسپین د سمندرګي په شان توفاني سمندر کې سفر کول.

په اولسمې نېټې وخوځېدو، د ښه باد د چلیدلو له کبله په دوه ویشتمې نېټې مو د باکو د بندر د شمال په لس فرسنګۍ کې لنګر واچاوۀ. تر څلورویشتمې نېټې پورې د بندر خولې ته ورسېدو. باد چې له ختیځ لوري په شدت چلیدۀ یو ناڅاپه لوری بدل کړ او په شدت له وچې څخه راووت. له دې چې موږ ساحل ته نیږدې وو نو د اوبو څپې ټیټې وې او موږ یې له مرګونې فاجعې څخه وژغورلو. روسانو چې په لنګر اچولو او خپلو پیاوړو کیبلونو باور درلود په خوب بیده سول. هغوی کښتۍ دې ته نه وه چمتو کړې چې که لنګر له کښتۍ څخه جلا سي نو کښتۍ دې له لنګر څخه جلا نه سي او هغه کیبل یې هیڅ ونه کړل چې تر ډیر فشار لاندې وو. ځینې هوښیاران به کله ناکله له خوبه پاڅیدل او له خدای څخه به یې د مرستې غوښتنه کوله ترڅو دوی دې د توفان له قهر څخه وساتي. په شپږویشتمې نېټې توفان غلی سو او موږ د باکو بندر ته ورسیدلو. مخې ته مو یوه بادبان لرونکې جنګي بیړۍ ولاړه وه چې توپک په لاس سرتیري او توپونه یې درلودل. زموږ د کښتۍ استازي د کوچنۍ جنګي بیړۍ له بولندوی سره ولیدل او د اروپایي مسافر داستان یې په خپل راپور کې ځای پر ځای کړ. د یادولو وړ ده چې تورکان او فارسیان د یوۀ روس او یوۀ اروپایي تر منځ توپیر کوي، دوی اروپایي د پیرنګي په نوم او روس د روس په نوم یادوي. دغه توپیر ددې څرګندوی دئ چې دوی اروپایانو ته ډېر درناوی لري ځکه ددوی له نظره اروپایان ډېره پوهه او لوړ عقل لري. په زړه پورې لا دا ده چې د نوم دغه توپیر د سویلي روسانو په ټیټې پاړکې یا طبقې کې هم منل سوی دئ.

زه کوچنۍ جنګي بیړۍ ته وبلل سوم، هغوی ته مې د خپل سفر دلایل او د سفر تګ لوری ټول شرحه کړ او په ورین تندي او میلمه پالې روحیې یې راته ښه راغلاست وویل، داسې ښه راغلاست زما له ساده ظاهر او معمولې جامو او یا زما له بې بنسټه روایت سره سمون نه خوړ. ورپسې په اروپا کې د عمومي سولې له خبر څخه خبر سوم؛ د خواشینۍ خبر دا وو چې له یوه خارجي څخه مې خبر ترلاسه کړ چې ټول امریکایي مستعمرات او ګڼ شمیر وګړي یې په بشپړ ډول جلا سوي دي. په پام کې وه چې کوچنۍ جنګي بیړۍ په بله ورځ د انزیله پر لور وخوځېږي، او موخه یې په دې سیمې کې د ګیلان د ولایت ساتنه وه. د ګیلان والي مخکې له دې خپل

استازی په تاتاري کريميه [1] کې د روسانو قرارګاه ته استولی وو چې له آقا محـمد څخه خپله ويره څرګنده او له روسانو څخه د مرستې غوښتنه وکړي. دغه استازی د يوۀ روسي افسر په ملتيا چې په شلو ورځو کې يې له قرارګاه څخه تر باکو پورې لار وهلې وه راستون سو. دوی د تاتارانو د لسګوی **Lesgui Tatars** له قلمرو څخه چې د باندنيو پر وړاندې په دښمنۍ يې شهرت درلود راتير سوي ول. خو د روسي سرتيرو له ويرې چې د لسګوی تاتارانو تر سرحداتو پورې رسيدلي ول دوی ته له دخالت پرته د تيريدلو اجازه ورکړه. دغه افسر په تورکي ژبې مسلط وو، دی په کار پوه او له انرژۍ ډک ښکاريدۀ او له ماجرا ډک خطرناک سفر لپاره مناسب سړی وو.

د ګيلان استازی په داسې حال کې چې په کوچنۍ جنګي بيړۍ کې وو او سترګې يې په ما ولګيدلې او ګومان يې کاوۀ چې زه مسلمان يم او له روسانو سره ډوډۍ خورم هک حيران سو. او کله چې پام يې سو چې نايي / سلمان زما د ږيرې په خريلو پيل وکړ، ما پريکړه کړې وه چې دا کار وکړم، استازی زښت ډېر په قهر سو. هغه به هره شيبه ګوتنيونه کوله خو کله چې زما اصلي هويت ورته وويل سو غلی سو. د ږيرې د خريلو پر مهال يې ما ته په سپکو سپکو سترګو کتل. کله چې نايي زما د بريتونو په لنډولو پيل وکړ ځوځو ځله يې په ټينګار وويل چې دا کار مه کوه، کله چې ټول بريتونه لاړل نو په لوړ غږ يې وويل، دا چې په کوم مليت او يا کوم دين او مذهب يې زه يې پروا نه لرم، ستا ټول عزت پر ځمکه پريوت او اوس د ښځو په شان سوې.

ږيره مې پينځلس مياشتې نه وه خريلې او په دې مودې کې هم اوږده او هم پلنه سوې وه، له پينځلس مياشتو وروسته مې ږيره وخريله. ږيره مې د وروستي ژمي د سختيو له کبله تر ډېره حده خيرنه سوې وه. د آسيايي ږيرې اهميت ته په کتنې هيله مند يم چې دا لنډه يادونه نا مناسبه ونه انګيرل سي. خو ما بايد د ږيرې خريل تر استراکان پورې ځنډولې وای. زما اروپايي څيرې او د آسيايي جامو ترکيب دواړو زه فارسيانو ته په عجيبې سوژې بدل کړی وم. همدا شان د ارمنيانو له انتقادونو سره هم مخامخ سوم ځکه هغوی هم ږيره د درناوي او تقدس يوه نښه ګڼي ځکه چې ږيره د عسويانو له لومړنيو مقدسو پلرونو څخه په الهام راغلې ده. کله چې ارمنيان وغواړي د اروپايانو په شان ږيره وخريي نو د خپلې قبيلې خلک ورباندې ملنډې وهي.

په ۲۷ نېـټې په کوچنۍ جنګي بيړۍ کې سپور سوم، د بيړۍ د خوځيدو پر مهال ما وليدل چې بيړۍ چلوونکي او عمله يې خپلې دندې په مهارت او پريمانه انرژۍ تر سره کوي. هغوی لنګر راپورته کړ او باد بانونه يې په داسې مهارت تنظيم کړل چې هرې انګليسي

---

[1]- وروسته د جنرال پوټمکين د فرمان پر بنسټ د کريميې واکمنۍ او د استراخان د اداري اختيار دۀ ته ورکړل سول.- ليکوال

جنګي بېړۍ ورباندې ویاړ کاوه. د بېړۍ کپیتان ته یو یوناني سوداګر د خدای په امانۍ لپاره راغلی وو، کپیتان وویل چې زه به له همدغه سوداګر سره سفر وکړم، ما ته یې پاسپورت جوړ کړ تر څو د فارسیانو له مداخلت پرته باکو ته زما ننوتل آسانه کړي. بر سیره پر دې د بېړۍ دوهم بریدمن چې زما ژباړونکی وو او دې ته لېوال وو چې که کوم کوچني شي ته زما اړتیا وي راسره مرسته به وکړي یو معرفت لیک د روسیې د سمندري ځواک د افسر ایوان اندریوویچ په نوم راته راکړ. ورپسې همدغه یوناني سوداګر زه خپل استوګنځي ته چې په یوه کاروانسرای کې وو بوتلم؛ دا کاروان سرای د عیسویانو او سُني مسلمانانو لپاره ځانګړی کاروانسرای وو.

ایوان اندریوویچ له روسانو سره د تورکانو د وروستۍ جګړې په لړ کې په مدیترانې کې د یوې خصوصي بېړۍ بولندویې چې ددهٔ د کورنۍ شخصي بېړۍ وه پر غاړه درلوده، ایوان اندریوویچ د همدې جګړې په لړ کې د یو شمیر زړورو ګامونو له اوچتولو وروسته د ملکې له لوري د سمندري ځواک د کپیتانۍ درجې ته ارتقا وکړه او له هغه وروسته یې آستراکان ته کډه وکړه او له دولت څخه یې فارس ته د اوسپنې او فولادو د صادراتو انحصاري امتیاز تر یوې ټاکلې مودې پورې تر لاسه کړ. له دې چې موږ دواړه تر یوې کچې په فرانسوي پوهیدلو او د مدیترانې د سواحلو په غاړو کې خلک په فرانسوي خبرې کوي موږ ډېر ژر د یو بل دوستانو سوو؛ هغه نفوذ چې دهٔ په باکو کې ترلاسه کړی وو ما ته هم دا امکان په لاس راکاوه چې زه هم ددهٔ د کورنۍ د غړي په توګه ښه وخت تیر کړم.

د باکو ښار د شیروان په ولایت کې د یوهٔ خلیج په شمالي ضلعې کې واقع او تقریباً د یوهٔ متساوي الاضلاع مثلث بڼه لري چې یوه ضلعه یې له ساحل سره موازي ده. زه په دې باور یم چې محیط یې تقریباً یو مایل دئ او ډېر وګړي لري او اکثریت اوسیدونکي یې په سوداګرۍ بوخت دي.

دا خلیج لوی دئ او د وچې له پلوه له سویلي بادونو په استثناء د نورو ټولو لورو له ټولو بادونو څخه ساتل کیږي، سویلي بادونه هم په دې دلیل کمزوري کیږي چې مخې ته یې دوه ټاپوګان واقع دي. د سیمه ییزو معلوماتو له مخې ددغو ټاپوګانو له منځه سویلي ټاپو یې یو وخت له اصلي ځمکې سره نښتی وو او هماغلته یو سر ځوړی ځای یې پاتې دئ خو په تیرو څلویښتو کالو کې د سیند د اوبو په راپورته کیدلو سره د کسپین د سمندرګي لویدیځ ساحل پر لور خوځیدلی او ورڅخه جلا سوی دئ.

باکو د ښاغلي هانوې د سفر پر مهال په خپلې ختیځې ضلعې کې دوه دیوالونه درلودل؛ باندنی دیوال یې اوس د اوبو د سطحې د لوړیدا له کبله نړیدلی او تهداب یې په اوبو کې ننوتلی دئ. د شیروان ولایت د پام وړ وړۍ تولیدوي چې له هغې ډلې څخه یوازې څلور سوه ټنه یې استراخان ته صادریږي. ددې تر څنګ د لوړ کیفیت زعفران هم په شیروان کې کرل کیـږي او په یوهٔ ارزښتمند

سوداګريز توکي اوښتی دئ. د ملتان د هندوانو يوه ټولنه له ډيرو پخوا مودو راهيسې په باکو کې ژوند کوي چې د دې ښار په سوداګرۍ کې مهمه ونډه لوبوي. دوی له ارمنيانو سره په ګډه د شيروان اصلي سوداګر ګڼل کېــږي.

ددې سيمې هندوان معمولاً د ټاټا Tatta له سيمې راخوځيږي، ټاټا د سندهـ په سفلی کې يو مهم ټاپو دئ. دوی له ټاټا څخه د بصرې پر لور ځي او اغلباً له هغو کاروانونو سره يو ځای کيږي چې فارس ته سفر کوي. خو دا يوه کوچنۍ ډله ده او د هغو مسلمانانو له بد چلندی او بې احترامۍ څخه شديداً ناراضه دي چې ورسره مخامخ کيږي.

د مارچ په يوويشتمې (آتشگاه Atashghah) ته چې د (اورتون په معنی a place of fire ده) ولاړم او کله چې ما ځان په هغه ځای کې استوګنو هندي صدقه اخيستونکو ته معرفي کړ نو زه يې د يوۀ ورور په توګه ومنلم.  هغوی له دې اصطلاح څخه استفاده وکړه ځکه ددوی پام سو چې زه تر يوې کچې ددوی له اساطيرو سره آشنا يم او ددوی تر ټولو مقدسو عبادت ځايونو ته تللی يم. په دغه مذهبي ځای کې پيروان خپل خدای ته د اور په بڼې درناوی کوي، دغه مذهبي خلوت ځای د ديرشو ياردو په ارتوالي يو څلوڅنډيز يا مربع ډول لري چې شاو خوا يې ټيټ ديوال راتاو سوی دئ. دا ځای څو کوټې لري او هره کوټه ځانته د کوچنې آتشفشان په بڼې ځای لري چې د سلفر اور په کې بليږي دا اور د يوه قيف او يا د بټۍ له منځه چې د هندوانو د محراب په ډول طراحي سوې ده له ځمکې څخه راوځي.

له دې اور څخه د عبادت او پخلي لپاره کار اخيستل کيږي او هم د سخت ژمي د سختيو د ګاللو لپاره له بې وزلو هندوانو سره مرسته کيږي. کله چې د قيف خوله بنده سي نو د اور لمبه هم ورسره ځای پر ځای مړه سي؛ که څوک د قيف پر خوله باندې خپل غوږ کښيږدي نو د سرې هوا د شديد جريان غږ اوريدلی سي او که څنګ ته يې هر ډول اور بلوونکی شی کېــږدئ نو کولی سي اور بل کړئ. لمبه کم رنګه او شفافه ده او لږ لوګی توليدوي او د سلفر يو ډول بخار آزادوي چې ما ته يې سا ايستل دومره ګران کړل چې مجبور سوم پرځمکه کښينم او خپل سر مې له بټې څخه لږ کوز کړ. هندوان ډنګر او رنګ الوتي په نظر راغلل؛ دوی له پرله پسې ټوخيو کړيږي؛ دغو ټوخيو په (آتشگاه) کې د پاتې کيدلو په ټولې مودې کې اغيزمن کړم. ..............

د شيروان دا برخه د خپلې خاورې او ځانګړتياوو له کبله د خراسان ولايت ته ورته والی لري. ځنګل نه لري او سيندونه يې لوی دئ او په ژمي کې هوا هماغومره سړه او شديده ده. له دې چې شيروان د کسپين سمندرګي ته نيږدې دئ نو هوا يې تل په وريځو ډکه وي. د شيروان خاوره غنم او ډيرې ښې وربشې توليدوي چې د عادي وګړو اصلي خوراک توکی دئ. يوازې د لوړې پاړکې خلک کولی سي

وریجې وپیري چې عمدتاً له مازندران او ګیلان څخه واردیږي. د پسۀ غوښه یې پریمانه او خوږه ده چې اوږدې لکۍ لري او پاو په یوې او درې پنې Pences پلورل کیږي. په دې سیمې کې د ښه کیفیت منې، ناک، انګور او Chestnut (یو ډول میوه ده چې په فارسي کې ورته شاه بلوط وایي. مغز لرونکې ده او مغز یې غوړ دئ -ژ) تولیدیږي. ارمنیان د (همدې ولایت په مرکز) د شهمچي Shahmachi په ښار کې داسې شراب تولیدوي چې د خپل خوند او هم د کیفیت له اړخه د بوردو Bourdeaux سرو شرابو ته ورته والی لري. که د انګورو سمه پالنه وسي او په ښه ډول راټول سي نو دا شراب به په اروپا کې ډیر ارزښت ولري. د شیروان ولایت د شمال له لوري له دربنت Derbent، له ختیځ لوري د کسپین له سمندرګي، د سویل له لوري د استرا Astara او له لویدیځ لوري د جورجیا (ګرجستان – ژ) له ځینو برخو او د ګنجه له سیمو سره ګډه پوله لري.

زړو شهمچي چې یوه وخت د ولایت مرکز وو د باکو په تقریباً ۷۰ مایلۍ کې موقعیت لري چې د خپلې سوداګرۍ، پانګې او د وګړو د شمیر له اړخه له اصفهان وروسته د فارس یوه بډای ولایت پیژندل کیږي. ددې ښار وګړي د نادر شاه پر ضد راپاڅیدلي ول، ددوی د پاڅون له کبله دا ښار وران او له استوګنو وګړو تش سو. ددې لپاره چې امپراتوري د نړۍ والې سوداګرۍ لپاره یو مرکز ولري شهزاده اصلي ښار د سویل لویدیځ په لس مایلۍ کې د شهمچي نوی ښار جوړ کړ. د شیروان مشر فتاح علیخان معمولاً په دربنت کې ژوند کوي. دی ددې ولایت شاوخواوو سیمو ته مکرر سفرونه کوي او له دې سفرونو څخه شدیداً ناوړه ګټه اخلي او په دې توګه خپل سولند او حریص طبیعت ارضاء کوي. د جنرال پوتمکین genera Potemkin د لښکر حضور نوموړی وارخطا کړی او دا لښکر ورنیږدې کیږي. له دې کبله نوموړی د روسیې له امپراتورۍ سره د ښو اړیکو د ساتلو په پار هڅه کوي چې د درناوي او وابستګۍ هر ډول نښه له ځانه څرګنده کړي.

د شیروان په هکله د خپلو سترګو د لیدلي حال د اصلي برخې له وړاندې کولو وروسته اړینه بولم چې د یوې شیبې لپاره ستاسو پاملرنه د شیروان د اوسنیو استوګنو وګړو کوچنۍ خو د پام وړ ډلې شخصیت او لیدلوري ته راواړوم. انساني طبیعت خپلې یو شمیر کلیدي ځانګړتیاوې له ملي لیدلوري، ښوونې او روزنې او حکومتولۍ څخه اخلي؛ موږ ددې خبرې د شکل ورکولو په اړخونو کې باید د اقلیم اغیزې هم په پام کې ولرو. دغه ملاحظه ما ته په باکو کې د (آتشګاه / اورتون) له لیدلو تر لاسه سوه، داسې چې یو هندو دومره په مذهبي مینې او اشتیاق کې ډوب دئ چې سره له دې چې حساس او اعصاب یې او د اوږد عمر له کبله ضعیف سوي او نری بدن لري له ګنګ څخه تر ولګا پورې په خطرناکې لارې کې یوازې ددې لپاره مزل کوي د خپل خدای په معبد کې دعا وکړي.

کله چې د ترکیې پر لور د روسیې د امپراتورۍ ځانغوښتونکي پرمختګونه په ځانګړې توګه په دې وروستیو کې د کرایمیا/ کریمې په تصرف سره او د فارس د ارزښتناکو سیمو پر لور د هغې چټک خوځښت وڅېړو نه سو کولی د هغه دولت د ستراتیژۍ له ستاینې څخه ډډه وکړو چې خپل ګامونه یې په ماهرانه ډول مدیریت کړي دي. په قدرت او ثروت کې دغه د پام وړ لاسته راوړنې پرته له دې چې د اروپا پام ورته واوړي په حقیقت کې د اروپا له خبرتیا پرته د پیاوړي کیدلو او تمرکز په حال کې دي. د سیاسي پایلو په هکله له هر ډول څېړنې څخه په صرف نظر چې ښايي د مخ په ودې ملتونو د قدرت په ظهور او یا د هغو د لمر په لویدلو واوړي غواړم یوازې دې ټکي ته نغوته وکړم چې د فارس په شمال لویدیځو سیمو کې د روسیې نفوذ له دوه اړخیزو ګټو سره مل دئ. که دا سیمې په بشپړ ډول د روسیې په حکومت پورې ملحقې سي سیمه ییز وګړي به د پام وړ ګټې تر لاسه کړي؛ د هغوی ځان او مال به تر یوې کچې له داسې امنیت څخه برخمن سي چې مخکې یې شتون نه درلود او د یوۀ متمدن او فعال دولت له پلوه ددغو سیمو اداره کیدل به وکولی سي دا وګړي په ارزښتناکو اتباعو او د ټولنې په اغیزمنو غړو بدل کاندي.

د فارس پادشاهي د افغانانو له برید (چې په ۱۷۲۰ز کال کې تر سره سو) څخه وروسته د جنګ جګړو او ګډوډیو ډګر ګرځېدلی دئ؛ دلته پرته له کوم محدودیته وحشیانه لوټمارۍ تر سره سوي دي. نن سباکولی سو فارس د یوۀ ستر قبر په توګه وګڼو چې د حرص او طمعې او جاه طلبۍ او غچ اخیستنې په قربانیانو ډک دئ. په سختۍ کولی سو ووایو چې آیا په تیرو شپیتو کالو کې د فارس ګڼ شمیر وګړي د جلادانو او قاتلانو په لاسونو وژل سوي دي؟ د فارس وګړي په ځانګړې توګه د نادر شاه د حکومت د پای په کلونو کې چې پانګه او ثروت یې د خپل ولس له وینو تر لاسه کړې وه په بشپړ ډول اسیر دي.

ددغه پادشاه ظالمانه کړۀ وړۀ او اعمال په پراخ ډول تر بحث لاندې نیول سوي دي؛ د هرې پاړکې یا طبقې وګړي او له هغې ډلې څخه زموږ زده کوونکي، د قلي خان له وحشیانو کړو وړو څخه ښه خبر لري. ددغو حقایقو د یوې برخې برجسته کول کیدای سي د نادر د خاطراتو په تلپاتې کیدلو کې ګټور واقع سي چې د خپل ژوندون په یوۀ پړاو کې یې د اتلولۍ د ترلاسه کولو لپاره مشروع ادعا درلوده. ددغه پادشاه د حکومت په پای کې هم ددۀ جسم او هم روح دواړو د هغه د اندیښنې او ناتوانۍ نښې څرګندولې او باور دا دئ چې دا اندیښنې چې په کور دننه له خیانت څخه سرچینه اخیستې د ډېرې ستړیا له کبله له بده پسې بدتره سوې دي.

د توطئو او پاڅونونو کړۍ تر دۀ راتاو وه او کله چې د یوۀ ولایت د پاڅونو په ټکولو کې بریالی سو نو تل له هغه ولایت څخه له وتلو سره سم د افسرانو وژل او تل مدام پاڅونونه ملګري ول. هغه د خپل اقتدار د مداوم ضعف په لیدلو سره او ددې ټکي په

پوهېدلو چې د اقتدار د پیاوړي کولو لپاره محدود مجازات کافي نهٔ دي نو د احتمالي مشروطه غوښتنې وحشیگري یې پیل کړه. دغې وحشیگرۍ ددهٔ د تعقل ځای نیولی وو؛ د همدغو پیښو د لړۍ پایله په جنون واوښتله ان تر دې چې په ډیریو وختونو کې به یې یوه سیمه په بشپړ ډول له جرړې له منځه یوړله. هغه څه چې دی یې ډیر ناکراره او په تشویش کړی وو ددهٔ د کورنۍ خیانت وو؛ دهٔ د هغو کسانو بې وفایي ولیدله چې دهٔ په احمقانه ډول ورڅخه د ملاتړ او پالنې هیله درلوده. دهٔ ته تر ټولو گران زوی چې ددهٔ د احتمالي ځایناستي په توگه انگېرل کېده په داسې حال کې د فارس د نائب السلطنه په توگه منصوب سو چې پلار یې هندوستان ته په سفر وتلی وو. ظاهراً هغه د پلار له غیابت څخه په ناوړه گټه اخیستنې د تاج او تخت د تصاحب لپاره نقشې جوړې کړې وې.

د نادر مخ په ودې ناروغي (شدید قبضیت) چې له عمومي او کورنیو مصیبتونو سره شدیده کیدله ددې لامل سوه چې نادر په یوه بې رحمه او وحشي هیولا تبدیل سي؛ د نادر د قهر او غضب وحشت معمولاً د هغه چا په نصیب کیدهٔ چې منصبونه یې لزوماً د نادر په حضور کې اوسیدل ول. د دربار یو شمیر لوړ پوړي افسران چې د نادر د بې وقفې استبداد او ظلم له لاسه ستړي سوي ول، کټ مټ لکه طاعون چې یو هېواد وچ او بې اوبو کړي د ۱۷۴۷ز کال د اپریل په میاشت کې نادر، چې د خپل د زیږنې له ټاټوبي څخه چندان لیرې نه وو، او د خراسان په شمالي برخه کې یې قرارگاه جوړه کړې وه، ترور کړ.

د نادر د شخصیت د اړخونو له روښانولو وروسته چې کرکه او وحشت راپاروي منصفانه به وي چې ددهٔ د ژوندون ځینو اړخونو ته هم نغوته وکړو؛ دا اړخونه نادر ته هاغه ډول مثبته بڼه ورکوي چې اغلب وختونه د مطلوبو سلاطینو د څیرو په ښودلو کې انځور کیږي. په هند کې د نادر له بریالیتونو وروسته هغه په خپل ټول پارسي قلمرو کې د دریو کالو لپاره هر ډول مالیات معاف کړل. پر دې بر سیره د څلورو میلیونو پونډو په ارزښت د پوځي پورونو له خلاصولو وروسته خپل لښکر ته یې د شپږو میاشتو تنخواه د بخشش په توگه او همدا شان په پوځ کې ملکي کارمندانو ته یې په همدې اندازې بخشش ورکړ.

د کرنات Karnat له جگړې وروسته چې نادر د هند امپراتورۍ ته ماتې ورکړه او پادشاه یې اسیر کړ د مغولو یو له مشرانو څخه نادر ته خبر ورکړ چې د ډهلي د آسونو په منځ کې سل زره آسونه سته چې د جگړې د ډگر لپاره چمتو دي او دی کولی سي فوراً دغه آسونه احضار کړي. نادر شاه د یوهٔ پادشاه په مقام کې وویل چې د مغولو لښکر ته مې د آسونو یو پر څلورمه برخه وبخښله او نه باید تیری ورباندې وسي؛ د یوهٔ آسیایي سرتیري ژوند ژواک د هغه په آس پورې تړلی دئ چې د آس له لرلو پرته به دی او کورنۍ یې د فقر په

لومو کې ولوېږي؛ له هغو کسانو سره خښمناک چلند چې تقدير او برخليک زموږ لاسونو ته سپارلی دئ د انسانيت خلاف دئ، نو ځکه نادر پرېکنده پرېکړه وکړه چې هندي سرتيري دې په هيڅ وجهې له سپکاوي او يا تاوان رسيدلو سره مخامخ نه سي.

نادر شاه د خپل بريالي ژوندون په دوران کې د هر ملت د سوداګرو ملاتړ وکړ او په ټول فارس کې يې د آزادې سوداګرۍ د دودولو او ترويج لپاره هڅه وکړه. په ټول فارس کې ارزښتناک سوداګريز توکي موندل کېـدل. هغه مهال چې د ښاغلي هانوی **Mr. Hanway** سوداګريز توکي په استراباد کې غلا سول نو ښاغلی هانوی شخصاً د شاه حضور ته شکايت وکړ؛ شاه امر وکړ چې ددې موضوع په هکله دې پلټنه وسي او ټينګ دستور يې ورکړ چې د ښاغلي هانوی د ټولو ورکو سويو مالونه دې يا ورته وموندل سي او يا دې د استراباد حاکم د غلا سويو مالونو معادل ارزښت ورته ورکړي.

نادر هڅه وکړه چې خپل هيواد ته اروپايي کښتۍ جوړول او په سمندر کې د کښتۍ چلولو پوهه راوړي او په دې کار کې يې له ځانه داسې استعداد ښرګند کړ چې په ندرت د يوۀ آسيايي په ذهن کې ليدل کېـږي. نادر د جان الټن **John Elton** په مرستې تکل کړی وو چې د کسپين د سمندرګي په ختيځې ضلعې کې پياوړی سمندري بندر جوړ کړي ترڅو په خيوه کې خپلو سوبو ته لاره تضمين کړي او پر استراباد باندې د تاتارانو بريدونه مهار کړي. جان الټن له ډېرو هڅو وروسته چې د کښتۍ د جوړولو چارې بشپړې کړې چې د همدې کار او د شاه په حضور کې د هغه د منل توب او محبوبيت له کبله د فارسيانو له حسادت سره مخامخ سو، ځکه فارسيانو دغه کار نـۀ خوښاوۀ، همدا ول چې جان الټن له ډېرو چلنجونو سره مخامخ سو، جان الټن ته دستور ورکړل سو چې د کسپين د سمندرګي تاتاري غاړې دې وڅېړي او د اوسيدلو لپاره دې يو مناسب ځای غوره کړي. خو جان الټن راپور ورکړ چې د سمندر د غاړو هوا ښه نه ده او دا کار ددې لامل سو چې دا طرح دې يوې خوا ته کښېښودل سي.

نادر شاه د معمولي فارسيانو برخلاف چې د بل هر مسلمان ملت پر وړاندې سرکوب ګر چلند ته ليوالتيا لري ټولو خلکو ته د عيسويانو، هندوانو او يهودانو لپاره د عبادت آزادي برابره کړله. همدا شان نادر د روحانيونو نفوذ او ثروت چې د صفوي سلسلې په وروستيو کلونو کې يې کنټرول په لاس کې اخيستی وو تر ډېره راټيټ کړ. نادر هڅه کوله چې د ملاباشي د اعدام لپاره ددوی د غچ اخيستلو مخه ونيسي، نوموړی د پادشاه له پلان سره د مخالفت او د نورو ګټورو موخو په لاره کې وژل سوی وو؛ پادشاه هڅه کوله چې په فارس کې د سني مذهب معرفي کړي. نادر غوښتنه وکړه چې د کليسا لپاره د لويو عايداتو په هکله دې راپور ورته چمتو سي. ددې وضعيت په هکله د فرافر **Frafer** د روايت له مخې نادر ته وويل سول چې د کليسا شتمني د ټاکل سويو موخو لپاره کارول

کیږي؛ لکه د کشیشانو د تنخواه ورکړه، د ډیریو جوماتو او ښوونځیو ملاتړ؛ په همدغو ځایونو کې د پادشاه د پوځي هڅو او د فارس د امپراتورۍ د ودې لپاره دعاګانې کیدلې.

نادر په ځواب کې وویل چې د هغوی دعاګانې بې ګټې ثابتې سوي دي ځکه چې ملت له تیرو پینځوسو کلونو راهیسې په زوال کې وو او په پای کې د یرغلونو او پاڅونونو له کبله له بربادۍ سره مخامخ سو. کله چې د خدایتعالی بریالي مأموران چې موخه یې ددۀ لښکر وو ددوی مرستې ته راغلل نو لښکر چمتو وو چې د ملت د دفاع  او ویاړ لپاره ځانونه قرباني کړي. نادر وویل چې ددغو بې وزلو ملایانو او د سرتیرو اړتیاوې دې پوره سي نو ځکه یې پریکړه وکړه چې د کلیسا ډیرۍ ځمکې دې د سرتیرو په ګټې اختصاص سي. د نادر امر په چټکۍ پلی سو او ددرې میلیونو پونډ سټرلنګ عاید ورڅخه تر لاسه سو. عیسوي ملایان ددې پریکړې له کبله په قهر سول او هڅه یې وکړه چې ولس د پادشاه پرضد راوپاروي. له دې چې د لښکر ډیرۍ برخه له سنیانو جوړه سوې وه نو خلکو د عیسوي ملایانو په دغه سخت وضعیت باندې ملنډې ووهلې. ددې ترڅنګ اکثریت فارسیان له دې امر څخه ځکه ناراضي نه ول چې د نادر دغه فرمان هغوی له عمومي مالیاتو څخه معاف کول.

دغې موخې ته له رسیدلو وروسته نادر شاه د قوم مشران راوغوښتل او خپله پریکړه یې ورته رسماً اعلان کړه. نادر هغوی ته وویل چې که دوی عیسوي ملایانو ته اړتیا لري نو دوی دې خپله د هغوی لګښتونه ورکړي؛ له دې چې نادر ددوی خدماتو ته چندان اړتیا نه لري نو د هغوی د ساتنې ملاتړ به هم ونه کړي. مخکې له دې چې بدبختۍ ددۀ ذهن وځوروَي  او ناروغې ددۀ جسم تر اغیز لاندې راولی دی هماغه نادر شاه وو. انسانان په خپلو کړو وړو کې، که په طبیعي ډول د استعداد خاوندان وي او یا یې زده کړې تر لاسه کړې وي، شدیداً د خپلې شاو خوا د پیښو تر اغیزو لاندې راځي.  تاسو همدغه سړی په پام کې ونیسئ چې همدا اوس مو د هغه ستاینه وکړه چې د بریا د څپو پر اوږو ناست دئ او د شهرت او جلال څرګندو نښو ته رسیدلی دئ. که تاسو همدا سړی پرته له کوم محافظ څخه د څپاند سمندر اوبو ته وغورځوئ او یا په ډېرې ناتوانۍ او کړاوو اخته د ناروغۍ په بستر کې پروت وي موږ په چټکۍ خپله ستاینه بس کوو او ددې باور لپاره هڅه کوو چې آیا په رښتیا دغه هماغه سړی دئ چې دومره ستاینه یې سوې ده.

د فارس د امپراتورۍ پېښو ته په کتنې چې ما په جلا جلا برخو کې شرحه کړې دي او تشویش لرم چې په سم ډول به یې نه وي ترتیب سوي غوښتل مې د افغانانو [1] له برید څخه د نادر شاه تر مړینې پورې پېښې له یو بل سره پیوند کړم؛ خو ما هیڅ داسې کوم لاسوند یا سند تر لاسه نه کړ چې په کافي اندازې واضح یا معتبر وي ترڅو دا ټوله دوره روښانه کړي.

مخکې له دې چې کریم خان د واک واګې په لاس کې واخلي د فارس د تاج او تخت د نیولو لپاره ګڼ شمیر سیالانو ظهور کړی وو، دوی هر یوه بیلا بیل برخلیک ولید او د مشهد له مشر شاهرخ پرته نور ټول د نادر او د صفویانو د سلطنتي کورنیو په له منځه تللو سره له منځه لاړل. موږ د شاهرخ د ژوند په اړه شرحه مخکې ورکړې ده. کریم خان [2] خپل کاري ژوند د یوه مهاجم آس سپور په توګه پیل کړ او وروسته په یوه بریالي مشر بدل سو او د صفویه د اقلیت د یوه لمسي دورې د دوران پر مهال یې ادعا وکړه چې ددې اقلیت بنسټ دهٔ ایښی او ځان یې نائـب السلطنه اعلان کړ او د خپلې حکومتولۍ ځای یې شیراز وټاکـهٔ. داسې ښکاري چې د نائـب السلطنه ورور سعادت خان بصره له یوه کال کلابندۍ یا محاصرې وروسته له تورکانو څخه ونیوله (۱۷۷۴ز کال) او د هغې مودې په اوږدو کې چې فارسیانو په دې سیمې کې حکومت کاوه کریم خان ددې سیمې انګلیسي استوګنو وګړو ته ځانګړې امتیازات ورکړل او تضمین یې وکړ چې د ښار د نیولو پر مهال به ددوی کارخونې، ددوی مالونه خوندي وساتي او ښار به کاملاً محفوظ وي. له تورکانو او اعرابو سره د کریم خان د حکومت تل مدام لاس او ګریوان کیدلو څرګنده کړه چې نوموړی د بصرې له تصرف پرته نور تصرفات نه سي کولی او دا یوازینۍ بریا وه چې دهٔ تر لاسه کړه.

سعادت خان، د نایب السلطنه د مړینې پر مهال چې په ۱۷۷۸ز کال کې رامنځته سوه، له یوهٔ کوچني ځواک سره په بصره کې وو. سعادت خان لیوال وو چې ځان د شخړو مرکز شیراز ته ورسوي نو له همدې امله له بصرې ووت؛ دده له وتلو وروسته بصره د تورکیې تر کنترول لاندې راغله. شیراز ته د سعادت خان په نیږدې کیدلو سره د سعادت خان پام سو چې د ښار دروازې ددهٔ پر مخ، ددهٔ د کورنۍ د یوهٔ خپلوان ذکي خان له لوري تړل سوي دي چې ښار یې نوی تصرف کړی وو او د کریم خان زوی یې یرغمل کړی وو. دغه ځوان ځان د فارس د سویل د واکمن په توګه اعلان کړی وو. دغه ځوانکي هلک له ځانه داسې نښې څرګندولې چې د خپل اکا

---

[1] - HAVING in detached pieces, and I fear with a wide deviation from order, described the most important events of the Persian empire, from the Afghan invasion to the death of Nadir Shah, I could have wished briefly to connect that epocha with the present period ; but no document has come to my knowledge, sufficiently authentic or clear, for the illustration of the whole of this interval. {Volume II page 240, PDF both volumes combined page 587}

[2] - هغه په څرګنده اعتراف وکړ چې په ځوانۍ کې غل وو او د مخکې غابښونه یې د یوهٔ خرهٔ د لغتې له امله چې دهٔ غلا کړی وو مات سوي دي. - لیکوال

ملاتړ له ځان سره لري نو ذکي خان دستور ورکړ چې هلک دې اعدام سي. په يوې اسلامي محکمې کې د حکم الغا معموله خبره نه وه، محکمې حکم وکړ چې سعادت خان ته دې لاره ورکړل سي چې شيراز ته دننه سي ځکه هغه په دولتي چارو کې ګډون درلود. نوموړي ډير ژر د خپل ورارهٔ پر ضد توطئـه وکړه او په پای کې يې هغه د غير اخلاقي کړو وړو او له بيت المال څخه د ډير اضافي لګښت په تور له قدرت برطرف کړ.

د کريم خان د حکومت پر مهال د علي مراد په مشرۍ يو لښکر يوې ليرې پرتې سيمې ته د پاڅون د ځپلو لپاره ولـېـږل سو. د پاڅون له ځپلو وروسته نوموړی له خپل لښکر سره راستون او د خپلو جاه طلبيو د تر لاسه کولو لپاره يې متې بډ وهلې او د حکومت ادعا يې وکړه. پايله يې په کورنۍ جګړې واوښتله چې ورانۍ، قتلونه او خيانتونه ورسره مل ول او دې چارې علي مراد ته توان ورکړ چې شيراز ونيسي، نوموړي د شيراز په نيولو سره د کريم خان ټوله کورنۍ او د هغوی حاميان له يوې مخې اعدام کړل. [1] له اصفهان څخه يو تن چې د مراد علي د کارونو او د هغه د پوځي مهارتونو په هکله خبرې کولې وويل چې مراد علي يوه لويه او ډيره ښه توره درلودله. ددغې تورې د تيغې پر مخ باندې د دولسو امامانو نومونو او دده د سوبې تضمين ليکل سوی دئ.

اسلامي روايات وايي سره له دې چې د علي مراد په تورې باندې د دولسو امامانو نظر سته خو دی په خپله آزاد دئ چې هر ډول خدمت ورباندې تر سره کړي پرته له دې چې دی څومره ايمان او شرافت لري نو د عواقبو له ډار پرته يې کولی سي تر سره يې کړي. علي مراد د خپل حکومت بنسټ په اصفهان کې کېښېښود په ۱۷۷۸ يا ۱۷۷۹ز کال کې يې شيراز ونيوهٔ. ما د بصرې له يوهٔ استوګن وګړي سره پيژندګلوي درلوده همدغه سړي ما ته د کريم خان تأريخ او د نورو هغو مشرانو تأريخ راکړ چې د کريم خان له مړينې وروسته په پښو دريدلي ول.

دغـهٔ ښاغلي چې په صداقت او د قضاوت په حسن يې کولی سم اعتماد وکړم د فارس د سويلي سيمو يو غمجن انځور زما مخې ته کېښود. دی وايي چې کورنۍ شخړې او اله ګولې د هر جنايت لپاره چې د بشريت لپاره شرم ده لاره خلاصه کړې ده او دومره شرارتونه يې رامنځته کړي چې انسانان چا ته د شياطينو په نظر ورځي. دی وايي چې د يوهٔ کلي نيمايي خلک به په شپو شپو ويښ پاتې کېـدل ترڅو د نيمايي بيدو خلکو له لاسه ونـهٔ وژل سي او د وژل کيدلو مخه ونيسي. راځئ له دغو خونړيو صحنو څخه چې زموږ انسانيت د ځارويو کچې ته راټيټوي واټن ونيسو او اجازه راکړئ چې په خپل سرګردانه سبک تاسو د کسپين د سمندرګي غاړو ته بوځم. مخکې

[1] - دهٔ د کريم خان په کورنۍ پورې اړه درلوده او ويل سوي چې په دې قتل عام کې درې سوه تنه ووژل سول. ليکوال

مې وویل چې ددې سمندرګي کنترول منحصراً د روسيې د امپراتورۍ په ولکه کې دئ او په ځينو برخو کې ګاونډۍ سيمې هم د پام وړ نفوذ لري. ښايي د هغو پړاونو ارزونه ارزښتناکه وي چې روسيې د هغو په وسيلې د قدرت دومره ډيرولو ته لاسرسی موندلی دئ.

په ۱۷۲۲ ز کال کې د شاه حسين زوی طهماس خان له ستر پيټر څخه وغوښتل چې له فارس څخه د افغانانو په ايستلو کې ورسره مرسته وکړي. افغانانو ددهٔ د پلار سلطنت ړنګ کړی وو او تر دې دمه يې د پادشاهي ستره برخه په ولکې کې درلوده. ددې لپاره چې روسيه دغسې يوې مرستې او ملاتړ ته وهڅوي نو دغه فارسي شهزاده موافقت وکړ چې د ګيلان او شيروان ولايتونه ددايم لپاره روسيې ته وسپاري. [1] ددغه وړانديز له منلو وروسته پيټر د ملکې کاترين په ملتيا له استراخان څخه له يوهٔ لوی لښکر سره وخوځېد. دوی د کسپين د سمندرګي په لويديځو غاړو کې راوخوځېدل او د مينګرلا Mingrela د ولايت په اګريچن Agrechan کې چې د ولګا د سيند په سويلي خولې کې واقع دئ پلی سو. له همدې ځايه دی د دربنت Derbent پر لور چې د افغانانو تر کلابندۍ لاندې وو وخوځېد. نوموړي په دې کلا کې درې سوه تنه ځای پر ځای کړل او ورپسې د فارس پر لور وخوځېد. دلته د باکو او د شهمچي Shahmachee استازو ورته مراجعه وکړه او له ستر پيټر څخه يې د افغانانو پر وړاندې چې ددې سيمو د تصرف لپاره يې ډيرې هڅې کړې وې د ملاتړ غوښتنه وکړه. [2]

پيټر د مراسمو د پيل کيدلو لپاره چمتووالی نيوهٔ چې د تورکانو استازی ددهٔ قرارګاه ته راغی. هغه وويل چې ددهٔ ارباب شاه مچي Shahmachee د تورکيې له خاورې سره ملحقه کړې ده او په سيمې کې د روسي ځواکونو د حضور په اړوند ډير ناراضي دئ. نوموړی ګواښ وکړ که روسی امپراتور خپل ځواکونه له سيمې ونهٔ باسي نو دهٔ ته دستور ورکړل سوی چې د روسانو پر ضد جګړه اعلان کړي.

---

[1] - In the year 1722 , Peter the Great was solicited by Thamas Khan , the son of the Shah Husseyn , to assist him in expelling the Afghans from Persia, who had driven his father from the throne, and continued to hold possession of an extensive portion of the kingdom '; and to stimulate Russia to the grant of this aid, the Persian prince stipulated to cede in perpetuity the provinces of Ghilan and Shirwan. {Volume II page 244, PDF both volumes combined page 591}

[2] - This proposal being acceded to, Peter, accompanied by the empress Katherine, embarked at Astracan with a large force, and proceeding along the west coast of the Caspian , landed at Agrechan , in the province of Mingrelia, about two hundred miles to the southward of the mouth of the Wolga ; from thence he moved to the relief of Derbent, which had been besieged by the Afghans, and stationing a party of three hundred men in the castle, advanced a day's march into Persia ; where he was met by the deputies of Baku , and Shahmachee who fought his protection against the Afghans, then making strenuous exertions to reduce these places . {Volume II page 244, PDF both volumes combined page 591}

پیتر چې په دې وروستیو کې یې په پروت Pruth کې د خپل نابریالي لښکر یون په لړ کې د تورکانو د څواکمنیدلو تجربه لیدلې وه نو په پردۍ خاوره کې د پیاوړي دښمن پر وړاندې پرته له دې چې کومه وسیله ولري د نښتې د مخنیوۍ لپاره موافقت وکړ چې په سوله ناکه ډول به خپلې خاورې ته ستون سي. تورک استازي د فارس شمالۍ سرحدونو ته سفر وکړ او تر هغو هلته پاتې سو ترڅو چې لښکر د استراخان پر لور وخوځید. د دربنت Darbent په دفاعي کلا کې یوه ډله پاتې سوه او کله چې د پیتر لښکر شا ته تګ کاوۀ دا ډله ورسره یو ځای نـۀ سوه او تر هغو هلته پاتې سوه چې د سیمه ییزو وګړو په غوښتنې روسان د کسپین په سمندرګي کې راڅرګند سول. په همدې حال کې د باکو استوګنو وګړو چې د مرستې لپاره یې خپلې ټولې هیلې له لاسه ورکړې وې د افغان سرتیرو یوه ډله یې د باکو ښار ته راوړه او د اصفهان حکومت یې قبول کړ. [1]

روسانو د لسغي تاتاریانو Lesghi Tatars د میلو کنتي Millu Kenti د سیند پرغاړه یوه کوچنۍ کلا جوړه او پینځه سوه تنه یې په کې ځای پر ځای کړل. د لوی لښکر له وتلو وروسته د افغانانو یو لوی ځواک ورباندې برید وکړ او ټول یې له منځه یوړل. [2] ویل کېږي چې د دغه لښکر یون / لشکر کشي په ترڅ کې پیتر د خپلې ناروغۍ، ستړیا او د لسغیانو د بریدونو له امله د خپلو سرتیرو یو په دریمه برخه یې له لاسه ورکړه. دا ماتې په ځانګړې توګه ځکه له نومیدۍ ډکه ماته وه چې پیتر په پام کې درلودل چې د خپلو سوبو لمنه پراخه او د فارس د ولایتونو د نیولو لپاره یې تابیا نیولې وه. [ د ژباړونکي یادونه : د روسیې له امپراتور پیتر سره د افغانانو دا نښته د معاصر افغانستان د تأریخ په هیڅ برخې کې نه ده یاده سوې او یا لږ تر لږه زما لپاره نوې خبره ده.]

داسې ښکاري چې له دې پېښې لږ وروسته د قسطنطنیې او پیطرزبورګ تر منځ وروستی او رسمي توافق لیک لاسلیک سو. دغه توافق لیک وو چې شاه مچي Shahmachee د ارمنستان، ګورجستان او د میلیتنر Melitaner سیمې به په دایم ډول له بندر سره وصل سي. ددې ترڅنګ دا توافق پیتر ته بشپړه آزادي ورکوي چې د کسپین د سمندر پر غاړې د فارس د ولایتونو په اړه خپلو جاه طلبیو ته دوام ورکړي.

---

[1] - The party which had been lodged in the fort of Derbent did not join the army in its retreat, but at the solicitation of the inhabitants continued in that station, until the Russians at a future period appeared on the Caspian , while those of Baku deprived of the hope of succour, received a body of Afghan troops into the town , and submitted to the government of Ispahan. {Page 245, volume II, both volume combined in PDF format page 592}

[2] - THE Russians had constructed a small fort on the river Millu Kenti, in the territory of the Lesghi Tartars , and garrisoned it with five hundred men, who after the departure of the grand army, were attacked by a large Afghan force and wholly destroyed. {page 245, volume II, both volumes combined PDF format page 592}

د ۱۷۲۲ز کال په پای کې د گیلان فارسي مشر استراخان ته یو استاز ولیږه چې د امکان په صورت کې دې د ولایت مرکز رشد، یوۀ روسي گارنیزیون ته وسپاري ترڅو ښار ته چې د افغانانو تر کلابندۍ لاندې وو په چټکۍ مرسته ورسول سي. [1] امپراتور له دې طرحې سره موافقه وکړه او زر تنه یې د سمندر له لارې گیلان ته واستول. خو کله چې دوی ورسیدل د سیمې خلکو ورته د ننوتلو اجازه ورنـۀ کړه. د سیمې استوگن وگړي په دې ویره کې ول چې له روسانو سره د اتحاد په صورت کې که په مرستې کې ځنډ رامنځته سي نو د شدیدو مجازاتو له ډاره یې له افغان افسر سره خبرې اترې پیل کړې وې تر څو ښار دوی ته وسپاري. [2] روسي قطعاتو د (کسپین د سمندرگي - ژ) پر غاړې خپل استحکامات جوړ کړل او د بل ځلور زره کسیز ځواک تر رسیدلو پورې چې د رشد ښار ته د ننوتلو دنده یې درلودله هماغلته پاتې سول. خو دغه کار ته اړتیا نه وه ځکه د اضافي ځواکونو له رارسیدلو سره سم د رشد ښار دروازې سمدستي پرانیستل سوې او د گیلان ټول ولایت د روسیې تر کنترول لاندې راغی.

د مرستندویو ځواکونو مسؤول افسر د خپل سفر په ترځ کې د کسپین د سمندرگي پر غاړې په باکو کې توقف وکړ. نوموړي ته دستور ورکړل سو چې د فارس د والي د غوښتنې پر بنسټ دې هماغلته یو گارنیزیون جوړ کړي. خو مرسته ډېره ناوخته ورسـېده او ښار لا مخکې له مخکې افغان لښکر ته تسلیم سوی وو. [3] پیتر چې همداسې یوې ارزښتناکې شیبې ته سترگه په لاره وو په بل کال یې یعني په ۱۷۲۳ز کال کې یو پیاوړی سمندري ځواک استراخان ته ولیږۀ. دا ځواک د باکو [4] بندر ته راغی او له یوۀ لنډ بمباران وروسته یې کلا ونیوله. ویل کیږي چې له دې محاصرې مخکې پارسیان هیڅکله د توپ له گولیو سره نه ول مخامخ سوي. کله چې روسي بمب

---

[1] - In the latter end of the year 1722 , the Persian chief of Ghilan deputed an agent to Astracan with powers to deliver up Reshd , the capital of the province, to a Russian garrison , should it be immediately dispatched to the relief of the city , then invested by the Afghans.{ page 246, volume II, both volumes combined PDF format page 593}

[2] - The emperor assenting to the measure, dispatched by sea a thousand men to Ghilan , but on their arrival they were refused admittance by the inhabitants , who alarmed at the delay of the aid, and threatened with severe vengeance if they formed any connection with the Russian government, had entered into a negociation with the Afghan officer for the surrender of the city. { page 246, volume II, both volumes combined PDF format page 593}

[3] - THE officer who commanded the auxiliary troops , had in his passage down the Caspian , touched at Baku, where he was directed to lodge a garrison, conformably to a previous requisition of the Persian governor, but the succour arriving too late, the place had submitted to an Afghan army. { page 247, volume II, both volumes combined PDF format page 594}

[4] - د باکو د نوم تسمیوي وجهه له پاړسي ژبې (باد + کوه) څخه راغلې ده او د غرني باد په معنی ده، څرگنده ده چې دلته اکثر وختونه چټک باد چلیږي. - لیکوال

غورځوونکې بيړۍ خپل موقعيت ته ورسېدله پارسيانو کلا ته دداسې کوچنۍ بيړۍ په رسېدلو باندې ملنډې ووهلې. خو کله چې ودانۍ ته تاوان ورسېد او وينه يې توی سوه نو ددوی دغه ملنډې په شوک او وحشت بدلې سوې.

د کسپين په سمندرگي کې د روسيې د قدرت د ظهور او ټينګښت په اړه دغه مقدماتې کرښې عمدتاً د کپيتان بروس **captain Bruce** د خاطراتو له مخې اخيستل سوي دي؛ کپيتان بروس په فارس باندې د لومړني لښکر- ليږد / لشکر کشي په ترځ کې د پيتر په لښکر کې خدمت کاوۀ. داسې ښکاري چې بروس خپل د سترګو ليدلی حال او قضاوت په دقيق ډول تر سره کړی دئ او ډاډه يم چې هغه يې په څرګند او صداقت ليکلي دي. له دې چې د بروس خبرې او هغه څه چې ما په فارس کې د سر په سترګو ليدلي دي له يو بل سره مطابقت لري نو زه تاسو ته دغه شرحه په ډاډمنه توګه وړاندې کوم. له هغې مودې راوروسته چې پيتر په شيروان او ګيلان کې خپل قدرت تثبيت کړ تر ۱۷۳۲ ز کال پورې يعنې تر هغې مودې پورې چې نادر شاه، طهماس برطرف او د فارس د پادشاهي تاج يې پر سر کښېښود هېڅ داسې مهمه پېښه نـه ده رامنځته سوې چې د روسيې قلمرو ته ګواښ رامنځته کړي او يا د کسپين په سمندرګي کې سوداګري ورسره ټکنۍ سي. خو له کله چې د ختيځ شهاب په ځلېدو راغی او ګاونډي ملتونه يې يا نابود کړل او يا يې وويرول روسان چې په کورنيو اله ګولو او توطـئو کې راګير پاتې ول اړ سول چې د کسپين د سمندرګي پر غاړې خپل قلمرو پرېږدي؛ روسانو ته يوازې دومره اجازه ورکړل سوه چې د انزلي په بندر کې دې خپل يو استازی پرېږدي ترڅو د ګيلان د ورېښمو په سوداګرۍ باندې څارنه ولري. [1]

فلتح علي خان/ فتح عليخان [2] چې په وروستيو کلونو کې له لسغي تاتارانو سره په خورو ورو ستونزو او جګړو کې ښکيل وو له روسانو څخه يې د مرستې غوښتنه وکړه. روسانو د دښمن د بريدونو پروړاندې د بريا له ترلاسه کولو وروسته د دربنت کلا تر يوې مودې پورې ونيوله. دا کلا له هغې مودې تر اوسه بيا رغول سوې ده خو شرايط يې مشخص نـۀ دي. کولی سو د پيترزبورګ د دربار د ستراتيژيو پر بنسټ چې معمولاً خپل قلمرو نه رالنډوي دا حدس ووهو چې د دربنت له ګارنيزيون څخه وتل يوازې کوم سخاوتمندانه عمل نه وو.

---

1 - په ۱۷۴٦ ز کال کې ملکې اليزابت نادرشاه ته يو سفير ولېږه. ښاغلی ويليم کوک چې ددغه سفر جراح وو ددې پيښې په اړه يو راپور خپور کړ. داسې ښکاري چې هغه مهال روسانو يوازې د انزيلي په فابريکې او په دربنت **Derbent** کې يوه سوداګريز تم ځای درلود او په فارس کې يې بله هيڅ کومه مؤسسه نه درلوده. - ليکوال

2 - ليکوال دا نوم د **FULTAH ALI KHAN** ليکلی دئ ما د انګيرنې له مخې فتح عليخان منلی دئ - ژ

د فارس ددې برخې په هکله ستاسو د معلوماتو د زیاتولو لپاره ما تکل کړی چې د کپیتان بروس د څېړنې هغه برخه په دې کتاب کې ځای کړم چې په ۱۷۲۳ز کال کې د کسپین د سمندرګي د څېړلو په هکله تر سره کړې او دا یې فارس ته له راستنیدلو وروسته لیکلې ده. دغه کتاب کې جزئـیات نه سته او اغلب وختونه موندنې حذفوي او څرګنده نه ده چې آیا دا یادداشتونه مستند سوي دي او یا د ناشر له لورې حذف سوي دي. خو که هر څه وي مورږ دغو معلوماتو ته اړتیا لرو ځکه د کسپین د سمندرګي په اړه د روسانو تر څنګ، نور هیوادونه په ځانګړې توګه د تاتارستان د هم سرحده سیمې په اړه خپل لومړني او مبتدي معلومات لري.

کپیتان بروس وایي چې "مورږ ته دستور راکړل سوی وو چې د کسپین په سمندرګي کې سفر وکړو ترڅو هغه وڅېړو، مستند یې کړو او د ټولو سیندونو، نهرونو او خلیجونو او نورو په هکله معلومات راټول کړو. ددې کار لپاره مورږ یوې ډیرې پیاوړې کښتۍ ته اړتیا درلوده، دا یوه اوږده په ونه ټیټه بادبان لرونکې کښتۍ وه چې په مخ کې یې دوه اتلس پونډه توپونه او شاو خوا ته یې ۲۴ نور توپونه ول او ۳۰۰ تنه خدمه مو درلوده. همدا شان مورږ سره مل څو ماټو ګان یا قایقونه ول؛ دوه قایقونو اته پارو، بل قایق لس پارو او بل قایق ۱۲ پارو درلودل او هر قایق یو یو توپ هم درلود. ددې ترڅنګ دوه مرستیال مهندسین هم زما د مرستې لپاره ټاکل سوي ول."

" د ۱۷۲۳ز کال د اپریل د میاشتې په اتلسمې نیټې مورږ د ولګا مدخل ته لاړو. د بلې ورځې په سهار د ختیځ لور ته وخوځیدلو او د سیند د غاړې په اوږدو کې د کم عمقو اوبو له منځه تیر سولو. دا سیمه دومره په هرزه وښو ډکه وه چې مجبور سوو د سیند له غاړو اته یا شپږ مایله لیرې پاتې سو، او په هغو اوبو کې پاتې سوو چې ژور والی یې تر لسو یا دولسو فوټو پورې وو. مورږ پوره اته ورځې د یوهٔ وچ ځای په لټون کې وو مورږ ان د خپلو ډیرو کوچنیو قایقونو لپاره هم ونه سول کولی مناسب ځای پیدا کړو. مورږ د خپلې لارې په اوږدو کې دوه کوچني ټاپوګان ولیدل خو د نیزارونو له کبله مو ونه سوای کولی ځان وررسوو. خو ومو کولی سول یو شمیر سمندري مرغان ښکار کړو چې په دغو ټاپوګانو کې یې ځالې کړې وې او مورږ د خپل سفر په اوږدو کې پریمانه مرغان او کبان درلودل. تر هغه ځایه چې باد اجازه راکوله هڅه مو کوله چې پارو ووهو خو هر ماسپښین مهال مو لنګر اچاوه ترڅو ځان ډاډه کړو چې کوم شی له لاسه ورنه کړو. "

" په شپږویشتمې نیټې د جیک Jaick سیند ته ورسیدو چې خولې یې سل فاتوم (یو فاتوم یو اعشاریه اته متره کیږي – ژ) پسور او اتلس فیټه ژوروالی یې درلود؛ د جیک ښار ته چې له سیند څخه تقریباً یو مایل پورته واقع دئ لاړو. دا ښار ډیرښه استحکامات لري او د

روسانو او تاتارانو [1] پیاوړی ګارنیزیون په کې ځای پر ځای دئ؛ دا ګارنیزیون ددې لپاره ځای پر ځای دئ چې کلموک Kalmuck او ناګایان Nagayan تاتاران مهار کړي او پرینږدې چې له یو بل سره په جګړه کې ښکیل سي، ځکه دوی تل مدام له یو بل سره په جګړوکې ښکیل دي. "

"ناګایان Nagayans د استراخان د جیک Jaick په ټولې سیمې کې ژوند کوي او د ساحلي کرښې څه دباندې دوه نیم سوه (ورست Versts) [2] سیمه یې تر خپل استوګنیز پوښښ لاندې نیولې ده. په عین حال کې کلموکانو Kalmucks هم د سراتوس Saratoss له سیمې نیولې د بریکټ Brekit تر دښتې پورې پراخه سیمه یې تر کنترول لاندې نیولې ده او د جیک له سویل څخه د یمبو Yembo تر سیند پورې چې له دې ځایه ۹۳ (ورست) واټن لري غځېدلې ده. موږ یوازې یوه ورځ په جیک [3] کې تیره کړله او همدلته مو غوښه او تازه اوبه زیرمه کړلې."

" د دې سیمې حاکم موږ ته وویل چې د سیمې په ختیځ کې یو لوی خلیج دئ چې د یمبو Yembo تر سیند پورې غځېدلی دئ خو د کښتیو لپاره چندان ژور نــه دئ؛ ما د خپلو انجنیرانو له منځه یو انجنیر ولیږه ترڅو د خلیج ارزونه وکړي او په مخامخ تکي کې دې بیرته له موږ سره یو ځای سي. ورپسې مو سمدستي د سویل پر لور مخه کړه او په دیرشم خلیج کې مو چې د کولالا Kulala د ټاپو او د اصلي ځمکې ترمنځ د اوبو د ژور (فاتوم Fathoms یو فاتوم شپږ فیټه یا یو اعشاریه اته متره کیږي) په ژوروالي د کانایان Kanayan د غرۀ تر منظر لاندې لنګر واچاوۀ او دلته مو پاک او ژور ساحل وموند. د ترکستان او د تورکمن تاتارانو ټاټوبی له همدغه ځایه پیل کیږي. موږ په داسې حال کې چې د خپل مهندس بیرته راتللو ته سترګه پر لاره وو سون لرګي او پاکې اوبه زیرمه کړلې او ځانونه مو د کبانو په نیولو او د مرغانو په ښکار بوخت وساتل. دلته مو یو بلوګا Beluga (د کسپین د سمندرګي ځانګړی کب چې دولفین ته ورته او هماغمومره لوی دئ - ژ) ونیوه چې شپږ یارډه اوږد وو او ډیر پریړ وو او د هغه له هګیو موخوندور خاویارر Caviar جوړ کړ چې د څه دباندې یوې میاشتې لپاره مو بس وو."

---

[1] - ددغې تاتاري سیمې وګړي چې سیمه یې روسانو په بشپړ ډول تصرف کړې ده اوس مقیم او استوګن وګړي دي. ـ لیکوال

[2] - په عامې محاسبې یو «ورست Verst » د یوۀ مایل دوه پر دریمه راځي او دا سیمې ټوله ۱۷۰ مایله ده - لیکوال

[3] - روسان هر کال له استراخان څخه تورکمني مارکیټ اورګنج ته دوه یا درې بار وړونکي کښتۍ لیږي، اورګنج د همدې سیند په پورتنۍ غاړې کې د جیک Jaick په ښارګوټي کې واقع دئ او پر ځای یې فولاد، د اوسپنې پلنې ستنې، د لویو ټوکرانو پاټې شونې، پوست او په مالګه کې اخته سوي کبان له ځان سره وړي. د جیک سیند د دسمبر له میاشتې نیولې د مارچ تر نیماییو پورې کنګل کیږي، او په اورګنج کې سوداګري په ټپه دریږي. پر دې برسیره تاتاران چې عمدتاً د بخارا او سمرقند سوداګر دي د روسانو د کښتیو له تللو وروسته دلته نه پاتې کیږي. - جورج فوستر.

"زموږ انجنير چې له ماښوګانو يا کوچنيو بېړيو سره وو د مې د مياشتې په لسمې نيټې له موږ سره يو ځای سو. هغه راپور راکړ چې د خليج د ارزونې پر مهال يې يوازې له پينځو تر شپږو فيټو پورې اوبه موندلې دي. ټوله سمندري غاړه دومره په نيزارونو پوښلې ده چې يوازې يې وکولی سول د يېمو د سيند په خوله کې چې هم پسوروره او هم ژوره ده دمه وکړي. موږ په يولسمې نيټې د کولالا له ټاپو وخوځېدو او د سکندر د خليج پر خوا ولاړو؛ په شپږ ويشتمې نيټې هلته ورسيدلو. ددغه ساحل په اوږدو کې اوبه هيڅ ژورې نه دي او موږ ته اجازه راکوي چې خپله کښتۍ د ساحل په هر ځای کې ودروو. "

" له غرونو راکوز سوي ګڼ شمير کوچني سيندونه سمندرګي ته رابهيږي، خو موږ ونه سو کولی ددغو کوچنيو سيندونو نومونه ومومو. ما هڅه وکړه چې د يوۀ افسر په ملتيا د يوۀ ژباړونکي او ۲۴ تنو په ګډون د يوۀ دولس پارويي ماښو په ليږلو د سمندر د غاړو له خلکو سره خبرې وکړم او له هغو څخه معلومات راټول کړم. خو کله چې موږ ورنيږدې سوو هغوی پر موږ باندې د خپلو توپکو ډزې وکړې. زموږ کسانو هم د خپلو توپوکو په ډزو سره د هغوی ځواب ورکړ او موږ هم له خپلې کښتۍ څخه د يوۀ لوی توپ يو ډز ورباندې وکړ او دا ددې لامل سوه چې خلک غرونو ته وتښتي. دغو خلکو به هره شيبه د خپلو لويو ډلو په ښودلو ځانونه څرګندول چې پر خپلو آسونو باندې سپاره ول او په بشپړو تجهيزاتو سمبال ول. موږ له ليرې څخه د هغوی څو قرارګاه ګانې وليدلې او هغوی ته مو اجازه ورکړه چې په آزاد ډول وخوځيږي او له يوه ځايه بل ځای ته لاړ سي، دا ځکه چې تاتاران دائمي کورونه نه لري. هغوی به په خپلو لويو ډلو موږ تعيقبولو او زموږ د وسلو له تيررس څخه ليرې له خوندي واټن څخه به يې زموږ حرکات څارل. په مجردې چې موږ د سکندر خليج ته ورسيدلو چې د کولالا له ټاپو څخه ۸۴ ورست واټن لري دا خلک ترې تم سول. په دې خليج کې چې ۳۰ ورست اوږدوالی او ۱۸ ورست پسور لري او د سمندر غاړې کې له پينځو تر شپږ فاټوم پورې ژور والی لري موږ د اوبو ښکلی او روڼ بستر او خورا ښه لنګر ځای مو وموند. "

د اپريل په لسمې نيټې په کښتۍ کې کښېناستم او کښتۍ د باکو پر لور وخوځېدله. کښتۍ د خليج د شمال ختيځې دماغې په اوږدو کې وخوځيدله او په (آب شوره) کې يې چې د ساحل په اوږدو کې يو ډېرين بندر دئ لنګر واچاوۀ، همدلته ګڼ شمير مسافران کښتۍ ته راپورته سول. ارمنيان او يونانيان د ايستر Easter د اختر لپاره پاتې سول، همدلته ورته اجازه ورکړل سوه چې يوه کوچنۍ کليسا ودانه کړي. د شيروان فارسيان د ختيځيو سيمو د عيسويانو په پرتلې د هغوی پروړاندې لږه دښمني له ځانه څرګندوي چې دليل يې دا دی

چې یا دوی یونانیانو ته په دې درناوی کوي چې د پام وړ پانګه ددوی سیمو ته راوړي او یا د روسیې له وسله وال ځواک څخه ویره لري.

له دې چې چا ما ته په دې سترګه نه کتل چې زه دې دینداره او دین ته ژمن اوسم او زما په چارچلند کې پریمانه تقدس ته اعتقاد نه لیدل کیده چا له ما څخه ونه غوښتل چې د ایستر یا د پاک اختر روژه ماته کړم. خو له دې سره سره مې بالاخره په دې اختر کې ګډون وکړ. د ایستر یا د پاک اختر د یکشنبې په تک شنه سهار کې مخکې له دې چې لمر راوخیږي د کښتۍ ټوله خدمه له کپیتان نیولې تر آشپز پورې زما کابین ته چې زه په کې بیده وم راننوتل او د سپیڅلې مریم او د هغې د پلوي پیرو نیکلاس د انځورونو مخې ته ودرېدل او چیغې یې ووهلې چې حضرت عیسی دې له خپل قبر نور په چټکۍ سره بیرته راوګرځي. کله یې چې فکر وکړ دا پیښه رامنځته سوې ده نو د یو بل په ښکلولو یې یو بل ته سلام واچاوهٔ او ویې ویل " مسیح راپورته سوی دئ"

د همدې پیښې په خوشحالۍ او هلهلې کې زه له پامه غورځول سوی وم او خلک مې له څنګ څخه تیر سول. خو د اختر د اصلي برخې په اوږدو کې یې زه ور په یاد سوم؛ سره له دې چې زه په خپل بستر کې وم ما ته یې پودین او غوښه راوړه او د هغو خوړلو ته یې وهڅولم. ددوی پام دې ټکي ته واوښت چې ددوی د روژې له کبله زه له شدیدو محدودیتونو سره مخامخ سوی وم نو ویې هڅولم چې دا د اختر او د خوراک د خوندونو د اخیستلو وخت دئ. دوی هم همداسې وکړل؛ د ډیرې غوښې خوړلو ته په کتنې داسې ښکاریدل چې په هماغه اندازه چې دوی وږي ول په هماغه اندازه یې هڅه کوله چې د روژې پر مهال د خوراک د له لاسه تللو نوبتونه هم جبران کړي.

کښتۍ د اپریل د میاشتې په ۱۳ نیټې له خپلو ټولو افرادو او بارونو سره چې د ځاییدلو امکان په کې وو خپل خوځښت پیل کړ او د اصلي ځمکې او د ډېرین ټاپو تر منځ په خوځښت کې وه. کله چې ما شاو خوا ته وکتل نو د کښتۍ د ژیو په شاو خواوو کې د ګڼ شمیر مسافرینو او په څنډو کې د ځوړندو کسانو ګډ وډ حالت زما پام ځانته واړاوهٔ. هیڅکله چې مې تصور نه کاوه چې داسې یوه کوچنۍ فضا دې دا ټول په ځان کې ځای کړی سي. زما د بیده کیدلو لپاره ځانګړی سوی ځای داسې ځای وو چې زما قد په سختۍ په کې برابر کیده او مجبور سوم چې په اړخ وغځیږم. خو زما ښه چانس په دې کې وو چې زه په داخلي ټکي کې وم او دا ددې لامل کیده چې نور مسافرین چې له ما سره په یوه لاره کې پراته ول ما تر پښو لاندې نه کړي. کله به چې له یوهٔ روس، یوهٔ ارمني، یوهٔ یوناني او یوهٔ فارسي سره په میز کښیناستلم نو اغلب وختونه به مې په ډېرې لیوالتیا هغه دلایل اروزل چې پینځه تنه کسان چې له بیلابیلو

هیوادونو او فرهنگونو څخه دي څنگه د یوبل تر څنگ ناست دي. دغه اړیکه څرگنده ده چې د شخصي گټو پر چورلیځ راڅرخیدله او کله چې دا اړیکه په دنیوي پوهي پیاوړې سي نو افراد دې ته هڅوي چې خپلې گټې له بیلابیلو لارو تر لاسه کړي. په دغې په مینې ډکې لیوالتیا کې ډیري کسان هڅول کیږي چې هغه خنډونه چې خرافات رامنځته کوي له منځه یوسي.

د شلمې نیټې ماسپښین مهال د استراخان د سیند غاړو ته نیږدې د کب نیولو د دوه وو ماڼوگانو له لیدلو وروسته زموږ کښتۍ د درې (فاتوم) په ژوروالي اوبو کې لنگر واچاوۀ خو شاو خوا څومره چې سترگو کار کاوه وچه ځمکه په نظر نه راتلله. د شپې په رارسیدلو سره ډیر توند باد په چلیدو سو او کولی یې سوای چې د کسپین سمندرگی په چټکۍ توفانی کړي، باد د سمندر اوبه په لنډ خوښت راوستلې او یو ناڅاپه غړغړاندو څپو مستي پیل کړه. هر گوره، زما له بیده کېدلو چندان ډیر وخت نه وو تیر سوی چې یوناني سړي خپله اندیښنه څرگنده کړه چې ښایي زموږ کښتۍ د سمندر په ځمکه ولگیږي، دده دغه اندیښنه پر ځای وه او په ډیر لنډ وخت کې د کښتۍ د وروستۍ برخه خوځنده ټوټه چې کښتۍ په خوځښت راولي (سکان) د موښتلو ټکان وکړ. یوه لویه گډوډۍ رامنځته سوه او هر څوک ترهیدلی ښکاریده. چا په روسي ژبې، چا په ارمني او چا په فارسي ژبې کوکارې او چیغې وهلې او یو شمیر نورو په یوناني او تورکي ژبو د خپل برخلیک لپاره ساندې وهلې.

دا پیښه په بشپړ ډول بیخونده وه، که ما له دې پیښې سره چنداني علاقه نه درلوده خو د خلکو د احساساتو د بیان بیلابیل ډولونه راته په زړه پورې ول. هر چا په خپلې ژبې او په خپل ډول او په خپلو کلماتو له خدای څخه مرسته غوښتله؛ زه په ځانگړي ډول یوه فارسي سړي ته علاقمند سوم چې په کابین کې یې پناه اخیستې وه او فکر یې کاوۀ له دې چې په کابین کې کپیتان کښیني نو ښایي هغه ځای به ورته خوندي او امن وي. هغه په ژړانده غږ زاری کولې چې یو بالښت دې ورته ورکړل سي چې زړه یې آرام سي او د ژوند په وروستۍ شیبې یې په راحت تیرې سي؛ سره له دې چې دۀ په لوړ غږ چیغې او بوغارې وهلې خو ان د یوۀ ځل لپاره یې د خپل پیامبر محـمد نوم په خوله رانه وړ. هغه په هرې سلگۍ کې له علي څخه مرسته غوښتله او د تقدس او د نظامي قدرت هر ډول لقب به یې ورکاوۀ؛ هغه به ویل علي اې د خدای دوسته، اې د مؤمنانو لارښوده، اې د نه ماتیدونکې تورې څښتنه، او له علي څخه به یې غوښتل چې ددۀ ساتندوی دې اوسي او دی دې تر پام لاندې ولري او له قریب الوقوع خطر څخه دې وژغوري؛ ددې لپاره چې د خدای نظر ځانته جلب کړي نو د علي دوه زامن حسن او حسین به یې هم ستایل.

د وریښمو ګاټونه چې نیم کابین یې ډک کړی وو مخ ته یوړل شول او دا ددې لامل سول چې دغو ګاټونو چې د کښتۍ په شاتینۍ برخې باندې لګیدل کښتۍ د لنډ وخت لپاره ارامه کړي. له بل لوري د باد او د سیند د څپو په پیاوړي کیدلو سره وضعیت لا کړکچین سو. ما یونانې ته وړاندیز وکړ چې یو شمیر بارونه باید سیند ته وغورځوو ترڅو نور خلک ځانونه وژغورلی سي. هغه لیوال وو چې همدا حل لاره په پام کې ونیسي خو د کښتۍ نورو مسافرینو له دې وړاندیز سره په شدت مخالفت وکړ او په ماجرا پال پیرنګي یې نیوکې وکړې چې ولی یې دغسې یو وړاندیز کړی وو؛ هغوی استدلال کاوه چې پیرنګی خو هیڅ شی نه لري چې له لاسه یې ورکړي نو دی به ولی سیند ته د مالونو د غورځولو په اړه کومه اندیښنه ولري. کولی سم صادقانه ووایم چې زه که له هرڅومره سخت حالت سره مخامخ سوی یم بیا هم هیڅکله دومره لیواله نه وم چې ژر دې له دې (زړه تنګې فضا) څخه ووځم. نه مې غوښتل دا فکر ومنم چې له داسې ساحل سره مې چې له څو مودې راهیسې سختۍ تیرې کړې دي بیا دې هم له نابودۍ سره مخامخ سم. له بلې خوا مې زړه په دې ډاډه وو چې زه ددغسې حالت منلو ته اوس په آرامۍ چمتو یم ځکه د خپل سفر خاطرات مې لیکلي دي او دا زما یوازینۍ ارزښتناکه وسیله وه چې ما له ځان سره ساتلې ده.

ما له یونانې څخه اجازه واخیستله چې یو درووند لرګی چې ځړیده او له ځمکې سره د کښتۍ په لګیدلو کې یې مرسته کوله لیرې کړ او بیا مې د میو تشې ټوکرۍ، تشتونه او بشکې سیند ته غوځار کړې. ما خپل کار ښه په مخ روان کړی وو چې ددغو مالونو هډورو څښتنانو راوډانګل او زه یې له هغه ځایه لیرې کړم.

باد په دوه ویشتمې نېټې له ځانښت مخکې غلی سو او د کښتۍ خدمو ته یې اجازه ورکړه چې د یو څه کوښښ په کولوسره یو قایق چې زښت ډیر درووند او لوی وو راپورته کړي؛ کله چې کښتۍ له دغه درانده وزن څخه خلاصه سوه بیا هیڅکله کښتۍ ځمکې ته ونه رسیدله.

په درویشتمې نیټې باد نرم وو موږ د باد په مخالف لور کې لنګر واچاوۀ. تقریباً تر ۲۸ نیټې پورې کښتۍ په همدې سیمې کې پاتې سوه، موږ د کب نیولو ګڼ شمیر قایقونه ولیدل چې شاید د سلو په شاوخوا کې به ول. ددوی یو شمیر زموږ پر لور را روان ول؛ کله چې موږ ته راورسیدل نو موږ هم د خاویار **Caviar** عالي کب ورڅخه هر یو په یوه شلینګ واخیست. د کب هګې مو وخوړلې چې په تار کې پیل سوې او مالګه ورباندې شیندل سوې وې؛ دا د روزسانو معمولي خوراک توکی دی او مورڅخه خوندونه تر لاسه کړل. دا کب کله چې وچ سي په اروپا کې د خاویار په نامه یادیږي او د استراخان د ولایت لپاره ګټوره سوداګري رامنځته کوي. د خاویار د

کبانو نیونه د کلموک تاتارانو له پلوه اداره کیږي او په آسانۍ سره خپل ښکار د ولګا د سیند په سفلی برخو کې په بیلابیلو فابریکو باندې چې پانګونه یې د روسانو له لوري سوې ده پلوري، دلته په دغو فابریکو کې د خاویار کب په مالګه کې اخته او پروسس کیږي.

زما پام دې ټکي ته واوښت چې کلموکان Kalmucks خو یوه کوچیانۍ ډله ده او عمدتاً له شپنو او هغو سرتیرو څخه جوړه ده چې ژوند ژواک یې د غوایانو په رمو او لوټماریو پورې تړلی وو مګر په تعجب سره ګورم چې هغوی په سمندري چارو کې هم ښکیل دي. د کسپین د سمندرګي په شمالي غاړو کې په زرهاوو کلموکان خوارۀ وارۀ پراته دي، دوی کوچني او نرې ښېړۍ لري چې څلور یا پینځه تنه پارو وهونکي یې پر مخ بیایي او د دوبې په میاشتو کې د خاویاري کبانو د نیولو لپاره ورڅخه کار اخلي. اغلب وختونه دوی څو ورځې په سمندر کې تیروي او اوبه [1] له هماغه ځایه څښي. ددې تر څنګ دوی د خپل ښکار یوه اندازه هماغلته په خام ډول هم خوري.

ښایي د ځمکې پر مخ داسې څوک پیدا نه سي چې دومره شډل او ککړ خواړه وخوري لکه چې کلموکان یې خوري، د متمدنې نړۍ وګړي خو ورڅخه کرکه لري او د سویلي افریقا وحشي وګړي داسې نه دي. دوی خوسا سوي کبان په خام ډول خوري او ورسره د مړو سویو څارویو لکه د مړ آس، مړ غوایي او مړ اوښ غوښه هم خوري او دا د کلموکانو معموله خوراک دئ. دوی ډیره انرژي لري او تر بلې هر ډلې چې ما لیدلې دي د نامساعد اقلیم تر اغیز لاندې ډیر لږ راځي. د یوۀ کلموک څیره سره له دې چې شډله او خښمناکه ده خو تر ډیره چینایي څیرې ته ورته والی لري. د هغوی د پوزو پورتنۍ برخه په سختۍ سره ددوی له مخونو څخه پورته راوځي او پوزې یې دوه لوی سوري لري.

ډیر لیوال وم چې له دې کښتۍ څخه په دې دلیل ژر ووځم چې له یوې خوا خوراک یې مخ په خلاصیدو وو او له بله پلوه د مسافرانو د ګڼه ګونې او کثافت له کبله چاپیریال ککړ سوی وو. ما له یوه یوناني سره همکاري وکړه چې یو کلموکي ماڼو کرایه کړو او موږ ته تر استراخان پورې ورسوي. مخکې له دې چې د کښتۍ په هکله له خبرو تیر سم، تاسو ته باید ووایم چې موږ په کښتۍ کې پینځه تنه هندوان له باکو څخه راوړل؛ دوه تنه یې سوداګر او درې تنه نور یې سوالګر ول؛ یو پلار، زوی یې او یو سنیاسي وو (سنیاسي د

---

[1] - اوبـۀ د کسپیین د سمندرګي له شمالي غاړې له پینځلسو تر شلو لیګو پورې په دې دلیل خوږې کیږي چې لوی لوی سیندونه سمندر ته ورغورځي او اوبـۀ یې بې خطره کوي؛ دا اوبـۀ یوازې هغه مهال تروې کیږي کله چې له سویل لوري توند بادونه راوالوزي. لیکوال

هندوانو يوه مذهبي فرقه ده چې عمدتاً برهمنيان دي – ليکوال)، اخير الذکره سړی يو سالمه او د ښه چلند ځوان وو چې هم په ذهن او هم په جسم آګاه وو او ورسره پريمانه شور او ږوږ وو دۀ غوښتل د ټولې نړۍ ګردچاپيره وګرځي؛ تر هغو چې دی په خوځښت کې وو خوښ وو پرته له دې چې پام ولري چې چيرې روان دئ.

په باکو کې يوه هندو چې خپلې کوچنۍ اړتياوې يې پوره کړې وې او ورته وړانديز سوی چوو چې په روسيه کې دې د هغوی له استازو سره اړيکه ونيسي راته وويل چې ډير ليوال دي چې له ما سره انګلستان ته سفر وکړي. ملتاني هندوان استراخان ته يوازې د سوداګرۍ لپاره تلل او دې ته حاضر نه ول چې له بل چا سره مرسته وکړي. کله چې ما ورته وويل چې د بشکې د اوبو په ځنبلو او په پخلنځي کې د خوراک په پخولو سره کښتۍ نجسه کوئ نو په ځواب کې يې راته وويل چې موږ له هغه مهاله نجس سوي يو کله چې له ممنوعه سيند (اټک – ليکوال) څخه واوښتلو او په دې سره ټول قبيلوي تمايزات پای مومي. سره له دې چې الکهولي ځښاک هندوانو ته منع دئ خو داسې ښکاري چې هغوی له بنګ څخه استفاده کوي، دا د نيشې يو بوټی دئ چې ماريوانا يا چرسو ته ورته دئ او په اروپا کې په کثرت موندل کيږي.  ان ډير سختګير کسان د بنګو خوړل له قانون څخه سرغړونه نه ګڼي. دوی په آزاده ډول پريمانه بنګ خوري.

د اپريل د مياشتې په اته ويشتې ماسپښين مهال موږ څلور تنه په يوه کلموکي ماڼو کې کښناستلو چې څلورو تنو پياوړو او هډورو کسانو ددې ماڼو پاروګان وهل. دوی په ساعت کې د پينځو مايلو په ګړنديتوب د آرامو اوبو پرمخ د استراخان د کانال پر لور تګ کاوۀ. د لمر له کښناستلو مخکې موږ يوه کوچني د استوګنې وړ ټاپو ته چې له کښتۍ څخه تقريباً پينځه ويشت مايله ليرې وو ورسيدلو. له دې چې کلموکان په خپل کار کې ډير ستړي سوي ول پريکړه مو وکړه چې په همدې ټاپو کې د څو ساعاتو لپاره پاتې سو، موږ د ټاپو څنډو ته لاړو او هغوی مو پرېښودل چې استراحت وکړي.  ما په خوشحالۍ سره د روسيې پر خاوره پښه کښېښودله،  ښايي تاسو زما ددې  اوږده او له چلنجونو ډک سفر داستان په لوستلو سره زما د خوشحالۍ په اندازې پوه سئ چې زه څومره خوښ سو.

ددې ټاپو استوګنو وګړو چې د خاوياري کبانو په وچولو کې کار کوي موږ ته په خوښۍ او ورين تندي ښه راغلاست وويل. کله چې د يوناني سړي له موقعيت او مقام څخه خبر سول نو د هغه يې ډير درناوی وکړ. موږ يې يوې لرګينې کوټې ته چې په اروپايي سبک پسولل سوې وه بوتلو او همدلته يې ښه راغلاست وويل چې زما په باور په بشپړ ډول غير معمول وو. هغوی موږ ته د خاوياري کب ښوروا په يوه لوښي کې چې ښه وچه ډوډۍ او پاکې اوبه ورسره وې راوړه. زه بخښنه غواړم چې ددې خوراک په ستايلو کې زياتی

کوم؛ هر کله چې د دې فوق العاده ښې ډوډۍ په اړه فکر کوم نه سم کولی خپله خوشحالي پټه کړم. زموږ کوربه موږ ته په خپله په خپل لاس ډوډۍ کېښېښودله او د روسیې د لرغوني دود له مخې یې فوق العاده عالي میلمه پالنه وکړه.

د ډوډۍ له خلاصولو وروسته چې کلموکانو هم خپله ډوډۍ خوړلې وه خپل سفر ته مو دوام ورکړ. کله چې د (جان) له ټاپو څخه وخوځیدلو کېڼ لاس ته په کټلو مو کولی سوای د ټاپو څراغونه وګورو او څو شیبې وروسته د استراخان د ولګا څانګې ته ورسیدلو. تقریباً نیمه شپه وه او ماښو چلوونکي چې لویه ورځ یې پارو وهلی وو دومره ستړي سوي ول چې پریکړه مو وکړه چې دوی استراحت ته اړتیا لري. ما هم ډیر خوب ته اړتیا درلوده. کله چې ماښو ساحل ته ورسید ما خپله چپنه وغوړلوه او تر دریو ساعتو پورې مې په آرامۍ خوب وکړ. موږ خپل سفر د ورځې په رڼا کې پیل کړ او د ټېټو ټاپوګانو له منځه چې په نیزارونو پوښلي ول تیر سوو. د سهار د اتو بجو په شاو خوا کې د برند واخت **Branc Wacht** په نوم یوه ځای ته ورسیدلو چې د (جان) د ټاپو په دولس مایلۍ کې یې موقعیت درلود. دلته یو سمندري ګارډ د ګمرک د ساتنې او د اړتیا پر مهال د قرنطین لپاره ځای پر ځای سوی دئ. له نیکه مرغه ما په باکو کې د جنګي بیړۍ له کپیتان څخه د خپل وضعیت په اړه یو لیک تر لاسه کړی وو؛ او په دې سره زه د استراخان د حکومت دستور ته ستړګې په لار نه پاتې کیدم. موږ په برند واخت کې کلموکان پرېښودل او یوه اته پارو واله ماښو مو کرایه کړ چې د تاتار تورکمنانو ماښو وو، دوی د روسیې د سمندري ځواکونو جامې یې په ځانونو کې وې او په ماښو چلولو کې ډېر ماهر ول.

د روسیې تورکمن رعایا هڅاند او سوله پاله خلک دي او ثابته کړې یې ده چې د دولت لپاره ارزښتناک ګډونوال دي. ددوی ډیري کسان په سمندري او په ځمکنیو وسلوالو ځواکونو کې خپل نومونه ثبتوي او پرته له دې چې ددوی په مذهبي اعتقاداتو څوک کوم اعتراض ولري په دغو ځواکونو کې ځکه منل کیږي چې د لویدیځو مسلمانانو په پرتلې نرم خلک دي. د ولګا د سیند ددې څانګې په اوږدو کې ډېر لږ کلي موندل کېږي؛ ځمکه تقریباً له اوبو سره په یوه سطحه کې ده چې په نیزارونو ډکه ده او د وحشي قازانو د بیلابیلو ډلو لپاره پراخه پناه ځای جوړوي او دومره ډېر دي چې څوک ګومان کوي د ټولې نړۍ قازان دلته راټول سوي دي. دغو قازانو نه سوای کولی داسې بل کوم مناسب ځای ومومي، دا سیمه هم له انساني او هم له حیواني فعالیتونو جلا سوې ده او هیڅ څوک نه سته، دا ځای په ګڼو بوټو او ونو پوښل سوی او د خوړو اوبو پریمانه سرچینه یې خړوبوي.

په مجردې چې د استراخان پرتمینې کلیسا ته ورسیدلو نو د ولګا د سیند یوه ښکلې منظره مو په سترګو سوه، دا کلیسا د ښار له نورو منارو او ودانیو سره جلا ښکلا لري، ددې منظرې په لیدلو سره زما یوناني هملاری ملګری په پښو ودرید. هغه د صلیب علامت پر

خپل ځان کش کړ او په ډېر ارادت او خلوص یې خپل هیواد ته د خوندي راستنیدلو لپاره د شکر دعا وویله. هیله مند یم چې ستاسو له عدم تایید سره مخامخ نه سم ځکه ما هم د هغه تقلید وکړ. زه په دې باور یم چې عبادات زموږ د مسؤولیتونو تر ټولو کم اهمیته اړخ دئ او ما ددغه سړي لپاره خپل لازم درناوی وساته ځکه دهٔ د ژوند پر وړاندې له مینې ډک مذهبي کړه وړه تر سره کړل.

کله چې ددهٔ استوګنځي ته ورسیدلو ما اجازه وغوښتله چې اړین تطهیر تر سره او اروپایي جامې واغوندم او په جلا خونه کې بیده سم، ددهٔ کور د سیند پر غاړې واقع وو. خو یوناني انډیوال زما دا وړاندیز ونه مانه او له مړوند یې ونیولم او برعکس هغې کوټې ته یې بوتلم چې ددهٔ میرمن یو بله ښکلې ځوانه ښځه او څو تنه سیمه ییز نارینه په کې ول. هغه زه دغو کسانو ته د سینیور جورجو **Signor Georgio** په نوم ور وپېژندلم او زما د داستان لنډ ټکي یې ورته وویل.

سره له دې چې ما ساده فارسي جامې اغوستې وې، زما ګډه وډه ږیره او پر مخ مې د زوړتوب نښې هر څه چې وې وې به خو یو له دغو څخه دې ددې لامل نه سوې چې زما له شتون څیرې څخه دې څوک ناراحته سوي وي. برعکس په ادب او مهربانۍ یې راته مبارکي راکړه او ټوله هڅه یې وکړه ترڅو زما نا راحتۍ ته د پای ټکی کېښږدي. په چټکۍ سره خپل د خوب ځای ته لاړم او داسې ښکاري لکه چې په ژور خوب بیده سوی وم؛ سهار چې سو یوناني ملګري مې راته وویل چې څو ځله یې هڅه وکړه چې ما له خوبه راپاڅوي ځکه له دې بیریده چې ددهٔ کور ته نیږدې د اور اخیستي ځای لمبې دده کور ته راونه رسیږي او کور یې اور وانخلي. زما کوربه ټینګار کاوه چې د کوټې د کالیو له الماری څخه دې ځان ته جامې واخلم، دا یې ځکه ویل چې په استراخان کې زما لنډمهالي استوګنې اجازه نه ورکوله چې نوې جامې واغوندم؛ یوه ارمنی سړي چې د یونانیانو ښه راغلاست ته راغلی وو وړاندیز وکړ چې ما به د کسپین د سمندرګي د رسالې یوهٔ مسؤول افسر او زما یو هیوادوال ته چې د روسیې په سمندري ځواک کې بریدمن دئ وروپیژني.

بولندوی په روانه انګلیسي خبرې کولې او موږ ته یې په ورین تندي ښه راغلاست وویل؛ هغه خپل یو خدمتکار ولیږه ترڅو ښاغلی لانک چې یو انګلیس وو زما له راتګه خبر کاندي. ما له خپل هیوادوال سره په مینې او خوښۍ یو پیوند ټینګ کړ او په استراخان کې یې زما استوګنه آسانه او خوندوره کړه؛ ما په استراخان کې له سیل او ګرځیدو بل کار نه درلود او ښایي تاسو فکر اوسئ چې د روسیې ددې برخې په اړه تاسو ته یو انځور وړاندې کړم. سره له دې چې د هر اروپایي هیواد لیکوالانو په دې سکالو باندې په بشپړ ډول روڼا اچولې ده له دې کبله ان که ما ته خپله د استوګنې موده اجازه هم راکړي چې په ځیر څه ولیکم بیا هم داسې شی نه دي پاتې چې پر هغې باندې نورو لیکوالانو لیکنې نه وي کړي.

د روسيې په تأريخ کې تزار ايوان باسيلوويتڅ په ۱۵۵۲ز کال کې د کازان تاتار پادشاهي فتح کړه. ورپسې يې خپل د استراخان نوګا ته واړاوۀ، هغوی ته يې ماته ورکړه او پلازمينه يې ونيوله. تزار دا ځای په آسيايي سبک پیاوړی کړ. د استراخان قلمرو د ځمکې د نقشې پر مخ په ځانګړې توګه مشخصه سوې او د هر سيلاني پام ځانته رااړوي. دا سيمه له ختيځ او سويل ختيځ لوري له يوې لويې دښتې سره پوله لري او د تاتاري ماورالنهر تر استوګنو سيمو پورې غځېدلې ده. په سويل کې د کسپين د سمندرګي وچ او لم يزرع سواحل دي. په سويل ختيځ کې له درې تر څلور سوو مايلو پورې يوه پراخه بيديا غځېدلې ده چې تر چرکسيې Circassia پورې رسېږي او د خوږو اوبو يوازې دوه سرچينې لري. په لويديځ کې يې يوه بله لم يزرع لويه ځمکه ده چې دا سيمه له تور سمندر څخه جلا کوي.

په دغو تيارو، وچو او زړه تنګوونکو دښتو کې د انساني ژوند ژواک يوازينی نښه د تاتارانو خورې ورې ډلې سرګردانه دي چې د ژوند ژواک شدېله او وحشي بڼه يې د طبعيت په توري منظرې باندې ورزياتيږي؛ ته به وايې چې د طبيعت نرم ځواکونه د شيطاني ځواکونو په وسيلې يا له منځه تللي او يا په ټپه درېدلي دي، د دغو دښتو په ډېريو ځايونو کې داسې يوه کوچنی ونه، پاڼه او واښه نه ليدل کيږي چې په ځانګړو ضررونو دې نه وي ککړه سوې. په شمال او شمال ختيځ کې د استراخان ولايت له روسيې او کازان سره پوله لري، دلته د دواړو سيمو تر منځ د متروکو ځمکو يوه پراخه سيمه پرته ده. په هغه ټاپو کې چې استراخان واقع دئ او ورسره د هغه په شاو خوا سيمو کې هيڅ ډول غله باب نه توليديږي خو سره له دې چې استراکان د لويو بيدياوو په غيږ کې واقع دئ د روسيې هيڅ يوه برخه د استراخان په اندازه ضروري سرچينې نه لري. دا هيواد چې د استراخان په لويديځ او سويل کې واقع دئ د کورني مصرف لپاره د لوړ کيفيت مالګه توليدوي چې د امپراتورۍ ليرې سيمو ته عمدتاً د اوبو له لارې ليږل کيږي. د استراخان مخ په ودې وضعيت او همدا شان د ولګا او د سيند او د کسپين د سمندرګي په غاړو کې کب نيونه چې کبان په کې په تيټه بيه ښکار او په مالګې کې اخښل کيږي او دلته يې د هغوی د پلور لپاره پراخ بازار رامنځته کړی دې، زښت ډېر ښه والی موندلی دئ.

ډېره موده کيږي چې د استراخان او بخارا Bochara د تاتارانو او خيوې تر منځ ګټه زيږوونکې سوداګرې وده کړې چې پوستنيونه او خپل ځانګړي د وري پوستکي له اروپايي مالونو سره مبادله کوي. خو که ولګا د سوداګري توګو د ليږد لپاره له امن ډکه لاره نه ورکوي نو د استراخان طبيعي ګټې ددغو ګټو يوه کوچنی برخه جوړوي. دغه سيند چې لږ تر لږه دوه زره برتانوي مايله اوږد والی لري د (نو وګورود Novogorod) په ولايت کې په همدې نوم له يوه سيند له ۵۷ جغرافيوي عرض البلد او ۵۱ جغرافيوي طول البلد څخه سرچينه اخلي. دا سيند له ډېرو سوداګريزو ښارونو او ښارګوټو څخه له تيريدلو وروسته له استراخان څخه يوازې څلويښت مايله کوز

د کسپین سمندرگي ته لویږي. دغه مسیر زښت ډیر سیندونه او کوچني نهرونه لري چې مخ په ختیځ روان دي او د سایبریا او نیپر Dnieper تر منځ په لویه سیمه کې د کښتۍ چلولو یو تګ لوری رامنځته کوي.

په اوکا Occa کې د موسکا Mosca سیند ولګا Volga ته لویږي له استراخان څخه ستر ماښوګان لرغونې پلازمینې ته سفر کوي. ددې تر څنګ د ولګا یو کانال له مستا Msta سره نښلي او په پای کې د نیوا Neva سرچینې د لادوګا Ladoga سیندګي ته رسیږي. دغه مسیر د کسپین د سمندر او بالتیک تر منځ د کښتیو لپاره یو داخلي تګلوری رامنځته کوي.

د سیمې د مسطح حالت له نظره د ولګا اوسنی بهیر ضیعف او بې سیکه دئ او ماښوګانو ته اجازه ورکوي چې په ساعت کې د درې مایلو په ګړندیتوب مخ پورته لارې لاړ سي. اټکل کیږي چې استراخان د اتیا زرو په شاو خوا کې استوګن وګړي ولري. پر روسانو برسیره ددې سیمې د اصیلو اوسیدونکو د ناګایایي Nagayan تاتارانو یوه لویه ټولنه هم سته چې ورسره ارمنیان، چرکسیان، یو شمیر فارسي مسافر او د هندوانو یوه کوچنۍ ډله هم هلته ژوند کوي.

د تیموربیګ په ژوندلیک/ زندګینامه کتاب م. پتي دی لاکروا M. Petit de la Croix له فارسي څخه ژباړلی دئ، دې کتاب کې استراخان د حاجي تورکان په نوم یادیږي چې د قبچاق د اصلي پادشاهي یو له ښارونو څخه دئ. تیمور د تارتارانو په همدې برخې برید وکړ هغه یې ونیو او وران یې کړ.همدغه پادشاه خپل وسله وال ځواک د ولګا پر لور بوت او د قبچاقو پلازمینې سرای Serai یې لومړی لوټ او بیا یې د اور په لمبو کې وسوَځاوۀ. د تیمور په تأریخ کې د روسیې په هکله یوه څانګه سته او له دې چې جالب معلومات وړاندې کوي د پام وړ دئ نو ځکه دا ځای په خاص ډول د ځانګړې پاملرنې وړ دئ.

(ګوډ – ژ) تیمور چې خپل ماتې خوړلی دښمن یې تعقیب کاوه یو ناڅاپه د دنیپر سیند ته راورسید. تیمور دا سیند خپلې کیڼې خوا ته پریښود او د (دن) له سیند څخه تیر او د روسیې په خاورې ننوت. انګلیسي ته د ژباړل سوي کتاب د لیکوال په وینا : "زموږ ځواکونو هغه تر "کوراسن Corason" پورې چې اوس د "کورش Koresh" په نوم یادیږي او په سترې روسیې کې یو ښار دئ، تعقیب کړ او په بشپړ ډول یې لوټ کړ. دوی د مسکو له پراخې پادشاهۍ او "اوروس – دژیک Orous dgic" یا کوچنۍ روسیې څخه واوښتل او دلته یې د غوایانو سترې پادې ونیولې او ګڼ شمیر ښځې او نجونې چې په هر عمر چې وې یرغمل کړلې؛ دغو ښځو د ښکلیو اندامونو او د استثنایي ښکلا له کبله شهرت درلود. تیمور شخصاً د سترې روسیې پلازمینې مسکو ته سفر وکړ او سرتیرو یې هلته لوټماري پیل کړه، دا کار یې کټ مټ هماغسې وکړ لکه چې تر خپل کنترول لاندې نورو سیمو کې یې تر سره کړی وو، والیان او

شهزادگان يې ووژل او عام وژنه يې وکړه. روسانو په ځانګړې توګه مسکويانو خپله پادشاهي هيڅکله په داسې يوۀ وحشتناک وضعيت کې نه وه ليدلې؛ د دوی کروندې ټولې د مړو په جسدونو باندې ډکې وې. تيموري لښکر په دې پراخ هيواد کې هر هغه څه راټول کړل چې کولای يې سو، له هغې ډلې څخه د سرو زرو خښتې، او له انطاکيې څخه يې د سپينو زرو تورې وې چې له ځان سره يې يووړې؛ ډير ارزښتناک او قيمتي ټوکران يې راوړل چې په ډير مهارت په روسيې کې اوبدل سوي ول؛ هر سرتيري دومره شيان راټول کړي ول چې ده او دده بچيانو ته په کافي اندازه وي، همدا شان پوست او پوستينونه او د پړانګانو پوستونه يې له ځان سره راوړل. همدا رنګه هغوی د خړې او سرې ګيدړې پوستکي، بې شميره ځوان آسونه چې لا تر اوسه نعل سوي نه ول. د ټولو غنايمو د جزئياتو شرحه يې چې په دې پراخ او لوی هيواد کې ترلاسه کړې وه ښايي لوستونکي ستړي کړي.

د (ګوډ – ژ) تيمور سوبو او بريدونو پراخه لمنه درلوده. د هغه برياوې تر ګنګا پورې په جشن نمانځل کيدلې او د بالتيک تر سمندر پورې يې بيرغونه رپيدل! خو که تاسو اوسني وضعيت ته وګورئ نو پوه به سئ چې هغه پراخه امپراتوري چې ده جوړه کړه اوس په ايرو بدله سوې ده. روسيې يو وخت د ورانکارو تاتارانو ښېم او قهر ته يې زغم درلود خو تاتارانو په دې وروستيو کې له بربريت څخه د تمدن پر لور د ظهور په حال کې ول، خو روسيه لا تر اوسه د ورکړل سوي سپکاوي د غچ اخيستلو په فکر کې ده. احتمالي پيښو ته په پام سره داسې ښکاري چې هغه کار ته چې په اغيزمنه توګه پيل سوی چمتو ده چې پای ته يې ورسوي.

هغه مهال چې فارس او ترکيه دواړه معمور او آباد ول او دواړو هيوادونو کولی سول د روسيې امپراتوري مهار کړي استراخان ته د يوۀ کليدي سرحد په سترګه کتل کيدل. د فارس د سلطنت له زوال وروسته، د ګرجستان استقلال او په کريمه کې د ترکانو تسليميدل – چې د هغوی ضعف يې نړۍ ته راښکاره کړ- د ولګا په ختيځې ضلعې کې خوارۀ وارۀ تاتاران دې ته اړ سول چې يا دې له خپلو مينو ووځي او يا دې د روسيې کنټرول ته تسليم سي. پايله دا سوه چې دا سيمه د امپراتورۍ د سرحد په توګه عمل نه کوي. همدا اوس د استراخان اداره په بشپړ ډول غير نظامي او سوداګريزه ده چې له يو نيم زر کسانو جوړ يو ګارنيزيون لري چې تر ډيره نيمه نظاميانو ته ورته دي او هيڅ عادي سرتيرو ته ورته والی نه لري او نه هم مناسب نظامي نظم لري.

په دې ښار کې چې د آسيا او اروپا تر منځ واقع دئ احتمالاً د نړۍ د هر بل ګوټ په پرتله دلته د ملتونو يو بيل ډول ترکيب په سترګو کېږي چې يو بل مني او زغمي. تاسو کولی سئ د يونانيانو، لوتريانو او روميانو کليساګانې د مسلمانانو مساجد او د هندوانو بتخانې د يو بل ترڅنګ وګورئ؛ په دې معنی چې د يوۀ ګډ ټولنيز توافق پر بنسټ بيلابيلې عقيدتي فرقې له يو بل سره وصل سوې دي. د

صنعت او سوداګرۍ عمده برخه چې د استراخان له سوداګرۍ څخه ملاتړ کوي له ارمنيانو سرچينه اخلي چې د کسپين په سمندرګي کې د کښتيو څښتنان دي او د فارس د سوداګرۍ مشري کوي. ارمنيان د خپل سازګار طبعيت له مخې په ځانګړې توګه ددوی پانګې ورسره مرسته کړې چې د حکومت مساعد نظر ځان ته جلب کړي او په دې توګه يې په سيمه کې د پام وړ درناوی تر لاسه کړی دئ. دوی په داسې حال کې چې عموماً يې د روسيې اداب او دودونه منلي دي له ځانه زيات جلال او پرتم ښکار کوي. هغه درناوی چې دغو خلکو ته کيږي څرګند دليل يې دا دئ چې دوی د امپراتورۍ دې برخې ته پانګه راوړې نو ځکه يې د سيالې سوداګرۍ له لارې د سيمې ملاتړ تر لاسه کړی دئ.

هندوان په استراخان کې د پام وړ آزادي لري؛ هغوی دلته کولی سي خپل مراسم د هندوستان د مشهورو معابدو په پرتله په ډېرې آزادۍ تر سره کړي. هغوی دلته په دائـم ډول استوګنه نه کوي او په ښار کې هيڅ خپله ښځه نه پريږدي؛ دوی د استوګنې پر ځای د ډېرې پانګې له ټولولو وروسته بيرته هندوستان ته ستنيږي او خپل ځای نورو تازه راغلو هندوانو ته ورکوي. هغوی د يوې سوداګرې ډلې په توګه په بيلابيلو سوداګريو کې بوخت دي او د روسيې په دې برخې کې يې د خپلې لومړنۍ استوګنې کومه نښه نه ده ثبت کړې او د استراخان سيمه ييز وګړي هم په دې هکله دقيق معلومات نه لري. دوی په ځانګړو سويو کاروان سرايونو کې چې لوی او جلا دي اوسېږي، دوی لامبي او پرته له دې چې د عيسويانو پام ځانته راواړوي خپل عبادات تر سره کوي؛ دوی تر هغو سفر نه کوي ترڅو چې پوه سي ددوی پر وړاندې په فارس کې د چارچلند په پرتلې دلته څومره نرم او متعدل دئ؛ په فارس کې ددوی هستي او دارايي، ايمان او وګړي د تعصب او طمعې تر بريدونو لاندې راځي.

ما ته هره ورځ استرخان او د استراخان د ولايت سويلي برخو ته د ولګا د سيند ګټې راښودل کـېـدلې. سره له دې چې دا سيمې غلات نه توليدوي او محدودې ورشو ګانې لري خو د زر مايلي واټن په لرلو سره سره له نيږدو ښارونو لکه د زاريستين **Czaristin** او کازان او نورو ښارونو څخه ورته پريمان خوراک توکي راوړل کيږي. ددې سيند يوه بله د پام وړ ګټه د استراخان د ښار چټکه وده ده. سره له دې چې په دې ولايت کې پرته له بڼونو بله کومه ونه نه سته خو د ښار کورونه عمدتاً له لرګيو جوړ سوي دي. د سيند د بندر پر غاړه پريمانه ماڼوګان هم ليدل کيږي او د ښار استوګن وګړي د سون لپاره له لرګيو کار اخلي. دا ټول لرګي يا د ولګا له لارې کوز راوړل کيږي او يا له شمالي سيمو څخه په ماڼو ګانو کې راوړل کيږي.

استراخان ته زما د لنډ سفر په اوږدو کې هره ورځ د کښتیو جوړولو محوطې ته ورتللم ترڅو له هغو پرمختګونو څخه ځان خبر کړم چې روسانو د پیتر له مهاله راوروسته د کښتیو په جوړولو کې تر لاسه کړي دي او ما ورڅخه خوندونه اخیستل. هغه پوځي ګارنیزیون چې اوس د کسپین د سمندرګي د سوداګرۍ ساتنه کوي، هر هغه ګاونډۍ هیواد ډاروي چې ممکن د روسیې له پلان سره مخالفت وکړي، دا رساله پینځه مانوګان لري چې هر مانو کې شل توپونه دي، ورسره یوه بمب غورځوونکۍ کښتۍ او څو نورو تدارکاتي کښتۍ لري. له دې ډلې څخه دوه مانوګان او بمب غورځوونکۍ کښتۍ په استرخان خان کې ځای پر ځای دي بل یې په سمندر کې ده او دوه نورې له کازان څخه پر لاره دي. د ولګا د سیند په خوله کې د اوبو د سطحې د ټیټوالي له کبله ددغو کښتیو سینه پلنه جوړه سوې ده.

په دې وروستیو کې په کازان کې د کښتیو جوړوله یوه لویه فابریکه جوړه سوې ده چې د ښښتر د ونو له پریمانو لرګیو او نور اړوندو ضروري موادو او د سیند له آسانیتاوو څخه ګټه اخلي او د هغو کښتیو د بدنې لپاره یې په مناسب ډول جوړوي چې د کسپین په سمندرګي کې د خدمت لپاره په پام کې نیول سوي دي. روسانو په خپلو سمندري ځواکونو کې د هالند ډیري اصول او مقررات منلي دي او احتمالاً هغه مهال چې پیتر هالند ته تللی وو او له ځان سره یې د سمندري ځواکونو افسران بیولي ول دغه اصول یې په هالند کې د خپل حضور پر مهال منلي وي. د افسرانو د رتبو او وظایفو په اړوند یو شمیر فرانسوي قوانین هم منل سوي دي خو داسې ښکاري چې د هغوی سمندري ځواک د انګلیس د سمندري ځواک په پرتلې لا ښه والی موندلی دئ.

د روسیې د سمندري ځواک هر سرتیري ته د خوراک او جامو ترڅنګ په کال کې ۹ نهه روبله تنخواه ورکول کیږي. په سمندري ځواکونو کې د خدمت په پار د هغوی د هڅولو لپاره هره ورځ هر سرتیري ته یوه اندازه غوښه ورکول کیږي چې ځمکني ځواک ته نه ورکول کیږي خو دولت ځمکنیو ځواکونو ته هم خوراک چمتو کوي. اوسمهال د کسپین د سمندرګي ګارنیزیون د جنرال پوتمکین تر بولنې لاندې دئ او ځواکونه یې د کسپین د سمندرګي او تور سمندر تر منځ ځای پر ځای دي. په دې وروستیو کې ددغو ځواکونو یوه برخه ګرجستان ته ولیږل سوه، ګرجستان د شهزاده هراکلیوس تاټوبی دئ، دی هغه عیسوي مشر وو چې د روسیې او تورکیې تر منځ د وروستۍ نښتې په لړ کې یې د عثماني امپراتورۍ ته له خپلې وفادارۍ څخه انکار کړی وو.

له هغې مودې راهیسې چې کریمیه له روسیې سره محلقه سوې مَلکې په څرګنده له هراکلیوس څخه چې اوس د یوۀ خپلواک شهزاده په توګه پیژندل کیږي ملاتړ کړی دئ. داسې ښکاري چې هلته یو درباري افسر د امپراتورۍ په استازیتوب لیږل سوی تر څو د (ګراسیا

د پادشاه په توګه د سرو زرو تاج ورته وړاندې کړي [ترهغه ځایه چې زه لیکوال پوهیدلی یم ګراسیا د ګرجستان لرغونی نوم (Grasia دئ.] دغه سیاسي ګام هیڅ کوم خطر یا لګښت نه درلود خو د روسیې جاه طلب پادشاه ته یې موقع ورکړه چې یو ارزښتناک متحد تر لاسه کړي او د ګرجستان ترڅنګ د خپل دولت د طبیعي دښمنانو پر وړاندې یوه پیاوړې مدافعه رامنځته کړي. د اروپا نور واکمن خپلو غوره متحدانو ته اغلب وختونه ښکلي انځورونه، په زړه پورې حیوانات او یا اشرافي عناوین ورکوي؛ خو د مَلکې کاترین ستره پانګه هغې ته اجازه ورکوي چې خپل دوست ته د پادشاه تاج او تخت ډالۍ کړي. په دې سره ویلی سو چې روسیه پر ګرجستان کنترول لري او احتمالاً که د ګرجستان پادشاه مړ سي چې د پاخه عمر او زړښت له کبله ډیر ژر کیدونکې ده، نو روسیه به په تنظیم سوي ډول داسې ځایناستی غوره کړي چې د پیترزبرګ د دربار له ګټو سره ګډ نظر او هم غږي ولري.

[د ژباړونکي یادونه : ټول کتاب په دواړو ټوکونو کې چې له ما سره یې پي. ډي. ایف. فارمت سته ۶۵۱ پاڼې دئ او پورتنۍ وروستۍ کرښه د پي. ډي. ایف فارمت ۶۲۱ پاڼه ده چې او د دوهم ټوک ۲۷۴ پاڼه کیږي. له دې وروسته جورج فوستر مسکو او پیترزبورګ ته ځي او له هغه ځایه خپل هیواد لندن ته ځي. زه د پاتي برخې ژباړه اړینه نه بولم او همدلته ورباندې د پای ټکی ږدم. نن د ۲۰۲۵ز کال د اکتوبر د میاشتې ۱۵ نیټه او د ماسپښین یوه نیمه بجه ده. تمت باالخیر] [نن د ۲۰۲۵ز کال د ډسمبر د میاشتې څلورمه نیټه ده. د اکتوبر د میاشتې له ۱۵ تر نن پورې مې ژباړل سوی متن لومړی له انګلیسي سره پرتله کړ او وروسته مې ټول متن دوه ځله ولوست. نن دا کتاب بشپړ سو.]